تفسیر ابوحنیفہ

تالیف

علامۃ العصر وحید الدہر ابو الفضل مولانا محمد عبد اللہ السید الایوبی

الصندوہاری العیلما نخیلی الحنفی النقشبندی عفی عنہ

ناشر

مکتبۃ القراۃ والتجوید

کافسی روڈ مشالدرہ کوئٹہ

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner



Maktaba Tul Ishaat .com



تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں



تفاسیر	خطبات	منطق
احایث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ ودعوت
تمام فنون		

مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

Maktaba Tul Ishaat.com

MAKTABATUL - QIRAIATI - WALTAJWEED
QUITTA

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

په پښتو ژبه کښې اولنی او په افغاني تاريخ کښې بې ساری په
زر گونو جديدو مسئلو باندې مشتمل

تفسیر البیان حنفی

وَمَآ اُبَرِّئُ ۱۳ ... ۱۴ رُبَمَا

لـــم توک ۱۰

تالیف اوتصنیف

د علامة العصر ابو الفضل شیخ التفسیر والحدیث فقیه دوران مفسر الزمان

حضرت مولانا محمد عبید الله الایوبی

الکندهاري السلیمانخیلي الحنفي النقشبندي حفظه الله تعالی

مکتبة التراث والتجوید

کاسي رود شالدره کوئټه

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

د کتاب پېژندنه

د کتاب نوم ..... تفسير ايوبي پښتو (لسم ټوک)

مؤلف ..... الحاج مولنا محمد عبيد الله الايوبي الكندهاري السليمانخيلي الحنفي حفظه الله تعالى بفضله الوهبي

کمپوزر ..... حبيب الحق حقاني (مينګل)

ټايپ ..... حقاني کمپيوټر اداره

نشر کوونکي اداره ..... مكتبة القراء ت والتجويد كانسي رود كوټه

د چاپ خای ..... لاهور پاکستان

يو نظر دې خوا

هيڅ يو مسلمان هم به قرآن مجيد، احاديثو يا د فقهي په کتابو کې په قصده سره غلطي نه کوي، زمورِ اداره تر خپله وسه پورې د کتابو تر ليکلو وروسته تصحيح ته زيانه پاملرنه کوي، چې ددې په وجه زمورِ کتابونه معياري دي، خو بيا هم بنده بنده دی، يو نه يو ځای څه ناڅه غلطي په املاء کې يا په يوه جمله کې ځني صادره سي، نو زمورِ د ټولو ناظرينو ځخه دا خواست دی چې که ستاسي تر نظر داسي غلطي تېره سي لطفاً زمورِ سره تماس ونيسئ، تر څو د کتاب د دوهم ځل په چاپ کې د هغې تېروتنې اصلاح وسي.

په درناوي ستاسي ورور شمس الحق شمس

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

جميع الحقوق محفوظة

جميع حقوق الملكية الادبية والفنية محفوظة لمكتبة القرائة والتجويد كوئته باكستان

و يحظر طبع أو تصوير أو ترجمة أو إعادة تنضيد الكتاب كاملاً أو مجزأ او تسجيله على أشرطة كاسيت أو إدخاله على الكمبيوتر أو برمجته على اسطوانات ضوئية إلا بموافقة الناشر خطياً

Copyright ©
All rights reserved
Tous droits reserves

Exclusive rights by Maktabatul-Qiraat i waltajweed Quetta - Pakistan. No part of this publication may be translated, reproduced distributed in any form or by any means, or stored in a data base or retrieval system, without the prior written permission of the publisher.

الطبعة الاولى

١٤٢٩ هجري - ٢٠٠٨ ميلادي

مكتبة القرا'ة و التجويد

شارع كانسي كوئته-باكستان

رقم الهاتف ٢-٢٨٨٥٥٣٥

MAKTABTUL-QIRRAT
WALTAJWEED
KANSI ROAD QUETTA
BALOCHISTAN

ISBN 2-7451-3140-0

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله العنان، الذي علم القرآن، خلق الانسان، علمه البيان، وصدق برسوله النبي الامي للانس والجان.

وبعد: محترمو لوستونكو! دا چي تاسي د "تفسير ايوبي" لسم ټوک لولئ او د نورو ټوکونو انتظار کوئ، نو يقيناً دا ستاسي د دعاؤ نتيجه ده، ولي چي حضرت ايوبي مدظله العالي د عمر په داسي پړاو کي دی چي په داسي مصروفياتو او مختلفو مشغولتياوو کي يې بيا هم د الله تبارک وتعالى د کتاب وخدمت ته ملا ټرلې ده او کوشش يې لاهم مخ پر وړاندي روان دی.

محترمو لوستونکو! مکتبة القرائت والتجويد زيار باسي چي د اولس تر لاسونو پوري داسي سوچه او معتمد کتابونه ور ورسوي چي پکښې له عقائدو، فقه، احاديث او تفسيرونو څخه علاوه د ژوند د نورو ارخونو کتابونه شامل دي و اولس ته وړاندي کړي، تر څو هغوی خپلې علمي، عقيدوي او نوري ارتياوي په پوره کړي. او دا هم يو حقيقت دی چي د اسلام د

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

دښمنانو لاسونه که چېري يوې خوا ته د
مسلمانانو په وينو لړلي دي خو د بلې خوا يې د
مسلمانانو د عقيدو پر خلاف متې رانغښتي دي

او د مسلمانانو عقيدې ورخرابوي، د مسلمانانو خلاف نشريات کوي، کتابونه چاپوي، مجلې چاپوي او ورځپاڼې چاپوي، دوی غواړي چې د مسلمانانو بچيان له خپلې نظريې عقيدې څخه واړوي، او همدارنګه يې د ساده لوحه مسلمانانو د بد لارې کولو په خاطر تبليغات پيل کړي دي چې په ژبه تقريرونه او په راډيوګانو او تلويزيونو کښې خپل نظريات او عقائد خپروي، او مسلمانان و يهوديت او نصرانيت ته رابولي، موږ هڅه کوو تر څو معتمد، سوچه او صحيح کتابونه و اولس ته ورواندي کړو، په دې موخه او مقصد کښې که موږ تر يوه حده پورې بريالي سوي هم يو، نو دا ستاسي دعاګانې او مفيدې مشورې هم دي. موږ همېشه ستاسو د مفيدو مشورو انتظار يو، او همدارنګه موږ ستاسي د مستجابو دعاګانو په هيله يو.

هيله ده چې په خپلو ګټورو مشورو مو بډايه کړئ
ستاسو د ګټورو مشورو په هيله

(قاري) فضل الحق حقاني
خادم التجويد والقراءة کوئټه

تفسير ايوبي حنفي د نصيراحمد احمدي لخوا
سکين او pdf سو. واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

وبالحمد لله اثني. وبالصلوة والسلام على رسوله وآله اختتم داعياً بالتوفيق من الله، لتفسير هذا الجزء وقائلاً رب سهل ولا تعسر.

دروښ وايي: چې تفسير د دیارلسم جزء په وخت کې د ماښښين د يکشنبې ورځ دیارلسمه د جمادی الاول سنه (١٤٢٩ هـ ق شروع سو.

وَمَآ أُبَرِّئُ نَفْسِيٓ

يوسف عليه السلام وويل چې زه په ټهرو سرو خبرو کې تزکيه او پاکي د نفس خپل نه وايم او نه مي هم عجب غرض دی بلکې اظهار د نعمت د عصمت د خدای کوم او بيان د توفيق الهي کوم کريمه " وَأَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ ۝ " او اقتداً کوم په دې قول پسې چې نبي ابن النبي ابن النبي بايد همداغسې وي. وهذا القول منه كما قال النبي ﷺ "انا سيد ولد آدم ولا فخر الى اخير الحديث.

دروښ وايي: چې په حديث کې د انس ﷺ چې مرفوع حديث دی راغلي دي چې يوسف عليه السلام چې وويل وذالک ليعلم اني لم اخنه بالغيب" جبرئيل ورته وويل "ولا حين همست" يعني اشاره يې وهغه آيت نه وکړه "ولقد همت به" يعني زليخا قصد وکړی ويوسف عليه السلام ته د فحشا "وهم بها" يعني يوسف په مقتضی د طبع بشري قصد وکړی وزليخا ته د فحشا کمامر تفصيله. يوسف عليه السلام و جبرئيل نه وويل "ذالک اى الهم بها بسبب"

إِنَّ ٱلنَّفْسَ لَأَمَّارَةٌۢ بِٱلسُّوٓءِ

په تحقيق نفس حيواني د هر امر کونکی دی په بدو کارو سره يعني نفس بالطبع مائلة الى الشهوات والرزائل التي من جملتها الهم بها كمامر.

بوه سه: چې الف او لام د نفس لپاره د جنس دی يعني جمع النفوس التي من جملتها. نفسي امر کونکی دی په قبائح سره ولې چې نفوس د هر ميل لري وشهواتو او منکراتو ته ولو لا ذالک (اى ميل النفوس الى الشهوات والمنكرات)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لما كان نفوس اكثر الخلق مسخرة لشهواتها او په باب کي د قضا شهوت ګوناګون حيلې لټوي. او داغه رنګه بنه شرور او قبائح په ډېرو خلګو کي نه واى. يعني دا ټوله شرور په سبب د ميل د نفوس دي وشهواتو باطلو ته.

إِلَّا مَا رَحِمَ رَبِّيٓ

مګر نه هغه نفوس چې خداى ﷻ رحم پر وکړي او د عفت په پرده کي يې وساتي له ارتکاب څخه د قبائحو او منکراتو چې د هغو په جمله کي زما نفس دى او نفوس د ټولو انبيا او د ملاکوه وو عليهم السلام دي، اما الملائکة ددوى په خلق کي شهوت نسته، واما الانبيا عليهم السلام ددوى په ترکيب کي که څه هم شهوات سته لکن دوى محفوظ دي له شهواتو باطله وو څخه په تائيد او عصمت د خداى ﷻ.

فائده: کلمه د "ما" که څه هم مشهوره داده چې د غير ذوى العقول لپاره دى او کلمه د "من" لپاره د ذوى العلم لپاره دى، نو بناء پر دغه شهرت بعض مفسرين وايي چې کلمه د "ما" په معنى د "من" ده، لکن حق داده چې جامي رحمه الله عليه په شرح کې د کافيه ويلي دي چې کلمه د "ما" عامه ده د ذوى العلم او غير هم دواړو ته شامله ده، قال الله تعالى "والسما وما بناها الى اخير الآيات فافهم"

إِنَّ رَبِّي غَفُورٌ رَّحِيمٌ

په تحقيق زما خداى ﷻ مبالغ في المغفرة والرحمة دى چې يو له رحمت څخه د خداى ﷻ دادى چې هيڅ څوک به هم د نفس او په خاطر اتو د نفس نه نسي، ويرحم من يشا بالعصمة کالانبيا عليهم السلام او د خداى ﷻ د غفور والي او د رحم دا نتيجه ده چې يو ګناه کار که څه هم مرتکب د کبائرو ګنهو دي چې اقرار په خپل معصيت سره وکړي او ندم پښيماني بنکاره کړي خداى پاک يې ګناه وربخښي او مزيد رحم هم پر کوي چې په کتابو کي د کرام کاتبين په ځاى کي د سيئاتو ده ته حسنات نوشته کوي. اولئک الذين يبدل الله سيئاتهم حسنات و اولئک هم المفلحون.

وَقَالَ الْمَلِكُ ائْتُونِي بِهِ أَسْتَخْلِصْهُ لِنَفْسِي

وويل سلطان مصر يعني هغه وخت چې عذر د يوسف و ده ته بنکاره سو. او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مرتبه د يوسف عليه السلام په علم او امانت داري ده ته يقين سو كمامر، را ولئ ماته يوسف چي زه يې خاص سړی وگرځوم د ځان لپاره.

فائده: راتلونكی و يوسف عليه السلام ته خو ساقي ؤ لكن صيغه د جمع يعني "ايتوني" چي يې راوړه له دې كبله چي د ساقي سره نور ملكي سرداران او فوجي قومندانان لپاره د تعظيم د يوسف عليه السلام ورسره وه. ساقي و يوسف عليه السلام ته وويل اجب الملک ..... حافظ شيرازي قدس سره چنين گفت:

مه كنعان من مسند مصر آن توشد ..... گاه آنست كه پد رود كنی زندان را

په حديث كي د ابن عباس رضي الله عنه راغلي دي چي ساقي چي و يوسف عليه السلام ته راغلی ورته وه يې ويل چي د بندي خانې كالي دي وكاږه او هغه نوی فاخره لپاس چي ملک مصر و ساقي ته د يوسف عليه السلام لپاره ورگړی ؤ هغه واغونده. وقم الی الملک، راوي وايي چي يوسف عليه السلام چي له بندي خانې څخه وتی د محبس بندیانو ته يې په دغو الفاظو دعا وكړه اللهم اعط عليهم قلوب الاخيار (خدايه مائل وگرځوې دوی ته زړونه د بندگانو)

دروښ وايي: چي په سبب د دعا د يوسف عليه السلام هر څوک چي يو خيرات كوي د بندي خانې بندیانو ته دې ور استوي كه څه هم په محبس كي غټ غټ گناه كاران بندیان وي چي د هيڅ چا نه ځني رائي په سبب د گنهو ددوی "ولا تعم عليهم الاخبار" او ته خدای جل جلاله مه پټوې ددوی څخه خبرونه د ملک.

دروښ وايي: چي هم دا سبب دی چي بندیان اعلم د خلگو دي په هره بندي خانه كي په خبرو د هغه ځای او ماته په تجربه دا خبره معلومه سوې ده، ولي چي ماهم په بند كي ميا شتي تېري گړي دي، راوي وايي چي يوسف عليه السلام چي د بندي خانې څخه ووتی پر دوازه د سجن يې دا خبري نوشته گړې هذا قبور الاحيا" دا بندي خانه قبرونه دي د ژوندو خلگو "وبيت الاحزان" او د غمو سرای دی "وتجربة الاصدقا" او ځای د تجربې د خدای جل جلاله د ځپلو نيكو بندگانو دی "وشماتة الاعدا" او ځای د خوشالي د دښمنانو د بندي خانې، او يوسف عليه السلام غسل وكړی او د بدن خيري يې له ځانه لېرې گړې او نوي فاخره كالي يې واغوستل وقصد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الملک. نو دی چې د ملک دروازې ته ورسېدی داسې دعا يې وکړه "حسبي ربي من دنیای وحسبي ربي من خلقه عزجاره وجل ثنائه ولا اله غيره. بيا د ملک و دربار ته وردا خل سو چې پر ملک يې ستر گي ولگېدلې داسې دعا يې وکړه "اللهم اني اسئلک بخيرک من خيره واعوذبک من شره وشر غيره" نو ملک چې يوسف عليه السلام ته وکتل. يوسف عليه السلام السلام عليکم ورته وويل يعني بالعربية ملک ورته وويل ما هذا اللسان؟ قال يوسف لسان عمي اسماعيل عليه السلام بيا يې ملک ته دعا وکړه په عبراني ژبه ملک ورته وويل، ما هذا اللسان؟ يوسف عليه السلام ورته وويل لسان آبائي، د ملک دغه دوې ژبې نه وې زده.

وهب بن منبه رحمه الله وايي چې د ملک اوويا ژبې زده وې. نو هر وخت چې به ملک په يو ژبه سره د يوسف عليه السلام سره خبري کولې يوسف عليه السلام به هم په هغه ژبه جواب ورکوی، نو د يوسف عليه السلام دواوويا (۷۲) ژبې زده وې عربي او عبراني پر ملک بالا ؤ. نو ملک په تعجب کې واقع سو د يوسف عليه السلام د دواوويا ژبو له زدکړې څخه مع حداثة سنه يوسف عليه السلام په دې وخت کې د دېرشو کالو ؤ. نو يې پر تخت کښېناوه له ځانه سره.

فَلَمَّا كَلَّمَهُ قَالَ إِنَّكَ الْيَوْمَ لَدَيْنَا مَكِينٌ أَمِينٌ ﴿٥٤﴾

چې ملک د يوسف عليه السلام سره په خبرو شروع وکړه اوله خبره يې دا ورته وکړه چې په تحقيق ته ننه ورځ زمونږ په دربار کې خاوند د مکانت يعني جاه وجلال يې او امين يې پر هر شي، بغوي رحمه الله وايي چې ملک و يوسف عليه السلام ته وويل چې زما دا خوبنه ده چې تعبير زما د خوب ستا څخه شفاهاً واورم. يوسف عليه السلام ورته وويل نعم! تا اووه بقرات سپين تندیان ډېر ښائسته ليدلي دي په خوب کې چې دا بقرات له رود نيل څخه راووتلې او تر تيانو يې شيدې تويېدلې. او بيا وروسته له لشو څخه د نيل اووه ډنگري غواوي دې وليدلې چې راووتلې چې نهايته بدرنگه وې وچې غولانځي يې وې، غاښونه او پښې يې لکه د درندګانو وې، نو دې اوو ډنگرو غواوو هغه چاغې غواوي وخوړلې حتى چې هېڅوکې پوستکي د هغو يې تر بنګرو پورې وخوړلې او ته په هغه تعجب کې وې چې اووه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وړي تکښنه او اووه وړي تکتور وچ دي وليدله او پر يو ځای راشنه وه وروسته هغه وچو تورو وړو پر شنو وړو احاطه وکړه او هغه يې پټ کړه، فهذا مارئيت، نو له خوبه راويښ سوې په ډېر خوف کې، ملک ورته وويل چې زما تر خوب ستا بيان اوضح دی، نو ملک و يوسف عليه السلام ته وويل مارايک ايها الصديق، يوسف عليه السلام ورته وويل چې ته په دې اولو کلو کې چې ډېر آباد به وي خلګ امر کړه چې هر ځای دي کښت کوي او خالي مځکه مه پرېږدئ او حکومت دي هم سرکاري مځکې وکړي، او چې کښت ورسېږي د غنمو وړي د ساق سره په انبار خانو کې جمع کوه تاچې په وروسته اوو کلو کې غنم ستاسې په بنه درسي او پرورې به يې ستاسې د حيواناتو په بنه درسي، او ته خپل عاملان امر کړه چې پينځمه حصه د هغو دي د مصر د خلګو خوراکې او د حيواناتو د علف لپاره جلا کړي، او خلګ حاضر کړه چې هر سړی دي له خپلو غلو څخه جلا کړي پينځمه حصه او په انبار خانو کې دې د دولت جمع کړي په خپلو وړو کې تاچې شپږي يې ونه خوري، يوسف عليه السلام ورته وويل چې هغه ذخيره کړې غله او د سرکاري مځکو غله ستا د اهل او ماحولها بس ده يعني په کلو کې د قحط چې اووه کاله به دوام وکړي، او تاته به خلګ له اطرافو څخه رائې لپاره د خريداری د غلې، او تاته به دومرې خزانې د نقودو په بيت المال کې جمع سې چې هيڅ ملک به تر تا دمخه نه وې جمع کړي، ملک و يوسف عليه السلام ته وويل چې څوک به دا کار پر غاړه واخلي چې په کلو کې د خصب به غلې جمع کوي او په کلو کې د قحط به يې خرڅوي او نقود به په بيت المال کې جمع کوي يعني داخو لوی جنجال دی،

قَالَ اجْعَلْنِي عَلَىٰ خَزَائِنِ الْأَرْضِ ۖ إِنِّي حَفِيظٌ عَلِيمٌ ﴿٥٥﴾

يوسف (عليه السلام) وملک ته وويل چې ما مقرر او آمر کړه پر خزانو د غلو د اهل مصر او د اموالو د اهل مصر، په تحقيق زه ساتونکی يم د دغو خزانو او خبريم په صرفولو د هغو خزانو پر مستحقينو باندې په کلو کې د قحط او پر خرڅولو د هغو غلو پر اهل مصر او اطرافو باندې په ثمن مناسب سره يعني چې نه سيخ وسوځي او نه کباب، داد پښتو يو متل دی،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروېش وايي: چې اهل تفسير يعني روح المعاني، روح البيان، مظهري، بيضاوي او قرطبي تولـه پر دې متفق دي چې يوسف عليه السلام مدح د ځان وکړه په حفيظ عليم سره او طلب د امارت يې وکړی بقوله "اجعلني آه" دا تولـه لپاره د طلب د جاه او جلال نه وه بلکې ددې لپاره وه چې احکام د خدای پاک په ملک کې جاري کړي او اقامت د حق او اظهار د عدل وکړي چې د مذکوره امورو لپاره خدای پاک انبيأ کرام عليهم السلام را استولي دي، يوسف عليه السلام په دې پوهېدی چې اجرأ د دغو امورو بل څوک نسي کولای بېله ده، هم دا سبب دی چې اختلاف د مهاجرينو او انصارو رضي الله عنهم د عليه الصلوة والسلام تر وفات وروسته چې مهاجرين او انصار رضي الله عنهم سره يو ځای سوه او انصارو وويل منا امير او مهاجرينو وويل نحن الامرأ وانتم الوزرأ، حتى وروسته تر قيل وقال د ابوبکر صديق رضي الله عنه سره بيعت په اتفاق سره وکړل سو، او دغه معارضه د حضرت علي او د معاويه رضي الله عنهما هم پر دې بنأ وه چې علي رضي الله عنه ځان ښه قادر باله پر انفاذ د امورو د شريعت او عدالت.

مسئله: دروېش وايي چې تولـه مفسرين رحمهم الله پر دې متفق دي چې طلب د قضأ او امارت او اظهار ددې چې زه ددې مستعد يم روا دی که يې پر ځان اعتماد ؤ چې زه دا کار اجرأ کولای سم بلکې واجب دی که بل مستعد ددې کار نه ؤ.

فائده: له دې آيت څخه دا معلومه سوه چې تولی او طلب د قضأ او امارت د سلطان کافر يا ظالم څخه روا دی که سړی په دې پوهېدی چې زه واظهار ته د حق او سياست د خلګو نه رسېږم بېله دې کافر او جائر، ويدل عليه ان سلف هذه الامة يقولون القضأ من ائمة الجور كما يدل عليه التاريخ الاسلامي.

حکايت: علامة ابن الشحنة رحمه الله وايي چې امير تېمور لنګ چې يو جابر ظالم بادشاه ؤ او د اسلام د علماؤ ډېر سخت دښمن ؤ که څه دی هم مسلمان خو ؤ او له علمأ څخه يې تعنتي سوالونه کول چې د هغو جوابونه سبب د قتل د هغو علماؤ وګرځېدله، مثلاً يو ځای چې به ده فتح کړی، نو دا بله ورځ به يې علمأ د هغه ځای را جمع کړل او ورته وه به يې ويل چې پرون زمونږ او ستاسي تر منځ معرکه وسوه څوک پر حق او څوک پر باطل وه او د کوم طرف مړي شهيدان دي؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

که به ملا یانو ورته وویل چي ته پر باطل یې مو پر حق یو او زمو پر مړي شهیدان دي. تیمور به خپلو عسکرو ته امر وکړی چي دغه ټوله ملا یان قتل کړئ ولي مو پر خو مجاهدین یو دوی پر مو د باطل حکم وکړی. او که به ملا یانو ورته وویل چي ته پر حق یې مو پر باطل ؤ. نو به یې ملا یانو ته وویل چي تاسي خو پر خپل ځای بېغمه ناست واست، مو ناحقه حمله درباندي وکړه. نو حق مو ولي پټ کړی. عسکرو ته به یې امر وکړی چي دغه تغیه واجب ملا یان ټوله مړه کړئ. نو تیمور لنګ چي حلب فتح کړی. نو پر رواج دده بنا ټوله ملا یان د حلب یې را جمع کړل وروسته تر دې چي فتح د حلب ده عنوة او په زوره وکړه او ډېر مسلمانان یې قتل کړه. ابن الشحنة رحمه الله وایي چي مو د حلب علما او قضات ټوله یې وروغوښتلو بنه ګړی مو د تیمور لنګ په حضور کي منتظر ولاړ ؤ. بنه ګړی وروسته یې راته وویل چي کښېنئ، وروسته تیمور د حلب د علماؤ مشر ته وویل چي دده په زعم مولوي عبدالجبار بن العلامة نعمان الدین حنیفي ؤ چي ته د حلب وقاضیانو او ملا یانو ته ووایه چي زه له دوی څخه سوال کوم د یوې مسئلې چي ما د هغې مسئلې سوال له علماؤ څخه د سمرقند. بخاری او هرات او د ټولو ملا یانو څخه د هغو بلاد وچي ما فتح کړي دي هم سوال کړی دی هغو واضح او قناعت بخښونکی ځواب نه دی راکړی تاسي د هغو مثل مه ګرځئ او ماته به قناعت بخښنه ځواب راکوئ، نو عبدالجبار مذکور مو ته وویل چي "ان سلطاننا یقول" چي پرون زمو او ستاسي تر منځ جنګ وسو او دو طرفه مړي وسوه فمن الشهید منا او منکم یعني قتیلنا او قتیلکم. ابن الشحنة وایي چي زما په زړه کي خدای ﷻ یو بنه او معقول ځواب وګرځاوه، هغه دا چي یو اعرابي و علیه الصلوة والسلام ته راغلی چي یو سړی چي جنګ کوي د غنیمت لپاره او بل سړی د خپل شجاعت د اظهار لپاره فمن الغازي في سبیل الله؟ علیه الصلوة والسلام ورته وویل من قاتل لیکون کلمة الله العلیا فهو في سبیل الله. نو ابن الشحنة تیمور لنګ ته وویل من قاتل لیکون کلمة الله هي العلیا فهو شهید، یعني ابن الشحنه نه پر خپلو خلګو یوازي او نه د تیمور پر خلګو یوازي د شهید

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حکم وکړی، نو تهمور ورته وویل خوب ګفتی خوب ګفتی، او علامه عبدالجبار هم راته وویل ما احسن ماقلت یعني څه ښه ځواب دی ستا.

ابن الشحنة رحمه الله وایي چې د الفت دروازه زموږ او د تهمور تر منځ خلاصه سوه، نو تهمور څو نورې پوښتنې هم وکړې، اخیري پوښتنه یې دا وه چې ته څه وایې په علي او معاویه رضي الله عنهما کې یعني ددوی تر منځ پر خلافت جنګ واقع سوی وؤ. ما ورته وویل لاشک ان الحق مع علي رضي الله عنه ولیس معاویة رضي الله عنه من الخلفاً، تهمور راته وویل چې ته وایه چې علي رضي الله عنه علی الحق وؤ او معاویه رضي الله عنه ظالم وؤ، ابن الشحنة وایي چې ما ورته وویل چې په هدایه کې راغلي دي ویجوز تقلید القضات من امراً الجور فان کثیراً من الصحابة والتابعین قلدوا القضاً من معاویة مع ان الحق مع علي رضي الله عنه، نو امیر تهمور لنګ خوشاله سو واحسن الی العلماً والقضات وسائر اهل حلب.

دروښ وایي: چې راویان د قصې وایي چې بغوي رحمه الله په خپل سند سره د ابن عباس رضي الله عنهما څخه داسې روایت کړی دی چې رسول الله ﷺ وویل رحم الله اخي یوسف، که ده دغه مطالبه د ملک مصر څخه نه وای کړې اجعلني علی خزائن الارض ملک، ملک مصر به فوراً دی پر عهده د رئیس د خزائن الارض مقرر کړی وای لکن چې ده مطالبه وکړه یو کال د ملک مصر سره په کور کې د هغه تهر کړي وروسته کال ملک مصر یوسف علیه السلام وروغوښتی او تاج یې پر سر ور کښېښود او خپله توره یې دده په غاړه کې ورواچول. او یوسف علیه السلام ته یې یو تخت کښېښود چې د سرو زرو وؤ او په ملغلرو او قیمتي جواهراتو ښائسته کړل سوی وؤ او سربېره پر تخت ورښېمین استبرق اوار وؤ او شپېته نازکي پردې ثم امره ان یخرج فخرج متوجاً یعني تاج یې پر سر وؤ چې لون (رنګ) یې لکه د اور وؤ او مخ یې لکه سپوږمی، نو یوسف علیه السلام ورغلی پر تخت کښېښستی او ټوله امراؤ نظامي او ملکي و یوسف علیه السلام ته یې غاړه د اطاعت کښېښوله، ملک مصر خپل کور ته ولاړ او د مصر ټوله کارونه یې و یوسف علیه السلام ته حواله کړه او قطفیر د زلیخا مېړه یې معزول او بر طرفه کړی او د هغه پر ځای یې یوسف علیه السلام مقرر کړی یعني په اصطلاح د مصر صدر اعظم یې وګرځاوه، ابن زید رحمه الله وایي چې ملک مصر ریان په مصر کې دېرې خزانې درلودې ټولې یې یوسف علیه السلام ته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وسپارلي، او وه يې گرځاوه امر او قضا د يوسف عليه السلام په تولو کي نافذ. او په يو ناتانيد شده روايت کي راغلي دي ملک مصر ريان ايمان هم راوړی.

ابن جرير او ابن حاتم له ابن اسحاق رحمه الله څخه داسي روايت نقل کړی دی چې قطفير په نژدې ورځو کي مړ سو او زليخا کونډه سوه. ملک مصر زليخا و يوسف عليه السلام ته په نکاح کړه. ما بنام چې ډېره ارمان زده او ډېره زمانه په غم کي د يوسف عليه السلام په کړاوونو اخته د خپل محبوب يوسف سره په شپه کي يو ځای سوه. نو يوسف عليه السلام زليخا ته وويل چې دا زما او ستا جمع والی په نکاح صحيح نښه نه دی تر هغه چې تا زما څخه خوښتل يعني زنا. زليخا ورته وويل ايها الصديق لا تلمني على ما مضى فاني كنت امرئة حسناً غاية الحسن او جمال فائق کي او زما مېړه قطفير عنين وُ چې دخول په ښځه يې نسوای کولای فعلتني نفسي على مارئيت فدخل بها ووجدها باكرة فدخل بها وولدت لها افرائيم وميتا.

دروښ وايي: چې دغه وُ صحيح حال د يوسف عليه السلام او زليخا د اجتماع او د نکاح. دروښ همېشه خوشه چين دی د کتاب د علامه برسوي رحمه الله عليه چې روح البيان يې نوم دی لکن موضوع د وصال او نکاح د يوسف عليه السلام او زليخا په دومره اوږده بيان سره بيان کړې ده چې نه يې عقل منې او نه هم يو حديث نبوي که څه هم ضعيف وي او نه اقوال د صحابه کرامو رضي الله عنهم او نه اقوال د تابعينو او تبع د تبع تابعينو رحمهم الله او نه اقوال د ائمة اربعة مجتهدينو رحمهم الله ددغه اوږد بيان تائيد او پخلی کوي او په هر ځای کي ددې اوږد بيان بيتونه د کتاب (يوسف زليخا) چې تصنيف د علامه عبد الرحمن جامي قدس سره راوړي، او کتاب د يوسف زليخا په بيان کي حسن د زليخا نهايت اهانت انگېزه ابيات ويلي دي كما لا يخفى على من طالع الكتاب المذكور.

دروښ وايي: چې نه پوهېږم چې ماخذ ددې بياناتو څه دی الا چې امکان لري چې دغه بيانات د يهودانو څخه به عربي ته رانقل سوي وي ثم وثم الى يومنا هذا. ددغه موضوع بيان په دې ځای کي زمونږ اهل السنة والجماعة لپاره د پرې پېژوان دی، غير مقلدين لکه سلفيه او وهابيه او نور همېشه په ورته خبرو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کي موږ ته پېغور راکوي.

تنبیه: غرض د دروښ په مذکوره بیاناتو کي توهین د علامه جامي رحمه الله یا د علامه برسوي رحمه الله نه دی حاشا لله، بلکې خپل معذرت بیانول دي چې ما ولي له دې اوږده بیان څخه ددې دوو کتابو صرف نظر وکړی او نقل مي نه کړه. ولله در صاحب روح المعاني والقاضي البیضاوي والمظهري والامام العلامة الرازي چې تفسیر کبیر یې تصنیف دی والعلامة القرطبي رحمهم الله چې په هغو کي هیڅ تعرض ودې بیان طویل ته نسته..... بیت:

تو گوی آنچه دانی سخن سود مند ..... وگر هیچ کس را نیاید پسند

والله اعلم بحقیقة الحال والیه المرجع والمآل.

دروښ وایي: چې ما په یو کتاب کي ولیدله چې سید الشهداء حمزه رضي الله عنه چې له موږه پیدا کېدی نهه گزه یې د سینې عرض ؤ. نو دا خبره امکان پذیره ده او که صرف کذب دی.

وَكَذَٰلِكَ مَكَّنَّا لِيُوسُفَ فِي الْأَرْضِ يَتَبَوَّأُ مِنْهَا حَيْثُ يَشَاءُ

دغه رنگه لکه چې موږ عزت ورکړی ؤ یوسف علیه السلام ته په دربار کي د ملک مصر، موږ تمکین او عزت ورکړی ؤ ده ته په محکه کي د مصر، دی نازلېدی یعني ورتلی له بلادو او له قری وو څخه هغه ځای چې دده به خوښه وه یعني لپاره د سیاست داری د مملکت د مصر او نظر کول په حال کي د رعایاوو کما هو من لوازم رتبته.

نُصِيبُ بِرَحْمَتِنَا مَنْ نَشَاءُ وَلَا نُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ ﴿٥٦﴾

موږ رسول کوو په نعمت سره خپل هغه چا ته چې زموږ خوښه وي في الدنیا والآخرة. او موږ نه ضائع کوو اجر او ثواب د خپلو مخلصو او صابرو بندگانو ومنهم هم یوسف علیه السلام بلکې کامل ورکوو اجور ددوی عاجلاً وآجلاً.

وَلَأَجْرُ الْآخِرَةِ خَيْرٌ لِّلَّذِينَ آمَنُوا وَكَانُوا يَتَّقُونَ ﴿٥٧﴾

او ثواب د اخرت بهتر او ښه دی تر نعمتو د دنیا لپاره د هغو کسانو چې ایمان یې راوړی وي او هنوز هم د خدای جل جلاله له عذاب څخه ببر ېږي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تاريخ خبري كوي او محققين د مفسرينو يې تائيد كوي چې څه وخت چې اختيارات د مملكت د مصر د ريان ملک مصر له خوا څخه ټوله و يوسف عليه السلام ته حواله سوه، نو يوسف عليه السلام په ښه تدبير سره جمع د غلاتو په انبار خانو كې د مملكت كوله او ډېري كلاوي يې د غلو د جمع كولو لپاره په مخصب كلو كې لپاره د قحط د كلو جمع كړي وې او جمع كولې يې وانفق الناس بالمعروف يعني في السنين المخصبة حتى چې د قحط كلونه په ډېر هول او بېره سره داخل سوه چې مصريان قبل ازان داسې قحط نه وليدلى، او يوسف عليه السلام په دې كلو كې د ملک مصر او دده د فاميل د ورځې پر دوولس بچې مثلاً دوه ډې ور استول حتى چې ملک مصر به ناري وهلې يا يوسف الجوع الجوع. نو په اووه كاله كې د قحط خلګو چې هر څو غلې جمع كړې په سنوات محصبه وو كې هغه ټولې تمامې سوې، نو د مصر خلګو و يوسف عليه السلام ته رجوع وكړه د غلو په باره كې، يوسف عليه السلام د غلو د خرڅولو پيل وكړى پر رعاياوو د مصر او د اطرافو. په اول كال كې يې په نقدو روپو پر خرڅول يعني الدراهم والدنانير. حتى چې د مصريانو په لاس كې نه درهم او نه دنانير پاته سوه، او په دوهم كال يې د ښځو په زېوراتو او جواهراتو پر خرڅول حتى لم يبق في ايدى الناس منهما شيئ. او په دريم كال يې په مواشيو او چارپايانو غلې پر خرڅولې حتى چې د خلګو دا شيان هم ختم سوه. او په څلورم كال يې په مريانو او مينځيانو غله پر خرڅول حتى چې اهل مصر ته نه مريى پاتې سو نه مينځه. او په پينځم كال يې د اهل مصر د مځكو او د سرايو په معاوضه غلې ورکولې حتى چې دا هم ختم سوې، او په شپږم كال يې ددوى د اولادو په استرقال غله ورکوله. حتى اولاد د اهل مصر يې ټوله مريان او مينځيانې وګرځول. او په اووم كال يې په خرڅولو سره د خپلو ځانو د مصريانو غله ورکول.

دروښ وايي: چې پر بنا ددې روايت په شريعت كې د يوسف عليه السلام بيع د اولادو او انفسو روا وه كه څه هم زمونږ په شريعت كې دا نه ده روا، نو مصريانو به ويل چې مونږ تر داسې آمر اعلى واجل تر يوسف عليه السلام طول اعمارنا نه وليدلى نو يوسف عليه السلام سلطان مصر ته وويل چې څرنګه يې بولې چې تاكار ماته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وسپاره څرنگه مي خزانې ټولي د نقودو، سرو، سپينو زرو او جواهراتو درډکې کړې او څرنگه مي مځکې او سرايونه د اهل مصر ستا ملک وگرځاوه او څرنگه اهل مصر او اولاد ددوی مي ستا مريان وگرځول، يوسف عليه السلام ورته وويل چې اوس نو ستا څرنگه خوښه ده. ملک ورته وويل چې خوښه ستا ده زه دې تابع يم. نو يوسف عليه السلام ورته وويل فاني اشهد الله عزوجل واشهدک چې زما له خوا ازاد دې ټوله اهل مصر او اولادونه ددوی او ټولي مځکې او سرايونه او مواشي او حيوانات ددوی پر دوی رد دي.

دروښ وايي: چې په دې کار د يوسف عليه السلام سره ټوله اهل مصر دده شکر گذاره سوه او دده فضل او عدل يې په زړو کې ځای پيدا کړی.

تاريخ فديم وايي چې يوسف عليه السلام د قحط په شپو او ورځو کې په ډوډی ځان نه مړاوه، خلگو ورته وويل چې ستا په لاس کې خو خزائن مصر دي ته ولې وږی گرځې؟ يوسف عليه السلام به ورته ويل که زه ځان مور کړم د وږو خلگو حال به مي هېر سي. او يوسف عليه السلام به د ملک اشپز ته ويل چې پر نصف نهار و ده ته ډوډی مهيا کوه تاچې و ملک ته د لوږې درک ورمعلوم سي او وږي خلگ هېر نه کړي.

تاريخ وايي چې له اطرافو څخه د ټولو خلگو راتگ مصر ته شروع سو، د يوسف عليه السلام څخه د غلې د پورولو لپاره يعنې چې را يې نسي. او د يوسف عليه السلام دا قانون ؤ چې هر چا ته به يې يو بار د اوښ ورکاوه که څه هم ډېر معتبره سړی واى له جهته د عدالت بين الناس وکثرة الازدحام عليه. تاريخ وايي چې ددې قحط اثر تر کنعان او شام پورې ورسېدی. او پر يعقوب عليه السلام چې د يوسف عليه السلام پلار ؤ اثر د قحط ولوېدی. او پر ده او زامنو او عيال مځکه د کنعان د لوږې له کبله تنگه سوه. او يعقوب عليه السلام او زامنو يې په صحرا کې ژوند کاوه اوښان او پسونه يې درلودل او دوی ته دا اوازه ورسېدله چې په مصر کې يو ملک صالح دی يعنې نه د يوسف په نامه، چې دا ملک صالح و خلگو ته په ارزانو قيمت غله يو د اوښ بار ورکوي، نو يعقوب خپل زامن د مصر پر خوا راهې کړل مگر بيين يامين چې د يوسف عليه السلام سکه ورور ؤ ځنې وه يې گرځاوه خوفاً مما فعلوا بيوسف.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چي اول چي يعقوب عليه السلام زامن امر کړل چي تاسي مصر ته ولاړ سئ د ملک مصر څخه به غله راوړئ زامنو يې ورته وويل يا نبئ الله کيف يطيب قلبک چي ته مورږ استوې وفرعونيانو ته د مخکي. او ته خبر يې په عداوت له مورږ سره او مورږ ته امن پر دې نسته چي دوی به مورږ ته پر ځای د غلې شر راوړسوي.

دروښ وايي: چي په هغه وخت کي د مصر مخکه دوی د جبابروو مخکه بلله لزيادة الجور والظلم فيها، يعقوب عليه السلام ورته وويل چي زه خبر سوی يم چي په مصر کي هم دا اوس يو ملک عادل صالح سړی پر سر د حکومت راغلی دی چي د چا سره ظلم نه کوي، نو ولاړ سئ مصر ته او ملک مصر ته زما سلام هم وواياست ستاسي د غلو د ورکړي حاجت به هم تر سره سي ان شاء الله تعالى.

پوښتنه: د کنعان او د مصر تر منځ خو اته منزله مسافت وٴ لکن يعقوب عليه السلام ته سره ددې چي دروازه د وحي ورته خلاصه وه ولي ده ته د يوسف عليه السلام ځای نه وٴ معلوم، او بيا ولي يوسف عليه السلام خپل پلار په خپل حال نه خبر اوه؟

ځواب: دا دواړه کارونه معطل وه، په اراده پوري د خدای عزوجل مربوط وه الى ان يأتي وقت الملاقات المسمى في علم الله تعالى. كريمه ولا يسئل عما يفعل وهم يسئلون"

وَجَآءَ إِخْوَةُ يُوسُفَ فَدَخَلُوا عَلَيْهِ فَعَرَفَهُمْ

او راغله ورونه د يوسف (عليه السلام) او دوی داخل سوه پر يوسف عليه السلام په اجازه دده او يوسف عليه السلام پر خپل تخت ناست وٴ په ډېر زينت او دبدبه سره، نو يوسف دستي دوی وپېژندل، يو خو لقوة فهم وذكاوة يوسف، او بل په دې سبب چي دوی پر هغه حال وه چي دی يې وڅاه ته اچاوه نه يې هيئت بدل سوی وٴ او نه يې لباس په دواړو حالاتو کي. او بل دا چي خدای پاک و يوسف عليه السلام ته په هغه وخت کي چي دی ورنو څاه ته واچاوه داسي ويلي وه "لتنبئنهم بامرهم هذا وهم لا يشعرون" نو يوسف عليه السلام په دې وپوهېدی چي دوی به مائه حتماً راځي په قرار د وعدې د خدای جل جلاله، نو مجرد يوسف (عليه السلام) خبر سو چي له کنعان څخه ابناً يعقوب عليه السلام راغلي دي قبل الرؤية يې دوی وپېژندل.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَهُمْ لَهُ مُنْكِرُوْنَ ﴿٥٨﴾

او دوی له یوسف (علیه السلام) څخه منکر وه یعني نه یې پېژندی.

(۱) اول په سبب د طول عهد په منځ کې د فراق او وصال، ابن عباس رضی الله عنهما وایي چې له هغه وخته څخه چې ورنو دی وځاه ته واچاوه او تر دې وخته د دخول پر یوسف علیه السلام څلویښت کاله تېر سوي وه.

(۲) په وخت کې د اچولو وځاه ته یوسف علیه السلام نهایت صغیر السن وؤ.

(۳) د ورنو یې عقیده وه چې یوسف به له وخته لامړۍ او ددوی له ذهنو څخه یوسف علیه السلام بېخي وتلی وؤ.

(۴) یوسف علیه السلام خو دوی په صغر السن او خواره جامه کې لیدلی وؤ او اوس ځوان په حسن او جمال پر تخت شاهي ناست وؤ او قومندانان د مصر په سلامي لاس پر سینه ورته ولاړ و، نو څه یې پېژندی چې دا به زموږ وروړ یوسف وي.

مفسرین رحمهم الله وایي چې یوسف علیه السلام چې دوی ته وکتل تجاهلاً یې په عبراني پوښتنه څنې وکړه چې تاسي څوک یاست او د څه شي لپاره زما ملک ته داخل سوي یاست؟ دوی ورته وویل چې موږ یو قوم یو د اهل شام رعاة الشیاه موږ ته مصیبت د قحط او لوږې دارسېدلی دی د غلې د رانیولو لپاره راغلي یو. یوسف علیه السلام ورته وویل چې شاید تاسي زما د مملکت د کشف الحال د جاسوسی لپاره راغلي یاست؟ قالوا لا والله مانحن بجواسیس. انما نحن بنو اب واحد وهو شیخ کبیر ونبي من انبیاء الله عزوجل. یوسف علیه السلام ورته وویل چې تاسي څو ورنو یاست دوی ورته وویل چې موږ اصلي دوولس ورنو یو. لس له یوې مورې یو او دوه د بلې مور او تر ټولو کشر چې پر پلار ډېر گران هم وؤ یوسف یې نوم وؤ چې موږ یو وخت یوسف د مېلې لپاره د ځان سره صحرا ته د کنعان بېولی وؤ د پلار په اجازه، نو مورې سات تېرې کاوه او یوسف مو و کالو ته کښېنولی وؤ چې ناګاه لېوه راغلی یوسف یې وخوړی، یوسف علیه السلام ورته وویل چې هغه بل ورور مو ولي نه دی راوستلی، دوی ورته وویل چې هغه د یوسف سکنی یعني د مورې یې ورور وؤ، نو پلار راڅخه وگرځاوه چې د فاقد زوی یوسف مینه یې په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ماتول، نو يوسف عليه السلام ورته وويل چي زه نه پوهيږم چي ستاسي خبري به صدق او رشتيا وي او كه نه؟ دوی ورته وويل چي موږ په مصر كي هيڅ څوك نه پيژنې چي زمونږ پر صدق تاته شاهدي ادا كړي، نو يوسف عليه السلام وروڼو ته هر يوه ته يو بار د اوښ غله وركړه او نوره مرسته د سفر خرڅ يې هم وركړې.

وَلَمَّا جَهَّزَهُمْ بِجَهَازِهِمْ قَالَ ائْتُونِي بِأَخٍ لَّكُمْ مِّنْ أَبِيكُمْ

نو چي كار سازي وكړه يوسف (عليه السلام) دده‌وی د سفر، نو دوی ته يې وويل چي ماته به راولئ ستاسي وروړ د پلار له خوا څخه كه ستاسي خبري رشتيا وې چي زه په دغه سره راضي، او يو اوښ بار به د وروړ لپاره هم دركړم او هم به مو نازوم.

أَلَا تَرَوْنَ أَنِّي أُوفِي الْكَيْلَ وَأَنَا خَيْرُ الْمُنزِلِينَ ﴿٥٩﴾

تاسي نه وينئ چي زه پيمانې د غلې پوره وركوم او خير د مهمان پرستانو يم او يوسف عليه السلام دوی ته بشكلي مېلمستياوي وركړي وې او ډېر يې نازولي وه.

فَإِن لَّمْ تَأْتُونِي بِهِ فَلَا كَيْلَ لَكُمْ عِندِي وَلَا تَقْرَبُونِ ﴿٦٠﴾

كه مو وروړ نه راوستی، نو بيا تاسي ته پيمانې د غلې نسته او نه به ماته نژدې راځئ.

قَالُوا سَنُرَاوِدُ عَنْهُ أَبَاهُ وَإِنَّا لَفَاعِلُونَ ﴿٦١﴾

دوی ورته وويل پلار خو زمونږ د پاته وروړ په فراق نه راضي كېږي يعني چي پلار د يوسف عليه السلام مفقود مينه په ماتوي لكن بيا هم موږ به وپلار ته بهانه وكړو او ډېر كوشش به وكړو په طلب كي د وروړ او موږ به دا كار وكړو يعني پاته وروړ به تاته حتماً راولو، نو يوسف عليه السلام چي يو وروړ به ماته گرو او ضامن پرېږدئ تر هغو چي تاسي وروړ راولئ، نو دوی پېچه سره واچول يعني قرعه، نو قرعه د شمعون د پاته كېدلو ووتل، او شمعون د يوسف عليه السلام چي وروڼو وژی ډېر كوشان ؤ چي وژنئ يې مه وڅاه ته يې واچوئ، نو شمعون وروړ يې پاته سو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَقَالَ لِفِتْيٰنِهِ اجْعَلُوْا بِضَاعَتَهُمْ فِيْ رِحَالِهِمْ

او وويل يوسف عليه السلام خپلو نوكرانو ته چې د كيل پر كار ګمارسوي وه، وګرځوئ هغه ثمن چې دوی د غلې د رانيولو لپاره راوړی ؤ ددوی په جولو كې يعنې په پټه. دا بضاعت ددوی صحيح داده چې دراهم وه، او بعض مفسرين وايي چې يو څرمنې او يو څو جوته چوتې وې.

پوه سه: چې "فتيان" جمع د "فتى" و مريې ته وايي كه څوان او كه سپين ږيرى وي، كه څه هم فتى څوان ته وايي، اما مريى كه څوان وي او كه سپين ږيرى بادار يې په خدمت كې د څوان كار څنې اخلي.

نكته: د يوسف عليه السلام يو غرض څو احسان ؤ د ورښو سره، او بل غرض يې دا ؤ چې بېرته دى چې بيا به نه سي را مصر ته د غلې د رانيولو لپاره، ولې چې د پلار سره به دومره شى نه وي چې دوى د غلې لپاره بيا را واستوي.

لَعَلَّهُمْ يَعْرِفُوْنَهَآ اِذَا انْقَلَبُوْٓا اِلٰٓى اَهْلِهِمْ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿۶۲﴾

شايد دوى به پېژنې حق د رد د بضاعت او حق د احسان زما يرد البدلين يعنې غله او قيمته يې. چې دوى خپل كور او اهل ته ورسي شايد بيا به د غلې د پورولو لپاره مصر ته راسي.

دروښ وايي: چې رد د بضاعت دوې وجهې دي يو كرامت د ورونو دى او په اول وهلت بر او احسان د ملك مصر چې يوسف عليه السلام ؤ دوى ته به معلوم سي نو وروسته به دلېرانه عود وكړي، او بله وجه يې داده چې د يوسف عليه السلام پاك وجدان دا نه قبلوله چې د ورښو او د پلار څخه سره د احتياجه ددوى بضاعت دوى واخلي، لكن دروښ وايي چې صحيح سبب د رد د بضاعت دا ؤ لكه چې كلبي رحمه الله بيان كړى چې دا بضاعت يې څكه ور رد كړى چې د پلار سره به يې نور مبلغ نه وي چې دوى د بلې پلا لپاره مصر ته راواستوي د غلې د رانيولو لپاره.

فَلَمَّا رَجَعُوْٓا اِلٰٓى اَبِيْهِمْ قَالُوْا يٰٓاَبَانَا مُنِعَ مِنَّا الْكَيْلُ

هغه وخت چې دوى بيرته وطن ته ستانه سوه او د پلار سره يې ملاقات وسو، نو دوى وويل.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې اول خو دوی د ملک مصر حالات و یعقوب علیه السلام ته بیان کړل په دې الفاظو "قدمنا علی خیر رجل انزلنا واکرمنا" موږ ته یې دلسي د اوسېدلو ځای راکړی او زموږ فوق العادة عزت یې وکړی لو کان من آل یعقوب ما اکرمنا کرامته. که د آل یعقوب سړی وای هم دومره عزت به یې موږ ته نه وای راکړی لکه چې ملک مصر راکړی، او یعقوب علیه السلام زامنو ته وویل که بیا مصر ته ورغلاست پر ملک مصر زما سلامونه ووایاست او ورته ووایاست چې موږ پلار تاته د پرې دعا وي وکړې او طلب د رحمت د خدای ﷻ یې ستا لپاره وکړی بما اولیتنا، وروسته یې پلار ورته ووېل چې شمعون مو څه کړی، زامنو یې ورته ووېل چې هغو خو ملک مصر په ګرو کې وګرځاوه او ټوله قصه یې ورته وکړه، دوی ورته ووېل چې ملک مصر پر موږ باندې د جاسوسانو ګمان وکړی او په عبرانې لغت یې خبرې راسره وکړې.

دروښ وايي: چې دا مقوله "یآ ابانا" د "قالوا" ده اې پلاره زموږ منع کړه له موږ څخه د بلې پلا کیل او غلې او وه یې ویل چې تاسي که خپل کشر ورور بنیامین نه راولئ او ملک مصر دا قرینه وګرځول نو جواسیس نه یاست او په خپلو خبرو کې صادق یاست.

فَأَرْسِلْ مَعَنَآ أَخَانَا نَكْتَلْ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ ﴿٦٣﴾

نو زموږ سره واستوه زموږ ورور بنیامین چې کیل یعنې غله راکړي او یو اوښ غله به بنیامین ته ورکړي او موږ د بنیامین محافظت کوو.

قَالَ هَلْ ءَامَنُكُمْ عَلَيْهِ إِلَّا كَمَآ أَمِنتُكُمْ عَلَىٰٓ أَخِيهِ مِن قَبْلُ ۖ

یعقوب (علیه السلام) ورته ووېل آیا زه به تاسي امینان ګرځوم پر بنیامین لکه ما چې تاسي امینان وګرځولاست پر ورور ده یعنې یوسف "من قبل" یعنې د یوسف د بهولو په وخت کې خو هم تاسي ویله ونحن له حافظون. او بیا مو په یوسف هغه څه وکړل چې تاسي کړي دي. نو استفهام د "هل" انکاري دی یعنې بنیامین نه درسره کوم او د محافظت په وعدې زه باور نه لرم لظهور کذبه في یوسف حیث قلتم وانا له حافظون.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَاللّٰهُ خَيْرٌ حٰفِظًا ۪ وَّهُوَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِيْنَ ﴿۶۴﴾

خدای پاک بنه دی تر تاسي او تر هر چا از روی حفاظت (نو حافظاً تمیز د نسبت د خیر والله ته) او خدای پاک ډیر رحم کونکی دی تر ټولو رحم کونکو.

وَلَمَّا فَتَحُوْا مَتَاعَهُمْ وَجَدُوْا بِضَاعَتَهُمْ رُدَّتْ اِلَيْهِمْ ؕ

هغه چي دوی یعني زامنو د یعقوب علیه السلام خلاص کړل هغه جوالونه چي له مصر څخه یې غله پکښې راوړې وه، دوی پیدا کړه هغه ثمن د غلې چي دوی ته رد کړل سوی وؤ.

قَالُوْا يٰۤاَبَانَا مَا نَبْغِيْ ؕ هٰذِهٖ بِضَاعَتُنَا رُدَّتْ اِلَيْنَا ۚ

دوی وویل چي اې زمونږ پلاره مونږ نور څه غواړو له اکرام څخه د ملک مصر او دده له احسان څخه د مونږ سره، دا دی هغه زمونږ ثمن د غلې مونږ ته رد کړل سوی دی یعني د ملک مصر له خوا څخه.

وَنَمِيْرُ اَهْلَنَا وَنَحْفَظُ اَخَانَا

مونږ به میر یعني غله راوړو خپل اهل او عیال ته، او مونږ به خپل د ورور بنیامین حفاظت کوو له هر دښمن څخه ذهاباً وایاباً.

پوه سه: چي "نمیر" عطف پر محذوف دی ای نذهب الی ملک مصر مرة اخری

وَنَزْدَادُ كَيْلَ بَعِيْرٍ ؕ ذٰلِكَ كَيْلٌ يَّسِيْرٌ ﴿۶۵﴾

او مونږ به زیات کړو یو بار د اوښ یعني د بنیامین حصه، ولي چي ملک د سړي سره هر چاته یو اوښ بار غله ورکوي، دا یو اوښ بار غله اسانه ده و ملک مصر ته لغایة جوده و کرمه.

قَالَ لَنْ اُرْسِلَهٗ مَعَكُمْ حَتّٰى تُؤْتُوْنِ مَوْثِقًا مِّنَ اللّٰهِ لَتَاْتُنَّنِيْ بِهٖۤ اِلَّاۤ اَنْ يُّحَاطَ بِكُمْ ۚ

یعقوب علیه السلام وویل زامنو ته چي هر گز زه نه استوم بنیامین د تاسي سره لما رئیت من فعلکم باخیه یوسف، تر هغو چي تاسي ټینګه وعده په قسم سره د خدای ونه کړئ، تاسي به راولئ ماته بنیامین له مصر څخه، مجاهد رحمه الله د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

"احاط بكم" دا ترجمه كړې ده چې مگر تاسې تولـه هلاک سواست، او قتاده رحمه الله يې معنا دا کوي الا ان تغلبوا فلا تطيقوا ذالک مگر نه که تاسې مغلوبه سواست چې طاقت د راوستلو د بنيامين مو درلودی.

فائده: دا استثنا مفرغ ده من اعم الاحوال ای لتأتنني به في كل حال الا حال بكم.

فَلَمَّآ اٰتَوْهُ مَوْثِقَهُمْ قَالَ اللّٰهُ عَلٰى مَا نَقُوْلُ وَكِيْلٌ ۝

هغه وخت چې زامنو ورکړه ټينګه وعده وېلار ته ای حلفوا بالله وجهدوا اشد الجهد في الاتيان به، نو اخير يعقوب عليه السلام ته بهانه د نه ورسره کولو د بنيامين نه سوه پاته، يعقوب عليه السلام وويل دوی ته چې خدای پاک زمونږ او ستاسې د وعدو حافظ دی يعني دا وعدې به وساتي.

وَقَالَ يٰبَنِيَّ لَا تَدْخُلُوْا مِنْۢ بَابٍ وَّاحِدٍ وَّادْخُلُوْا مِنْ اَبْوَابٍ مُّتَفَرِّقَةٍ ؕ

او يعقوب عليه السلام وويل يعني په وخت کې د رخصت د زامنو مصر ته په شمول د بنيامين. اې زما زامنو تاسې په جمع واری سره و مصر ته د يوې دروازې څخه مه ورځئ بلکې داخل سئ ومصر ته د متفرقو دروازو له لاړي.

پوه سه: چې په دې کې د يعقوب عليه السلام غرض دا وُچې دده زامن د هر ښائسته وه او ښه ښه قامتونه يې وه او په دې مشهور وه چې دا پر ملک مصر د هر گران دي نو پر دې بهر بدی چې نظر نه سي. وفي الحديث العين حق، وفي الحديث صحصح آخر که چېرې تر تقدير الهي دمخه کېدای سوای يو شی لسبقته العين ای نظر السوء.

پوه سه: چې سورت "نٓ" ددې آيت په تفسير کې "وَإِن يَكَادُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَيُزْلِقُونَكَ بِأَبْصَٰرِهِمْ لَمَّا سَمِعُوا۟ ٱلذِّكْرَ وَيَقُولُونَ إِنَّهُۥ لَمَجْنُونٌ ۘ" الآية

داسې شان نزول ذکر سوی دی چې کفار د مکې د عليه الصلوة والسلام د حسن القرائة بالقرآن لپاره يې د هر عائنين يعني نظر کونکي را جمع کړي وه چې عليه الصلوة والسلام چې قرائت وايي تاسې يې نظر کړئ، نو دا آيت لپاره د جلو گيرۍ ددوی د نظر نازل سو.

دروښ وايي: چې دغه آيتونه چې پر مصاب بنظر السوء باندې ووايي يا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

څانښت نوشته کړي په وځيښل سي خداى پاک به ضرر د اصابت څخه دفع کړي وقد جربناه کرات.

سوال: يعقوب عليه السلام په دمخه وار کي زامنو ته نه ويل لا تدخلوا من باب واحد الآية؟

ځواب: په اول وار کي خو د يعقوب عليه السلام زامنو دومره شهرت نه درلودى لکه نور طالبان د غلې چې به يوسف عليه السلام ته ورتله دوى هم داغسې عادي کسان وه، او بعض مفسرين وايي چې يعقوب عليه السلام پر بنيامين بېرېدى چې نظر نسي. ولي چې بنيامين نمونه د بنائست د يوسف عليه السلام وه.

وَمَآ أُغْنِي عَنكُم مِّنَ اللَّهِ مِن شَيْءٍ ۖ

او يعقوب (عليه السلام) وويل چې زه په کارو کي د تقدير الهي هيڅ فائده نه سم رسولاى وتاسي ته يعني دا وينا چې ما تاسي ته وکړه صرف نظر اسبابو عاديه وو ته وه مګر د تقدير الهي ردونکى نسته، ولهذا قال:

إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ ۖ

نه دى حکم د نفع او د ضرر مګر خداى پاک لره دى.

په حديث شريف کي چې روايت يې حاکم او احمد کړى دى راغلي دي چې عليه الصلوة والسلام وويل "لا يغني حذر عن قدر" دروېش وايي چې په دې وينا سره يعقوب عليه السلام تفويظ و خداى پاک ته وکړى او اسباب ظاهره يې صرف نظر کړه.

عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ ۖ وَعَلَيْهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُتَوَكِّلُونَ ﴿٦٧﴾

پوه سه: چې تقديم د جار او مجرور لپاره د حصر دى يعني خاص پر خداى پاک زما توکل دى، او خاص پر خداى ﷻ دي توکل کوي توکل کونکي.

فائده مهمة: في اصابة العين، پوه سه! چې پر اصابة العين تجربې د علماؤ من الزمن الاقدم دلالت کوي او ويناوي د انبياؤ عليهم السلام ناطق دي په حقيت د اصابة العين كما يدل عليه في هذا المقام يا بني لا تدخلوا من باب واحد الآية.

وفي الحديث الصحيح ان العين تدخل الرجل القبر والجمل القدر يعني کتو ته، والآية المذكورة من قبل آنفاً "وان يكاد الذين كفروا الآية" ايضاً

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تدل على حقية اصابة العين. له حضرت علي ﷺ څخه روايت دی چې جبرئيل و عليه الصلوة والسلام ته راغلی. دی مبارک غمجن ؤ. جبرئيل ورته وويل ما هذا الغم الذي اراه في وجهک دا څه غم دی چې زه يې ستا په مخ کې اثر وينم. عليه الصلوة والسلام ورته وويل! حسن او حسين (رضي الله عنهما) نظر سوي دي. جبرئيل ورته وويل صدقت يا محمد فان العين حق.

مسئله: فقهاء رحمهم الله وايي چې که يو سړی په اصابة العين سره مشهور ؤچې شی به يې خوښ سو که انسان واى او که حيوان او که لوبنی وغيره واى هغه ته به ضرر رسېدی، نو حکومت اسلامي دې بندي کړي او ډوډی دي ورکوي تر مرګه پورې.

حکايت: يو صالح عالم شيخ ناجوړی ؤ قريب الموت ؤ، نو اقارب اولاد وغيره يې پر راغونډ وه او ډېر مغموم ناست وه چې د کلي يوه بنځه د شيخ د پوښتنې لپاره راغله چې په نظر کولو سره مشهوره وه، نو شيخ مخ څنې پټ کړی، بنځې ورته وويل دا مخ دي ولې پټ کړی؟ شيخ ورته وويل چې نظر مي نه کړې، بنځې ورته وويل چې زه به ستا کوم ځای نظر کړم؟ حاضرينو پر وخندل، شيخ ورته وويل چې دا به مي نظر کړې چې څومره اسان زکندن يې دی، حاضرينو بيا وخندل، د شيخ غرض دا ؤچې دا په غم قربان وخندوي. هغه ؤ شيخ چې اخيري خبره وکړه کلمه د شهادت يې وويل او وفات سو. انا لله وانا اليه راجعون.

د دروېش چشم ديد حکايت د عين السوء په باره کې، پوه سه! چې سپېروان د يوې قريې جامع نوم دی چې د قندهار له ښار څخه شپږ کيلو مېټره تخميناً لېرې ده، او د هغې قريې په شاوخوا کې بادیه نشينان سته چې رېګي يې بولي په هغه بادیه نشينانو کې يو سړی ؤ چې سخت نظر او اصابة العين يې درلودی نوم يې ښادو ؤ. يوه ورځ د اختر په ورځو کې ښادو او نور ملګري ورسره د شيخ قلندر مېلې ته تله، په طول کې د لارې په يو کور کې بنځې خپل غوا لوشله چې د غوا د لوشلو ړغ د ښادو تر غوږ سو او ډېر خوند يې ورکړی که څه هم نه يې غوا ليدله او نه يې بنځه چې لوشي يې بلکې صرف صوت د لوشلو يې تر غوږ سو، نو ښادو ملګرو ته وويل چې له مېلې څخه وختې راووځئ چې د دغې غوا د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خيرات غوښي به را سره يوسو. ملګرو پسخند په وواهه چي غوا چيري ده او ستا اصابة العين پر هغې څرنګه واقع سو. خير دوی چي ولاړل غوا دستي ناجوړې سوه يو ګړی وروسته مالک ذبح کړل د خيرات په نيت، ښادو ځنې ملګرو سره مېله ژړ پرېښوله چي د غوا ځای ته راغله د غوا غوښي وېشل کېدلې ښادو او ملګرو خپلې برخې ځنې واخستلې او کور ته ولاړل، وهذا من عجائب الواقعات النادرة لاصابة النظر.

دروېش وايي: چي روح البيان اصابة العين عقلي او حکمي ډېري وجهي بيان کړي دي چي ددې تفسير د متعلمانو تر فهم ډېري لوړي دي ځکه دروېش صرف نظر کړې. او روح المعاني هم په ډېر شد ومد بيان د اسبابو د اصابة العين کړی دی صفحه ١٦-١٧-١٨ نقل يې فائده نه لري او د صحت يې ضمانت نسته، نو اولی داده چي د تفسير القرآن پر خوا وګرځو.

وَلَمَّا دَخَلُوا مِنْ حَيْثُ أَمَرَهُمْ أَبُوهُمْ ۖ مَا كَانَ يُغْنِي عَنْهُمْ مِنَ اللَّهِ مِنْ شَيْءٍ

چي دوی داخل سوه مصر ته د هغو دروازو له لاړي لکه څرنګه چي دوی پلار امر کړي وه يعني من ابواب متفرقه، راوي وايي چي د مصر څلور دروازې وې "ماكان يعني عنهم" جواب د لما دی، والمعنى دفع د ضرر له دوی څخه دا دخول متفرق ونه کړی له الله تعالى څخه يعني قضائه تعالى د هيڅ شي مما قضى الله حتى چي وروسته به راسي په قرآن کي چي بنيامين ملک مصر يعني يوسف عليه السلام له دوی څخه وګرځاوه او يعقوب عليه السلام ته مصيبت دوه چنده سو.

إِلَّا حَاجَةً فِي نَفْسِ يَعْقُوبَ قَضَاهَا ۚ

پوه سه: چي دا ستثناء منقطع ده اى لكن حاجةً في نفس يعقوب يعني شفقته عليهم چي نظر سوء پر ونسي، چي يعقوب عليه السلام دوی ته ظاهر کړی او وصيت يې ورته وکړی.

وَإِنَّهُ لَذُو عِلْمٍ لِّمَا عَلَّمْنَاهُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٦٨﴾

او په تحقيق يعقوب (عليه السلام) صاحب د علم وو په هغه شي چي موږ ته يې ښوولی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وُ يعني بالوحي، نو په دې سبب يعقوب علیه السلام و زامنو ته په وخت کې د وصیت د دخول من ابواب متفرقه داسي وویل "وما اغني عنكم من الله من شيئ" لکن د هر کسان نه پوهېږي په هغه شي چې يعقوب علیه السلام په پوهېدی، اين النبي واين الامي.

وَلَمَّا دَخَلُوا عَلَىٰ يُوسُفَ

ورونه ورغله ملاقات ته د يوسف (علیه السلام) في الواقع او ملاقات د مصر د ملک في الظاهر، نو دوی ورته وویل چې هغه زموږ ورور چې تا موږ امر کړي وُ په راوستلو کې د هغه دادی را موږ وستی وتاته. يوسف علیه السلام ورته وویل احسنتم واصبتم وستجدون جزاً ذالک عندي. بیا يوسف علیه السلام دوی ته بنه اوطاق ورکړی او د هر يې نازول او دوی يې دوه دوه پر يوه سترخوان کښېنول، بنيامين يوازي پاته سو. نو ده وژړل او داسي يې وویل لو کان اخي يوسف حياً لاجلسني معه. نو يوسف علیه السلام ودوی ته وویل چې ستاسي دا ورور يوازي پاته سو. نو يوسف علیه السلام بنيامين له ځانه سره پر سترخوان کښېناوه او دوه دې يې ورسره وخوړله. وروسته يې د خوب لپاره ځايونه هوار کړل او امر يې وکړی چې دوه دوه دي پر يوه فراش بد پرې، نو چې يوسف علیه السلام او بنيامين پر يوه ځای سره بيده سوه يوسف علیه السلام بنيامين په غېږ پوري تينګ نيولی وُ تر سهاره پوري، روبيل وویل چې دومره محبت چې ملک مصر يې د بنيامين سره لري ما تر اوسه نه دی ليدلی. دا بله ورځ يوسف علیه السلام امر وکړی چې تاسي تولې ورونه يو ځای سره اوسېږئ او بنيامين به زما سره وي. او حسب المعمول به فوق العاده خوراکونه او نوري مېوې وغيره تاسي ته درځي او د بنيامين بود وباش او خوراک به زما سره وي.

أَوَىٰ إِلَيْهِ أَخَاهُ

او ضم کړی يوسف (علیه السلام) خپل ورور بنيامين چې د مور له خوا يې هم ورور وُ د خپل ځان سره، نو يوسف علیه السلام او بنيامين چې سره دوه په دوه سوه، نو يوسف علیه السلام ورته وویل چې ستا نوم څه دی؟ هغه ورته وویل بنيامين، يوسف علیه السلام ورته وویل کوم بنيامين ورته وویل ابن المثكل، دا يې له دې سببه ورته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وويل چي دی بنيامين چي له موره وژړېدی مور يې په نفاس کي فوت سوه. يوسف عليه السلام ورته وويل د مور نوم دي څه شی دی؟ بنيامين ورته وويل راحيل بنت لاوي. يوسف عليه السلام ورته وويل چي ته اولادونه لرې؟ بنيامين ورته وويل چي هو لس اولاده لرم. يوسف عليه السلام ورته وويل چي خوښه دي نه ده چي ستا د هالک ورور پر ځای ستا ورور سم؟ بنيامين ورته وويل چي چا ته ستا غوندي ورور رسېږي ايها الملک لکن لم يلدک يعقوب ولا راحيل فبکی يوسف عليه السلام وقام اليه په غېږ پورې يې تينګ ونيوی.

قَالَ إِنِّي أَنَا أَخُوكَ فَلَا تَبْتَئِسْ بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿٦٩﴾

وويل يوسف (عليه السلام) په تحقيق هم زه ستا ورور يم، ته غم مه کوه په هغه سره چي ورونو ستا د ورورسره وکړی يعني في ما مضی. نو مضارع په معنی د ماضي ده چي دې ته په عربيت کي استحضار د حالت ماضيه عجيبه وايي، والاشارة الی ظلم اخوته معه حيث القاه في الجب وشروه بثمن بخس کمامر تفصيله، او يوسف عليه السلام بنيامين ته وويل چي ورونه مه خبروه په هيڅ شي سره مما علمتک فان الله قد احسن الينا.

فائده: يوسف عليه السلام چي بنيامين ته وويل چي څو اولادونه لرې، ده ورته وويل چي لس اولاده لرم، يوسف عليه السلام ورته وويل چي نومان يې څه دي، بنيامين ورته وويل چي د يوه نوم ذئب دی، يوسف عليه السلام ورته وويل چي ته خو ابن نبي يې نو تا څرنګه پر زوی د لېوه نوم کښېښو؟ بنيامين ورته وويل چي زما ورونو چي پلار ته وويل چي يوسف اکله الذئب، سميت ابني ذئباً تاچي هر وخت چي زه هغه زوی ته ناره وکړم ذکرت اخي يوسف، بنيامين وژړل يوسف عليه السلام يې هم وژړاوه، يوسف عليه السلام ورته وويل د بل نوم څه دی؟ بنيامين ورته وويل دم، يوسف عليه السلام ورته وويل چي دا نوم دي څرنګه پر اينبی دی؟ بنيامين وويل چي زما ورونو چي د يوسف قيص په وينو ککړ پلار ته راوړی، نو مي د زوی نوم دم کښېښو چي هر وخت چي زه ورنارې کړم ذکرت اخي يوسف فبکی بنيامين فابکی يوسف، او د بل نوم مي يوسف اينبی دی چي زه ورنارې کړم، نو يوسف هالک ورور مي را

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پیاد سي، نو بنیامین ده هر وژړل او یوسف علیه السلام ور سره وژړل.

فائده: یوسف علیه السلام چي بنیامین ته وویل چي دا راز ورونو ته مه وایاست دې کبله چي علماً وایي چي اخفاً د مرام په بعض مقاماتو کي مستحب ده ویعین علی تحصیل المقاصد ولذالک ورد في الاثر استعینوا علی قضاً حوائجکم بالکتمان وسیئاتي فائدة الکتمان ه في القرآن الکریم عنقریب.

روی ان یوسف علیه السلام قال لاخوته اتریدون سرعة الرجوع الی ابیکم قالوا نعم، فامر یوسف علیه السلام الکیال لیکیل لهم او یو بار تنها د بنیامین په نامه.

فَلَمَّا جَهَّزَهُمْ بِجَهَازِهِمْ

بوه سه: چي جهاز په لغت کي متاع ته وایي وکل ماینتفع به، والمراد ه کیل الطعام.

جَعَلَ السِّقَايَةَ فِي رَحْلِ أَخِيهِ

وه یې ګرځول سقایه په بار کي د ورور یعني بنیامین.

بوه سه: چي سقایه او صواع سره یو شی دي فرق یې اعتباري دی یعني په دې اعتبار چي اوبه پکښي څیښل کیږي سقایه یې بولي او چي شی غنم وغیره په پیمانه کیږي صواع یې بولي، یعني یوسف علیه السلام خپل مریان امر کړل چي دا سقایه د بنیامین په جوال کي پټه کړي، ابن عباس رضي الله عنهما وایي چي دا سقایه د زبرجد وه، او ابن اسحاق رحمه الله وایي چي د سپینو زرو وه او بعض وایي چي د سرو زرو وه، په هر حال یوسف علیه السلام په دغه سقایه کي اوبه څیښلې او مکیال یې هم ګرځولې وه د غلې لپاره، ولي چي غلې دومره عزت درلودی چي یوسف علیه السلام په بل لوښي کي کیل نه کاوه.

مفسرین رحمهم الله په دې کي اختلاف لري، ځینې وایي چي دا کار یوسف علیه السلام د خپل ورور په پټه وکړی چي بنیامین په دغه توګه ځان ته راوګرځوي، ولي چي نه یې زړه کښدی چي د یوسف علیه السلام څخه جلا سي، او کعب بن مالک رحمه الله علیه وایي چي یوسف علیه السلام چي بنیامین په دې خبر کړی چي زه دي ورور یوسف یم، هغه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ورته وويل چي زه ستا څخه نه جلا کېږم، يعني د وروڼو سره نه ځم، يوسف عليه السلام ورته وويل چي ته خبر يې چي پلار تر اوسه پوري زما په فراق څومره غمجن دی او که زه تا راوګرځوم نور به د پلار غم زيات سي، خو بيا هم بنيامين پر دې تينګ ؤ چي زه ستا څخه نه جلا کېږم. يوسف عليه السلام ورته وويل چي دا کار نه کېږي مګر نه چي زه به تا متهم کوم په يو امر فظيع او په يو ډېر بد کار به دي مشهور کوم، بنيامين ورته وويل چي پروا نه لري فافعل ما بدا لک فاني لا افارقک، يوسف عليه السلام ورته وويل چي خپل صواع ستا په بار کي په پټه ايږدم بيا پر تا د غلا اعلان کوم تاچي په قانون تا راوګرځوم، بنيامين ورته وويل چي په هر شي چي ما متهم کوي زه باک نه په کوم.

ثُمَّ أَذَّنَ مُؤَذِّنٌ

وروسته يوه اعلان کونکي اعلان وکړی.

پوه سه: چي کلمه د "ثم" لپاره د تراخي ده چي ورونو خپل بارونه بار کړه يوسف عليه السلام مهلت ورکړی يعني ژر يې اعلان نه پسي وکړی حتی چي دوی تر عمارِ اتو د مصر وصحرا ته ووتل وروسته يې نفر پر آس پسي واستول او دوی يې لاندي کړل او داسي اعلان يې وکړی.

أَيَّتُهَا الْعِيرُ إِنَّكُمْ لَسَارِقُونَ ﴿٧٠﴾

پوه سه: چي "عير" قافلې ته وايي د اوښانو چي بارونه پر باندي وي. اسم جمع ده مفرد د لفظ نه لري، وروسته مجازاً په معنی د اهل د قافلې وګرځېدی للملابسة بينهما او يا محذوف المضاف ای اهل العير، او بعض مفسرين وايي چي عِير جمع د عَير بالفتح چي خره ته وايي بيا مجازاً په معنی د قافلې د خرو سوه، وروسته فراخي پکښي وسوه يعني چي هري قافلې ته وايي که څه هم د اوښانو وي کما ههنا.

دروښ وايي: چي دا آيت "انکم لسارقون" ډېر مشکل دی الحکم بالسرقة علی اهل القافلة، بعض مفسران وايي چي دا ندا او حکم د سرقې پر اهل د قافلې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په امر د يوسف عليه السلام او اطلاق د سرقه پر اهل حجاز د قافلې مجازاً دی يعني لکه سارق چې خيانت کوي د مسروق منه سره دغه رنګه خيانت وکړی وروڼو د يوسف عليه السلام د خپل يعقوب عليه السلام سره چې يوسف عليه السلام يې ځني بوتلی او په جب کې يې واچاوه او پلار ته يې د يوسف عليه السلام قميس په وينو ککړ راوړی، کريمه "وجاؤا على قميصه بدم كذب"

سوال: په قافله کې خو بنيامين هم وُ او په خيانت کې د وروڼو شامل نه وُ؟

ځواب: بنيامين يې تغليباً شامل کړی لکه بنو افلان قتلوا او قاتل يو وي. او بعض مفسران وايي چې دا حکم د سرقې پر اهل قافلې د منادی له خوا وُ. ولې يوسف عليه السلام په خپل لاس صواع الملک په بار کې د بنيامين اينبې وه. وروسته چې قافله روانه سوه د صواع الملک بازخواست چې وسو هغه نه وه او په دې ځای پېله. اصحاب قافله بل ځوک نه وه، نو منادي بنا پر زعم خپل دا وويل انکم لسارقون. او روح المعاني او مظهري وايي چې دا حکم د سرقې له جانبه د خدای پاک بالوحي الى يوسف عليه السلام وُ. دروېش وايي وهذا بعيداً جداً فتامل وطالع التفسيرين المذكورين.

قَالُوْا وَاَقْبَلُوْا عَلَيْهِمْ مَّاذَا تَفْقِدُوْنَ ﴿٧١﴾

وويل اهل د قافلې په داسې حال کې چې مخ يې راوړاوه پر ندا کوونکي باندې څه شی تاسي ورک کړی دی.

فائده: جمله د "واقبلوا" حال ده په تقدير د قد كما هو القانون النحوي في الماضي الذي وقع حالاً. او کلمه د ما موصوله ده متضمن معنى لره د استفهام ده. او کلمه د "ذا" په معنى د الذي ده او په "تفقدون" کې عائد وما موصوله ته محذوف دی ای تفقدونه.

قَالُوْا نَفْقِدُ صُوَاعَ الْمَلِكِ

وويل رسول د ملک ومن معه ولهذا جمع لفظ قالوا. چې موږ ورکه کړې مکيال ده د ملک چې ډېر بېش قيمته وه کمامر من قبل. والمعنى چې موږ پر بل چا تهمت نه لرو پېله تاسي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلِمَنْ جَآءَ بِهٖ حِمْلُ بَعِيْرٍ وَّاَنَا بِهٖ زَعِيْمٌ ﴿۷۲﴾

او كه چا راوړل دغه صواع بهله تلاشيه د بار، نو يو بار د اوښ غله انعام ورکول کېږي، او زه ددغه انعام ضامن يم.

مسئله: د دې آيت څخه دا معلومه سوه چې انعام چې په عربي يې جعل بولي روا ده او داهم معلومه سوه چې کفاله بالمال هم روا ده.

قَالُوْا تَاللّٰهِ لَقَدْ عَلِمْتُمْ مَّا جِئْنَا لِنُفْسِدَ فِى الْاَرْضِ وَمَا كُنَّا سٰرِقِيْنَ ﴿۷۳﴾

وويل اهل د قافلې چې وروښه د يوسف عليه السلام وه قسم په خدای دی، په تحقيق سره تاسي پر دې علم لرئ چې موږ نه يو راغلي د دې لپاره چې موږ فساد وکړو په مځکه کې يعني د مصر او سرقه خو قسم د فساد ده.

سوال: دوی ولې وويله "لقد علمتم"

جواب: دوی يعني اهل مصر په دې ښه پوهېدل چې په مکرر واروښه راغلي دي. چې صرف او صرف د ځپل مکسنت پر بنا راغلي يو نه د غلا لپاره راغلي يو او موږ نه غله يو.

فائده: کلمه د "تا" په قسم کې بدل د واو قسم څخه ده لکن مخصوص په اسم د الله سره ده يعني تا الرحمٰن نه ويل کېږي لکه والرحمٰن چې ويل کېږي، وقالوا وفي القسم بالتا معنى التعجب فافهم.

قَالُوْا فَمَا جَزَآؤُهٗٓ اِنْ كُنْتُمْ كٰذِبِيْنَ ﴿۷۴﴾

اى المنادى ومن معه ولهذا جمع الضمير، نو څه وې جزای د سارق يعني د صواع الملک، او يا جزا د سرقې، که تاسي درواغ ويونکي واست په برائت کې د سرقې.

يوسه: چې سرقه مؤنث لفظي دی تذکير او تانيث د ضمير راجع دواړه روا دی.

قَالُوْا جَزَآؤُهٗ مَنْ وُّجِدَ فِىْ رَحْلِهٖ فَهُوَ جَزَآؤُهٗ ؕ

دوی يعني وروښو د يوسف عليه السلام ورته وويل چې جزا د سارق د سرقې هغه څوک دي چې د هغه به بار کې مال مسروق پيدا سي. يعني د هغه مريى گرځول هكذا كان في شريعة يعقوب عليه السلام، هغه سارق يې جزا ده دا جمله تاکيد د حکم سابق ده.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: په شریعت کي د یعقوب علیه السلام قطع ید السارق نه وه لکه زمونږ په شریعت کي چي ده بلکه استرقاق ؤ یو کال.

كَذٰلِكَ نَجْزِي الظّٰلِمِيْنَ ۝

داغه رنګه مونږ جزا ورکوو وه ظالمانو ته.

پوه سه: چي حق د عبارت خو دا ؤ السارقین لکن ظالمین یې په ځای کي راوړی تنبیهاً علی ان السارق ظالم. نو رسول الملک ودوی ته وویل چي مونږ تلاشي کوو ستاسي د جولو په امر د یوسف علیه السلام.

فَبَدَاَ بِاَوْعِيَتِهِمْ قَبْلَ وِعَآءِ اَخِيْهِ

نو شروع وکړه (بعض وایي منادي او بعض وایي یوسف علیه السلام په خپله د تلاشي لپاره حاضر سو، وهذا بعید مخالف للسیاق) په اوعیه وو سره د نورو وروڼو دمخه تر وعاء د یوسف علیه السلام د ورور یعني بنیامین لپاره د دفع د تهمت، راوي وایي چي یوسف علیه السلام یا منادي چي تفتیش د رحالو د وروڼو یو یو وکړی او نوبت بنیامین ته ورسېدی، نو یوسف علیه السلام یا منادي وویل چي دې دومره مشرانو چي غلا نه ده کړې بنیامین چي تر ټولو کشر دی په طریق اولی به یې غلا نه وي کړې. د یوسف علیه السلام وروڼو ورته وویل چي والله لاتحرک حتی تنظر فني رحله تا چي ستا زړه به هم پر ارام سي او زمونږ زړونه به هم پر قرار سي.

ثُمَّ اسْتَخْرَجَهَا مِنْ وِّعَآءِ اَخِيْهِ

وروسته تر دې چي تلاشي د بنیامین د رحل یې وکړه را وه یې ایستله سقایة الملک. او د صواعه تذکیر او تانیث دواړه روا دی باعتبارین له رحل څخه د ورور د یوسف علیه السلام یعني بنیامین.

راوي وایي چي سقایه چي له رحل څخه د بنیامین راووتل، کښته وځړول وروڼو د یوسف علیه السلام سرونه خپل من الحیا" او پر بنیامین د ملامتیا خولې خلاصي کړې چي دا تا څه وکړه چي مونږ دي ګرده رسوا کړو او مخ دي راتور کړی یا بني راحیل همېشه ستاسي یعني د یوسف علیه السلام او چي د راحیل زامن یاست

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مورِ ته یو مصیبت ورسېږي "حتی اخذت هذا الصواع بنیامن ورته وویل بل بنوا راحیل لا یزال لهم بلاً منکم" ذهبتم باخي یوسف او تاسي په دښت کي د کنعان هلاک کړی او هم تاسي داصواع زما په رحل کي پټه کړې وه راوي وایې چې منادي بنیامین تر غاړه ونیوی او یوسف علیه السلام ته یې وروستی.

كَذٰلِكَ كِدْنَا لِيُوسُفَ ؕ

ای مثل الکید یعني حیله ده راګرځولو د بنیامین ځان ته مورِ حیله ور وښوول ویوسف علیه السلام ته ، نو کذالک منصوب محلاً دی مفعول مطلق دی د کدنا. وحاصله علمناه واوحینا له.

فائده: د دې آیت ځخه دا معلومه سوه چې هغه قول د منادي "انکم لسارقون" او وروسته عبارت قرآني په امر د یوسف علیه السلام وو وکان بایحاً الله الیه"ج فلا معصیة في ذالک" او بغوي رحمه الله وایې چې کید دلته په معنی د جزاً الکید ده یعني لکه ورونړو چې په ابتداً کي کید وکی په مفارقت کي د یوسف علیه السلام د پلاره ځخه" فعلنا بهم في مفارقة بنیامین منهم بکید السرقة.

پوه سه: د کید نسبت چې وخلګو ته وسي معنی یې حیله ده او چې وخدای جل جلاله ته وسي په معنی د تدبیر بالحق دی" یعني صنعنا ذالک لیوسف علیه السلام حتی اخذ اخاه وضمه الی نفسه وحال بینه وبین اخوته.

مَا كَانَ لِيَاْخُذَ اَخَاهُ فِيْ دِيْنِ الْمَلِكِ اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ ؕ

نه وو یوسف علیه السلام چې اخستی یې وای خپل ورور بنیامین او د ځانه سره یې کړي په دین کي د ملک مصر ګتاده وایې ای في حکم الملک" ولي چې دین او حکم د ملک مصر دا وو چې سارق به یې په درود واهه او دوه مثله تاوان د مال مسروق به یې ځندي اخستی، مګر که د خدای جل جلاله اراده وای چې دغه استرقاق د سارق یو کال حکم د ملک ګرځولی وای فالاستثناً متصل من اعم الاحوال او دا هم روا ده چې استثناً دي منقطع وي ای لکن اخذ یوسف علیه السلام اخیه بمشیة الله وارادته ولطفه ولي چې یوسف علیه السلام ته دغه لاره د استرقاق د نبیامین خدای جل جلاله ورووښووله چې یوسف علیه السلام حکم د سارق و ورنوړو ته وسپاره یعني في شریعت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يعقوب عليه السلام چي هغه استرقاق وو سنة او خداى جل جلاله پر ژبو د ورنړو د يوسف عليه السلام دا وروسته چي حكم د سارق استرقاق فحصل مراد د يوسف عليه السلام چي رد د بنيامين وخان ته ضم كړى بمشية الله.

نَرْفَعُ دَرَجٰتٍ مَّنْ نَّشَآءُ ؕ وَفَوْقَ كُلِّ ذِیْ عِلْمٍ عَلِیْمٌ ۝

موږ پورته كوو من نشاء چي زموږ اراده وسي درجات اى الى درجات لكه يوسف عليه السلام درجه چي يې لوړه كړه پر ورنړو. او لوړه تر هر چا په علم كى يعني د مخلوق عليم سته يعني په علم كي بالا وهو الله تعالى.

فائده: "عليم" په لغت كي هوالذي له العلم البالغ الى الغاية القصوى وما هو الا الله عز وجل د محمد بن كعب څخه روايت دى چي يو سړى د علي رضي الله عنه څخه پوښتنه د يوې مسئلې وكړه علي رضي الله عنه يې حكم ورته بيان كړى هغه سړي ورته وويل چي داغسي حكم نه دى لكه تاچي وويل بلكه حكم داسي دى، علي رضي الله عنه ورته وويل اصبت واخطأت وفوق كل ذي علم عليم.

قَالُوْۤا اِنْ یَّسْرِقْ فَقَدْ سَرَقَ اَخٌ لَّهٗ مِنْ قَبْلُ ۚ

وروڼو د يوسف عليه السلام وويل لپاره د دفع د خجالت له ځانه څخه كه غلا كړې وي يعني بنيامين صواع الملك، نو په تحقيق ده ورور د ده يعني د مور د خوا چي مراد يې يوسف عليه السلام وو د دوى مراد دا وو چي غلا د بني راحيل عادت دى.

دروېش وايي: چي روح المعاني او روح البيان او مظهري رحمه الله عليه او اما قرطبي رحمه الله عليه د دغې غلا په باره كي وايي چي وروڼو د يوسف عليه السلام وده ته منسوب كړه مختلف اقوال را وړي دي د ټولو مفسرينو مجمع عليه قول دا دى چي د يوسف عليه السلام نيكه يعني د مور پلار يې بت فرسته ؤ، يو بت يې جوړ كړى وو د سپينو زرو او د سرو زرو، نو يوسف عليه السلام هغه بت ځندي غلا كړى او ټوك ټوك يې كړى په لار كي وغورځاوه په دې چي دى گوندي دا بت پرستي پرېږدي يعني دى به فكر ووهي كه دا بت خداى واى نو ولي مخلوق توته توته كولاى سواى، نو د دغه بت په غلا كولو سره د يوسف عليه السلام وروڼو د يوسف عليه السلام بنيامين ته پيغور وركړى.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې وايې چې دا روايت د سعيد بن جبير او قتاده څخه مروي دی" او بغوي وايې چې مجاهد وايې چې يوسف عليه السلام ته يوه ورځ يو سائل راغلی نو يوسف عليه السلام د کوره يوه اګی غلا کړه او سائل ته يې ورکړه او بعض علما وايې چې يوسف عليه السلام به د دستر خوانه څخه ډوډی پټول د فقرا و دپاره.

پوښتنه: يوسف عليه السلام ولې بې اجازې د پلار دا شيان وفقرا و ته ورکوله؟

جواب: د يعقوب عليه السلام کور د کرم او د سخا و او دی په دې ورکړه راضي وو.

سوال: نو ورونړو د يوسف عليه السلام ولې دا غلا وبيلله؟

جواب: حسدا و عنادا يې غلا وبيلله او دا سبب د غلا هم په صحيح روايت د ابن اسحاق د مجاهد څخه ثابت دی چې د يوسف عليه السلام مور راحيل چې په نفاس کې د بنيامين وفات سوه. نو يوسف عليه السلام چونکه کشنی وو پلار يعقوب عليه السلام د خپلې خور ابنة اسحاق چې د يوسف عليه السلام عمة کېدل ورکړی د تربيې دپاره" او پر عمه نهايت گران وو، نو يوسف عليه السلام چې مراهق سو د پلار يعقوب عليه السلام د ده محبت جوش وکړی، نو خو رته يې وويل چې يوسف عليه السلام را واستوه، او خو رته يې وويل يا اخټاه سلمي الی يوسف عليه السلام فو الله لا اقدر الصبر علی فراقه ساعة واحدة خو رې ورته وويل لا والله ما انا بتارکه" يعقوب عليه السلام ورته وويل قسم به خدای دی که يې در پرپږدم خو رې ورته وويل چې ته يې يو څو ورځې پرپږده چې زما زړه نوکی صبر سې ځندي. نو يعقوب عليه السلام دا خبره د خو رو ومنل، نو د يعقوب عليه السلام خو رې چې تر ده مشره وه يو کمر بند چې اسحاق عليه السلام به ملا په ټرله د دې سره وو ولې دا مشره وه او د کمر بند قانون دا وو چې د مشر عيال د اسحاق عليه السلام سره به وو، نو دې دا کمر بند چې يوسف عليه السلام بيده وو لاندې تر کالو يې ورو تاړه، نو يوسف عليه السلام يې د يعقوب عليه السلام پر خوا را رهي کړی، وروسته يې اوازه گډه کړه چې کمر بند د اسحاق ورک دی تلاشي چې يې وکړه د يوسف عليه السلام تر ملا وو، نو خو رد يعقوب عليه السلام وويل چې يوسف عليه السلام په سبب د غلا د کمر بند به وماته تسليمه وې لکه چې قانون د شريعت د يعقوب عليه السلام وو، يعقوب عليه السلام ورته وويل که يې دا کار کړی وې نو دی وتاته تسليم دی. نو يوسف عليه السلام يې بېرته د خو رې په لاس ورکړی تر هغو د دې سره چې دا وفات سوه، نو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يوسف عليه السلام يعقوب عليه السلام کورته را وستی. نو دغه غلا د يوسف عليه السلام د ورونړو مراد وه" ان يسرق فقد سرق اخ له من قبل.

فَأَسَرَّهَا يُوسُفُ فِي نَفْسِهِ وَلَمْ يُبْدِهَا لَهُمْ

پته يې وساتل مقالة د دوی فقد سرق اخ له الآية" يعني ځان داسي ښکاره کړی چي ما ستاسي خبره نه واورېدل، يوسف عليه السلام په خپل زړه کي او دوی ته يې ښکاره نه کړه چي ما واورېدل يعني لا قولا ولا عملا د جهت څخه د حلم د ده.

قَالَ أَنتُمْ شَرٌّ مَّكَانًا ۖ وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا تَصِفُونَ

دا جمله مستأنفه ده په جواب کي د سوال چي آخر يوسف عليه السلام دوی ته څه وويل فاجاب چي يوسف عليه السلام په خپل زړه کي دا وويل نه په ظاهره، تاسي شر ياست تر يوسف عليه السلام از روی منزلة لسرقتكم اخاكم من يعقوب عليه السلام چي د سرقې هيڅ توجيه نه وه ممكنه بخلاف سرقة يوسف عليه السلام فان لها وجه وجيه.

دروښ وايي: چي وقد مر بيان سرقات يوسف عليه السلام مع توجيهها تهاً" راوي د قصې وايي چي يوسف عليه السلام چي بنيامين د ورونړو څخه وګرځاوه، نو ورونړو ته د يوسف عليه السلام د هر درد ورغلی او اولاد د يعقوب عليه السلام چي درد به به ورغلی هيڅ چا طاقت نه درلودی او روبيل په دوی کي چي په غضب سو د ده د غضب مقابله چانه سوای کولای او چي ده به نعره وکړه پر حاملې ښځي چي د ده نعره به يې واورېده اسقاط د خپل حمل به يې کوله ومع هذا اذا مسه احد من اولاد يعقوب سكن غضبه. او راويان وايي چي دا صفت د شمعون وو من اولاد يعقوب فدخلوا دوی ورغله يوسف عليه السلام ته نو روبيل يا شمعون ورته وويل چي يا به زمونږ ورور بنيامين په لاس راکوې يا به زه داسي چغه وکړم چي په مصر کي به هيڅ حامله ښځه پاته نه سي يعني چي آواز واوري مګر اسقاط حمل به کوي، او دوئه درد روبيل ته ورغلی چي توله وېښتيان د بدن يې چګ ودرېدل او تر کالو را ووتله، نو يوسف عليه السلام وخپل کښني زوی ته وويل چي ورسه د روبيل وځنګ ته ودرېږه چي دی چغه کوي ته لاس پر کنېږده او تر لاس يې ونيسه ماته يې راوله. نو د يوسف عليه السلام زوی هغه سي وکړه د روبيل غضب سو پر سو او د يوسف عليه السلام زوی تر لاس ونيوی پلار ته يې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

راوستی، نو روبیل وویل "ان ههنا لبذر من بذر یعقوب"

دروښ وایې: چې دې ته په عربیت کې تجاهل العارف وایې" وروی چې روبیل ته بیا ورته درد ورغلی یوسف علیه السلام ورو ولاړ سو په پښه یې وواهه او تر ګرېوان یې ونیوی پر مځکه یې غوځار کړی اودا یې ورته وویل "انتم معشر العبرانیین تظنون ان لا اشد منکم، نو زامنو د یعقوب چې دا حالات ولیدله، نو یې په خپلو کې سره وویل چې بېله عجزه بله لار نسته.

قَالُوا يَا أَيُّهَا الْعَزِيزُ إِنَّ لَهُ أَبًا شَيْخًا كَبِيرًا فَخُذْ أَحَدَنَا مَكَانَهُ ۖ إِنَّا نَرَاكَ مِنَ الْمُحْسِنِينَ ﴿٧٨﴾

نو دوی ورته وویل ای عزیز مصر چې بنیامین پلار لري چې شیخ کبیر السن دی او پر هغه پلار دا زوی ډېر ګران دی او دی په دې زوی بنیامین سره د زړه تسلي کوي د هغه زوی چې هغه هالک سوی دی د مخه چې نوم یې یوسف علیه السلام وو چې بنیامین په مور د هغه شریک وو، نو ته یو زموږ څخه په ځای کې د بنیامین وګرځوه موږ تا د محسنینو له ډلې څخه بولو چې تا زموږ سره ډېر احسانونه کړي دي کیل دي پوره راکړی دی او ښه مهمان نوازي دي زموږ کړې ده او په اول وار کې دي زموږ بضاعت موږ ته ببرته را رد کړی او دا وار دا احسان هم را سره وکړه چې یو زموږ څخه په بدل کې د بنیامین وګرځوه او دی پلاس راکړه چې موږ یې غم دېده شیخ کبیر السن پلار ته ورولو.

قَالَ مَعَاذَ اللَّهِ أَنْ نَأْخُذَ إِلَّا مَنْ وَجَدْنَا مَتَاعَنَا عِنْدَهُ ۙ إِنَّا إِذًا لَظَالِمُونَ ﴿٧٩﴾

یوسف علیه السلام ورته وویل پناه په خدای جل جلاله چې موږ به بندي کوو مګر هغه څوک چې متاع زموږ یعني صواع الملک موږ د هغه سره پیدا کړی یعني بنیامین. او که موږ داسي وکړو چې یو د بل په عوض کې بندي کړو، نو موږ به د ظالمانو څخه یو "في دینکم وفتواکم.

فائده: داسي یوسف علیه السلام نه وویل الا من سرق متاعنا تحرزا عن الکذب.

فَلَمَّا اسْتَيْأَسُوا مِنْهُ خَلَصُوا نَجِيًّا ۖ

هغه وخت چې ناامیده سوه ورونه د یوسف علیه السلام له ده څخه یعني چې بنیامین

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نه راسره کوي، نو دوی له خلګو څخه ګونبه کښېنستل د مشورې لپاره.

سوال: "نجياً" خو مفرد دی، نو څرنګه يې حمل پر ضمير د جمع په "خلصوا" کي صحيح کېږي؟

ځواب: "نجياً" په اصل کي مصدر دی او په مصدر کي مفرد او جمع برابر دي نو "نجياً" د اعراب له لارې حال دی له ضمير څخه د "خلصوا"

قَالَ كَبِيرُهُمْ أَلَمْ تَعْلَمُوا أَنَّ أَبَاكُمْ قَدْ أَخَذَ عَلَيْكُم مَّوْثِقًا مِّنَ اللَّهِ وَمِن قَبْلُ مَا فَرَّطتُّمُونِي يُوسُفَ

وويل هغه مشر ددوی يعني في الفضل والعلم لا في السن وهو يهودا، دا قول د ابن عباس رضي الله عنه او د کلبي رحمه الله دی، او بعض مفسرين رحمهم الله وايي چي له کبير څخه کبير في السن دی وهو روبيل. وهو الذي نهى الاخوة عن قتل يوسف عليه السلام وهذا قول قتادة والسدي والضحاک رحمهم الله، او مجاهد رحمه الله وايي چي له کبير څخه شمعون مراد دی چي د وروڼو رياست يې پر ذمه درلودی "الم تعلموا" تاسي نه ياست خبر "الاستفهام للتقرير" چي ستاسي د پلار يعقوب څخه مو وعده محکمه اخستې ده، په قسم د خدای سره چي بنيامين به راولئ، او د مخه تر دې يعني تر واقعې د بنيامين تاسي تفريط يعني تقصير کړی ؤ په باره کي د يوسف چي له پلاره مو جلا کړی او جب ته مو واچاوه او سره ددې چي تاسي پلار ته ويلي وه "وانا لناصحون، وانا له حافظون.

فَلَنْ أَبْرَحَ الْأَرْضَ حَتَّىٰ يَأْذَنَ لِي أَبِي أَوْ يَحْكُمَ اللَّهُ لِي ۖ وَهُوَ خَيْرُ الْحَاكِمِينَ ﴿٨٠﴾

نو زه نه جلا کېږم له مخکي څخه د مصر تر هغو چي ما ته اجازه راکوي پلار يعني د مصر په پرېښولو سره، او يا حکم راکوي د جلا کېدلو خدای پاک پر ژبه د يعقوب عليه السلام يعني چي خدای پاک ده ته وحي وکړي په وتلو سره زما له مصر څخه، او په ترک د بنيامين او يا په موت سره زما او يا په خلاصولو د بنيامين له لاسه د عزيز مصر، او خدای پاک خير د حاکمانو دی لان حکمه حق وعدل.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِرْجِعُوٓا۟ إِلَىٰٓ أَبِيكُمْ فَقُولُوا۟ يَٰٓأَبَانَآ إِنَّ ٱبْنَكَ سَرَقَ ۖ

تاسي ولاړ سئ وپلار ته ستاسي او ورته ووایاست اې زموږ پلار په تحقیق ستا زوی بنیامین غلا کړې وه یعني از روی ظاهر چې صواع الملک دده له بار څخه را وه کښل سوه.

وَمَا شَهِدْنَآ إِلَّا بِمَا عَلِمْنَا وَمَا كُنَّا لِلْغَيْبِ حَٰفِظِينَ ﴿٨١﴾

او موږ پر ده د غلا حکم نه کوو مګر نه له سببه ددې چې زموږ علم راغلی یعني صواع الملک دده له باره راووتل یعني دا زموږ شاهدي نه ده ستا پر زوی د غلا بلکې دا اخبار دی له حال څخه ستا د زوی، ددوی غرض دا ؤ چې موږ په دې یقین نه لرو چې ستا زوی بنیامین دي خامخا غلا کړې وي لاحتمال انیکون هذه دسیسة من جانب ملک مصر. نو یعقوب علیه السلام ورته وویل چې دا سړی یعني ملک مصر په دې څه خبر ؤ چې سارق مریی ګرځول کېږي په سبب د غلا؟ الا بقولکم خو تاسي ملک مصر په دې شریعت زموږ خبر کړی، او موږ نه یو د پټ حال د بنیامین ساتونکي، له ابن عباس رضی الله عنهما څخه روایت دی چې ددوی مراد دا ؤ چې موږ د شپې او د ورځې ساتونکي ؤ او د تګ راتګ ساتونکي نه وو. نو هم احتمال د غلا سته او هم احتمال ددې سته چې بل چا دي د شپې دده په بار کي اینبی وي، وقال قتادة ومجاهد في ترجمة الآية "ماكنا نعلم حين اعطيناك الموثق ان ابنك سيسرق ويصر الامر الى هذا وانك تصيب كما اصبت بيوسف، وإنما قلنا ونحفظ اخانا مما لنا من الحفظ من سبيل.

وَسْـَٔلِ ٱلْقَرْيَةَ ٱلَّتِى كُنَّا فِيهَا وَٱلْعِيرَ ٱلَّتِىٓ أَقْبَلْنَا فِيهَا ۖ وَإِنَّا لَصَٰدِقُونَ ﴿٨٢﴾

او ته اې پلاره سوال وکړه عن القرية ای اهل القرية والمراد بالقرية بلدة مصر یعني سړي ورواستوه چې هغه د کشف الحال ستا د زوی پوښتنه وکړي. او داغه رنګه پوښتنه وکړه د هغه قافلې والا وو څخه چې موږ په هغه قافله کي راغلي یو راوي وایي چې ددوی سره یوه قافله د کنعانیانو د همسایه ګانو څخه د یعقوب علیه السلام هم ملګرې وه. چې هغه هم د غلې راوړلو لپاره مصر ته تللي وه. او موږ له

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

رشتيا ويونكو څخه يو ستا د زوی د حال په بيانولو کي.

فائده: بغوي رحمه الله وايي چي څرنګه جائز وګڼل يوسف عليه السلام چي د خپل پلار يعقوب عليه السلام سره يې مذکوره معامله وکړه او پلار ته يې خپل ځان ور وه نه ښودی اولاً، او څرنګه ده ورور بنيامين له پلار څخه جلا په مصر کي بند وساته اوسره ددې چي يوسف عليه السلام په دې وپوهېدی چي د بنيامين په ساتلو کي په مصر کي پلار ته به مي ډېر غم او وجد پېښ سي. آيا په دې کار کي د يوسف عليه السلام به عقوق د پلار نه وي؟ آيا په دې کار کي به قطيعة الرحم او قلة الشفقة نه وي؟

بغوي رحمه الله وايي چي ددې سوالو په ځوابو کي علماؤ او مفسرينو ډېري خبري کړي دي، والصحيح چي يوسف عليه السلام دا ټوله کارونه په امر د خدای پاک کړي دي وحكمت الله فيه ان يزيد في بلاء يعقوب عليه السلام فيضاعف له الاجر ويلحقه في الدرجة لابائه الكرام ای اسحاق وابراهيم عليهما السلام. راوي وايي چي د يوسف عليه السلام وروڼه چي خپل پلار ته راغله غير له کبير څخه چي هغه په مصر کي پاته سوی ؤ، او پلار ته يې دا حالات بيان کړی، نو پلار يې ورته وويل.

قَالَ بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ أَنْفُسُكُمْ أَمْرًا ۖ فَصَبْرٌ جَمِيلٌ ۖ

يعني خبره خو داغسي نه ده بلکې بنائسته کړی دی نفس ستاسي و تاسي ته يو کار. د يعقوب عليه السلام دا غرض ؤ چي تاسي چي بنيامين درسره بهوی شايد چي نفع عاجل به مو پرده اخستې وي يعني پر ملک مصر به مو خرڅ کړی وي، والا فما ادری ملک مصر ان السارق يسترق بسرقته " فصبر جميل " ای فامری صبر جميل

پوه سه: چي "جميل" ودې ته وايي چي شکايت و مخلوق ته نه کوي.

دروښ وايي: چي ولنعم ما قال المصاب بالغموم والاهوال والمصائب من قرن الراس الى القدم.

صبرت وان الصبر خير معول ..... و هل جزع يجدي فاجزع
صبرت على مالو تحمل بعضه ..... على جبال غرور اصبحت بتصدع
ملكت دموع العين حتى رددتها ..... الى ناظری فالعين في القلب تدمع

دروښ وايي: چي ددې ابياتو ويونکي يوه غمجنه ښځه وه، چي حکايت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يې په طول سره په روح البيان کې راغلی دی.

عَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّاْتِيَنِيْ بِهِمْ جَمِيْعًا ؕ اِنَّهٗ هُوَ الْعَلِيْمُ الْحَكِيْمُ ۝

شاید چې خدای پاک به راولي ټوله يعني يوسف عليه السلام او بنيامين ، واخاهم المقيم بمصر ، په تحقيق خدای (ﷻ) خبر دی په حال زما او ددوی يعني د زامنو او حکمت لري په تدبير کې د مخلوق خپل، يعني چې زه يې په دومره بلاوو کې مبتلا کړی يم. يعني فراق يوسف وفراق بنيامين وفراق ابنه المقيم بمصر حتماً په دې کې حکمت د خدای پاک سته.

فائده: علماً وايي چې بلا پر درې قسمه ده (۱) تعجيل العقوبة للعبد لکه يوسف عليه السلام چې په بندي خانه کې تېر کړه جزاً للهم بالزنى كمامر تفصيله في تفسير قوله "ولقد همت به وهم بها" فتذكر واللبث في السجن بعد مضى مدة مديدة بقوله للساقي اذكرني عند ربک فانساه الشيطان ذكره ربه فلبث في السجن بضع سنين، ومثل ما نزل بيعقوب عليه السلام وبينوا سبب ابتلائه بوجوه، تر ټولو صحيح داده چې ده يو وخت يوه مينځه رانيول سره د يوه کوچني زوی بيا يعقوب عليه السلام زوی ځنی خرڅ کړی فبكت على فراقه حتى عميت.

(۲) يو قسم امتحان دی ليبرز ما في ضميره فيظهر للخلق درجته بانه اين هو من ربه مثل ما نزل بايوب عليه السلام من انواع البلايا كما هو مذكور في موضعه فقال الله تعالى في شانه عليه الصلوة والسلام "انا وجدناه صابراً نعم العبد انه اواب" قسم يې کرامت دی ليزداد عنده تعالى قرباً وكرامة مثل ما نزل بحيى بن زكريا عليهما السلام مع انه لم يعمل خطيئة قط ولم يهم بها، نو بني اسرائيلو دا نبي ذبح کړی او سر مبارک يې د يوې زانيه بښځي من بغايا بني اسرائيل ورکړی چې په کوڅو کې يې بازی په کولې.

دروښ وايي: چې د علماؤ اجماع پر دې ده چې په ټولو اقسامو مذکوره وو کې د بلا اجر او ثواب سته چې سړی صبر پرې وکړي او جزع او شکايت ونه کړي.

دروښ وايي: چې مظهري رحمه الله ددې آيت يو صوفيانه طويل بحث مشتمل پر څلورو صفحو پر لار اچولی دی، لا فائدة في نقله في هذا التفسير

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لان فهمه مشكل على الطلبة بل العلماً المدرسين وتبع في ذالک صاحب المكتوبات المجدد للالف الثاني قدس سره السامي.

مسئله: پوه سه! چي په دې آيت کي دليل پر دې دی چي تأسف او ژړا روا ده په نېز د مصيبت، چي نوحه يعني لوی بغاري او يا تندی په چپلاخو وهل يا گريوان څيرل يا په خوله شکايت کول نه وي پکښې، ولي چي تأسف او حزن قلبي په اختيار دی د سړي، ولا تکليف بما ليس للعبد فيه اختيار، ولي چي داسي صابر کسان بېخي لږ دي چي ځان، زړه او سترګي دي کنټرول کړي د مصيبت په وخت کي.

بخاري او مسلم له انس ﷺ څخه مروي حديث داسي بيان کړی دی چي د عليه الصلوة والسلام اخيري زوی چي نوم يې ابراهيم ؤ او د مرضعې په کور کي مريض سو، نو عليه الصلوة والسلام سره د څو کسانو د پوښتنې لپاره ورغله او د ابراهيم ساه لنډه لنډه کېدله يعني چي علامه د زکندن وه، نو د عليه الصلوة والسلام تر مبارکو سترګو وښکې راتوی سوې، نو عبدالرحمن بن عوف ﷺ ورته وويل "وانت يا رسول الله؟!" يعني ته هم ژاړې؟ (د ابن عوف ﷺ گمان دا ؤ چي دا قسم ژړا به هم منهي عنه وي) ئو عليه الصلوة والسلام ورته وويل يا ابن عوف انها رحمة" يعني دا اوښکي له رحمت او شفقت څخه تويېږي، بيا د عليه الصلوة والسلام تر سترګو نوري اوښکي توی سوې، ئو عليه الصلوة والسلام داسي ژبا الفاظ وويل "العين تدمع والقلب يحزن ولا نقول الا ما يرضى ربنا (يعني انا لله وانا اليه راجعون) وانا لفراقک يا ابراهيم لمحزونون.

بخاري او مسلم له حضرت اسامه بن زيد ﷺ څخه روايت کړی دی چي عليه الصلوة والسلام ورغلی دده د لور د زوی پوښتنې ته چي هغه ساه شړل په غوتو غوتو يعني زکندن يې ؤ، نو د عليه الصلوة والسلام تر مبارکو سترګو اوښکې راتوی سوې، نو سعد ﷺ ورته وويل ما هذا يا رسول الله؟ فقال عليه الصلوة والسلام هذه رحمة جعلها الله في قلوب عباده فانما يرحم الله من عباده الرحماً.

بخاري ومسلم من حديث ابن عمر ﷺ قال قال رسول الله ﷺ ان الله لا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يعذب بدمع العين ولا بحزن القلب يعني لعدم الاختيار فيها ولكن يعذب بهذا واشار الى لسانه او يرحم يعني كه يې په خوله په زوره بغاري وكړې يا يې جزع او فزع په نبكاره وكړه فيعذب به، او كه يې وويل انا لله وانا اليه راجعون فيرحم به.

بخاري او مسلم له ابن مسعود ﷺ څخه داسي روايت نقل كړى دى چې عليه الصلوة والسلام وويل ليس منا من ضرب الخدود "چې بارخو گان په چپلاخه وهي" وشق الجيوب "يا گريوان څيري" ودعا بدعوى الجاهلية مثل واجبلاه وغيره.

وَتَوَلّٰى عَنْهُمْ

اعراض وكړى يعقوب (عليه السلام) له زامنو څخه كراهةً ما سمع منهم، او په خونده د غم نتوتى او ملاقات يې د زامنو او نورو خلگو سره بند كړى، جامي قدس سره وايي:

رو اى همدم دربزم طرب بادوستان خوش رى
مرا بگداز تا تنها در ين بيت الحزن ميرم

وَقَالَ يٰٓاَسَفٰى عَلٰى يُوْسُفَ

اې زما غصه راځه چې وخت دى پر يوسف.

فائده: د عربو دا قانون دى چې په وخت كې د سخت غم او تكليف داسي نعره كوي واويلاه، يا اسفى يا هلكتا وامثال ذالك، د "يا اسفى" اصل يا اسفي بيا الاضافة ؤ وروسته يې په يا په الف بدله كړه لعدم الصوت. "السف" شدة الحزن او غم ته وايي:

وَابْيَضَّتْ عَيْنٰهُ مِنَ الْحُزْنِ فَهُوَ كَظِيْمٌ ۝

او سپينې سوې سترگې د يعقوب (عليه السلام) يعني تور يې ولاړل په سبب د ډېر غم او ژړا يعني په سترگو روند سو، مقاتل رحمه الله وايي چې شپږ كاله يعقوب عليه السلام په سترگو شى نه ليدى.

دروبش وايي: چې بعض روات وايي چې يعقوب عليه السلام په سترگو نه دى روند سوى بلكې سترگې يې ضعيفه سوې هغه ليس بشيئ لما سيئاتي في القرآن الكريم "فارتد بصيراً" حسن بصري رحمه الله وايي چې زمانه په منځ كې د فراق د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يوسف عليه السلام له يعقوب عليه السلام څخه او بيا تر وخته پوري د اجتماع اتيا كاله وه چې په دې دوران كې د يعقوب عليه السلام اوښكې نه ودرپدلې مع لم يكن في زمانه اكرم على الله من يعقوب عليه السلام.

"فهو كظيم" اى مملو من الغيظ على اولاده لكن ممسك في قلبه لا يظهره وقيل مملو من الحزن ممسك لا يظهره، دا لفظ مأخوذ دى من كظم السقاء اذا شده بعد ملئه، والحاصل چې د يعقوب عليه السلام خوله ترلې وه هيڅ چا ته يې شكايت نه كاوه، نو كظيم يا فعيل په معنىٰ د فاعل دى يا فعيل په معنى د مفعول دى فتفكر فيما سبق.

دروبش وايي: چې روح المعاني د ابن جرير او ابن ابى حاتم چې دوى له ليث بن ابى سليم څخه روايت كړى دى چې جبرئيل عليه السلام وه يوسف عليه السلام ته په بندي خانه كې يوه ورځ ورغلى چې يوسف عليه السلام وپېژنى، نو يوسف عليه السلام ورته وويل ايها الملك الكريم على ربه" ته پر حال د يعقوب عليه السلام حال لرې؟ جبرئيل ورته وويل نعم، يوسف عليه السلام ورته وويل ما فعل قال جبرئيل ابيضت من الحزن عليك يوسف عليه السلام ورته وويل چې څومره اندازه د حزن يې ده؟ جبرئيل ورته وويل چې د اوويا بورو بنځو! (بوره په پښتو هغه بنځه بولي چې ژب غلا نه دى زوى يې مړ سي) يوسف عليه السلام ورته وويل هل له على ذالك من اجر؟ قال جبرئيل نعم اجر مائة شهيد.

قَالُوا تَاللّٰهِ تَفْتَؤُا تَذْكُرُ يُوسُفَ حَتّٰى تَكُونَ حَرَضًا اَوْ تَكُونَ مِنَ الْهٰلِكِيْنَ ۝

زامنو يعقوب (عليه السلام) ته وويل قسم په خداى دى چې لا تفتؤا بحذف لا اى لاتزال يعني همېشه ته. والقرينة على حذف لا النافية داده چې كه چېرې اثبات واى لام د ابتداً او تاكيد په نون ضروري دى نحو والله لتفعلن كذا ونحو ذالك يعني همېشه ته د يوسف ذكر كوې، چې ته به نژدې وهلاكت ته ګرځې بسبب المرض والحزن والحرض في الاصل. الفساد في البدن وفي المذهب وفي العقل من الحزن او العشق او الهرم كذا في القاموس، نو حرض مصدر دى ولذالك لا يؤنث ولا يجمع. دلته په معنى د صفت دى، او يا به مړ سې.

قَالَ اِنَّمَآ اَشْكُوا بَثِّيْ وَحُزْنِيْٓ اِلَى اللّٰهِ

يعقوب (عليه السلام) ورته وويل زه شكايت نه كوم د خپل د پېر حزن او غم مګر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خدای ﷻ ته یعني لا الی واحد منکم فخلوني وشکایتي، ما وخپل شکایت سره پرپرېدئ، بغوي رحمه الله وایي چي د یعقوب علیه السلام پوښتنې ته یو همسایه دده ورغلی او ده ته یې وویل چي ولي دومره ضعیف او شیخ فاني درځخه جوړ سو. او سره ددې چي د پلار د عمر اندازې ته نه یې رسېدلی؟ یعقوب علیه السلام ورته وویل چي دا حالت چي ما ته پېښ دی په سبب د ما ابتلاني بفراق یوسف.

فاوحی الله تعالی الیه یا یعقوب، آیا ته زما څخه شکایت کوې و مخلوق ته یعقوب علیه السلام ورته وویل اخطأتها فاغفرها، زه خطاوتم په دې شکایت کي ته ما وه بخښه، وروسته چي به د یعقوب (علیه السلام) څخه چا پوښتنه وکړه ده به ورته ویل "انما اشکوا بثي وحزني الی الله تعالی انتهی قول البغوي رحمه الله.

دروښ وایي: چي دا شان نزول مخالف دی له سیاق څخه، ولي چي دا خبره انما اشکوا آه خو یعقوب علیه السلام په جواب کي د زامنو وکړه یعني قولهم تفتعوا الآیة نه په جواب کي د بل چا فافهم، وکذا ما روی چي یو چا د یعقوب علیه السلام څخه پوښتنه وکړه چي څه شي ته په ستر ګو روند کړې او ملا یې لکه کمان در وګرځول؟ ده ورته وویل اذهب بصري بکائي علی یوسف وقوس ظهري حزني علی اخیه یعني بنیامین، فاوحی الله الیه اتشکوني وعزتي لا اکشف مابک حتی تدعوني، نو یعقوب علیه السلام وویل انما اشکوا بثي الآیة فهذه الروایة ایضاً یخالف سیاق الآیة.

وَأَعْلَمُ مِنَ اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٨٦﴾

یعقوب (علیه السلام) ورته وویل چي زه خبر یم له رحمت څخه د خدای ﷻ یعني چي خواست کونکی نه نا امیده کوي، او چي خدای پاک ته پناه وروړي هغه نه شړي، او یا معنا داده اعلم من الله بنوع من الهام.

په یوه روایت کي راغلي دي چي ملک الموت د یعقوب علیه السلام ملاقات ته ورغلی، نو یعقوب علیه السلام ورته وویل ایها الملک الطیب ریحه الحسن صورته هل قبضت روح ولدي یوسف علیه السلام في الارواح قال لا، نو د یعقوب علیه السلام زړه خو ډاډه سو او طمع د رؤیت د یوسف علیه السلام چي هغه خوب لیدلی ؤ یعني "اني رایت احد عشر کوکبا" هغه خوب خو تر اوسه عالم وجود ته دی راغلی، نو خامخا به هغه خوب به د یوسف علیه السلام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په ژوند کي تحقق پيدا کوي اوسدي ؒ وايي چي څه وخت چي ورنرو د يوسف عليه السلام وېلار ته ښه اخلاق د ملک مصر بيان کړه يعقوب عليه السلام ته په زړه کي طمع پيدا سوه چي داغه به يوسف عليه السلام وي په هر حال يعقوب وزامنو ته وويل،

يٰبَنِيَّ اذْهَبُوْا فَتَحَسَّسُوْا مِنْ يُّوْسُفَ وَاَخِيْهِ وَلَا تَايْئَسُوْا مِنْ رَّوْحِ اللّٰهِ ؕ

ای زامنو ولاړ سئ مصر ته يعني د غلې راوړو لپاره او تاسي هوړې معلومات کوئ د يوسف عليه السلام او د ده د ورور بنيامين، او تاسي په دې باب کي مه نا اميده کېږئ د رحمت څخه د خدای ﷻ او يا ده خوشحالی څخه د جانب څخه د خدای ﷻ.

اِنَّهٗ لَا يَايْئَسُ مِنْ رَّوْحِ اللّٰهِ اِلَّا الْقَوْمُ الْكٰفِرُوْنَ ۝

په تحقيق شان دا دی چي نه نا اميده کېږي د رحمت عامه بلا نهاية څخه د خدای ﷻ مگر هغه قوم چي کافران وي، ولي چي خدای ﷻ پېژني هغه په هېڅ حال کي د خدای جلت رحمته وعظمت قدرته نه نا اميده کېږي "کريمه" لا تقنطوا من رحمت الله.

دروښ وايي: چي په تاريخ کي راغلي دي چي يو سړی چي په کښتی کي سپور وٗ کښتی په درياب کي ماته سوه او دا سړی پر يوه تخته پاته سو چي باد کرار کرار ښوروله يوې جزرې ته ورسېدی د تختې څخه چابک وغورځېدی جزرې ته ورغلی سړی شاوخوا په جزيره کي وگرځېدی هېڅ انسان يې په نظر نه ورغلی، نو په حالت کي د نا اميدي د ملاقات څخه د اهل او عيال يې داسي وويل "اذا شاب الغراب اتيت اهلي" وصار القار کا اللبن الحليب" سروش غيب به دل نا ميد او بشارت چنين داد" عسى الكرب الذي امسيت فيه" يكون ورائه فرج قريب" فاذا هو بسفينة فى البحر فركب فيها ووصل الى اهله، وفي المثنوي "گر گران وگرشتا بنده بود" انكه جويند است يا يندہ بود" در طلب زن دائما تو هر دو دست" كه طلب در راه نيكو رهبر است.

روی ان يعقوب عليه السلام امر بعض اولاده، نو داسي يو مكتوب يې د يوسف عليه السلام ته نوشته کړی بسم الله ارحمن الرحيم من يعقوب عليه السلام اسرائيل الله (يعني

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عبد الله) بن اسحاق ذبيح الله والمشهور ان الذبيح هو اسمٰعيل عليه السلام، او بعض محققين وايي چي ذبيح اسحاق عليه السلام دی. ابن ابراهيم خليل الله، الى عزيز مصر. اما بعد فانا اهل بيت موكل بنا البلاء (يعني الامتحان) اما جدي فانه ابتلى بنار نمرود، فصبر وجعل الله عليه النار برداً وسلاماً، واما ابى اسحٰق فابتلى بالذبح فصبر فقداه الله بذبح عظيم واما انا فابتلاني الله بفقد ولدي يوسف فبكيت عليه حتى ذهب بصري ونحل جسمي وقد كنت اتسلى بهذا الغلام (يعني بنيامين) الذي امسكته عندك وزعمت انه سارق وانا اهل بيت لا نسرق ولا نلد سارقاً. فان رددته علي فبها ونعمت والا دعوت الله عليك دعوة تدرك السابع من ولدك اى النسل السابع، او دا مكتوب يې و زامنو ته ورکړی او لږ قيمت د غلې لپاره څه وړی او يو څه غوړي وغير ذالک يې په لاس ورکړه مصر ته يې واستول، دوی چې مصر ته ورغله او د هغه ورور سره چې هوړې ؤ يعني من قال لا ابرح الارض الآية کمامر، او په ګډه د يوسف عليه السلام دربار ته روان سوه، او د يعقوب عليه السلام مکتوب يې ورته تسليم کړی او داسي يې ورته وويل.

فَلَمَّا دَخَلُوا عَلَيْهِ قَالُوا يَا أَيُّهَا الْعَزِيزُ مَسَّنَا وَأَهْلَنَا الضُّرُّ وَجِئْنَا بِبِضَاعَةٍ مُزْجَاةٍ فَأَوْفِ لَنَا الْكَيْلَ وَتَصَدَّقْ عَلَيْنَا ۖ إِنَّ اللَّهَ يَجْزِي الْمُتَصَدِّقِينَ ﴿٨٨﴾

چې دوی داخل سوه پر يوسف (عليه السلام) نو دوی ورته وويل اې عزيز يعني المصر مور ته رسېدلي او زمور کورنۍ ته سخته لوږه او مور راوړي دي په رأس المال د ثمن د غلې چې بې کاره شی دی، ابن عباس رضي الله عنهما وايي چې دراهم زيوف وه يعني کوټه ردي چې نه چلېدله په عمومي تجارت کې. او بعض مفسرين وايي چې د مزجات معنی قليل ده، او بعض مفسرين وايي چې د صحرايانو وړی وې او غوړي وه، او بعض مفسرين وايي چې څرمني او چوتې وې، اصل معنی د ازجات دفع ده، فيقال للدارهم للردية لانها تدفع ولا تؤخذ، نو پوره راکړه مور ته کيل کما کنت تعطينا قبل هذا بالثمن الجياد او ته پر مور احسان وکړه چې د ردي او د جيد فرق مه کوه، وقال الضحاک رحمه الله تصدق علينا برد اخينا بنيامين په تحقيق د خداى پاک خوښ دي متصدقين چې په دنيا او اخرت کې ښه ثواب ورکوي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: تصدق په عرف کي خاص دی چي غرض د متصدق رضا د خدای ﷻ وي او ثواب، نو د هم دې عرف پر بنا حسن بصري رحمه الله له یوه سړي څخه واورېدل اللهم تصدق علي، حسن رحمه الله ورته وویل ان الله لا یتصدق انما یتصدق من یبتغی الثواب والله تعالی غني عن الثواب بل قل اللهم اعطني وتفضل علي.

فائده: د یوسف علیه السلام ورنو ده ته نه وویل ان الله تعالی یجزیک. بلکې عمومي لفظ یې ووایه، یا له دې سببه چي دوی ته نه وه معلومه چي عزیز مصر به تصدق وکړي او که نه. وقیل انهم لم یعلموا دینه.

مسئله: له سفیان ثوري رحمه الله څخه چا پوښتنه وکړه چي یو نبي له انبیاؤ څخه سوی نبینا علیه السلام صدقه روا وه او که څرنګه؟ سفیان ثوري رحمه الله ورته وویل الم تسمع قوله تعالی وتصدق علینا الآیة. لکن دا دلیل د سفیان ثوري هلته صحیح کېږي چي نبوت د ورونو د یوسف ثابت سي وفیه اختلاف عظیم بل الظاهر عدم نبوتهم لان الانبیاء علیهم السلام معصومون عن الکبائر قبل النبوة وبعدها کما اثبتنا ذالک في رسالة للعبد الفقیر "کشف العظاء عن عصمة الانبیاء" وهذه الرسالة اجدی من تفاریق العصاء.

پوه سه: چي جزاء او ثواب په اخیرت پورې نه دی خاص بل قد یکون دنیویاً.

دروبش وایي: چي پر دې تقدیر ان الله یجزي المتصدقین پر خپل ظاهر صحیح دی لان یوسف داخل فیهم کما یدل علیه سیاق اللفظ الجمع الآیة کذا في روح البیان نمونه د ثواب دنیوي. له شیخ ابي ربیع رحمه الله څخه روایت دی چي ما واورېدل چي په بعضې قریو کي یوه ښځه ده چي یوه مېږ لري چي د لوښلو په وخت کي یې تر یوه تي شیدې راځي او تر بل تي یې عسل راځي، نو دی وایي چي زه د کشف الحال لپاره هغې قریې ته ورغلم نو هغه مېږه داغسي وه لکه چي ما اورېدلي وه، نو ما له هغې ښځي څخه سبب وپوښتی، دې راته وویل چي مونږ یوه مېږه درلوده چي مونږ د خپل عیال قوت د هغې له شیدو څخه کاوه نو یوه ورځ مونږ ته مېلمه راغلی او مونږ اکرام د مېلمه خو په قرار د فرمودې د آنحضرت ﷺ مامور وؤ، نو مونږ هغه مېږ وارد مېلمه ته ذبح کړه، نو خدای پاک په عوض کي د هغې مېږې دا مېږه راکړه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: صدقه یوازي په مال پوري خاص نه ده بلکې هر معروف صدقه ده کالعدالة بین الاثنین، واعانة الملهوف والکلمة الطیبة للمؤمن والمشي الی الصلوة، واماطة الاذی عن الطریق ونحوها بل جمیع نوافل العبادات بلکې صدقه په انسانانو پوري هم نه ده خاصه، قال السعدي الشیرازي قدس سره:

یکی دربیابان سگی تشنه یافت .... برون از رمق در حیاتش نماند
کله دلو کرد آن پسند یده کیش .... چو حبل اندر آن بست دستار خویش
بخدمت میان بست وباز وکشاد .... سگی ناتوان را دمی آب داد
خبر داد پیغمبر از حال مرد .... که داور گناهان او عفوه کرد
کسی باسگی نیکوی گم نه کرد .... کجا گم شود خیر با نیک مرد
کرم کن چنان کیت برآید زدست .... جهانبان در خیر برکس نه بست
به قنطار زر بخش کردن زگنج .... نباشد چو قیراطی ازدست رنج

راوي وایي چې څه وخت چې یوسف علیه السلام اظهار د مسکنت د ورونو ولیدی د هر زړه یې پر وسو، او مکتوب د یعقوب علیه السلام ورونو پر یو ځای د تخت و یوسف علیه السلام ته کښېښنو، خط چې یې ووایه ژړا غلبه پر وکړه د ځان د پټ ساتلو واګي یې له لاسه ورکړې، او دوی ته یې وویل ای ورونو،

قَالَ هَلْ عَلِمْتُمْ مَّا فَعَلْتُمْ بِيُوسُفَ وَأَخِيهِ

آیا تاسي خبریاست په هغه ظلم چې تاسي پر یوسف وکړی من القائه في الجب کمامر او هغه چار چلند چې د مورني ورور سره چې بنیامین ؤ ومو کړی چې د یوسف څخه مو جلا کړی ؤ او د ذلت په ستر گو مو ورته کتل.

پوښتنه: د یوسف غرض له دې وینا څخه ورونو ته پېغور ورکول او ملامتیا پر ویل وه او که څرنگه؟

ځواب: ټوله مفسرین په یوه خوله وایي چې آیت او قول د یوسف علیه السلام ورونو ته د قبیلې د ذکر ملزوم واردة اللازم ای هل تبتم مما فعلتم بیوسف واخیه من الظلم فان التوبة لازمة علی الظالم من ظلمه پېغور نه دی، بدلیل قول یوسف لهم، کریمه لا تثریب علیکم الیوم بلکې باعثه کول دي پر توبه ولا عائبة فیه کما لا یخفی،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چي مظهري رحمه الله د کلبي رحمه الله يوه قول را نقل کړی دی چي ضعيف دی غاية الضعف او هيڅ مفسر اشاره نه ده ورته کړې، نو د منلو ور نه دی ان شئت فارجع الی تفسير المظهري.

إِذْ أَنتُمْ جَاهِلُونَ ﴿٨٩﴾

چي تاسي ناخبره واست په قبح سره د ما فعلتم فلذالک اقدمتم عليه. او يا معنی د آيت داده چي تاسي جاهلان واست په مآل د يوسف عليه السلام د حال.

په روايت کي راغلي دي چي يوسف عليه السلام چي مکتوب د پلار ووايه د هر يې وژړل او جواب يې داسي ورته نوشته کړی.

بسم الله الرحمن الرحيم: الی يعقوب اسرائيل الله من ملک مصر.

اما بعد: ايها الشيخ فقد بلغني کتابک وقرائته واحطت به علما وذکرت فيه ابائک الصالحين وذکرت فيه انهم کانوا اصحاب البلايا فانهم وان ابتلوا لکن صبروا وظفروا، فاصبر کما صبروا..... والسلام

دا مکتوب جوابي چي زامنو و يعقوب عليه السلام ته قرائت کړی. نو ده وويل والله ما هذا کتاب المملوک ولکنه کتاب الانبيآ ولعل صاحب الکتاب هو يوسف انتهی.

قَالُوٓا۟ أَإِنَّكَ لَأَنتَ يُوسُفُ ۖ

درونو و يوسف (عليه السلام) ته وويل آيا ته يوسف يې استفهاماً، بعض مفسرين وايي چي دا پوښتنه دوی په قرينه د خبرو د يوسف توهماً وکړه.

او عطا رحمه الله د ابن عباس رضي الله عنه څخه داسي روايت کړی دی چي د يوسف درونو خو دی هيڅ نه پېژندی چي دی يوسف عليه السلام دی، لکن چي يوسف عليه السلام تاج له سره لهري کړی، نو دده په سر مبارک کي يوه د تپ علامه وه چي د يعقوب عليه السلام په سر کي هم دوی ليدلې وه او د اسحاق عليه السلام په سر کي هم هغه علامه وه او د ساره رضي الله عنها په سر کي هم دا علامه وه فعرفوه وقالوا انک لانت الآية، وقيل غير ذالک.

قَالَ أَنَا۠ يُوسُفُ وَهَٰذَآ أَخِى ۖ قَدْ مَنَّ ٱللَّهُ عَلَيْنَا ۖ

يوسف (عليه السلام) ورته وويل زه يوسف يم او دا يعني بنيامين مي ورور دی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يعني سکه ورور، خدای پاک زمونږ سره احسان کړی دی چې مونږ يې په صحت او عافيت او خوشالي سره يو ځای کړو.

إِنَّهُۥ مَن يَتَّقِ وَيَصْبِرْ فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿٩٠﴾

څوک چې له خدای ﷻ څخه وبېرېږي بآداء الفرائض والواجبات وترک المنهيات او صبر وکړي پر مصائبو او ازارد خلګو له خوا. په تحقيق خدای ﷻ نه ضائع کوي اجر او ثواب يعني په دنيا او اخرت کي د احسان کونکو.

پوښتنه: اجرهم" يې نه ووايه بلکې محسنين يې ووايه؟

ځواب: لپاره د تنبيه پر دې چې محسن هغه څوک دی چې جمع په منځ کې د تقوی او صبر وکړي.

قَالُوا۟ تَٱللَّهِ لَقَدْ ءَاثَرَكَ ٱللَّهُ عَلَيْنَا وَإِن كُنَّا لَخَٰطِـِٔينَ ﴿٩١﴾

ورونو يې وويل د عذر د اظهار لپاره والله، نو لام موطئه د قسم محذوف دی يعني جواب دقسم محذوف دی، ته مختار کړې خدای پاک پر مونږ بحسن الصورة وکمال السيرة وسائر الفضائل الدنيوية والاخروية.

پوه سه: چې "ان" مخفف د مثقل اسم يې ضمير شان محذوف دی، والواو للحال والمعنى الحال شان دادی چې مونږ وو د خطاوتلو په ډله کې ستا وستاد ورور بنيامين په باره کې يعني د ګناه کارانو په ډله کې چې ته مو وجب ته واچولې او له پلار څخه د درواغو په بهانه مو جلا کړې او ستا ورورته به مو د ذلت په سترګو کتل.

فائده: خطأ ته خطأ هلته ويل کېږي چې په قصد ګناه وکړي او اخطأ هلته ويل کېږي چې بې قصده ګناه وکړي.

قَالَ لَا تَثْرِيبَ عَلَيْكُمُ ٱلْيَوْمَ ۖ يَغْفِرُ ٱللَّهُ لَكُمْ ۖ وَهُوَ أَرْحَمُ ٱلرَّٰحِمِينَ ﴿٩٢﴾

يوسف (عليه السلام) ورته وويل چې هيڅ منت او ملامتيا نسته پر تاسي باندې ننه ورځ يعني زه پر سر قدرت يم او په تاسي هر څه کولای سم فضلاً عن سائر الايام، پښتانه وايي کړه غاړه توره نه پرېکوي، ستاسي د تولو ګنهو چې زما او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وروړ په بار کي تاسي کړي، ولي ما و بخښلاست اوسره ددې چي زه مظلوم او بخيل وم په ماظنکم بالغني الغفور فانه يغفر الصغائر والكبائر ويتفضل على التائب. بيضاوي رحمه الله وايي چي له کرم څخه د يوسف عليه السلام دا وړ چي ورونه يې سهار او مانبام کورته غوښتل د دوډۍ لپاره. نو ورونو يې ورته ويل چي موږ ستا څخه شرمېږو چي موږ ستا په باره کي تر حد بالا غلطي کړې ده، يوسف عليه السلام ورته وويل چي اهل مصر ماته په هغو ستر گو گوري لکه اول چي يې کتل ولقد شرفت بكم وعظمت في عيونهم حيث علموا انكم اخوته ومن ولد ابراهيم عليه السلام، راوي وايي چي وروسته چي يوسف عليه السلام و ورنو ته ځان ور وښووی. نو د خپلار يعقوب عليه السلام پوښتنه ځني وکړه مافعل ابی بعدي، دوی ورته وويل چي هغه ستا د فراق له سببه په ستر گو روند سو، يوسف عليه السلام ورته وويل:

اِذْهَبُوْا بِقَمِيْصِيْ هٰذَا فَاَلْقُوْهُ عَلٰى وَجْهِ اَبِيْ يَاْتِ بَصِيْرًا

يوسئ قميص زما دغه (چي دا هغه ورپښمين قميص وُ چي ابراهيم عليه السلام ته په اور کي د نمرود جبرئيل عليه السلام راوړی وُ له جنت څخه او اخيراً و يعقوب عليه السلام ته په ميراث رسېدلی وُ او يعقوب عليه السلام د تعويذ پر ډول د يوسف عليه السلام په غاړه کي خړولی وُ او هغه قميص تر حال حاضره پوري د يوسف عليه السلام په لاس کي وُ) او دا قميص واچوئ زما د پلار پر مخ چي په برکت د جنتي قميص به په ستر گو بنا سي. حسن بصري رحمه الله وايي چي يوسف عليه السلام چي دا خبره وکړه "يات بصيراً" تر وحي الهي وروسته يې وکړه، والا فكيف علم يوسف عليه السلام باتيانه بصيراً بالقاء القميص على وجهه اذ ليس للعقل الى هذا سبيلاً كما لا يخفى.

فائده: جاء في الحديث النبوي ﷺ چي عليه الصلوة والسلام چي فتح د مکې وکړه نو د کعبې مکرمې په دروازه کي ودرېدی نو قريشو ته يې وويل چي ستاسي څه خيال دی چي زه به ستاسي سره څه وکړم؟ قالوا اخ كريم وان اخ كريم فقال رسول الله ﷺ اقول لكم ما قال اخي يوسف يعني لاتثريب عليكم اليوم، سعيد شيرازي قدس سره السامي وايي:

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نه یوسف که چندان بلا دید وبند .... چو حکمش روان گشت وقدرش بلند
گنه عفو کرد آل یعقوب را.... که معنی بود صورت خوب را
بکردار بد شان مقید نه کرد .... بضاعات مزجات شان رد نه کرد
ز لطفت همین چشم داریم نیز .... بر ین بی بصنا عت ببخش ای عزیز
بصنا عت نیاوردم الا امید .... خدا یا ز عفوم مکن نا امید

وَأْتُونِي بِأَهْلِكُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٩٣﴾

او راولئ تاسي او ستاسي عیال ټوله مصر ته.

پوه سه: چې اهل ښځو، اولادو، مریانو، مینځیانو، اقارب او اصحابو ټولو ته وایي. راوي وایي چې یهودا قمیص واخستی او دا یې وویل چې ما پلار غمجن کړی دی په حمل د هغه قمیص چې په وینو ککړ دی چې دا د یوسف قمیص دی، نو زه یې هم نن خوشاله کوم لکه غمجن کړی چې مي دی، نو یهودا لځي پښې او لځ سر له مصر څخه کنعان ته رهي سو او اووه پټیري یې ورسره واخستلې او هغه یې ټولي ونه خوړلې چې کنعان ته یې ځان ورساوه وکانت المسافة بین مصر وکنعان ثمانین (۸۰) فرسخاً.

وَلَمَّا فَصَلَتِ الْعِيرُ

هغه وخت چې کافله د وروڼو د یوسف (علیه السلام) جلا سوه له مصر څخه او تر ابادی د مصر تېره سوه، مراد له قافلې څخه هغه ده چې قمیص د یوسف علیه السلام پکښې وُ لکه یهودا چې د یوسف علیه السلام د قمیص وروړل وپلار ته پر ذمه واخستل کمامر عنقریب.

قَالَ أَبُوهُمْ إِنِّي لَأَجِدُ رِيحَ يُوسُفَ

وویل پلار ددوی یعقوب علیه السلام و حاضرینو ته چې لمسیان مړندي او نور قریبان وه، زه پیدا کوم بوی د یوسف، مظهري وایي چې په دې کي دلیل پر دې دی چې دا بوی د جنت د خوا دی له یوسف علیه السلام څخه بالذات ومن قمیصه بالعرض والا لقال ریح قمیص یوسف، مجاهد رحمه الله وایي چې یعقوب علیه السلام ته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ہوی د یوسف علیہ السلام د درو درځو لاري څخه محسوس سو. له ابن عباس رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چې "من مسيرة ثماني ليال" وقال بينهما ثمانون فرسخاً. او بعض وايي چې باد راوالوتی او د قمیص بوی یې راورساوه فوجد ريح الجنة. نو دی پوه سو چې په مخکه کې خو ريح الجنة نسته الا من ذالک القميص فلذالک قال اني لاجد ريح يوسف.

لَوْلَآ اَنْ تُفَنِّدُوْنِ ﴿۹۴﴾

که تاسي نسبت د پند و ماته نه کوئ. والفند نقصان العقل من غاية الهرم، كريمه: ثم رددناه اسفل سافلين الآية.

فائده: چونکه فند حالت عارضي دی من كبر السن، نو داسي نه ويل کېږي عجوز مفندة لان نقصان عقل النسا ذاتي كما ورد في الحديث النبوي الصحيح ما رئيت من ناقصات عقل ودين الحديث.

قَالُوْا تَاللّٰهِ اِنَّكَ لَفِيْ ضَلٰلِكَ الْقَدِيْمِ ﴿۹۵﴾

حاضرانو و يعقوب (علیہ السلام) ته وويل چې قسم په خدای دی چې ته خلاف الحق روان يې له قديم څخه په سبب د افراط في محبة يوسف وكثرة ذكره وتوقع لقائه.

فَلَمَّآ اَنْ جَآءَ الْبَشِيْرُ

پس هغه وچې راغلی زېری کونکی د يوسف علیہ السلام يعني دده د ژوند. وكونه عزيز مصر وسائر احواله. ابن مسعود رضی اللہ عنہ وايي من بين يدي العير. يعني په نېز د حضور د قافلې يعني بشير او عير دواړه يو ځای راورسېدله. او ابن عباس رضی اللہ عنہما او سدي رحمہ اللہ وايي چې بشير يهودا وچې تر عير دمخه يې پياده ځان راورساوه كمامر سابقاً.

اَلْقٰىهُ عَلٰى وَجْهِهٖ فَارْتَدَّ بَصِيْرًا

واچاوه هغه بشير قميص د يوسف (علیہ السلام) پر مخ د يعقوب (علیہ السلام) نو وګرځېدی ليدونکی بعد ما كان اعمى وعادت قوته بعد الضعف وشبابه بعد الهرم كذا قال المظهري.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چي وعلى هذا بطل قول المناطقة والحكماً ان قول القائل ليت الشباب يعود تمنى للمحال فافهم، د روح البيان بيان هم د مظهري د بيان سره سمون خوري.

قَالَ أَلَمْ أَقُل لَّكُمْ إِنِّي أَعْلَمُ مِنَ اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٩٦﴾

يعقوب (عليه السلام) و زامنو او حاضرينو ته چي ما نه وه درته ويلي چي زه خبر يمه د خداى پاک له خوا په هغه شي چي تاسي نه ياست په خبر يعني من حيوة يوسف وان الله يجمع بيننا، يا دا قول اني لاجد ريح يوسف، بغوي رحمه الله عليه وايي چي وروسته يعقوب عليه السلام له بشير څخه پوښتنه وکړه كيف كان يوسف قال البشير انه ملك مصر، يعقوب عليه السلام ورته وويل چي ملک مصر څه کوم يعني ددې پوښتنه مي نه ده درڅخه کړې بل على اى دين تركته قال على الاسلام، يعقوب عليه السلام وويل چي اوس تام سو نعمت د خداى عزوجل پر ما باندي.

قَالُوا يَا أَبَانَا اسْتَغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا إِنَّا كُنَّا خَاطِئِينَ ﴿٩٧﴾

زامنو د يعقوب (عليه السلام) وخپل پلار ته وويل اې زموږ بابا موږ ته طلب د بخښې وکړه زموږ د ګنهو يعني په باره کي د يوسف چي له تا څخه مو په مکر او هيله جلا کړى وفعلنا به ما فعلنا، او په باره کي د بنيامين چي غلامي ته مو وسپاره په تحقيق موږ خطاوتلي وو چي ستا په حق مو څه وکړه يعني ته مو له غمه د فراق د يوسف وڅاه ته د غم سپارلې، او د يوسف په حق کي مو څه وکړه، يعني زموږ توبه ده ته له خداى عزوجل څخه زموږ بخښنه و غواړه.

قَالَ سَوْفَ أَسْتَغْفِرُ لَكُمْ رَبِّي إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ ﴿٩٨﴾

ژر دى چي زه به بخښنه وغواړم ستاسي لپاره له رب څخه خپل.

دروښ وايي: چي په څنډ ولو کي د دعا د زامنو لپاره د يعقوب عليه السلام څه مراد دى (١) بعض مفسرين وايي چي د يعقوب عليه السلام مطلب دا دى چي ددوى امتحان وکړي چي توبه ددوى د صدق قلبي ده او که څرنګه (٢) شعبي رحمه الله عليه وايي چي د يعقوب عليه السلام مطلب دا دى چي زه د يوسف عليه السلام حال معلوم کړم چي هغه تاسي ته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عفو کوي او که نه، او که يوسف عفو درته کوي، نو زه په هم طلب د مغفرت ستاسي لپاره وکړم فان عفو المظلوم شرط لمغفرة الله تعالى.

(۳) وهب بن منبه رحمه الله وايي چي يعقوب عليه السلام هره شپه د جمعې څه بالا شل کاله د زامنو لپاره دعا غوښتله (۴) په حديث شريف کي راغلي دي چي يعقوب عليه السلام د زامنو لپاره دعا تر سدس اخير پورې د شپې يعني بعيد صلوة التهجد وخندول، نو چي يعقوب عليه السلام به د خپل ورد او تهجد څخه فارغه سو، نو به يې لاس پورته کړی او خداى عزوجل ته به يې داسي ويل اللهم اغفرلي جزعي على يوسف وقلة صبري، واغفر لاولادي ما فعلوا بيوسف، فاوحى الله تعالى اليه قد غفرت لک ولهم اجمعين (۵) اکثره مفسرين پر دې مسلک دي چي دعا د يعقوب عليه السلام تر ثلث اخير د شپې ددې لپاره و خندول چي دا وخت د اجابت دی كما في الحديث المتفق عليه من حديث ابى هريرة رضي الله عنه ينزل ربنا تبارک وتعالى كل ليلة الى السماء الدنيا حين يبقى ثلث الليل الاخير يقول من يدعوني فاستجب له ومن يسئلني فاعطيه من يستغفرني فاغفرله.

دروښ وايي: چي بعض ظاهر الفاظ ددې حديث له متشابهاتو څخه دي، نو پر مذهب د متأخرينو دي تأويل وکړل سي او پر مذهب د سلفو دي تفويض د علم و خداى عزوجل ته وکړل سي.

دروښ وايي: چي راويان وايي چي يوسف (عليه السلام) ټوله کار سازي د سفر و پلار ته ور استولي وه چي په هغه کي دوه سوه اوښان وه او ورته ليکلي يې وه چي د اهل سره مصر ته راروان سه، يعقوب عليه السلام هم د سفر تياري مصر ته وکړه شاعر خجندي وايي.

کرد شرين دهن ما خبريار عزيز ..... که زمصرت اگر اينک شکری می آيد

نو يعقوب عليه السلام سره د ټول اهل او اقاربو پر اوښانو باندې راهي سو، چي مصر ته نژدې سو يوسف عليه السلام ته خبر ورسېدی، نو د پلار استقبال يوسف عليه السلام او ملک مصر ريان په څلورو زرو عسکرو وکړی او دري زره د آسانو سپاره او مشران او رئيسان د مصر ټوله او د هر سپاره سره د آس د سپرو د سپينو زرو او د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سرو زرو بيرق، نو په صحرا کي د مصر پياده سوه او صفونه يې بسته کړه او تولـه مريان د يوسف عليه السلام هم وه. نو پر غونډې چي يعقوب عليه السلام سره د اولاده راپه رته سوه وصحرا ته چي يې وکتل په سوو اسان ولاړ دي. نو يعقوب عليه السلام ودې تعجب آوره اجتماع ته حيران پاته سو، نو جبرئيل عليه السلام راغله ورته وه يې ويل انظر الى الهوا فان الملائكة قد حضرت سروراً بحالكم. يعقوب عليه السلام و سپرو ته د اسانو وکتل او وه يې ويل چي زما زوی يوسف کوم يو دی جبرئيل عليه السلام ورته وويل چي هغه سړی دی چي پر سر يې سايه وان نيولی دی. نو له ډېره عشقه څخه له اوښه را کښته سو او پياده روان سو چي پر يهودا يې تکيه کړې وه. جبرئيل عليه السلام و يوسف عليه السلام ته وويل چي پلار دي پياده سو ته هم پياده سه. او هر يو يعني يعقوب او يوسف عليهما السلام يو وبل ته په ځغاستا را روان وه. چي سره نژدې سوه يوسف عليه السلام غوښتل چي پلار ته سلام ورواچوي جبرئيل عليه السلام ورته وويل پرېږده دی افضل دی چي تاته سلام درواچوي، نو يعقوب عليه السلام په بلند اواز ناړې کړې السلام عليک يا مذهب الاحزان..... بيت:

چه جورها که کشيدند بلبلان از دی ..... ببوی آنکه دگر نوبهار باز آيد

نو پلار او زوی لاسونه يو د بل په غاړو کي سره واچول او دواړه په ژړا سوه د خوشالي له کبله وبکت ملائكة السموات او آسانو شپښنی شروع کړی او ملکو تسبيح شروع کړې او مُلکي نغاړې وژغول سوې او حسب المعمول د خوشالي ډولونه وژغول سوه فصار صحراً مصر کانه يوم القيامة.

چه خوش حالیست روی یار دیدن ..... پس از عمری بیک دیگر رسیدن

فَلَمَّا دَخَلُوا عَلَىٰ يُوسُفَ

چي داخل سو يعقوب (عليه السلام) و اهله پر يوسف (عليه السلام) باندې.

سوال: دمخه په بيان کي د قصې د ملاقات د يعقوب او د يوسف عليهما السلام داسي وويل سوه چي زوی او پلار يو وبل ته ورځغاستل ملاقات يې وکړی او دلته لفظ د دخول راغلی، او دخول په يو اطاق يا خونه يا خېمه کي وي؟

خواب: هغه چي تهر سو هغه ملاقات شخصي د يقعوب او يوسف عليهما السلام و

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لكن يوسف عليه السلام قبلاً په دغه صحرا کي يو قصر جوړ کړی وُ چې په هغه قصر کي يې يو تخت هم اينبی وُ په هغه قصر کي ملاقات عمومي د يعقوب عليه السلام او توله خاندان اولاد او لمسيانو او د يوسف عليه السلام انجام سو فلهذا قال فلما دخلوا آه.

اٰوٰى اِلَيْهِ اَبَوَيْهِ

يوسف (عليه السلام) ضم کړل و خان ته مور او پلار.

پوښتنه: د يوسف عليه السلام مور راحيل خو په نفاس کي د بنيامين وفات سوې وه نو څرنګه لفظ د "ابويه" راوړل سو؟

خواب: اکثره مفسرين پر دې دي چې مراد له ابويه څخه پلار د يوسف عليه السلام او خاله دده ده چې ليا يې نوم وُ لان الخالة بمنزلة الام كما جاً في الخبر، وهذا كما اطلق الاب على العم في قوله تعالى "ابائك ابراهيم واسماعيل واسحاق" او بعض مفسرين وايي چې يعقوب وروسته تر وفات د راحيل ددې خور ليا په نکاح کړې وه چې د يوسف عليه السلام مېره کېږي او مېرې ته هم په عرف کي مور ويل کېږي. او حسن رحمه الله وايي چې مراد حقيقي مور د يوسف عليه السلام ده هغه نه وه مړه بلکې ژوندۍ وه، او بعض مفسرين وايي چې د يوسف عليه السلام مور خداى پاک ژوندۍ کړه او د يعقوب عليه السلام سره مصر ته راغله.

دروښ وايي: چې دا دوه قوله شاذ دي.

پوه سه: چې په وخت کي د ملاقات د يوسف او پلار يعقوب عليهما السلام ده پلار ته وويل يا ابت بكيت علي حتى ذهب بصرك الم تعلم ان القيامة يجمعنا؟ يعقوب عليه السلام ورته وويل بلى په هغه خو خبر وم يا بني لكن خشيت ان تسلب دينك فيحال بيني وبينك في يوم القيامة.

وَقَالَ ادْخُلُوْا مِصْرَ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ اٰمِنِيْنَ ۝

يوسف (عليه السلام) وروسته تر ملاقات د بيابان د پلار او ورېنو سره، نو دوی ته يې وويل چې داخل سئ ومصر ته ان شاً الله د امن په ژوند تېرولو کي له قحط څخه او له نورو مکارهو څخه، او يا معنا داده چې بيا جواز يعني پاسپورټ ته ضرورت نشته لکه دمخه چې بې له جوازه د حکومت مصر د خواځوک مصر ته نه سواى داخلېداى.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي کلمه د "ان شآ الله" په دخول "آمنين" سره تعلق لري قدمت علی آمنين للتبرک قبل تمام الکلام او لمراعات الفواصل کما في قوله تعالی لتدخلن المسجد الحرام ان شآ الله آمنين.

وَرَفَعَ أَبَوَيْهِ عَلَى الْعَرْشِ وَخَرُّوا لَهُ سُجَّدًا ۖ

او کښېنول يوسف (عليه السلام) مور او پلار پر تخت باندي، والرفع النقل.

پوه سه: چي چي يوسف عليه السلام مور او پلار تعظيماً لهما پر تخت کښېنول او وروښه يې يوه درجه لاندي کښېنول.

دروېش وايي: چي د "وخروا له سجدين" په معنی کي د مفسرينو رحمهم الله تعالی لړی اختلاف دی، روح البيان وايي چي بر روی درافتادند پدر يعقوب عليه السلام وخاله وبرادران مر اورا. وروسته وايي چي سجداً حال مقدرة دی لان السجود بعد الحزورای حال کونهم ساجدين تحية وتکرمة له فانه کان السجود عندهم جارياً مجری التحية والتکرمة کالقيام والمصافحة وتقبيل اليد ونحوها من عادات الناس في التعظيم انتهی من تفسير الجزء الثالث عشر ص (٣٢)

دروېش وايي: چي دا عبارت نص په دې کي چي مراد له سجدې څخه سجده متعارفه ده يعني وضع الجبهة علی الارض وان ذالک کان جائزاً في دينهم علی وجه التعظيم، دون العبادة، او زمونږ په شريعت کي د سجود پر وجه متعارفه نهي راغلي دي لغير الله تعالی.

ومعنی الآية ولوېدل پلار د يوسف او خاله دده او وروڼه دده حال کونهم ساجدين ليوسف علی الوجه المتعارف للتعظيمه لا لعبادته، ويدل عليه ظاهر القرآن في رؤياً يوسف في حالة صغره "اني رئيت احد عشر کوکباً والشمس والقمر رئيتهم لي ساجدين" او روح المعاني په تفسير کي د ديارلسم جزء ص (٥٨) کي وايي ای علی الجباه کما هو الظاهر، وهو کما قال ابو البقآ ان سجداً حال مقدرة لان السجود يکون بعد الخرور وکان ذالک جائزاً عندهم آه، او قتاده وايي کان السجود تحية الملوک عندهم و اعطی الله هذه الامة السلام عليکم تحية اهل الجنة کرامة منه تعالی لهم انتهی، او بعض مفسرين وايي چي "خرو"

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په معنی د رکوع بالغ دی دون وضع الجبهة علی الارض آه، او مظهري د دیارلس جزء په تفسیر کي ص (۲۰۲) کي وایي لم یرد بالسجود وضع الجباه علی الارض انما هو الانحناء التواضع یعني تواضعوا لیوسف.

دروښ وایي: چي دا توجیه مخالفه ده له ظاهر څخه د قرآن یعني وخروا له سجداً کما لایخفی ثم رجع و اورد توجیه روح البیان وقال قیل وضعوا الجباه علی لارض وکان ذالک علی طریقة التحیة والتعظیم لا علی طریق العبادة وکانت تحیة الناس یومیئذ السجود وکان ذالک جائزاً في الامم السابقة فلنسخت في هذه الائمة یعني وجعلت تحیهم السلام علیکم انتهی.

دروښ وایي: چي تولو مفسرینو رحمهم الله له ابن عباس رضي الله عنه څخه داسي نقل کړی دی ان معنی الآیة خرو الله سجداً وشکراً بین یدي یوسف، والضمیر في له راجع الی الله تعالی.

دروښ وایي: چي ددې قول د ابن عباس رضي الله عنه معنی داده چي یوسف علیه السلام یې صرف قبله ورته وګرځاوه سجده د خدای عزوجل لپاره وه وذالک باذنه تعالی تعظیماً لیوسف کالکعبة لنا، وکما جعل آدم علیه السلام قبلة لسجود الملائکة حین امروا فالسجود له.

دروښ وایي: وهذا التحقیق تفسیر الآیة بقدر الوسع والطاقة.

پوښتنه: ستا عادت څو حواله و تفاسیرو ته ده خصوصاً مع ذکر النمرة الصفحة نه وه، نو دلته دي ولي خلاف العادة کار وکړی؟

جواب: دا مقام مزلة الاقدام وو ولهذا نسبت کل قول الی قائله او بل د حاسد انو پر خولو مي مهر د سکوت ولګاوه بالغیبة والبهتان.

وَقَالَ يٰٓأَبَتِ هٰذَا تَأْوِيلُ رُءْيَايَ مِنْ قَبْلُ قَدْ جَعَلَهَا رَبِّي حَقًّا

یوسف علیه السلام وویل چي دا سجده یې ولبدل ای پلاره دغه وو تاویل او تعبیر د خوب زما یعني په ایام کي د کوچني والي مي لبدلی ؤ، یعني "اني رئیت احد عشر کوکبا والشمس والقمر رئیتهم لي ساجدین" چي خدای وګرځاوه هغه زما خوب حق او ثابت او رښتیا.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروبش وايي: چي په اول کي تفسير د دې سورة بيان د دې خوب تير سو.

وَقَدْ أَحْسَنَ بِيٓ إِذْ أَخْرَجَنِي مِنَ ٱلسِّجْنِ

او زما سره احسان کړی دی يعني خدای ﷻ چي زه راوسيتم د بندي خانې څخه.

پوه سه: چي کلمه د با په معنی د علی ده.

پوښتنه: يوسف ولي د جب حال چي ورونړو دی ور اچولی وو او سره د دې چي د جب حال سخت وو تر سجن پلار ته يې نه کی بيان؟

جواب: دپاره د اکرام د ورونړو چي دوی خجل نه سي او سره د دې چي يوسف عليه السلام دوی ته ويلي وه "لا تثريب عليكم اليوم" او په زړه پوري جواب دا دی چي نعمت د خدای ﷻ پر يوسف عليه السلام بعد الخروج من السجن اعظم وو تر نعمت د اخراج من الجب ولي چي يوسف عليه السلام بعد الخروج من الجب صار الى العبودية والرق لقطفير زوج زليخا، او په مکر د زليخا اخسته سو چي اخيره نتيجه يې دخول السجن سوه، او وروسته تر خروج د بندي خانې ملک مصر وگرځيدی، کمامر تمام هاتين القصتين فيما بيان تفسير الآيات السابقة

وَجَآءَ بِكُم مِّنَ ٱلْبَدْوِ

او تاسي را وستاست د صحرا څخه.

فائده: بدو هغه فراخه محکي ته وايې چي اهل مواشي په کښي اوسېږي او يعقوب عليه السلام او زامن هم اهل المواشي بادیه نشينان وه.

مِنۢ بَعْدِ أَن نَّزَغَ ٱلشَّيْطَٰنُ بَيْنِي وَبَيْنَ إِخْوَتِيٓ ۚ إِنَّ رَبِّي لَطِيفٌ لِّمَا يَشَآءُ ۚ

وروسته تر دې چي شيطان فساد کړی وو په مابين کي زما او په مابين د درو ورنړو زما بالحسد والتباغض، په تحقيق زما رب تدبير کوي د هغه شي چي هېڅ سخت کار نسته مگر مشيت د خدای په هغه کي دخيل دی او په آسانی سره يې بدلوي اذا شاء.

إِنَّهُۥ هُوَ ٱلْعَلِيمُ ٱلْحَكِيمُ ﴿١٠٠﴾

په تحقيق خدای په هر شي خبر دی او په هر کار کي حکمت لري.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې د حکمت څخه دخدای چې ښه خوب چې سړی وويني زمانه د وقوع يې اوژده وي الا يرى ها. چې يوسف ﷺ چې ده په کچني والي دا خوب ليدلی ؤ "رئيت احد عشر کوکبا" وروسته تر اتيا کاله دا خوب رشتيا سو حکمت دادی چې زمانه د خوشحالۍ درازه او ډېره سي، او د بدو خوبو اثر ژر نښکاره کوي حکمت يې دادی چې زمانه د حزن او غم د مؤمن لنډه سي، راوي وايي چې يوسف ﷺ پلار تر لاس ونيوی پر خزائنو دمصر يې وگرځاوه (١) خزائن الورق يعني سپين زر (٢) خزائن الذهب يعني د سرو زرو (٣) خزائن الحلي يعني زيورات (٤) خزائن الثياب يعني د جامو تو کرانو (٥) خزائن السلاح يعني جنگي الات (٦) خزائن القراطيس ده کاغذانو خزانه. چې اول صانع او واضع د کاغذانو يوسف ﷺ وو. نو پلار گله ورته وکړه چې دونه کاغذان دي درلوده ماته دي يو مکتوب د خپل حال نه کی نوشته او زما او ستا تر مابين (٨) مزله وه... بيت:

صد بار شد از عشق تو ام حال دگر گون
يک بار نه گفتی که فلان حال تو چون شد

قال امرني جبرئيل بذالک يعني چې پلار ته خط مه استوه پلار ورته وويل چې ته د جبرئيل څخه پوښتنه نه کوي چې ولي دي ماته دا امر راکاوه، يوسف ﷺ ورته وويل چې ته تر ما د جبرئيل سره ډېر شناخته يې ته پوښتنه ځندي وکړه قال جبرئيل امرني ربي بذالک بسبب قولک اخاف ان ياکله الذئب فهلا خفتني، تاريخ خبر راکوي چې يوسف ﷺ د راعيل يعني زليخاڅخه "افرايم" ميشا" او حمة" چې د ايوب ﷺ کور ودانه وه او د افرائيم څخه نون پيدا سو او دده څخه يوشع ﷺ فتی موسی ﷺ يعقوب چې قصر يوسف ﷺ ته ورغلی د يوسف ﷺ اولاد ورته راغله مخ ته يې ودرېدل يعقوب ﷺ په خوشحاله سو او مچ يې کړه او يوسف ﷺ پلار ته د زليخا حال بيان کړی او دا حال چې دې زما سره څه وکړه ماد دې سره څه، او ورته وې ويل چې دا زما عيال د دې څخه دی، او زليخا راغله د خسر لاس يې ور مچ کړی، او ورته وې ويل چې ته زموږ په کور کې اوسېږې يعقوب ﷺ ورته وويل چې زه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ستاسي په قصور او بنګلو کي نه اوسېږم بلکه وماته يوه د لرګو خونه را جوړه کړئ لکه په کنعان کي چې زما وه، د يوسف عليه السلام په امر هغه سي خونګۍ يې ورجوړه کړه، نو يعقوب عليه السلام په هغه کي په خوشحالي او سرور د خپل خدای عبادت کاوه، جامي رحمه الله وايي:

چې خوش باشد که بعد از انتظاری ..... بامید رسد امید واری

بغوي وايې چې اهل تاريخ قديم وايې چې يعقوب عليه السلام د يوسف عليه السلام سره (۲۴) کاله ژوندی وو په ښه ژوند کي او په خوشحاله ژوه عمر يې (۱۴۷) کاله ته ورسېدی بيا يې په مصر کي داعي الاجل ته لبيک ووايه او وفات سو چې وخت د وفات يې نژدې سو يوسف عليه السلام ته يې وصيت وکړی چې زما مړی به کنعان ته وړې او د خپل پلار اسحاق عليه السلام د څنګه سره به يې ښخه وې، نو يوسف عليه السلام هم داغسي وکړه ومضی به حتی دفنه بالشام ثم انصرف الی مصر، تاريخ وايې چې سعيد بن جبير وايې چې يعقوب عليه السلام په تابوت کي د ساج بيت المقدس ته يوړه سو اتفاقا په دغه ورځ عيص چې د ده ورور ؤ او د يوه بطنه زوکړي وه هم وفات سوی ؤ. نو په يوه قبر کي يې دواړه دفن کړه.

دروښ وايي: چې بغوي رحمه الله ګاهي وايې چې يعقوب عليه السلام يې په کنعان کي دفن کړی او ګاهي وايې چې په شام کي دفن کړی او ګاهي وايې چې په بيت المقدس کي دفن کړی ولا منافات بين هذه العبارات کما لايخفی فافهم.

دروښ وايي: چې څه وخت يوسف عليه السلام ته خدای جل جلاله ټوله نعمتونه د دنيا ورکړه او په دې پوهېدی چې نعيم د دنيا دائمي نه دي. ..... بيت:

همه ملک ونعمت پذيرد زوال ..... بحز ملک فرماندهي لايذال

نو يې سوال د حسن عافيت وکړی د خدای جل جلاله څخه، نو داسي وويل.

رَبِّ قَدْ اٰتَيْتَنِيْ مِنَ الْمُلْكِ وَعَلَّمْتَنِيْ مِنْ تَاْوِيْلِ الْاَحَادِيْثِ ۚ

تا ماته راکړی بعض د سلطنت يعني د مصر ونواحيه، نو کلمه د من دپاره د تبعيض ده، ولي چې د ټولې دنيا ملک خو ده ته نه ؤ ورکړل سوی، او ماته دي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

رانبولي دي بعض تعبيرونه د خبرو يعني د خوبو، دلته هم كلمه د "من" لپاره د تبعيض ده، ولي چې د ټولو خوبونو تعبير خو ده ته نه ؤ ښوول سوی، ولي چې بعض خوبونه د دنيا د خلګو دده په زمانه کې ده ته د تعبير لپاره نه وه وړاندې سوي، البته ملکه يعني استعداد د تعبير د ټولو خوبونو خدای ﷻ ورکړی ؤ.

پوه سه: چې د ملک فراخي دي قدرت او د سياست لمن وي و هو اهل التدبير.

پوه سه: چې ما لفظ د بعض ووايه اشاره ودې ته ده چې کلمه د من دالته هم دپاره د تبعيض ده "اذ فوق کلّ ذي علم عليم.

فَاطِرَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ اَنْتَ وَلِيّٖ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ۚ

ای خالق د اسمانو او محکي "پوه سه: چې فاطر منصوب دی بحذف حرف النداء. ته مالک او متصرف يې زما د کارو په دنيا او آخرت کې.

تَوَفَّنِيْ مُسْلِمًا وَّاَلْحِقْنِيْ بِالصّٰلِحِيْنَ ۝

زما روح قبض کړې وخان ته حال کوني على ملة الاسلام او ما ملګری کړې وروسته تر قبض روح د صالح بندګانو سره يعني الانبياء عليهم السلام ولي چې کمال د صلاح په عصمت سره ده وهي مختصة بالانبياء عليهم السلام قتاده رحمه الله وايي چې هېڅ نبي خو است د مرګ نه دی کړی بېله يوسف عليه السلام مظهري وايي وفيه نظر فان النبي ﷺ قال حين مرضه اللهم الرفيق الاعلى (اى اطلب الرفيق الاعلى وهو الله جل جلاله) او بل په صحيح حديث د عائشې رضي الله عنها راغلي دي چې عليه الصلوة والسلام وويل چې هېڅ نبي نه مري تر څو چې ده ته اختيار ورکړه کېږي په مابين کې د حيوة الدنيا ولقاء الله جل جلاله. وفي الحديث الموت تحفة المؤمن. ولي چې دنيا د مؤمن کامل دپاره بندي خانه ده وفي المثنوي:

بس رجال از نقل عالم شادمان ..... وزبقايش شادمان اين کودکان.

دريش وايي: چې حسن رحمه الله وايي چې يوسف عليه السلام وروسته تر دې دعا ډېر کلونه ژوندی وو، او نور علماء قاطبة وايي وروسته تر دې دعا يوه هفته ژوندی وو بيا وفات سو، بعض علماء وايي چې جای نشين يې يهودا وګرځاوه او بعض وايي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې خپل زوی افرایم یې جای ناشین وګرځاوه، بغوي رحمه الله وایې چې په مده کې د فراق د یوسف علیه السلام د یعقوب څخه د علماؤ اختلاف دی، کلبي رحمه الله وایې (۲۲) دوویشت کاله وه او بعض وایې (۴۰) څلویښت کاله وه، او حسن وایې چې یوسف علیه السلام چې یې څاه ته واچاوه د (۱۷) کالو ؤ، او د پلار څخه غائب ؤ (۸۰) کاله وهو الاشهر او یوسف علیه السلام وروسته تر لقا د یعقوب (۲۳) کاله ژوندی ؤ او تولـه عمر یې (۱۲۰) کاله ؤ، او په یو روایت کې وایې (۱۱۰) کاله ؤ، او د یوسف علیه السلام د زلیخا څخه دري عیاله سوي وه، افرایم، او میشار او د افرایم د اولاده څخه یوشع بن نون او بله یې لور وه رحمته چې زوجه د ایوب علیه السلام وه.

فائده: عکرمه وایې چې اول یوسف علیه السلام په راسته غاړه کې د رود نیل دفن سو، نو دا غاړه ښه سر سبز او شاداب وه او د قحط څخه په امان وه او هغه بله غاړه وچه او په قحط مبتلا وه بیا یې نقل کړی وجانب ایسر ته بیا جانب ایسر په خفب او بشه کلي کې وه او جانب ایمن د قحط سره دست ګریبان و، آخیر اتفاق د دواړو جانبو پر دې وسو چې د ده صندوق چې له مرمر څخه جوړ وو یعني تابوت یې د رود نیل په مابین کې ښخ کړی فاخصب الجانبان ببرکته وامنا من القحط الی ان اخرج تابوته موسی علیه السلام من قعر النیل فدفنه مع ابائه بالشام.

دروښ وایي: چې وفیه قصة طویلة" او پر مصر عمالیقه وو چې د یو قوم جبار نوم دی وروسته تر یوسف علیه السلام قبضه وکړه چې فرعون د موسی د دغه قوم څخه وو، او بني اسرائیل د عمالقه وو تر لاس لاندې وه او لکه مریان یې وه او پر لاس د موسی علیه السلام فرعون سره د تولـه قوم عمالقه ؤ په دریاب کې غرق سو، او قدرت ببرته بني اسرائیلو ته په لاس ورغلی ثم وثم.

ذٰلِكَ مِنْ اَنْۢبَآءِ الْغَيْبِ نُوْحِيْهِ اِلَيْكَ ۚ وَمَا كُنْتَ لَدَيْهِمْ اِذْ اَجْمَعُوْٓا اَمْرَهُمْ وَهُمْ يَمْكُرُوْنَ ﴿۱۰۲﴾

دا قصه د یوسف علیه السلام چې په قرآن کې ذکر سوه د اخبارو څخه د غیب ده یعني ته ای محمد ﷺ نه وې ورته حاضر موږ وحي وکړې وتاته یا محمد ﷺ او ته یا محمد ﷺ نه وې په نیز د اولاد د یعقوب علیه السلام هغه وخت چې دوی اتفاق

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وکړی چې یوسف علیه السلام به غیابة الجب ته اچوو، او دوی مکر کاوه چې یوسف علیه السلام د پلار ه څخه جلا کړي.

پوه سه: چې دا دلیل دی پر نبوت د علیه الصلوة والسلام او پر صدق د قرآن چې من عند الله دی، یعنې ستا پر مکذبینو من قریش وغیرهم پوښېده نه ده چې ته خو په واقعاتو د یوسف علیه السلام او ورټرو حاضر نه وې او نه ستا ملاقات سوی دی د هغه چا سره چې په دې قصه خبر وي. نو معلومه سوه چې دا قصه په ذریعه د وحي تاته معلومه سوې ده "وانک لمن المرسلین" بغوي رحمه الله وایې چې یهودانو او قریشو په اتفاق د رسول الله ﷺ دا قصه د یوسف علیه السلام طلب کړې وه او د ایمان راوړو وعده یې ورسره کړې وه، نو چې علیه الصلوة والسلام دا قصه موافق د تورات سره ورته وکړه او بیا هم دوی ایمان نه راوړی، نو انحضرت ﷺ ډېر غم جن سو، نو دا آیت نازل سو.

وَمَآ أَكْثَرُ ٱلنَّاسِ وَلَوْ حَرَصْتَ بِمُؤْمِنِينَ ﴿١٠٣﴾

نه دي ډېر انسانان که څه هم ته ډېر حرص پر ایمان د دوی لرې ایمان راوړونکي لعلمه تعالی الازلي باستمرار هم علی الکفر والضلال وان لا ینفعهم النصح والاتدار.

وَمَا تَسْـَٔلُهُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ ۚ إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعَٰلَمِينَ ﴿١٠٤﴾

او ته نه غواړې د خلګو څخه پر انبأ مذکور او یا پر قرآن من زائد دی دپاره د استغراق د نفي یو مزدوري، نه دی قرآن مګر ذکر او نصیحت د پاره د عالمیانو، او حجت علی من لم یومن به او بصیرة او رحمت دی لمن آمن به.

مسئله: پر تعلیم د قرآن یاد احادیثو یاد علوم شرعیه لکه فقه او اصول د متاخرینو پر فتوی اجرت اخستل روا دی في شرح الوقایة لظهور التواني في الامور الدینیة لکن بیا هم اولی دا ده چې اجرت وانه خلي اقتداً بسنن جمیع المرسلین علیهم السلام لکن دا اجرت متاخرین هم هلته روا بولي چې یو عالم د تعلیم لپاره متعین نه وي یعنې بل څوک نه وي او که بل عالم وؤ، نو موجود عالم ته اجرت اخستل حرام دی وعلی فقس غسل المیت وقبر المیت وغیر ذالک یعني من فروض الکفایة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَكَأَيِّنْ مِّنْ اٰيَةٍ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ يَمُرُّوْنَ عَلَيْهَا وَهُمْ عَنْهَا مُعْرِضُوْنَ ۝

او دهري نخښې دي په اسمانو کي من الکواکب والشمس والقمر وغير ذالک او په ځمکه کي من الحيوانات والنباتات والجواهر الغاليات في الجبال الشامخات چې کفار تهر هري پر هغو باندې يعني په مشاهده يې وينې او پر دې هم علم لري چې دا آيات باهرات في الارض والسموات په خپله له کتم څخه د عدم و عرصه ته د وجود نه دي راغلي بلکې خالق لري ذو قدرة تامة على الايجاد مګر حال د کفارو دادی چې دوی له دغو آياتو څخه اعراض کونکي دي يعني په نظر د عبرت نه ورته ګوري او فکر نه پکښې وهي حتى چې جمادات بتان د دغه خالق مقتدر څخه ای سره په عبادت کي شريکان بولي. او يا دهريه نسبت د دغو عجائبو د قدرت و دهر او زماني ته کوي. ويقولون ما يهلكنا الا الدهر.. ع برين عقل ودانش بايد گريست.

دروښ وايي: چې تحقيق د "كأين" على ما بينه المحقق الجامي رحمه الله في شرح الكافيه دا دی من الكناية لفظ كاين وانما بني على السكون لان حرف التشبيه چې کاف دی پر اي داخل سو او اي معرب کلمه وه لکنه انمحى عنها معناها الافرادي وجعل كلاهما كاسم مفرد بمعنى كم الخبرية وصار كانه اسم مبني على السكون آخره نون ساكنة كما في من لا تنوين تمكن ولهذا يكتب بعد الياً نون ساكنة مع ان التنوين التمكن لا صورة لها في الخط كما في زيد في الحالات الثلثة، الرفع نحو جائني زيد، والنصب نحو ضربت زيداً والجر نحو مررت بزيد، والمعنى اى عدد شئت من الدلائل على وجود الصانع وقدرته وتوحيده وكمال قدرته.

وَمَا يُؤْمِنُ اَكْثَرُهُمْ بِاللّٰهِ اِلَّا وَهُمْ مُّشْرِكُوْنَ ۝

او ايمان او اقرار نه کوي اکثره د مشرکانو په خدای ﷻ سره يعني په وجود د خدای پاک او په خالقيت د خدای پاک في حال من الاحوال (فالاستثناً مفرغ) مګر په حال کي د اشتراک ددوی په عبادت کي بتان. ولي ددوی څخه چې به چا پوښتنه وکړه من خلق السموات والارض قالوا "الله" او چې له دوی څخه به چا پوښتنه وکړه من نزل من السماً ماء؟ قالوا! "الله" الى غير ذالک ومع ذالک يعبدون الحجارة اى الاصنام. له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې دا آيت په تلبيه کي د مشرکينو نازل سوی دی چې دوی به داسي تلبيه د حج يا د عمرې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ویله اللهم لبیک لبیک لا شریک لک الا شریکاً هو لک تملکه وما ملک.

عطا رحمه الله وایي چي دا آیت په دعا کي د مشرکانو نازل سوی دی چي په وخت کي د رخا به یې لات او عزی ته ناري وهلې او د سختی په وخت کي به یې خاص خدای عزوجل ته زاری کولې. کریمه: حتی اذا رکبوا في الفلک واحاطبهم الموج دعوا الله مخلصین له الدین (ای الدعا) فاذا نجاهم الی البر اذا هم یشرکون"

بلکې د تعجب خبره داده چي دوی به په کښتی کي د سفر اراده وکړه یو خدای به یې ورسره واخستی چي کښتی به طوفاني سوه هغه خدای بې دریاب ته وغورځاوه ودعوا الله مخلصین له الدین.

او بعض مفسرین وایي چي معنا د آیت داده "الا وهم مشرکون باتخاذ الاحبار اربابا مطاعاً في خلاف ما امر الله به" او یا په نسبت د زوی وخدای پاک ته کما قال الیهود العزیر ابن الله وقال النصاری عیسی ابن الله، یا بعض مشرکین وایي الملائکة بنات الله.

دروبش وایي: چي محمد بن عبدالوهاب النجدي چي پښتو اد وهابیانو د ډلې دی وایي چي امت د علیه الصلوة والسلام وروسته تر سنه (٦٠٠) تولې مشرکان واجب القتل دي. او تولې هغه آیتونه چي په باره کي د مشرکینو د مکې راغلي دي لکه آیت مذکوره پر امت مرحومه وروسته تر (٦٠٠) هجري تطبیق کوي او دی یعني محمد بن عبدالوهاب خپل ځان مجدد الدین معرفي کوي او اتباع دده هم ده ته مجدد الدین وایي، نه پوهیږم چي د علیه الصلوة والسلام دین خو تام او کامل دی، کریمه "الیوم اکملت لکم دینکم" نو د تجدید دین څه معنا ده، که دده مراد دا وي چي زه د دین احمدي ﷺ توضیح کوم نوی دین منځ ته نه راوړم یعني خپل ځان رسول نه بولم، نو باید ده داسي محتمل یعني مجدد الدین نه وای ویلی بلکې ځان ته یې لقب د موضح الدین الاحمدي وامثاله ورکړی وای.

دروبش وایي: چي زما یوه رساله په نامه د "البیانات الصادقة في احوال الوهابیة" چي هم دا اوس سره د بلې رسالې چي نوم یې "سیف القندهاري علی عنق السلفي" ده دواړې رسالې یو ځای سره چاپ سوي دي.

تنبیه: د دروبش دا وظیفه نه ده چي پر یو چا چي دعوه د اسلام کوي حکم د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

كفر وكړي كما توهمه بعض الجهلة من اتباع الوهابية والسلفية، بلكې دروېش صرف اقوال د معتبره محدثينو او مفسرينو كثرهم الله ﷻ رانقل كړي دي، وفرق عظيم بين نقل القول بكفر احد من الناس من كتاب معتبر في التفسير والحديث وبين حكم الناقل بالكفر عليه والجهلة لا يفرقون بين النقل والحكم.

سوال: امام رباني مصنف د مكتوبات ځان مجدد الف ثاني بولي؟

ځواب: مجدد الف ثاني شيخ احمد السرهندي رحمه الله ځان مجدد الدين نه بولي، بلكې د طريقت د تصوفو ځان مجدد بولي ولا عاقبة فيه.

اَفَاَمِنُوْٓا اَنْ تَاْتِيَهُمْ غَاشِيَةٌ مِّنْ عَذَابِ اللّٰهِ

يعني انسوا فامنوا، آيا دوی هېروي، نو بېغمه سوه له دې ځخه چې رابسې دوی ته يو عقوبت چې تولو ته به شامل وي كائنة من عذاب الله لكه اسماني تكې او يا نور عذابونه.

دروېش وايي: چې "انسوا" معطوف عليه د "فامنوا" دی كمامر مراراً في هذا التفسير، په "امنوا" كې ضمير راجع دی و مشركينو او كافرانو ته.

اَوْ تَاْتِيَهُمُ السَّاعَةُ بَغْتَةً وَّهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ۝

يا به راسې دوی ته قيامت چې مشتمل پر عذاب د جهنم دی نابېره، يعني دوی ته به علم نه وي او نه به علامه پر تعين د وخت وي، دوی شعور او علم نه لري پر راتګ د قيامت چې ځان ورته چمتو كړي يعني بالايمان.

فائده: استفهام په آيت كې لپاره د انكار دی يعني نه بنايي دوی لره دغه نسيان او امن، ابن عباس رضي الله عنه وايي چې اسرافيل به شپېلۍ پوه كړي او خلګ به په بازارو كې د دنيا په كاروبار اخته وي وهذا معنى بغتة.

قُلْ هٰذِهٖ سَبِيْلِيْٓ اَدْعُوْٓا اِلَى اللّٰهِ

ته ووايه يا محمد (عليه السلام) دغه يعني دعوت و توحيد ته او ځانونه چمتو كول و قيامت ته زمالار او طريقه ده، زه بولم او دعوت ورکوم خلګو ته يعني عموماً (فالمفعول محذوف) وخداى ته يعني الى الايمان بوجوده ووحدانيته و اتصافه بجميع

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

صفات الكمال والجلال، او وتنزه د خداى پاک عن جميع صفات النقص والزوال.

فائده: د "سبيل" لفظ مذكر او مؤنث دواړه مستعملېږي وانث في هذه الآية.

عَلٰى بَصِيْرَةٍ اَنَا وَمَنِ اتَّبَعَنِيْ ؕ وَسُبْحٰنَ اللّٰهِ وَمَآ اَنَا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ۝

پر يقين يم او اتكلي او له خپل ځانه څخه بيان نه كوم بل هو وحي من الله ﷻ زه او هغه كسان چې زما متابعت كوي په دين كې.

پوه سه: چې لفظ د "انا" تاكيد دى د ضمير مستتر په "ادعوا" كې او "من" تبعيضي په "من المشركين" كې پر عطف دى.

پوه سه: چې "وسبحان الله" عطف دى پر "ادعوا" باندې يعني انژئه تنزيها من الشركا.

سوال: "ادعوا" خو جمله ده نو څرنګه عطف د "سبحان الله" چې مفرد مضاف دى پر صحيح دى؟

خواب: سبحان الله هم په معنى كې جمله ده اذ الاصل اسبح الله سبحاناً، او نه يم زه له مشركينو څخه.

دروښ وايي: چې وروسته فعل د "اسبح" حذف سو تخفيفاً لكثرة الاستعمال، او مصدر چې سبحاناً مضاف سو و لفظ ته د الله فصار سبحان الله اوس نو اظهار د فعل يې ناجائز دى يعني داسې ويل اسبح سبحان الله او دا حذف هم قياسي دى كما في الكافية وشرحها للجامي قدس سره، او قاضي محمد مبارک په شرح كې د سلم العلوم للمحقق البهاري في بيان قول المصنف سبحانه ورته بيان كړى دى.

سوال: تاځومره تفسير د آيت مذكوره عميق وكړى؟

خواب: ودې تفسير ته ضرورت ؤ په بيان كې د عطف مذكور.

پوه سه: مشركانو به عليه الصلوة والسلام ته په رد كې د نبوت دده داسې ويل لو شاء ربنا لانزل ملائكة، يعني كه اراده واى د خداى ﷻ زمونږ د لارښوونې نو به يې نازلي كړي واى ملكې، فنزل هذه الآية في رد قولهم.

وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ اِلَّا رِجَالًا نُّوْحِيْٓ اِلَيْهِمْ مِّنْ اَهْلِ الْقُرٰى ؕ

او مونږ نه دي را استولي يعني رسولان تر تا دمخه يا محمد مگر نه نران د انسانانو لا ملائكة، چې مونږ و هغو ته وحي كړې دي لكه تاته چې مو وحي كړې دي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: د رجال له لفظ څخه دا معلومه سوه چي ښځه نبي نسته، د "رجال" لفظ عام دۀ. نو په نوحي اليهم تخصيص وسو له عمومي خلګو څخه.

دروښ وايي: چي قرى جمع د قريه ده او قريه په عرف عام کي کلي ته وايي يعني مقابل د ښار، لکن په عرف کي د قرآن مجيد په معنى د ښارو دى، ولي چي ښارو والا خلګ عاقلان او عالمان او حلم والا وي تر بادیه نشينانو لغلظهم وجفائهم كما ثبت بالتجربة، ځکه وهابيان د وهابيت تخم اول په صحرا ايانو کي پاشي چي هغه جهال محض وي. حسن رحمه الله وايي نظر اًله دې آيت څخه دا معلومه سوه چي د اهل بدو يعني صحرا ايانو څخه خداى پاک نبي نه دى را استولى.

دروښ وايي: چي په بل ځاى کي د قرآن مجيد رد د قول د کفارو داسي خداى ﷻ کړى دى "قل لو كان في الارض ملٰئكة يمشون مطمئنين لنزلنا عليهم ملكاً رسولاً"

أَفَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَيَنظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ

آيا سير نه کوي په مځکه کي دغه مشرکان چي تکذيب د رسلانو او آياتو کوي او دوى وګورې په نظر د عبرت اخير کار د هغو کسانو چي تکذيب د رسولانو او د آياتو يې کړى ۇ يعني قوم ثمود او قوم لوط وقوم شعيب وغيرهم يعني د هغو عاقبت هلاک او استيصال ۇ، نو له هغو څخه به عبرت واخلي. او دوى يعني کفار مکه به ستا اې محمد (عليه السلام) له تکذيب څخه به ډډه وکړي،، سعدي شيرازي رحمه الله داسي وايي:

پند گير از مصائب ديگران ..... تا نگيرند ديگران زتو پند
نرود مرغ سوى دانه فراز ..... چو ديگر مرغ بيند اندر بند

وَلَدَارُ الْآخِرَةِ خَيْرٌ لِّلَّذِينَ اتَّقَوْا أَفَلَا تَعْقِلُونَ

او هر آئينه دار د اخيري حالت، او يا دار د ساعة الآخرة او يا حيوة آخيره، ښه دى د هغو کسانو لپاره چي ځانونه يې له شرک او معاصيو او تکذيب الرسل والآيات څخه ساتلي وي، چي د هغو حال دخول الجنان او رضي الرحمن الى ابد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الآباد. آيا تاسي خپل عقول پر كار نه اچوئ تا چي وپوهيږئ؟ چي دار اخيره خير دی للذين يتقون الشرک؟

حَتّٰٓى اِذَا اسْتَيْـَٔسَ الرُّسُلُ وَظَنُّوْٓا اَنَّهُمْ قَدْ كُذِبُوْا

غاية لما دل عليه وما ارسلنا من قبلک الا رجالاً. ای فتراخي نصرهم حتی نا امید به سوه رسولان له نصرت الهي څخه.

پوه سه: چي قرائت د کوفيانو او د ابو جعفر رحمه الله د "كذبوا" په تخفيف د ذال دی، نو د آيت معنا داده ظنوا ای الرسل انهم قد كذبوا ای كذبتهم انفسهم حين حدثتهم انهم ينصرون، او يا معنا داده چي كذبهم القوم بوعد الايمان او يا معنی داده وظنوا ای المرسل اليهم انهم ای الرسل قد كذبوا واخلفوا فيما وعدلهم من النصر وخلط عليهم الامر.

فائده: عائشه رضي الله عنها له قرائت څخه د تخفيف منكره وه، ددې پر خيال كي دا وه چي معنا د آيت داسي ده چي د رسل به دا ظن سو چي خدای جل جلاله زمونږ سره وعده د نصر خلاف كړه، نو څكه دې به ويل معاذ الله ان يظن الرسل ذالک بالله ای خلف الوعد. لكن قرائت د تخفيف متواتر دی كه څه هم حضرت عائشه رضي الله عنها د عليه الصلوة والسلام څخه نه دی اورېدلی او نه هم په تواتر ودې ته رسېدلی دی، لكن معنی د تخفيف هغه سي نه ده لكه چي دې فهمولې وه بالنظر الی الظاهر بلكې معنی د آيت په صورت كي د تخفيف هغه ده چي مونږ بيان كړه آنفاً.

دروښ وايي: چي مظهري او بيضاوي او روح البيان ورته بيان كړی دی په صورت كي د تخفيف، او روح المعاني هم د معنی مذكور په صورت كي د تخفيف تائيد كړی دی.

دروښ وايي: چي غير له قراؤ څخه د كوفي په تشديد د ذال يې وايي كما هو المختار لسيدتنا عايشة رضي الله عنها والمعنی وظنت ای ايقنت الرسل ان القوم قد كذبوهم فيما اوعدهم من العذاب في صورة عدم الايمان تكذيباً لا يرجی ايمانهم بعد كذا قال قتادة رحمه الله، او بعض مفسرين وايي چي معنی د آيت په صورت كي د تشديد داده حتی اذا استيئس الرسل ممن كذبهم من قومهم وظنوا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ان من آمن بهم من القوم قد كذبوهم وارتدوا من ايمانهم لشدة المحنة والبلاء عليهم وتأخير النصر الموعود.

دروښ وايي: چې تحقيق او تفصيل د تفسير د آيت مذكوره في صورتى التخفيف والتشديد حتى الوسع والطاقة وعليک بالتأمل العميق فيما نقلنا من المفسرين المعتبرين رحمهم الله.

جَآءَهُمْ نَصْرُنَا فَنُجِّيَ مَنْ نَّشَآءُ

راسي ورسولانو ته زموږ مرسته (يعني عذاب مكذبينو ته) نو موږ نجات وركوو هغه چا ته چې زموږ اراده ورته وسي يعني النبي والمؤمنون.

سوال: خداى پاک څه حكمت لري چې نبي او مؤمنان يې په لفظ مبهم د نشا راوړه او تعين يې نه وكړى؟

ځواب: تنبيه پر دې ده چې اهل نجات هم دوى دي ولا يذهب الوهم الى غيرهم.

دروښ وايي: چې ددې مثال داسي دى لكه په يو كور كي چې مثلاً يو زيد بل عمر او بل بكر وي، نو په لفظ مبهم سره نحو يا رجل هيڅ څوك ډغ نه ورته كوي تر څو چې تعين ونه كړي، او كه په كور كي يو سړى موجود وي، نو په لفظ مبهم سره نحو يا رجل هم ډغ ورته كوي.

وَلَا يُرَدُّ بَأْسُنَا عَنِ الْقَوْمِ الْمُجْرِمِيْنَ ۝

او نه ردېږي عذاب زموږ له هغه قوم څخه چې مجرمين او كافران وي يعني چې عذاب پر نازل سي لانه لامرد لحكمه وقضائه.

لَقَدْ كَانَ فِيْ قَصَصِهِمْ عِبْرَةٌ لِّأُولِي الْأَلْبَابِ

په تحقيق سره په قصو كي د انبياؤ (عليهم السلام) او د امتو، يا په قصه كي د يوسف (عليه السلام) او دده د وروڼو عبرت دى خاوندانو لره د عقولو (لام موطئه د قسم دى) يعني عقول سليمه چې له كفر څخه خالي وي، انبيا عليهم السلام او امتيانو ته به يې خداى پاک نجات وركړي او كافران به د هلاک وكندي ته وسپاري وفي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هذه عبرة عظيمة لمن له عقل سليم، او په قصه کي د يوسف عليه السلام دا عبرت دی چي يوسف عليه السلام خدای عزوجل له غيابة الجب څخه ونهاية الحب ته ورساوه ومن حصير السجن الی سرير ملک مصر، نو پای د صبر چي يوسف عليه السلام وکړی سلامت او کرامت او پای د ورونو چي پرده يې ډېري خواری تېري کړې رسوايي او ذلت او ندامت سوء، ع ..... وهكذا يذهب الزمان على العبر.

مَا كَانَ حَدِيثًا يُفْتَرٰى وَلٰكِنْ تَصْدِيقَ الَّذِي بَيْنَ يَدَيْهِ

نه دی قرآن وما فيه من القصص، يوه خبره چي له ځانه جوړه سوې وي، يعني چي عليه الصلوة والسلام يې له ځانه جوړ کړی وي لکه قريشو چي به دا ويل، بلکې قرآن او قصص د قرآن تصديق د هغو کتابو کوي چي تر قرآن دمخه دي يعني تورات، انجيل او زبور.

وَتَفْصِيلَ كُلِّ شَيْءٍ

او بيان مفصل پکښي سته د هر شي يعني چي بندګان په ديني او دنيوي چارو کي ضرورت ورته لري، امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه ته دا بيت منسوب دی:

جميع العلم في القرآن ..... لكن تقاصرت عنه افهام الرجال

دروښ وايي: چي احکام شرعيه چي د قرآن مجيد له نص څخه يعني عبارت النص او اشارة النص او دلالة النص او مقتضى النص څخه فهمېږي هغه قرآني احکام، وتفصيل تلک الاحکام والامثلة لها في کتب اصول الفقة، او هغه احکام چي په سنت نبوي سره ثابت وي په هغه هم قرآن کريم ته بالواسطه راجع دي، قال الله تعالى اطيعوا الله واطيعوا الرسول ﷺ، وقال ما اتاكم الرسول فخذوه وما نهاكم عنه فانتهوا وامثال ذالک" او چي په اجماع سره د امت مرحومه ثابت وي هغه هم قرآن کريم ته راجع دي بالواسطه قال الله تعالى ومن يشاقق الرسول الى ان قال ويتبع غير سبيل المؤمنين نوله ما تولى الآية، او متابعت د سبيل جميع المؤمنين هو متابعة الاجماع، او که په قياس سره د مجتهد ينو د دين ثابت وي هغه هم راجع دی و قرآن عزيز ته بالواسطه، قال الله تعالى فاعتبروا يا اولى الابصار، وبيان ذالک في کتب اصول الفقة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَّهُدًى وَّرَحْمَةٌ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ۝

او قرآن کریم عین لارښوونه ده له کفر او اضلال څخه، او عین رحمت دی چې خیر د دنیا او اخرې په ده کې سته، فحمل الهدی والرحمة مبالغة کما في زید عدل و هغه قوم لپاره چې مؤمنان وي، تخصیص د مؤمنین یې وکړی لانهم هم المنتفعون باحکام القرآن وان کان القرآن هدی للناس کما جاء في موضع من القرآن.

شیخ ابو منصور ماتریدي رحمه الله وایي چې د یوسف علیه السلام او ده د وروڼو په قصه کې باعثه کول دي پر صبر او تحمل د رسول الله ﷺ پر ازار د قریشو، گویا خدای پاک و علیه الصلوة والسلام ته وایي چې وروڼه د یوسف علیه السلام سره ددې چې دوی سره موافق وه په دین کې او زامن د یوه نبي یعقوب علیه السلام وه بیا هم د یوسف علیه السلام سره هغه کید او مکر وکړی چې دمخه تېر سو، او دوی په دې پوهېدل چې دا کار چې موږ د یوسف علیه السلام سره کوو دا له محظوراتو څخه د دین دی، او یوسف علیه السلام پر هغه صبر وکړی او عفوه یې ورته وکړه کما قال لا تثریب علیکم الیوم. فانت یا رسول الله ﷺ احق ان تصبر علی اذی قومک مع انهم کفار جهال لا یعلمون قبح اذاهم لک.

فائده: وهب بن منبه رحمه الله وایي چې خدای پاک نه دی نازل کړی یو کتاب چې په هغه کې دي قصه د یوسف علیه السلام پوره نه وي کما في القرآن والله اعلم.

دروښ وایي: الحمد لله والصلوة والسلام علی نبیه وآله وصحبه اجمعین. زه په ورځ د جمعې تخمیناً دوولس بجې د جمادی الاول شل سنه (۱۴۲۹) هـ ق له تفسیر څخه د سورت یوسف فارغ سوم، وما توفیقي الا بالله علیه توکلت والیه انیب، وروسته د سورت رعد تفسیر شروع کېږي ان شاء الله تعالی، اوس د عذر او التجا لاس پورته کوم او وایم:

الهی یا الهی یا الهی ..... ندارم جز امیدت تکیه گاهی
ندارم طاعت مقبول درگاه ..... بجز اشک ندامت آه آهی
شفیع اورده ام روی محمد ..... مرا از ذنب خود کن عذر خواهی
زکن موجود کردی جمله عالم ..... کرم کن بر من گم کرده راهی
ندارم توشه راه قیامت ..... بجز شرمندگی وروسیاهی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حافظ شيرازي قدس سره چه خوش ميسر ايد وميگويد:

الا يا ايها الساقي ادر كاسا وناولها[1]
كه عشق آسان نمود اول ولى افتاد مشكلها[2]
مرا درمنزل جانان چه امن و عيش چون هردم
جرس فرياد ميدارد كه بربنديد محملها
شب تاريک وبيم موج گرداب چنين هائل
كجا دانند حال ما سبكسبكسان ساحلها
همه كارم زخود كامى به بدنامى كشيد آخير
نهان كى ماند آن رازى كزو سازند محفلها
حضور گرهمى خواهى ازو غائب مشو حافظ
متى ما تلق من تهوى "ع الدنيا وامهلها

سوال: ددې فارسي ابياتو چې بعض يې دهر دقيق دي عوام خو څه کوې طالبان هم نه په پوهيږي؟

خواب: طالبان ولي علوم مروجه په دورو وايي، مثلاً يو ملا اعلان کوي "دوره صرف" يعني يوله په دوې مياشتي درته وايم وهکذا "دوره نحو و دوره منطق" اخير بايد چې طالبانو د يو ماهر عالم سره د فارسي يو څو کتابه هم زده کړئ، مثلاً پنج کتاب، گلستان، بوستان سعدي او کتاب د حافظ شيرازي او يو دفتر فقط د مثنوي چې دا توله تخميناً په يوه کال کې بلکې کم تر کال بنه زدکيږي، نو د افصح الالسنة بعد العربي چې فارسي ده په مزايا به يې پوه سئ، نو اصل علت د ناپوهى په طالبانو کې دى په دروښ کې نسته.

بيت: تو گوى آنچه دانى سخن سودمند ..... اگر هيچ کس را نيايد پسند

---

[1] مراد له "کاس" څخه پياله ده د شرابو د محبت الهي.

[2] لکه عشق د يوسف عليه السلام د خداى پاک سره څومره مشکلات يې ورانديږ درلوده.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سُوْرَةُ الرَّعْدِ مَدَنِيَّةٌ وَهِيَ ثَلٰثٌ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ وَاَرْبَعُوْنَ اٰيَةً سِتُّ رُكُوْعَاتٍ

دروښ وايي: چي مظهري وايي چي سورة الرعد ميکه وايا تها (۴۳)، او روح البيان وايي چي شروع ددې سورت د تفسير يې په (۱۱۰۳ هـ ق) کړې ده وايي چي سورة الرعد مدنية، وقيل مکية الا قوله تعالى "ولا يزال الذين كفروا" وقوله تعالى "ويقولون الذين" او آياتونه يې پينځه څلوېښت بللي دي، او روح المعاني دا اختلافات په دقيقه توګه سره څېړلي دي. دى وايي چي مجاهد رحمه الله له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت کړى دى چي دا سورة مکيه دى، بيا ده ويلي دي وفي الاتقان يؤيد القول بانها مدنية، وروسته روح المعاني ويلي دي والذي يجمع به الاختلاف انها مکية الا آيات منها فانها مدنية. او روح المعاني وايي چي ددې سورت آياتونه په کوفي قرآن کي دروڅلوېښت دي، او په مدني قرآن کي څلور څلوېښت دي او په بصري قرآن کي پينځه څلوېښت دي او په شامي قرآن کي اووه څلوېښت دي، والله اعلم بالصواب واليه المرجع والمآب.

الٓمّٓرٰ ۚ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ ۭ وَالَّذِيْٓ اُنْزِلَ اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ الْحَقُّ

الله اعلم بمراده في "الٓمّٓرٰ" يعني دا هم لکه نور مقطعات قرآنية له متشابهاتو څخه دي چي لا يعلم تأويله الا الله كما هو راى السلف رحمهم الله.

دغه آيت د کتاب دى، اضافت په معنى د "من" ده او له کتاب څخه يا مراد دا راتلونکى سورت يا قرآن کريم دى، او "تلک" اشاره ده و آياتو ته د سورت يا د قرآن، والمعنى تلک ايات السورة او القرآن.

بوه سه: چي "الذي" محلاً مجرور دى عطف دى پر کتاب او مراد له "الذي انزل" څخه تولې قرآن دى، نو که مراد له قرآن څخه سورت سي، نو دا عطف د عام پر خاص دى، او که کتاب په معنى د قرآن وي، نو عطف د يو صفت د قرآن يعني الذي انزل اليک پر بل صفت چي کتاب دى. "الحق" خبر د مبتدا محذوفي دى اى هو الحق الثابت الذي لا ريب فيه.

سوال: په نحو کي وايي چي مبتدا او خبر چي دواړه معرفه وي حصر د خبر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي الحق دی په مبتدأ چي "هو" دی چي راجع و قرآن ته دی مع ان السنة النبوية واجماع الامة المرحومة وقياسات المجتهدين كل واحد منهما حق يفيد الحق؟

خواب: مراد له "ما انزل" څخه عام دی که منزل صراحةً وي او که ضمناً چي منزل صراحةً په اتباع سره د هغه امر کړي فيشمل الكل فتأمل.

وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يُؤْمِنُوْنَ ۝

لکن د ډېر خلګ پر حقيقت د قرآن ايمان نه لري، ولي چي دوی صحيح نظر او فکر د قرآن کريم په اعجاز، بلاغت، قصص او مثالو کي نه دی کړی.

دروښ وايي: چي دا رد دی د هغه قول د مشرکينو چي دوی به ويل چي محمد ﷺ قرآن له ځانه جوړوي، په وروسته آيتو کي خدای پاک دلائل د توحيد خپل بيانوي.

اَللّٰهُ الَّذِيْ رَفَعَ السَّمٰوٰتِ بِغَيْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا

خدای (ﷻ) هغه ذات يګانه دی چي پورته کړي بې دي يعني لوړې يې پيدا کړي دي اسمانونه، يعني داسي نه وه چي دمخه کښته وه بيا يې پورته کړل، نو لفظ الله مبتدأ ده او "الذي رفع السموات" يې خبر دی "بغير عمد" يعني بېله تمبو او ميلانو.

پوه سه: چي "عمد" جمع د عماد ده لکه اهب جمع د اهاب ده او بغير عمد په تقدير د متعلق حال دی له سمواتو څخه ای حال کون السموات متلبسة بغير عمد "ترونها" جمله د صفت د عمد ده، او نفي متوجه وقيد او مقيد دواړو ته دی يعني نه عمد ستاسو نه يې تاسي وينئ.

پوه سه: چي دا دليل دی پر وجود د صانع حکيم ولي چي ارتفاع د سموات على غيرها كالجبال والارض مع كونها متساوية كلها في حقيقة الجسمية لابد ان يكون من مخصص ليس بجسم ولا جسماني خص بعض الاجسام بالارتفاع وبعضها بالانخفاض وهو الله القادر المتعال.

ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ

بيا غالب سو خدای (ﷻ) يعني پيدا يې کړی عرش، وهو من المتشابهات

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وقد مر تمام البحث في هذا الاستواء في تفسير سورة يونس، او منقاد يې ګرځولي دي لمر او سپوږمۍ لما اراد منهما من الحركة السريعة او البطيئة لنفع الحوادث اليومية.

پوه سه: چې "ثم" په دې ځای کې د تراخي زماني لپاره نه دی، ولي چې خلق د عرش تر اسمانو دمخه دی بالاجماع، بلکې "ثم" لپاره د تفاوت بين الخلقين دی ای خلق السموات العرش.

كُلٌّ يَجْرِي لِأَجَلٍ مُّسَمًّى

هر یو د لمر او سپوږمۍ روان دي په خپل اسمان کې تر یو اجل معلومه پورې وهو وقت فناء الدنيا.

يُدَبِّرُ الْأَمْرَ يُفَصِّلُ الْآيَاتِ لَعَلَّكُمْ بِلِقَاءِ رَبِّكُمْ تُوقِنُونَ ۝

کار سازي کوي د خپل مخلوق په خپل امر سره من الايجاء والاعدام، والاحياء والاماتة وغيرها من المقدورات التي لا تحفى "يفصل الآيت" ای ينزلها او بينها مفصل که مراد آيات قرآنيه وي او يحدث دلائل القدرة واحداً بعد واحد که مراد له آياتو څخه دلائل د قدرت او توحيد وي، شايد تاسي به په ملاقات د رب ستاسي يقين وکړي.

پوه سه: چې مراد له ملاقات څخه د رب ملاقات د جزاء دی في يوم القيامة وهذا الترجي انما يكون بالتفكر په علوياتو او سفلياتو کې او تاسي به پوه سئ ان القادر على خلق هذه الاشياء قادر على الاعادة والجزاء.

وَهُوَ الَّذِي مَدَّ الْأَرْضَ وَجَعَلَ فِيهَا رَوَاسِيَ وَأَنْهَارًا

او خدای (ﷻ) هغه ذات دی چې غوړولې يې ده مځکه يعني په داسي شان چې حرکت پر ممکن دی او د انسانانو او حيواناتو بود وباش پر امکان پذير دی، او خدای پاک پيدا کړي دي په مځکه کې غرونه ثابت پر ځای ولاړ، او رودونه.

پوه سه: چې رواسي جمع د راسية ده.

سوال: رواسي خو جمع مؤنث ده نو د تانيث سبب يې څه دی؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: تانيث يې په سبب ددې چې موصوف په اجبل جمع د جبل ده، ابن عباس رضي الله عنهما وايي چې اول غر چې پر مځکه اينبوول سوی دی جبيل ابي قبيس دی په مکه کې، او افضل د غرونو جبل احد دی کما قاله الحسن رح لقوله عليه السلام احد جبل يحبنا ونحبه.

فائده: غرونه او رودونه يې سره يو ځای کړل او تر يوه فعل لاندې يې دواړه راوړل له دې کبله چې غرونه اسباب دي د دريابو يعني رودو، تجربه شاهده ده چې د هر رود منابع غرونه دي.

وَمِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ جَعَلَ فِيْهَا زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ

او له هر قسم مېوو څخه خدای پاک پيدا کړي دي په مځکه کې دوه دوه قسمه يعني جيد او ردي، خوږ ترېو، لوی کوچنی، گردی اوږد الی غير ذالک من التفاوت.

پوه سه: چې ادنی مرتبه د مېوو دوه قسمه ده ورنه د بعض مېوو لکه انگور، سېب وغيرهما اقسام متعدده سته بکثرةٍ "او اثنين" تاکيد دی د "زوجين"

يُغْشِى الَّيْلَ النَّهَارَ

پټوي خدای پاک په شپه ورځ يعني شپه په خپلو تاريکيو سره خدای پاک راولي ضوء د ورځې په پټ کړي يعني وبالعکس ايضاً، يعني چې د ورځې په ضيا ظلمت د شپې خدای جل جلاله پورته کوي.

اِنَّ فِىْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ۝

په تحقيق سره په مذکوره تحويلاتو کې د پر دلائل دي د قدرت الهي او د صانع مدبر د کارنامو چې هغه ددغو کارو اسباب مهيا کوي.

وَفِى الْاَرْضِ قِطَعٌ مُّتَجٰوِرٰتٌ

او په مځکه کې توتې د مځکې سته چې يوه قطعه د بلې سره نژدې دي ومع هذا بعض قطعې خوږې دي او بعض بنره او ترخې دي، او بعضې د بريښي مځکې دي او بعض پستې مځکې دي، او بعض مځکې د کښت صالح وي او د درختو نه وي وبالعکس، او بعض قطعې بنه حاصلات کوي او بعض لږ حاصلات کوي، نو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په دې قطعو کې د مځکې که قدرت د صانع متعال کار فرما نه وايي. ئو به يې ولې دا اختلافات واقع کېدلای، ولې چې طبعيت د مځکې يو دی او اسباب سماويه هم يو دي ئو نتيجه داده چې دا اختلافات د صانع قادر له خوا دي.

فوائد شتی: (۱) حکماً وايي چې توله غرونه چې په اووه اقليمه کې موجود دي يو سل او اته اوويا (۱۷۸) دي. او بعض حکماً وايي شپږ زره شپږ سوه درې اوويا (۶۶۷۳) دي سوی التلول. د بعضې غرو طول شل فرسخه دی او بعض غرونه په طول سره سل فرسخه دي. او د بعضې غرونو طول زر (۱۰۰۰) فرسخه. او تر ټولو لوړ غر جبل نهاوند دی چې په منځ کې د ری او طبرستان دی کما في شرح الچغميني (۲) په کتاب الملکوت کې وايي چې خدای ﷻ پر مځکه باندې بارانونه و اوروي. نو مځکه يې نوش کړي فيصير عيوناً في عروق الارض. بيا مځکه وچوي په هغه ځای کې چې د خدای ﷻ ورته اراده وي نو دا اوبه پر مخ د مځکې جاري سي لپاره د نفع د بندګانو والملک الموکل بذالک ميکائيل واعوانه.

(۳) له لويو رودو څخه فرات دی چې د کوفې رود دی او دجله چې د بغداد رود دی. او سيحان چې د مصيصې رود دی. او سيحون رود چې په هند کې دی او جيحان چې رود دی په بلادو کې د ارمنستان. او جيحون چې رود دی د بلخ او نيل رود مصر. او رود هلمند په افغانستان کې.

دروښ وايي: چې دا شمېر رودونه او غرونه د په خوانې سياحانو تلاش دي په اوسنۍ زمانه کې نور د پر غرونه او ردونه پر بالا سوي دي، و التفصيل في ذالک طويل. والحق انه لا يعلم جنود ربک الا هو.

وَجَنّٰتٌ مِّنْ اَعْنَابٍ وَّزَرْعٌ وَّنَخِيْلٌ صِنْوَانٌ وَّغَيْرُ صِنْوَانٍ يُّسْقٰى بِمَآءٍ وَّاحِدٍ

(عطف علی قطع) يعنې په مځکه کې باغونه دي د انګورو او د خورما درختي دي چې بېخونه يې يو وي يا يې بېخونه سره جلا وي، چې په يوه اوبو دوا ړه اوبېږي.

دروښ وايي: چې اوولس (۱۷) قسمه د انګورو تخميناً په قندهار کې ما ليدلي او خوړلي دي، او په مځکه کې کښت هم سته.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي زرع يې مفرد راوړې ولي چي مصدر دی او مصدر لا يثنى ولا يجمع "صنوان" هغه درختو ته وايي چي بېخ يې يو وي او تنې يې درې يا دوې وي "صنوان" جمع د صنو دی لکه قنوان جمع د قنو دی او تثنيه او جمع پکښې برابر دي، والفرق بين التثنية والجمع دادی چي نون د مثنى په مکسور دی بې تنوينه او په جمع مفتوح، قال رسول الله ﷺ في العباس رضي الله عنه ان عم الرجل صنو ابيه يعني لکه صنو النخل چي بېخ يې يو وي، يعني د پلار د سړي او د اکا دده پلار يو دی.

فائده: عاصم، ابن عامر او يعقوب رحمهم الله دا لفظ په تأنيث وايي. ولي چي ضمير راجع و جمع ته دی په تاويل د جماعت. او نور قراً يې په يا وايي على التذكير په تاويل د ما ذكر. والمقصود من هذه الآية ان الارض واحدة والماً ايضاً واحد فلم يكون بعض النخيل صنوان وبعضها غير صنوان فعلم ان الاختلاف مبني على حكمة الله العزيز الجبار.

وَنُفَضِّلُ بَعْضَهَا عَلَىٰ بَعْضٍ فِي الْأُكُلِ

او موږ بالا کړي دي بعضې مېوې که انګور وي او که خورما پر نورو د هغه جنس په مېوه کي يعني رنګ يې جلا وي او خوند يې جلا وي او مقدار او بوی يې هم سره جلا وي بلکې په قيمت کي يې هم فرق وي، مثلاً سپين کشمش انګور تر نورو اقسامو د انګورو قيمت يې بالا وي ځم وځم. او د عجوه خورما قيمت تر نورو خورما دهر بالا دی ځم قيمت البرني ځم وځم. له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی په تفسير کي د اکل چي عليه الصلوة والسلام وويل "الدقل" والفارسي، والحلو والحامض، مجاهد رحمه الله وايي چي کمثل بني آدم صالحهم وخبيثهم وابوهم واحد، روى عن الحسن رحمه الله هذا مثل ضرب الله لقلوب بني آدم ولي چي محکمه يوه خټه وه په تصرف کي د خدای نو خدای په خپل قدرت سره وغورول لويه محکمه يې څندي جوړه کړه فصارت قطع متجاورات، او بيا خدای جل جلاله له اسمان څخه پر دغه لويه محکمه اوبه و اورولې. نو له يوې قطعې څخه قسم قسم مېوې او ګلان پيدا سوه، او د بل قسم او قطعه محکمه تروه ښوره ترخه پيدا سوه وکل تسقى بماً واحد، كذالك خلق الله الناس من آدم بغير وسط او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بوسط بل بوسائط. نو خداى پاک پر دي انسانانو نازل کړه کتابونه پر رسولانو يعني په وساطت د رسولانو. فرق وخشع بذالک قلوب بعض وقسى قلوب بعض قال الحسن رحمه الله ماجالس احد القرآن الا قام منه بزيادة او نقصان. قال الله عزوجل وننزل من القرآن ما هو شفاء ورحمة للمؤمنين ولا يزيد الظالمين الا خساراً.

دروښ وايي: چي حمل د قرآن د دغو آيتو پر څپل ظاهر اولى او احسن دى تر حمل پر ضرب مثل لکه حسن رحمه الله چي وايي كما لا يخفى على ذوى النهى. الا ان يقال ان قول الحسن مبني على ان لكل آية ظهر وبطن كما ورد في الخبر. فلأخذ بالظاهر مسلك علماء الظاهر والاخذ بالبطن مشرب اهل الباطن من الاولياء تأمل.

اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ۝

په تحقيق په ما ذكر كي د اختلافاتو د محكمو او د مبهمو دلائل د قدرت او د صانعيت او د وحدانيت د ايزد متعال دى د هغه قوم لپاره چي عقل لري او په دې آياتو كي له عقل سليم څخه من العناد والحسد والكبر كار واخلي. سعدي وايي:

برگ درختان سبز درنظر هوشيار ..... هر ورقى دفتريست معرفت كردگار

وَاِنْ تَعْجَبْ

كه ته تعجب كوې يا محمد (ﷺ) د تكذيب د مشركانو تالره په دعوه كي د رسالت وروسته تر دې چي دوى ستا معجزات باهره او آيات ظاهره وليدل او بيا هم دوى عبادت كوي د داسي شيانو چي نه ضرر رسولاى سي و هغه چاته چي ددوى عبادت نه كوي او نه نفع رسولاى سي و هغو كسانو ته چي ددوى عبادت وكړي لكونها جمادات وحجارة.

فَعَجَبٌ قَوْلُهُمْ

نو د تعجب ور خبره خو دا قول ددوى دى. (پوه سه: چي "قولهم" مبتدأ ده او "عجب" يې خبر دى قدم الخبر لان المقام مقام التعجب)

ءَاِذَا كُنَّا تُرٰبًا ءَاِنَّا لَفِيْ خَلْقٍ جَدِيْدٍ ؕ

آيا چي مور خاوري سو يعني بعد الموت، يعني مور به بيا ژوندي كېږو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وحاصل الآية چي دا انکار ددوی د بعث بعد الموت څخه د تعجب وړ خبره ده، ولي چي دوی خو اقرار کوي چي خالق ابتداً زموږ خدای دی، کریمه: ولئن سئلتم من خلقهم لیقولن الله" او عادت خو دا دی چي اعاده خو اهون ده تر ابتداً فکیف ینکرون الاعادة مع اقرارهم بابتداً الخلق من الله ﷻ وهذا هو محل التعجب.

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ كَفَرُوا بِرَبِّهِمْ ۚ وَأُولَٰئِكَ الْأَغْلَالُ فِي أَعْنَاقِهِمْ ۚ

دغه کسان یعني چي د اعاده بعد الموت څخه منکر دي هغه کسان دي چي کافران دي په رب سره ددوی، یعني بقدرة ربهم علی الاعادة مع انها سهل في العادة من الابتداً. او دغه کسان دي چي طوق د ضلال به ددوی په غاړه کي وي چي ددې طوق د ضلال د خلاصی امکان نسته یعني په دې دنیا او یغلون یوم القیامة.

پوه سه: چي اغلال جمع د غُل بالضم ده چي معنی یې قید ده.

وَأُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ۝

او دوی دي اصحاب او ملازمین ډاور یعني د دوزخ چي دوی به په په اور کي همیشه وي تر ابده، لا یرجوا خلاصهم منها.

فائده: ضمیر فصل یعني "هم" یې لپاره د حصر تابید في النار په دوی پورې دون المؤمنین وان کانوا عاصین کل العصیان وفیه خلاف المعتزلة. دوی وایي چي مرتکب د کبیرې ګناه چي بې توبې مړ سي ځای یې ابدي دوزخ دی لکه د کافر. والاول هو مذهب اهل السنة والجماعة.

وَيَسْتَعْجِلُونَكَ بِالسَّيِّئَةِ قَبْلَ الْحَسَنَةِ

او دوی یعني کفار مکه طلب د ژر راتلو څخه کوي له تا څخه د عذاب دمخه تر عافیت ولي چي کفارو د مکي به استهزاءً ورسول الله ﷺ ته ویل چي پر موږ دي عذاب موعود ستا اوس اوس نازل سي، حیث یقولون، کریمه: "اللهم ان کان هذا هو الحق فامطر علینا الحجارة من السماً اوئتنا بعذاب الیم.

فائده: دروښ وایي چي دا سوال غایت استهزاً وه د کفارو د مکي په انذار سره د علیه الصلوة والسلام دوی لره بالعذاب الالیم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَقَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِمُ الْمَثُلٰتُ

او حال دادی چي تپري سوې دمخه تر دوی يعني كفارو عقوبات د خدای ﷻ يعني في الامم الماضية، نو دوی ولي له هغو څخه عبرت نه اخلي او پر ځانو ورته عذاب روا نه بولي وقد وقع الخسف والمسخ والرجفة والغرق في البحر في الامم الماضية، فما لهم لا يعتبرون؛ سعدي شيرازي قدس سره وايي:

برا در ز کار بدان شرم دار ..... که در روی نیکان شوی شرمسار
ترا خود بماند سر از ننگ پیش ..... که گردت برآید عملهای خویش

پوه سه: چي مثلات جمع د مثله ده چي معنی يې عقوبت دی لانها مثل الفعل المعاقب عليه.

وَإِنَّ رَبَّكَ لَذُو مَغْفِرَةٍ لِّلنَّاسِ عَلٰى ظُلْمِهِمْ ۚ وَإِنَّ رَبَّكَ لَشَدِيدُ الْعِقَابِ ۝

او په تحقيق ستا خدای لرونکی د مغفرت دی د خلګو لپاره سره د ظلم ددوی يعني پر خپلو ځانو بالكفر والمعاصي، او انكار ددوی د بعث بعد الموت څخه، او په تحقيق ستا خدای هر آئينه سخت دی عذاب دده، يعني عذاب الهي چي پر چا واقع سي د هيڅ چا د طاقت دفع يې نسته.

فائده: مراد له مغفرت څخه معنا متعارفه نه ده بلكې مراد ځني امهال دی يعني ان الله يمهل والكفار مع ظلمهم وكذالك لم يعذبهم مع طلبهم العقوبة كمامر.

دروېش وايي: چي قد سمعت تفسير المغفرة بالامهال وان الآية في حق الكفار، لكن سدي رحمه الله وايي چي وان ربک لذو مغفرة للناس على ظلمهم" په حق كي د مؤمنين دی خاصةً، او دا په هر د امید ايت دی په قرآن كي، ولي چي په دې آيت كي وعده د مغفرت سره د ظلم. نو له دې آيت څخه دا معلومه سوه چي عفو بې توبې هم كېدای سي لان التائب ليس على ظلم لان التائب من الذنب كمن لا ذنب له، رواه عن ابن مسعود رضي الله عنه مرفوعاً، او سدي رحمه الله وايي چي وان ربک لشديد العقاب په باره كي د كافرانو دی، او بعض مفسرين لكه روح البيان وايي چي دواړه آيته په حق كي د مؤمنانو دي لكن مقيد په مشيت سره يعني يغفر لمن يشأ المغفرة له ويعذب من يشأ تعذيبه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې له دې څخه دا مسئله معلومه شوه چې د مؤمن ایمان باید بین الخوف والرجا وي پیدا کېږي... ابیات:

زحق مې ترس تاغافل نه کړدی ..... مشو نومید تا بزدل نه کړدی
پس پرده بیند عملهای بد ..... هم او پرده پوشد بالای خود
گر بمحشر خطاب قهر کند ..... انبیاً راچه جای معذرتست
پرده از روی لطف گو بردار ..... که اشقیاًرا امید مغفرت است

فائده: علماً وایي چې سړی ځوان او په صورت جوړ وي خوف پې باید غالب وي حتی یجتهد في الطاعات ویجتنب المعاصي فاذا مرض او ضعف وعجز عن العمل کان الرجاً له افضل حتی لا یضعف قلبه بالخوف الکثیر في تلک الحالة او یزداد مرضه فافهم.

وَيَقُولُ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْلَا أُنْزِلَ عَلَيْهِ آيَةٌ مِنْ رَبِّهِ

او وایي هغه کسان چې کافران دي ولي نه نازل کړه کېږي پر محمد ﷺ یو دلیل او حجت د نبوت دده له جانب څخه د خدای دده دا خبره دوی یا له دې سببه کوله چې آیات منزله ته دوی هیڅ اعتبار نه ورکاوه مثلاً معجزه د شق القمر یا کلمه ویل د شګو په لاس کې د ابو جهل وغیر ذالک من الآیات والمعجزات الباهرات. او دوی تعنتاً وعناداً نوري معجزات غوښتلې لکه د صفا غر دي سره زر سي او یا دي د مکې غرونه لهرې کړل سي وغیر ذالک.

إِنَّمَا أَنْتَ مُنْذِرٌ

خدای پاک و علیه الصلوة والسلام ته وایي نه یې ته مګر ډېرونکی د خلګو له عذاب څخه د خدای پاک پر کفر او معاصیو. یعني پر تا ایتان په معجزاتو ددوی د خواهشاتو سره موافق نسته. او نه د خلګو مجبوره کول پر ایمان.

وَلِكُلِّ قَوْمٍ هَادٍ

او هر قوم لره لارښوونکی سته وهو الله ﷻ قادر دی پر هدایت د هر قوم. کریمه "یهدي من یشاً الی صراط مستقیم" او یا معنا چې محمد ﷺ چونکه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نبوت يې په يو قوم دون قوم پورې خاص نه دی، نو هادي دی د هر قوم من العرب والعجم بل الجن ايضاً. نو د هدايت معنا ارائة الطريق ده لانها وظيفة النبي. کريمه "وما ارسلناک الا بشيراً ونذيراً" دون الايصال الى المطلوب لانه مختص به تعالى جل مجده. او يا معنا داده "لکل قوم من الامم الماضية نبي يدعوهم الى الله بما اوتوا من المعجزات لا بما اقترحوا استهزاءً وعناداً.

فائده: رافضيه قبحهم الله وايي چې حضرت عثمان ﷺ چې د قرآن جمع کوله لفظ د علي يې حذف کړی حسداً. نو په دې قول ددوی تفضيل د علي ﷺ پر عليه الصلوة والسلام لازميږي، ولې چې معنى د آيت ددوی پر قول داسې کيږي "انما انت منذر ولست بهادٍ لکن علي هاد لکل قوم" وهذا کفر بواح هذا ما قال المظهري رحمه الله عليه ولم اجد في تفسير غير تفسيره.

تنبيه: په وروسته آيتو کې خداى پاک خپل کمال علم او قدرت بيانوي وشمول قدرته وقضائه. ددې فائدې لپاره چې خداى ﷻ قادر دی چې ما افترحوه دي نازل کړي لکن چې نه يې کړی نازل له دې کبله چې خداى ﷻ علم درلودی چې ددوی اقتراح له جهته د عناد وه دون طلب الرشد والهداية. نو وايي:

اَللّٰهُ يَعْلَمُ مَا تَحْمِلُ كُلُّ اُنْثٰى وَمَا تَغِيْضُ الْاَرْحَامُ وَمَا تَزْدَادُ ؕ

خداى پاک خبر دی په حمل د هرې ښځې (نو کلمه د ما مصدريه ده) او يا په هغه شي چې په رحم کې د هرې ښځې وي (نو کلمه د ما موصوله ده) په هر صورت خداى پاک علم لرې پر ذکورت او انوثت د حمل د هرې ښځې، تام الاعضا به وي يا ناقص الاعضا، سعيد به وي يا شقي. واحد به وي يا متعدد.

پوه سه: چې روح المعاني وايي چې هر يو د "تغيض" و "تزداد" لازم او متعدي دواړه راغلي دي، بلکې روح المعاني دعوه د اجماع د اهل سنت پر دغه کړې ده او روح البيان هم دعوه د لزوم او تعديه په دواړو کې کړې ده او مظهري هم ويلي دي چې دواړه لازم او متعدي راغلي دي، او امام قرطبي هم ورته دعوه کړې ده. في القاموس غاض الماء غيضاً قل ونقص وغاض ثمن السلعة نقص، وغاض الماء وثمن السلعة نقصهما كاغاض، وازداد القوم على عشرة ونزداد كيل بعير.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نو کـه دواړه لازمـي سـي فکلمـة مـا مصـدرية، والمعنـى الله يعلـم انتفـاض الارحام و ارذيادها والاسناد الى الارحام مجاز دى لان فاعل ذالک هو الله تعالى يعنـي ينـتقص مـا فـي الارحـام فـي الجثـة والمـدة والعـدد، او يـزداد وان كانـا متعديين فكلمه ما يحتمل انتكون موصولة او مصدرية والمعنى الله يعلم ما تنقصه الارحام وما تزداده في الجثة والمدة والعدد.

پوه سه: چي په "مدة" کي حمل زيادت او نقصان دادى چي ادنى مدت ذ حمل شپږ مياشتي دى بالاتفاق، په يو روايت کي راغلي دي چي يو سړي يوه ښځه په نکاح کړه هغه پر شپږ مياشتي لنګه سوه، نو عثمان ﷺ د هغې د رجم اراده وکړه، يعني دده په گمان دا ولد الزنى وه، نو ابن عباس ﷺ ورته وويل چي که دا ښځه ستا سره دعوى په کتاب الله سره وکړي پر تا به غالبه سي يعني په قرآن به ستا څخه ځان له رجم څخه خلاصه کړي، ابن عباس ﷺ ورته وويل قال الله تعالى "وحمله وفصاله ثلثون شهراً، وقال في موضع آخر وفصاله في عامين فلم يبق للحمل الا ستة اشهر" نو عثمان ﷺ ښځه له رجم څخه خلاصه کړه.

ابن الهمام رحمه الله په فتح القدير کي وايي چي په دې مسئله کي د درء الحد د عثمان ﷺ هيڅ چا مخالفت ونه کړى فكان اجماعاً.

دروبش وايي: چي په تجربه سره ثابته ده چي د شپږو مياشتو مولود بقاء کړې ده، او اکثره مده د حمل دوه کاله ده په نېز د امام اعظم رحمه الله، د حضرت عائشې ﷺ په صحيح اسنادو دا ثابته ده چي دې وويل "ماتزيد المرئة في الحمل على سنتين ولو بظل مغزل" او دا ښکاره خبره ده چي دا وينا د عائشې ﷺ له عقل څخه نه ده اذ لا طريق للعقل الى تعيين اكثر مدة الحمل فهو محمول على السماع من رسول الله ﷺ، او د امام شافعي رحمه الله په نېز اکثره مده د حمل څلور کاله ده، او په نېز د امام مالک رحمه الله پينځه کاله ده، حماد بن سلمه وايي چي هرم بن سنان په د عمر په رحم کي څلور کاله وُ ولهذا سمي بالهرم.

دروبش وايي: چي مبنى د څلورو يا د پينځو کالو پر روايانو او حکاياتو دى دا احتمال سته چي د ښځي څلور کاله يا پينځه کاله وينه د حيض بنده وي. لکن دا خو نه ده لازمه چي دا څلور يا پينځه کاله به دې حمل درلودى، ولي چي ښايي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي دا ښځه دي ممتدة الطهرة وي دوه کاله يا اکثر دي ددې طهر ؤ وروسته دې حمل اخستی وي. واذا جاء الاحتمال بطل الاستدلال.

سوال: که دا ښځه د څلورو يا پينځو کالو څخه په حرکت د حمل ددې په نس پوهېدله. نو خو دا يقين سو چي دا د څلورو يا پينځو کالو څخه حمل لري؟

ځواب: دا حرکت هم قطعي دليل د حمل د څلور يا پينځو کالو را ايسته نه دی، ولي چي احتمال سته چي دا حرکت د بل سببه وي. په تاريخ کي راغلي دي چي يوه ښځه وه چي نهه مياشتي يې حرکت د ولد په رحم کي محسوساوه او وينه يې هم نهه مياشتي بنده وه او نس يې ډېر غټ ؤ لکه د حاملې ښځي. او دې ته درد د زېږېدلو د ولد هم ورپېښ سو، او دايي يې د لنګېدلو لپاره راوستل. نو هره پلا چي به دې ته درد ورولاړ سو له فرج څخه به يې اوبه راووتلې وهکذا شيئاً فشيئاً الى ان انضم بطنها يعني د نس پارسوب يې ولاړی نس يې سره ټول سو. نو له دايي څخه ولاړه سوه ببله ولادته. حاصل دا چي دا حکايت معارض نسي کېدای د صحيح حديث مروي عن عائشة رضي الله عنها کمامر.

سوال: د امير المؤمنين عمر رضي الله عنه په زمانه کي يوه ښځه وه چي د ډېر کلونه يې مېړه غائب ؤ چي دی راغلی ماينې يې حمل درلودی، نو عمر رضي الله عنه ددې د رجم اراده وکړه يعني چي ښځي معلومداره زنا کړې ده، نو معاذ بن جبل رضي الله عنه وويل ان كان عليها سبيل الرجم لا سبيل لک على ما في بطنها فتركها حتى ولدت ولداً چي د مخ غابنونه يې راغلي وه او په رنګ وپلار ته سوی ؤ. نو سړي چي ولد وليدی قال ولدي ورب الكعبة. نو عمر رضي الله عنه ښځه په رجم نه کړه او سره ددې چي زنا د ښځي خو يقيني وه؟

ځواب: په فقه کي دا مسئله ده چي فراش قائم يعني طلاق منځ ته نه وي راغلی او مېړه دعوی د ولد وکړي. كما في المسئلة المذكورة رجم له ښځي څخه ساقطېږي. اختلاف په عدد کي د ما في الحمل الواحد.

يوه سه: چي امام اعظم رحمه الله عليه وايي چي نهايت عدد د يوه حمل څلور دی. او شافعي رحمه الله وايي چي ماته يو شيخ وويل په يمن کي چي زما ماينه څو واره لنګه سوې ده په هر وار يې پينځه عياله راوړي دي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چي والله اعلم بصحة رواية الشيخ اليمني. او تر دې عجبه لا داده چي د يو قاضي ماينې په ديارو کي د شرق الهند په يوه وار لنګېدلو کي په يوه بچه دان سل اولاده راوړل تيوله هم ژوندي پاته سوه، والله اعلم.

بغوي رحمه الله عليه وايي چي اهل تفسير وايي چي غيض الارحام دادی چي بنځي ته چي حمل لري وينه ورپيدا سي چي دا وينه چونکه غذا د ولد وه د مور په رحم کي. نو چي دا وينه راووځي نو ولد کمزوری کېږي، او چي وينه نه راوځي په مدت کي د حمل، نو ولد قوي کېږي، فالنقصان نقصان خلقة الولد بخروج الدم والزيادة زيادة خلقة الولد بسبب عدم خروج الدم الذي هو غذائه. او حسن رحمه الله عليه وايي چې غيض الارحام د مخه تر نهه مياشتي وضع الحمل ده. والزيادة زيادتها على تسعة اشهر، وقيل غير ذالک يعني ان النقصان هو السقط والزيادة تمام الخلق.

وَكُلُّ شَيْءٍ عِنْدَهُۥ بِمِقْدَارٍ ۝٨

او هر شی په نېز د خدای حد معين لري لا يجاوز ولا ينقص.

عٰلِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ الْكَبِيْرُ الْمُتَعَالِ ۝٩

خبر دی خدای پاک په غيب عن الناس او په حاضر عند الناس چي دی کبير دی په رتبه کي او هر شی ترده کم دی او غالب دی په قدرت سره پر هر شي.

سَوَآءٌ مِّنكُم مَّنْ أَسَرَّ الْقَوْلَ وَمَن جَهَرَ بِهِۦ وَمَنْ هُوَ مُسْتَخْفٍۭ بِالَّيْلِ وَسَارِبٌۢ بِالنَّهَارِ ۝١٠

برابر دی له تاسي څخه يعني في علم الله که خبره د ځانه سره وکړي او که جهر يعني اظهار وکړي وبل سړي ته، او هغه څوک چي طالب د اخفا د ځان وي په شپه کي او هغه څوک چي بنکاره ګرځي د ورځي او هر څوک يې وينې يعني علم د خدای پاک شامل دی سر او جهر پټوالی د شپې او بنکاره والی فرق نه پکښي لري كما في علم الناس.

اعراب: "من اسر" مبتدأ ده سره د ما عطف عليه، او "سواء" يې خبر دی په معنی د مستوٍ او "منكم" حال دی له ضميره د "مستو"

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: سوا څو مفرد دی او مبتدا وي يې څلور دي فكيف يصح الاخبار عن المتعدد بالمفرد؟

ځواب: سوا که څه هم په معنی د مستور دی لصحة الحمل لكن لفظ مصدر دی په مصدر کي اخبار په مفرد او متعدد کي فرق نه لري كما تقرر في علم النحو او امام قطيبي رحمه الله وايي چي سارب بالنهار هغه څوک دی چي په خپلو حوائجو او کاروبار کي اخته وي د ورځي. دا عطف دی پر "من" او که يې پر "مستخف" عطف کړې، نو "من" په معنی د دوه کسه دی يعني سوا منكم اثنان مستخف وسارب. او ابن عباس رضي الله عنهما د دې آيت په تفسير کي وايي چي د مستخف بالليل څخه مراد صاحب د زنی دی د شپې. او د سارب څخه مراد هغه زاني د شپې دی چي د ورځي څان بري من الزنی بنکاره کوي، نو دا عطف دی پر مستخف، نو د "من" مراد يو سړی دی چي موصوف په دوه صفته سره دی.

لَهُۥ مُعَقِّبَٰتٌ

بعض مفسرين وايي چي ضمير د "له" راجع دی و خدای جل جلاله ته، او بعض وايي چي راجع دی "ومن اسر القول ومن جهر آه" په تأويل د ما ذكر (روح المعاني)

او معقبات جمع د معقبة ده تا يې لپاره د مبالغه ده د تانيث نه ده لان الملائكة لاتوصف بالذكورة والانوثة فهي كتا العلامة (روح البيان) له معقبات څخه مراد ملائكة الليل والنهار دي چي په تعاقب سره يعني يو تر بل وروسته راځي يعني په تعاقب سره راځي ملكي د شپې او ورځي، اذا صعدت ملائكة الليل جائت في عقبها ملائكة النهار واذا صعدت ملائكة النهار جائت في عقبها ملائكة الليل (مظهري)

دروښ وايي: چي بغوي رحمه الله وايي چي له ابو هريره رضي الله عنه څخه په صحيح روايت ثابته ده چي تاسي ته په نوبت راځي ملكي د شپې او د ورځي او دوی سره جمع کېږي د سهار په لمانځه کي، نو د شپې ملكي ځي او د ورځي دا پاتېږي او بل د مازديګر په لمانځه کي بيا د ورځي ملكي ځي او د شپې دا پاتېږي او بيا د شپې او د ورځي د ملکو څخه خدای پاک پوښتنه کوي كيف تركتم عبادي، نو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

که سړی د سهار لمونځ او د مازدیګر لمونځ په جماعت کاوه نو ملکي خدای پاک ته وایي چې مونږ چې ورغلو دوی پر لمونځو ولاړ وه او چې راتلو هم پر لمونځو باندې وه (پای ته ورسېدی په اختصار سره)

مِّنۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِۦ يَحْفَظُونَهُۥ مِنْ أَمْرِ ٱللَّهِ

د مخ له خوا څخه او د شا له خوا څخه. یعني من جوانبه کلها.

پوه سه: چې "من بین یدیه" صفت دی د معقبات ای کائنة من بین یدیه ومن خلفه، ضمیر د "به" راجع دی و "من" ته یعني بنده ساتي له آفاتو او بلیاتو او دښمنانو څخه که انسي وي او که جني او که من جنس الحشرات الموذیة، په امر د خدای ﷻ چې تقدیر د خدای پاک نه وي رسېدلی، او چې تقدیر د خدای پاک ورسېږي، نو ملائکه بنده او تقدیر الهي سره پرېږدي.

دروښ وایي: چې په عدد کې ددې ملکو لوی اختلاف دی چې په روح البیان او روح المعاني کې مذکور دی وغیرهما فلیطالع ثمة.

دروښ وایي: چې د نوادرو تفاسیرو څخه ددې آیت دا تفسیر دی چې ضمیر د "له" راجع و علیه الصلوة والسلام ته دی یعني لمحمد ﷺ معقبات یعني ساتندوی سته د خدای ﷻ له خوا څخه من بین یدیه ومن خلفه چې دی ساتي له شر څخه د شیاطین الانس والجن وطوارق اللیل والنهار.

پوه سه: چې دا تفسیر هم مفید دی په دې سره چې تقدیر د خدای پاک نه وي رسېدلی. ولي د احد په غزا کې د علیه الصلوة والسلام سر مبارک په ډبره د عبدالله بن قمیة ټپي سو او یو رباعي غاښ مبارک یې مات سو.

دروښ وایي: چې روح المعاني، روح البیان او مظهري په ګډه وایي: چې دا آیت په روایت د عبدالرحمن بن زید وغیره نازل سوی دی په عامر بن الطفیل او په اربد بن ربیعه کې او د دوی قصه چې روایت یې ابن عباس ﷺ کړی دی چې عامر بن الطفیل او اربد بن ربیعه چې دواړه د بنې عامر د قبیلې وه مدینې ته راغله په قصد د ملاقات د علیه الصلوة والسلام، په داسي حال کې چې علیه الصلوة والسلام په مسجد کې ناست وُ سره د څو کسو اصحابو ﷺ، نو دوی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دوه چي مسجد ته داخل سوه، نو خلګو يعني صحابه کرامو رضي الله عنهم سرونه پورته کړه و ښائست ته د عامر يې کتله که څه هم په يوه سترګه ړوند ؤ وکان من اجمل الناس. فقال رجل يا رسول الله هذا عامر بن الطفيل ستا و خوا ته را روان دی. عليه الصلوة والسلام وويل چي پرې يې ږدئ فان يرد الله به خيراً يهديه. نو عامر راغلی و عليه الصلوة والسلام ته ودرېدی او داسي يې وويل مالي ان اسلمت؟ عليه الصلوة والسلام ورته وويل لک ما للمسلمين وعليک ما على المسلمين. عامر ورته وويل چي که ته نبوت او امريت ماته سپاري ستا تر مرګ وروسته نو زه به مسلمان سم؟ عليه الصلوة والسلام ورته وويل ليس ذالک الي انما ذالک الى الله عزوجل يجعله حيث يشاً. بيا عامر بن طفيل ورته وويل چي ما پر اهل وبر مقرر کړه يعني پر بادیه نشيانانو او ته يې پر کلي والو. عليه الصلوة والسلام ورته وويل يا! عامر بن طفيل وويل چي ماته نو څه شی راکوې؟ عليه الصلوة والسلام ورته وويل چي واګي د اسانو په لاس درکوم چي ته به غزا پر کوې. عامر بن طفيل وويل چي دا خو زما په قبضه کي دي تر ننني ورځي پورې. عامر بن طفيل وويل چي ته زما سره ولاړ سه زه خبري درسره کوم. عليه الصلوة والسلام ورسره ولاړ سو (عامر بن طفيل دمخه لا اربد ته ويلي وه چي ته چي ووينې چي زه د محمد سره خبري کوم، ته د شا له خوا راسه په توره يې ووهه) نو عامر د عليه الصلوة والسلام سره په بحث اخته ؤ چي اربد د شا له خوا ورغلی چي په توره يې ووهي، يوه لوښت چي يې توره وکښل توره بنده سوه له تېکي څخه يې نسوای ايستلای، او عامر اشاره ورته کول چي وهه يې، نو عليه الصلوة والسلام چي وکتل اربد يې تر شا ولاړ ؤ او توره يې کشول چي له تېکي څخه يې وباسي، فقال عليه الصلوة والسلام اللهم اکفينهما بما شئت، نو خدای پاک پر اربد په سپينه ورځ چي نه وريځ وه نه باد تکه د اور راشوه کړه او اربد يې پاک وسو، او عامر بن طفيل وتښتېدی او عليه الصلوة والسلام ته يې د تېښتي په وخت کي دا پېش رو وکړی چي تا ستا خدای ته خواست وکړی او اربد زما اندیوال دي را مړ کړی، قسم په خدای دی چي زه به پر تا مدينه ډکه کړم بخيل جرد وفتيان مرد يعني هغه اسان چي ببر نه وي چي دا د ښه آس علامه ده،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او خوانان چي ږيږي نه لري، علیه الصلوة والسلام وویل یمنعک الله من ذالک لو خوانان د اوس او خزرج چي دوي قبیلي د انصارو دي، نو عامر د یوي بد کاري ویلي سلولیه په کور کي وچي سهار سو خپله سلاح یي پر خان راتولول په هنداره کي چي یي وکتل رنګ یي ډیر متغیر و. نو دستي پر آس سپور سو صحرا ته ووتی ویقول ابرؤیا ملک الموت او داسي یي ویله واللات والعزا که زه رسیدلی وای ومحمد ته او ده و صاحب ته یعني ملک الموت دواړه به مي په ټیزه پهولي وای، نو خدای پاک یو ه ملکه ورته راواستول چي په وزر یي ووا هه په خاورو کي ولوبدی، او پر ژنګانه یي دستي غټه دانه راپورته سوه، نو بیرته د سلولیه کور ته ورغلی، وروسته یي د ځان سره وویل غدة کغدة البعیر وموت في بیت السلولیة، آس یي راوغوښتی پر سپور سو د آس پر شا مړدار سو.

فائده: د علیه الصلوة والسلام ښپږا قبوله سوه یعني ما قال اللهم اکفنیهما آه، چي پر اربد یکه راشوه سوه او عامر د طاعون په عدة مړ سو، نو دا آیت نازل سوه، له ای لرسول الله ﷺ معقبات الی اخیر الآیة نازل سو.

دروښ وایي: چي دا قصه د هغه نادر تفسیر تائید کوي والله اعلم بالصواب

إِنَّ اللَّهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُوا مَا بِأَنفُسِهِمْ

په تحقیق خدای تغیر نه ورکوي هغه حال ته چي د یو قوم سره وي من الصحة والعافیة والنعمة، تر هغو چي تغییر ورنه کړي هغه قوم و هغ حالت ته چي په دوی مربوط وي یعني احوال جمیله خپل په احوال قبیحه وو سره بدل نه کړي.

وَإِذَا أَرَادَ اللَّهُ بِقَوْمٍ سُوءًا فَلَا مَرَدَّ لَهُ ۚ وَمَا لَهُم مِّن دُونِهِ مِن وَالٍ ﴿١١﴾

او چي اراده وکړي خدای پاک و قوم ته یعني دوی ما بانفسهم بدل کړي وسوء ته یعني و عذاب یا هلاکت بالاستیصال، نو ردونکی د هغه نسته (نو مرد مصدر میمي دی په معنی د فاعل یعني لا راد له) او نسته دوی لره ماسوا له خدایه یو متصرف د امورو ددوی چي هغه سوء څنې دفع کړي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: په نېز د اهل السنة والجماعة خلاف د ارادې د خدای ﷻ محال دی. معتزله وايي چې خلاف د ارادې د خدای ﷻ جائز دی بلکې واقع دی، دوی وايي چې خدای ﷻ وکافر ته د ايمان اراده کړې ده لکن شيطان يې و مراد ته د خدای نه پرېږدي يعني الايمان، يو معتزلي ملا وايي چې ما ته هيڅ چا الزام نه دی راکړی لکه يو مجوسي چې راکړی، ما يو مجوسي ته په طور د وعظ وويل چې ايمان راوړه، ده راته وويل چې د خدای اراده وسي زه به ايمان راوړم، ما ورته وويل چې خدای ﷻ خو ستا د ايمان اراده کړې ده لکن شيطان دي و مراد ته د خدای نه پرېږدي، ده راته وويل فاكون مع الشريک الاغلب يعني د اغلب شريک ملګری کېږم چې شيطان دی چې په اراده کې کفر زما پر خدای غالب سو. ولې چې خدای خو زما د ايمان اراده کړې وه فتركت مذهبي يعني الاعتزال بقول المجوسي.

پوه سه: چې اصل د "وَالٍ" والي وُلانه من الولاية چونکه ضمه پر يا ثقيله وه ضمه يې حذف کړه بيا التقاُ د دوو ساکنو راغله چې يا ساکنه او تنوين دی، نو يا يې حذف کړه وال" پاته سو. لکه په "قاض" کې چې اهل صرف ورته اعلال کوي.

هُوَ الَّذِیْ یُرِیْكُمُ الْبَرْقَ خَوْفًا وَّ طَمَعًا وَّ یُنْشِئُ السَّحَابَ الثِّقَالَ ﴿۱۲﴾

دروښ وايي: چې خدای پاک بعض دلائل د قدرت او توحيد په دې آيتو کې بيانوي او وايي چې خدای هغه مقتدر ذات دی چې وينې په تاسې سره پېلېږو يعني په وريځ کې د ښځې په صورت کې يعني د تکې رالوېدلو څخه او يا د ضرر د ډېر باران وکښتو ته او يا وکورو ته په بعض وختو کې او په بعض ځايو کې او په صورت کې د طمع د باران نافع و کښت ته، او يا د ګرمۍ د دفع لپاره په ډېرو ګرمو وريځو کې، او خدای (ﷻ) پيدا کوي وريځې درنې يعني په اوبو د باران.

پوه سه: چې سبب د نصب د خوفاً او طمعاً يا بنا پر دې دی چې مفعول له د "يريكم" دي په تقدير د مضاف ای ارادة خوف او طمع او يا حال دی له برق څخه ای حال کونه ذو خوف او طمع او يا حال دی له ضمير څخه "يريكم" ای حال کونكم ذو خوف وطمع، او يا خوفاً وطمعاً په معنی د فاعل يا د مفعول دی مبالغةً فتدبر في هذه العبارات والاعرابات.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بوه سه: چي مظهري رحمه الله وايي چي "سحاب غربال الماء" وريځ د اوبو غلبيل ده. كذا قال البغوي رحمه الله.

دروېش وايي: چي حكماء وايي چي د لمر گرمي چي ډېره سي، نو د لندو مځكو او دريابو څخه اجزاء لطيفه مائيه جلا سي چي په ذريعه د هواء لوړ ولاړ سي. دا اجزاء چي طبقه زمهريري ته د هواء ورسېږي چي ډېره يخه طبقه ده هغوري يخي سي او را ايله سي، نو پر مځكه د باران يا د واوري يا د ژلې پر شكل بيرته اوري.

دروېش وايي: چي ددوی دا خبره د اسلام قانون نه منې، ولي چي په تجربه سره ثابته ده چي بارانونه گاهي غټ غټ څاڅكي وي او گاهي واړه واړه وي. او كله باران ډېر دوام داره وي او كله ژر ودرېږي الى غير ذالك من اختلاف احوال الامطار مع ان طبيعة الارض واحدة وكذا طبعية الشمس المسخنة للبخارات واحدة، نو بايد په بارانو كي مذكوره اختلافات نه واى، نو دا ظاهره ده چي په دې اختلافاتو كي قدرت د قادر متعال كارفرما دى.

او بل په تجربه سره دا ثابته ده چي د بارانو د قحط په صورت كي عجز او زارى د مؤمنانو ډېر لوى تاثير لوبوي، ولذا كانت صلوة الاستسقاء مشروعة مندوبة، نو مورږ په دې پوه سولو چي په بارانو كي طبعيت او خاصيت لغوه دى بلكې صرف او صرف قدرت د ايزد متعال موثر حقيقي دى.

وَيُسَبِّحُ الرَّعْدُ بِحَمْدِهٖ

او تسبيح وايي تنا (تالنده) متلبة بحمده يعني يقول سبحان الله وبحمده.

پوه سه: چي ترمذي او نسائي د ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت كړى، چا پوښتنه وكړه د عليه الصلوة والسلام څخه چي دا رعد څه شى دى؟ عليه الصلوة والسلام ورته وويل چي رعد ملك مؤكل بالسحاب، يعني دا اواز د تنا چي مورږ يې اورود هغې ملكې د سوق برغ دى الى اخير الحديث.

دروېش وايي: چي په روح المعاني صفحه (۱۱۸) كي وايي: هو اسم الصوت المعلوم يعني چي پښتانه يې تنا بولي والكلام على حذف المضاف اى سامعوا رعد او الاسناد مجازي من باب الاسناد للسبب وهو الصوت، وروسته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

صاحبٌ د روح المعاني وايي اخرج احمد والترمذي وآخرون عن ابن عباس رضي الله عنهما چي يوې ډلي د يهودانو پوښتنه وکړه له عليه الصلوة والسلام څخه، فقالوا ته موږ ته خبر راکړه ما هذا الرعد فقال عليه الصلوة والسلام ملک من الملائكة الله مؤكل بالسحاب بيد يه مخراق من نار (په دوارو لاسونو کې يې غمچينه د اور وي) يزجر به السحاب ويسوقه حيث اراد الله تعالى، قالوا فما هذا الصوت الذي نسمع؟ قال عليه الصلوة والسلام صوته فقالوا صدقت.

دروښ وايي: چي له دې حديث څخه دا معلومه سوه چي لفظ د رعد ملکي ته هم وايي او صوت د هغې ملکي هم وايي فلا يرد مايتوهم فافهم هداک الله وروسته روح المعاني ډېر وړ بيان کړی دی لايليق بهذ التفسير المختصر ولا بحال المتعلمين له.

فائده: تنا او پېلبو په اکثرو اوقاتو سره يو ځای وي لکن تلازم نه سره لري بلکې ګاهي تنا وي او پېلبو نه وي ورسره او ګاهي پېلبو وي او د تنا هيڅ اثر نه وي. كما دل على التجربة.

دروښ وايي: چي د احادثو مبارکه ؤ څخه چي په باب کې د رعد او برق راغلي دي هم تلازم نه فهمېږي.

وَالْمَلٰٓئِكَةُ مِنْ خِيْفَتِهٖ ۚ

او ملکي هم تسبيح وايي د ېېرې د خدای ﷻ.

پوه سه: چي مراد له دې ملکو څخه اعوان د رعد دی يعني د خدای ﷻ د ملکي چي په نامه د رعد د ملکي اعوان ګرځولی دی چي هغه اعوان خائفون او خاضعون او طائعون د خدای ﷻ دی. له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی که چا صوت د رعد واورېدی او داسې يې وويل "سبحان الذي يسبح الرعد بحمده والملائكة من خيفته وهو على كل شيئ قدير فان اصابته صاعقة فعلى دينه" له عبدالله بن الزبير رضي الله عنهما څخه روايت دی چي ده به صوت الرعد واورېدی خبرې به يې قطع کړې او دا به يې ويله "سبحان من يسبح الرعد بحمده والملائكة من خيفته ويقول ان هذا الوعيد لاهل الارض لشديد"

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

له ابي هريره ﷺ څخه روايت دی قال قال رسول الله ﷺ قال ربکم" که چيري زما بنده گانو زما اطاعت کولای يعني په امر او نهي کي، نو به ما باران پر اورولای د شپې او د ورځي به مي لمر پر راخپړاوه او ما په دوی نه اورېدای صوت رعد (رواه احمد بسند صحيح)

وَيُرْسِلُ الصَّوَاعِقَ فَيُصِيبُ بِهَا مَنْ يَشَآءُ وَهُمْ يُجَادِلُونَ فِى اللَّهِ ۚ

او خدای ﷻ را استوي تکي، نو رسول کوي په دغو تکو سره هغه چا ته چې د خدای اراده د هلاک ورته وسي.

پوه سه: چې صواعق جمع د صاعقة او صاعقة په لغت کي هر عذاب مهلک ته وايي لکن دلته مراد په قرينه د مقام هغه تېز اور دی چې د پهلبو سره پيدا کېږي او پر شي که انسان وي او که حيوان وي او که درخته وي هغه خو پاکي سوځي "وهم يجادلون في الله" او کفار مکه بې ځايه بحث کوي د رسول الله ﷺ سره د خدای ﷻ په توحيد کي او په کمال قدرت او علم کي د خدای ﷻ والبعث بعد الموت والمجازات بالجنة او النار، وامثال ذالک من الامور الدينية، بغوي رحمه الله وايي چې محمد بن علي الباقر ﷺ وايي چې صاعقه مسلم او غير مسلم دواړو ته رسېږي مګر مسلم ذاکر ته نه رسېږي، او نسائي او بزار له انس بن مالک څخه روايت کړی دی چې عليه الصلوة والسلام يو صحابي و يو غټ کافر ته د جاهليت ور واستاوه چې دعوت د توحيد د خدای ﷻ ورته وکړي، نو هغه کافر ورته وويل ايش ربک الذي تدعوني اليه امن حديد هو او من نحاس او من فضة او ذهب (پوه سه: چې ايش مخفف دی د ای شيئ څخه) څه شی دی ستا خدای چې ته موږ وربولې، آيا د وسپنې څخه جوړ دی يا له ميسو څخه يا د سپينو زرو د سرو زرو څخه، هغه سړی راغلی د هغه کافر حال يې و عليه الصلوة والسلام ته ذکر کړی، عليه الصلوة والسلام دوهم وار ورواستاوه د کافر هغه مخکښی جواب وويا دريم وار يې ور واستاوه کافر چې بيا هغه مخکښی ځواب ووايه سمدستي تکه پر را ايله سوه پاک يې وسوځي، ونزلت هذه الآية "ويرسل الصواعق فيصيب بها من يشآ الى اخير الآية" د حسن رحمه الله په شان نزول کي ددې آيت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قریب و هغه دمخه مذکور روایت ته یې روایت سوی دی، لکن په اخیر کې داسې عبارت دی چې په دریم وار کې چې کافر هغه خپل وینا تکرار کړه، نو ددوی پر سرو یوه وریځ را پورته سوله، نو تناوې شروع سوې او پبلبو هم شروع سوه او تکه را شوه سوه کافر مکابر یې وسو، او اصحاب د علیه الصلوة والسلام ثاست وه، نو دوی میدان کړه چې علیه الصلوة والسلام ته زېری ورسوې، ددوی په مخه نور صحابه ورغله، دوی ورته وویل چې احرق صاحبکم چې هغه کافر چې تاسې د تبلیغ لپاره ورغلې واست هغه خو په تکه وسو، واقعې لیدونکو صحابه وو ورته وویل چې تاسې چا خبر کړلاست، هغو ورته وویل چې خدای ﷻ و علیه الصلوة والسلام ته وحي را واستولې او دا آیت یې ورته تلاوت کړی "ویرسل الصواعق فیصیب من یشآ وهم یجادلون في الله"

وَهُوَ شَدِيدُ الْمِحَالِ ۝

الضمیر راجع الی الله، بغوي رحمه الله وایي چې حسن وایي چې د محال معنی حقد دی، یعني بغض مضمر وفیه ان الحقد لا یلیق بشانه تعالی کما لا یخفی او مجاهد وایي شدید القوة او ابو عبیدة وایي شدید العقوبة، په قاموس کې وایي المحال ککتاب الکید وروم الامر بالحیل والتدبیر والمکر والقدرة والجدال والعذاب والعقاب والعداوة والقوة والشدة والهلاک والاهلاک.

دروښ وایي: چې په دغو معانیو کې فکر ووهه چې هره معنی چې انسب د ذات الهي سره وه پر هغه یې حمل کړه.

لَهُ دَعْوَةُ الْحَقِّ ۝

او خاص خدای (ﷻ) لره دی دعوت مقبول او یا معنی داده چې خدای ﷻ حقدار ددې دی چې عبادت یې وکړل سي، او خلګ وبلل سي وعبادت ته دده، او سوال د حوائجو څخې وکړل سي لانه تعالی مستحق للعبادة وقادر علی قبول دعآ الناس، نو حق ضد د باطل دی. مظهري رحمه الله وایي چې ظاهره داده چې اضافت د دعوت و حق ته من اضافة د موصوف وصفت ته ده، فیؤل علی طریقة مسجد الجامع ای مسجد الوقت الجامع وجانب الغربي، نو دلته یې تاویل دادی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دعوة المدعوا الحق، ولي چي څوک چي دعا وکړي خداى ﷻ ته په اخلاص سره خواست يې قبلېږي. علي ﷺ وايي چې دعوة الحق توحيد دى او ابن عباس ﷺ وايي چي دعوة الحق شهادة أن لا اله الا الله، نو پر دې دوو تفسيرو توحيد او شهادة تفسير د حق دى. نو اضافت د دعوت وتوحيد ته حقيقت ده. والمعنى لله الدعوة الى التوحيد والشهادة. والمراد من الجملتين وعيد الكفرة على مجادلة رسول الله ﷺ باجابة دعوة الرسول ﷺ او بيان ضلالهم وفساد رأيهم كما اجيب دعوته ﷺ علي بن عامر بن الطفيل واربد.

دروښ وايي: چي مفصله قصه يې نژدې تېره سوه.

وَالَّذِينَ يَدْعُونَ مِنْ دُونِهِ لَا يَسْتَجِيبُونَ لَهُمْ بِشَيْءٍ

او هغه کسان چې عبادت کوي پرته له خداى (ﷻ) چې بتان دي او د خپلو حاجاتو خواست ورته کوي، نو پر دې تقدير مفعول چې اصنام دى محذوف دى، لدلالة قوله من دونه عليه، نو قبلونه نه کوي دغه اصنام دوى لره د هيڅ شي لكونهم جمادات لا يستطيعون نفعاً ولا ضرراً، نو ضمير د لا يستجيبون راجع دى و بتانو ته.

إِلَّا كَبَاسِطِ كَفَّيْهِ إِلَى الْمَاءِ لِيَبْلُغَ فَاهُ وَمَا هُوَ بِبَالِغِهِ

مګر نه لكه استجابت د هغه چا چې ډېر تږى وي او د ځاه پر غاړه ناست وي او لاس يې اوبو ته نه رسېږي، او اوبو ته وايي چې زما تر خولې پورې خو راسئ چې زه تږى يم او حال دادى چې دا اوبه خو دده دعوت نه قبلوي او نه يې خولې ته راځي، ولي اوبه خو جماد شى دى نه دده په بلنه پوهېږي او نه دده تر خولې رسېدل يې په قدرت پورې دى. والحاصل لكه څرنګه چې دغه اوبه خو دده خولې ته نه راځي او نه دده په دعوت پوهېږي. دغه رنګه خدايان د مشرکانو چې هغه جمادات دي نه ددوى په دعوت پوهېږي او نه قدرت لري پر اجابت ددوى. نو اضافت د استجابت محذوف و باسط ته اضافت د مصدر و مفعول ته ده. والى هذا المعنى ذهب مجاهد. وروى مثله عن علي ﷺ وعطاً وقيل غير ذالک.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مَا دُعَآءُ الْكٰفِرِيْنَ اِلَّا فِيْ ضَلٰلٍ ﴿١٤﴾

نه ده د کافرانو دعا يعني عبادت د بتانو او طلب د حاجاتو د بتانو څخه مګر نه په خسران او ضياع او بطلان کي ده.

وَلِلّٰهِ يَسْجُدُ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ طَوْعًا وَّكَرْهًا وَّظِلٰلُهُمْ بِالْغُدُوِّ وَالْاٰصَالِ ﴿١٥﴾

(دا آيت د سجدې دی) يعني الملائكة في السموات والمؤمنين في الارض په خپله خوښه بدون الجبر والاكراه او بېري له كبله كالمنافقين والكافرين الذين اكرهوا على السجود بالسيف. او يا داچي كافران په حال كي د شدت او ضرورت سجده كوي لكن مع كراهتهم ذالك.

پوه سه: چي نصب د طوعاً او كرهاً بنا دی على كونها مفعول له ای لاجل الطوع والكره، نو طوع او كره پر خپله معنا پاته دی او يا بنا پر حاليت د من في السموات والارض څخه ای حال كونهم طائعين او كارهين.

پوه سه: چي "غدو" جمع د غدوة ده چي د صبح صادق څخه تر لمر راختو وخت ته وايي او اصال جمع د اصل ده چي له مازديګر څخه تر غروب د لمر وخت ته وايي.

پوه سه: چي "بالغدو والآصال" ظرف د "يسجد" دی.

دروښ وايي: چي تخصيص د دغو دوو ختو په سبب د فضيلت دی والا فالمقصود منه الدوام على السجود يعني في اوقات الصلوة كلها فافهم.

دروښ وايي: چي روح البيان په تفسير كي ددې آيت داسي وايي حقيقةً وهو وضع الجبهة على الارض آه، نو د تعجب ور خبره داده چي د سجدې معنى چي په دې آيت كي وضع الجبهة على الارض وي نو په من في السموات كي څرنګه جوړېږي يعني ملكي خو سجده كوي په اسمانو كي لكن لا على الارض فافهم.

پوه سه: چي په ظلالهم كي روح البيان وايي على حذف الفعل انتهى.

دروښ وايي: چي حذف د فعل څه ضرورت سته وظلالهم دي عطف وي پر من في السموات آه باندي تر يسجد مذكور دي لاندي وي، ولهذا لم يتعرض احد من المفسرين لحذف الفعل فتدبر.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې مراد له سجدې څخه د ظلال سجده تبعاً لذی الظل ده.

سوال: من في السموات لره خو ظلال نسته، ولې چې ظلال خو کثیف جسم لره وي؟

ځواب: روح المعاني وايي: وتنقاد له تعالى ظلال من له ذالک ای الظل وهم الانس فقط او ما يعمهم وكل كثيف من الاشجار وغير ذالک لكن اظلال د غير د انس من الاجسام الكثيفة في كلمة من نظر لانها مختصة بذوى العقول بالاجماع وروسته روح المعاني زياته کړې ده او يحمل على التغليب، او په حواشي شهابيه وو کې وايي ينبغي ان يرجع الضمير لمن في الارض لان من في السما لا ظل له، او مظهري رحمه الله وايي چې دا هم احتمال سته چې له سجود څخه دي حقيقت سجده نه وي مراد بلکې مراد څنې انقياد وي د حكم د خداى فيشمل كل من في السموات والارض بلا تكلف، يعنې چې من في السموات والارض منقادون لما اراده الله منهم شاؤ او كرهوا انتهى. او يو له انقيادو څخه د اظلال طول او تنقيص ددوى دى يعنې په وخت کې د طلوع الشمس سايه د ذى الظل نهايت اوږده وي چې لمر را پورته کېږي سايه مخ پر کمېدلو وي الى ان ينتهى الشمس الى نصف النهار فيندم الظل بالكلية كما في خط الاستواً ويقلل جداً كما في الافاق المائلة ثم يزداد الظل الى جانب المشرق ثم وثم.

قُلْ مَنْ رَّبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ

ته ورته ووايه يا محمد كفارو ته د مكې څوک دى خالق او مدبر د اسمانو او د ځمكې.

پوه سه: چې دا استفهام د تقرير لپاره دى يعنې حملهم على الاقرار، ولې كفارو هم دا منله ان الله خالقهم وخالق السموات والارض.

قُلِ اللّٰهُ ؕ

يعنې كه دوى نه وايي تعنتاً ته ورته ووايه چې الله دى اذ لا جواب غير ذالک وفي الحقيقة لا جواب لهم غير ذالک يا معنى داده چې ته تقلين د جواب ورته وكړه، وروسته الزاماً ودوى ته ووايه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قُلْ أَفَاتَّخَذْتُم مِّن دُونِهِ أَوْلِيَاءَ

قانون وروسته تر حرف استفهام چې يو د حروف د عطف راسي هغه معطوف پر مقدر باندې دی مناسب للمقام وذالک لان حرف الاستفهام يقتضي صدارة الكلام فلا يكون ما بعده معطوفاً على ماقبل الاستفهام. والتقدير هذا ،قررتم بربوبيته تعالى للعالمين فاتخذتم.

ترجمه: ته ورته ووايه چې آيا تاسي گرځوئ معبودات خپل ماسوی د خدای ﷻ يعني الاصنام وهذا بعيد من العقل ثم وصف الاولياً بقوله.

لَا يَمْلِكُونَ لِأَنفُسِهِمْ نَفْعًا وَلَا ضَرًّا

چې توان نه لري د ځانو لپاره جلب د نفع او يا د دفع د ضرر لكونها جمادات. نو به تاسي ته څه نفع را جلب كړي كه يې تاسي عبادت وكړئ او يا څه ضرر به درورسوي كه يې تاسي عبادت وه نه كړئ، او المعنى كيف يستطيعون ايصال الخير اليكم، او دفع ضرر عنكم.

پوه سه: چې دوهم دليل دی پر ضلال ددوی والاول اخذهم اولياً فافهم.

قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الْأَعْمَىٰ وَالْبَصِيرُ

ته ورته ووايه دوی ته چې آيا (والاستفهام للانكار وكذا في سيئاتي) سره برابر دي روند او بيناً.

پوه سه: چې له اعمى څخه د ستر گو روند نه دی مراد بلكې من لا عقل له ولا بصيرة يعرف بها المعبود بالحق چې مراد ځنې مشركان دي، او بصير يعنې صاحب د بصيرت چې په هغه سره وپېژني حقيقة د عبادت او موجب د عبادت او تميز وكړي د مستحق د عبادت مما لا يستحق لها، او بعض مفسرين وايي چې مراد د اعمى معبود غافل دی له عابد څخه خپل او د هغه د عبادت څخه چې بتان دي او مراد له بصير څخه هغه معبود بالحق دی چې عالم دی په ټولو احوالو د عابد ينو خپل.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

أَمْ هَلْ تَسْتَوِي الظُّلُمَاتُ وَالنُّورُ

پوه سه: چي کلمه د "ام" لپاره د انتقال ده د یوه دلیل و بل ته او کلمه د "هل" لپاره د استفهام انکاري ده، او ایا سره د برابري دی تاریکي چي کفر دی او رڼا چي ایمان دی.

نکته: ظلمات په صیغه د جمع راوړی او نور یې په صیغه د مفرد سبب یې وادی چي انواع د کفر دهري دي کالدهرية والمجوسية واليهودية والنصرانية او ایمان یو دی چي دین د اسلام دی.

أَمْ جَعَلُوا لِلَّهِ شُرَكَاءَ خَلَقُوا كَخَلْقِهِ فَتَشَابَهَ الْخَلْقُ عَلَيْهِمْ

پوه سه: چي "ام" په معنی د "بل" دی کلمه د "بل" لپاره د انتقال ده من دلیل الی دلیل آخر او همزه لپاره د انکار دی پر حکم اتی او د شرکاء مراد بتان دي او خلقوا صفت د شرکاء و دې داخل دی تحت الانکار، او د خلقه ضمیر راجع و خدای ﷻ ته دی.

ترجمه: آیا دوی ګرځولي دي خدای شریکان چي هغو شرکاء دي خلق د بعض شیانو کړي وي لکه چي خدای ﷻ خلق د شیانو کړی دی، نو دوی ته اشتباه واقع سوه په خلق کي د خدای ﷻ او د شرکاء یعني خدای او بتان دواړه خالقان دي، نو لکه خدای ﷻ مستحق د عبادت دی بتان هم مستحق د عبادت دی لاشتراک في الخلق الذي هو الموجب لاستحقاق العبادة یعني داسي خو نه ده، ولي چي بتان خو جمادات دي لم یخلقوا شیئاً ما فضلاً من ان یخلقوا مثل خلق القادر المتعال الخالق لجمیع الاشیاء من السموات وما فیها والارض وما علیها بل لکل ذرة من ذرات العالم العلوي والسفلي.

قُلِ اللَّهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ

ته ورته وایه چي خدای ﷻ خالق د هر شي دی مما ذکرنا. وایضاً هو تعالی خالق الاجسام کلها والارواح المجردة فلا یستحق للعبادة الا هو.

سوال: معتزله وایي چي خالق د افعالو خدای نه دی بلکي په خپله عباد دي؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: معتزله د خلق او کسب تر منځ په فرق نه پوهېږي بلکې خالق د افعالو د عبادو خدای ﷻ دی وبس البته بندګان کاسبان دي وبينهما بون بعيد.

دروبش وايي: چې فرق بين الخلق والکسب په کتابو کې د عقائدو په نښه توګه ثابت دي، بلکې محقق بهاري رحمه الله په مسلم الثبوت کې دا فرق په محققانه ډول څېړلی دی، لکن دروبش له هغو بيانا تو څخه صرف نظر وکړی مراعاتاً للمتعلمين لهذا التفسير لان بيان ذالک علی وجه التفصيل والتحقيق طويل دقيق غاية الدقة فافهم.

وَهُوَ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ ﴿۱۶﴾

او خدای پاک يو دی په ذات کې او په صفاتو کې د جمال او جلال چې غالب دی پر هر شي لانه تعالی خالق کل شيئ والخلق يستلزم الغلبة بلا ريبة.

بوه سه: چې دا جمله يا داخله ده تحت الامر بقل او يا جمله مستأنفه له جانبه څخه د خدای ﷻ. جامي قدس سره السامي وايي:

مده بعشوه صورت عنان دل جامی
که هست درپس اين پرده صورت ارائی

أَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَسَالَتْ أَوْدِيَةٌ بِقَدَرِهَا

نازل کړي دي واحد قهار له اسمان څخه اوبه يعني بارانونه. نو وبهېدلې شلې په اندازه ددوی په صغر او کبر کې. يعني په لويه شپله کې ډېرې اوبه راغلې او په کوچنۍ شپله کې لږې.

پوښتنه: شپله په لغت کې هغه غار ځای ته وايي چې اوبه نسبةً په کثرت پکښې بهېږي. نو څرنګه نسبت د بهېدلو و شپلې ته صحيح دی؟

ځواب: د علم بيان په کتابو کې وايي چې دا نسبت مجاز مرسل دی يعني من نسبت ما للمظروف الی الظرف مثل قولهم سأل الميزاب يا جری النهر الی غير ذالک.

فائده: اوديه يې نکره راوړه له دې سببه چې باران خو پر بقاع د مځکې په نوبت اوري نو پر هره بقعه چې اوري د هغه ځای شپلې بهېږي نه د بل ځای کما لا يخفی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَاحْتَمَلَ السَّيْلُ زَبَدًا رَّابِيًا ۚ وَمِمَّا يُوقِدُونَ عَلَيْهِ فِي النَّارِ

نو راخستی وي هغو اوبو چي په شپلو کي جاري وي ځګ او خاشاک، فالزبد ما يعلوا الماً الجاري في الاودية، "رابيًا" پر صافو اوبو.

پوه سه: چي حمزه او کسائي رح دا لفظ په یاد غیبت وایي او ضمیر یې راجع و ناس ته بولي.

سوال: ناس خو نه دی ذکر سوی فکیف یصح ارجاع الضمیر الیه؟

ځواب: له مقام ځخه لفظ د ناس فهمېږي قاله المظهري رحمه الله او نور قاریان یې توقدون په لفظ د خطاب وایي.

فائده: "ایقا" د یو شي پر اور ایښوولو ته وایي تاچي ویلي سي، او کلمه د "من" لپاره د ابتداً ده او کلمه د "ما" په "مما" کي موصوفه ده په معنی د شئ او ضمیر علیه راجع دی و "ما" ته یعني د هغه شي ځخه چي خلګ پر اور ویلوي پیدا کېږي مثل زبد الماً.

فائده: هغه شی چي خلګ اور تر لاندي بلوي عام دی ذهب، فضة، جدید والنحاس.

ابْتِغَاءَ حِلْيَةٍ أَوْ مَتَاعٍ زَبَدٌ مِّثْلُهُ

لپاره د طلب د حلیه، نو ابتغاً مفعول له د "یوقدون" د حلیه معنی زینت ده یعني زیور د زینت لکه د سرو زرو یا د سپینو زرو ځخه چي زیورات جوړېږي "متاع" ای ما یمتتع به من الاواني لکه لوښي چي د وسپنې یا له میسو یا له ژرو وغیرها ځخه جوړېږي بل الات الحرب والحرث من الحدید، والمقصود بیان منافعها "زبد مثله" ای مثل زبد الماً یعني لکه چي زبد الماً د سیل خبث او بیکاره شی دی دغه رنګه زبد د فضة او ذهب وغیرها من المذکور خبث او خیره او بیکاره شی چي په کوره د اور د زرګر یا آهنګر یا میسګر بنکاره کېږي.

پوه سه: چي "زبد" فاعل دی لقوله "یوقدون" او یا زبد مثله مبتدأ ده او ماقبل یې خبر مقدم دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

كَذٰلِكَ يَضْرِبُ اللّٰهُ الْحَقَّ وَالْبَاطِلَ ؕ

يعني په مثل د مذکور ضرب او بيان بديع چې مشتمل پر دقائقو ؤ بيان وي خداى ﷻ مثل الحق والباطل بحذف المضاف اى لفظ المثل وانما حذف لفظ المثل تنبيهًا عن كمال التماثل بين الممثل والممثل به كان المثل المضروب عين الحق والباطل كذا في روح المعاني والمظهري بالتفصيل في الاول والاجمال في الثاني.

فَاَمَّا الزَّبَدُ فَيَذْهَبُ جُفَآءً ۚ

هر چې څگ دى كه د اوبو وي او كه د ذريوراتي شيانو وي وامثاله هغه ځي جفاءً يعني متفرقاً وفي القاموس الجفاً كالغراب الباطل انتهى.

وَاَمَّا مَا يَنْفَعُ النَّاسَ فَيَمْكُثُ فِى الْاَرْضِ ؕ

او هغه شى نفع اخلي په هغه سره خلق نو هغه پاتېږي په مځكه كي لكه صافي اوبه د باران چې په هغه سره نفع اخلي خلگ هغه پاتېږي په مځكه كي يعني مځكه يې نوش كړي، نو د هغه څخه رودونه، كاريزونه او چينې پيدا كېږي چې خلگ مځكي د كښت او باغونه د مېوو په اوبه وي او يا خالص سره يا سپين زر چې خلگ زېورات څني جوړوي، او يا د وسپني خالص چې آلات د حرب لكه توپك، كلاشنكوف، توغندى وغيره څني جوړوي او يا د كښت آلات لكه تبش وغيره څني جوړوي، او يا خالص د ميسو او ژړو چې خلگ دېگونه غابونه وغيره څني جوړوي، والحاصل چې د هغه علم او كتاب نازل من السماً خلگ نفع په اخلي انواع المنافع الدنيوية والاخروية او ثابت پاتېږي ابد الآبدين كالماً النازل من السماً چې خلگ نفع موقت په اخلي كمامر من قبل.

كَذٰلِكَ يَضْرِبُ اللّٰهُ الْاَمْثَالَ ؕ

يعني لكه مثال د حق او باطل چې خداى ﷻ ووايه، نور امثال هم خداى پاك وايي تاچې په امثالو سره د ممثل به توضيح وكړل سي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې په مذکور ضرب مثل کې خدای پاک تسلي ورکوي د مؤمنانو ته دا ډول چې باطل لکه کفر که څه هم لکه ځګ لوړ وي صورةً وظاهراً لکن دا ځګ د کفر ژر دی چې زائل به سي او نور د اسلام لکه صافي اوبه ثابت به وي الی یوم القیامة.

لِلَّذِينَ اسْتَجَابُوا لِرَبِّهِمُ الْحُسْنَىٰ

لپاره د هغه کسانو چې قبلونه وکړي د خدای ﷻ د دعوت و اسلام او طاعت ته په دنیا کې.

پوه سه: چې "للذین" خبر مقدم دی "والحسنی" یې مبتدأ متاخره ده والحسنی بحذف الموصوف ای المثوبة الحسنی یعنې په اخیرت کې او استجابت چې باب د استفعال دی او معنی یې طلب الاجابة ده په معنی د اجابت چې باب د افعال دی او پر فعلیت دلالت کوي کماهو المقصود في الآیة.

دروښ وایي: چې زما ترجمه مبني ده پر قول د روح المعاني او روح البیان، او مظهري مبتدأ او خبر سره ګډ کړي دي حیث یقول الحسنی صفة لمصدر محذوف ای الاستجابة الحسنی او مفعول به یعنې استجابوا ربهم الدعوة الحسنی انتهی، دده خیال دادی چې للذین متعلق دی په نضرب الامثال پورې وهو بعید غایة البعد، وروسته مظهري رحمه الله کفه اعراب صحیح چې موږ کړی په قیل یې راوړی دی..... مصرع: . وللناس فیما یعشقون مذاهب.

وَالَّذِينَ لَمْ يَسْتَجِيبُوا لَهُ

او هغه کسان چې قبلونه د دعوت د خدای ﷻ یې نه ده کړې یعنې کفار.

دروښ وایي: چې "والذین آه" مبتدأ ده، او جمله د "لو ان لهم آه" یې خبر دی قال الآلوسي صاحب روح المعاني والذین آه مبتدأ ده والجملة الشرطیة یعني لو ان لهم آه خبر دی، وفي روح البیان والذین لم یستجیبوا له مبتدأ ده یعني لو ان لهم آه خبر دی، او مظهري پر منوال سابق وایي واللام في له متعلق خبر یې لو ان لهم آه دی، او مظهري پر منوال سابق وایي واللام في له متعلق بیضرب یعني والذین لم یستجیبوا مجرور محلاً دی، عطف پر الذین استجابوا داخل تحت اللام الجارة المتعلقة بیضرب الامثال، بلکې صراحةً وایي واللام متعلقة بیضرب والله اعلم بمراده في کتابه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: ستا علم د مظهري رحمه الله تر علم بالا دی چې ته دده پر بیان اعراب اعتراض کوې!؟

ځواب: لا کلا وحاشا، لکن ما هغه څه بیان کړل چې روح المعاني او روح البیان او مظهري ویلي دي او خپل په نهز چې خوښ اعراب ؤ هغه ته مي اشاره وکړل. تاسي داسي مه کوئ چې حق په رجال پېژنئ بلکې رجال په حق وپېژنئ.

لَوْ اَنَّ لَهُمْ مَّا فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا وَّ مِثْلَهٗ مَعَهٗ لَافْتَدَوْا بِهٖ ؕ

که فرضاً دوی لره وي هغه شیان چې په مځکه کې دي من الذهب والفضة وغیرهما من الاموال او یو مثل د ما في الارض نور ورسره هر آئینه دوی به دا ټوله اموال فدیه ګرځولي وای تاچې له عذاب څخه د جهنم په خلاص سوي وای لکن ذریعه د نجات بېله ایمانه نسته.. بیت:

مده براحت فانی حیات باقی را ..... بمحنت دوسه روز از غم ابد بگریز

اُولٰٓئِكَ لَهُمْ سُوْٓءُ الْحِسَابِ ۙ وَمَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ؕ وَبِئْسَ الْمِهَادُ ۝

دوی لره دی بد حساب یعني سخت حساب چې له ګنهو څخه ددوی هیڅ شی نه وربخښل کېږي لعدم سبب المغفرة فیهم وهو الایمان، او ځای د ورتلو ددوی جهنم دی او بد فراش دی جهنم کریمه: لهم من جهنم مهاد ومن فوقهم غواش.

اَفَمَنْ يَّعْلَمُ اَنَّمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ الْحَقُّ كَمَنْ هُوَ اَعْمٰى ؕ

آیا کېدای هغه څوک چې علم او ایمان لري پر دې چې هغه شی نازل سوی دی وتاته یا محمد له جانبه څخه د خدای ستا الحق یعني هو الحق، نو ایمان پر هغه ما انزل راوړي او عمل په امر او نهي د هغه کوي لکه هغه څوک چې روند وي یعني لا بعمي البصر بل بعمي البصیرة القلبي وهو الکافر المنکر لما انزل الیک من ربک.

پوه سه: چې استفهام د انکار دی یعني لیس هما متماثلان او مدخول د فا معطوف پر مقدر دی، والتقدیر ای ایشتبه امر الصریفین بعد ضرب من المثل لهما فمن یعلم آه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُولُوا الْأَلْبَابِ ﴿١٩﴾

پوه سه: چي انما په معنی د لا او الا دی، والمعنی چي تذکر او پند په موعظت د قرآن نه اخلي مگر صاحبان د عقول سلیمه من متابعة الهوی والکبر والعناد، نو عقل صافي عن الکدورات لره په کار ده چي لپاره د مغفرت د گناه باران د وښکو همېشه بهیوي،، بیت:

نرېزد خدا آبرو ی کسی ..... که ریزد گناه آب چشمش بسی

الَّذِينَ يُوفُونَ بِعَهْدِ اللَّهِ

هغه کسان چي وفا کوي په عهد سره چي دوی پر ځانو لازم کړي دي چي یا هغه دی چي په میثاق ازلي کي دوی پر ځان لازم کړی چي اقرار په ربوبیت د خدای ﷻ دی حین قال الله تعالی لهم الست بربکم قالوا بلی. او یا هغه عهد دی چي د ټولو امتو څخه په کتب منزله وګي اخسته سوی دی چي او امر به پر ځای کوي او له منهیاتو څخه به پرهېز کوي.

وَلَا يَنقُضُونَ الْمِيثَاقَ ﴿٢٠﴾

او نه یې وي مات کړی خپل عهد.

فائده: موصولات اتیه سره صلات مبتدا دی او خبر یې قوله تعالی دی "اولئک لهم عقبی الدار"

وَالَّذِينَ يَصِلُونَ مَا أَمَرَ اللَّهُ بِهِ أَن يُوصَلَ

او هغه کسان چي وصل کوي او پیوند کوي هغه شی چي خدای ﷻ امر کړی وي ده په هغه شي سره چي وصل یې کړه.

بوه سه: چي وصل یو لفظ عام دی چي ایمان پر ټولو کتبو سماویه وګ او پر ټولو رسولانو د خدای ﷻ بحیث لایفرق بین احد منهم لکه یهود چي فرق کوي چي تورات منو او موسی علیه السلام او انجیل او محمد ﷺ او قرآن نه منو، او یا نصاری چي وایي چي عیسی علیه السلام منو او انجیل هم منو لکن موسی او تورات او محمد علیه السلام او قرآن نه منو، او دغه لفظ د وصل موالات یعني

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دوستي د مسلمانانو سره او داغه رنگه شامل دي صلة الرحم ته د قريبانو، او بغوي وايي چي مراد يوازي صلة الرحم دی.

دروښ وايي: چي عموم افضل واشمل دی والی العموم ذهب صاحب روح البيان و صاحب روح المعاني والمظهري رحمهم الله فخذ ما صفا ودع ماكدر.

فائده: مفعول اول د امر الله محذوف دی والتقدير ما امرهم الله وان يوصل مفعوله الثاني.

دروښ وايي: چي ددې آيت په عموم کي صلة الرحم داخل دی او د علماؤ اختلاف دی په حد کي قرابت چي وصل يې واجب دی. بعض علماً وايي چي حد يې دادی چي ذي رحم محرم وی يعني که يو نر فرض سي او بل ښځه نکاح يې ابدي سره حرامه وي فعلی هذا لايدخل فيه اولاد الاعمام والعمات واولاد الاخوال والخالات، او بعض علماً وايي چي مراد عام دی که محرم او که غير محرم وي که وارث وي او که غير وارث وي، قال صاحب روح البيان وهو الصواب، او امام النووي وايي چي وهذا هو الاصح.

فائده: محرم هغه څوک بولي چي يو نر فرض کړي او دوهم ښځه نکاح يې علی التابيد سره حرامه وي، نو اخت الزوجة خارج ده، ولي د هغې نکاح په وخت د حيوة د اخت ناروا ده او که يې خور مړه سي د اخت الزوجة نکاح ورته روا ده، په شرح کي د طريقه محمديه وايي چي په صلة الرحم کي يوحد معين نسته بلکي اعتبار عرف لره دی لکه يو هديه ورکول او کومک سره کول بالقول او العمل، او نه سره هېرول او يو د بل ملاقات ته ورتلل، او کمه مرتبه يې سلام دی او يا خط ور استول دي، وعن انس بن مالک رضي الله عنه ان رسول الله ﷺ قال من احب ان يبسط الله في رزقه، که د چا خوښه وي چي ده ته فراخي جوړه سي په رزق کي وينسأ له في اثره او تاخير وکړل سي په اجل او عمر کي دده، فليصل رحمه، نو صله رحمي دي کوي، او د عبد الله بن عمرو رضي الله عنه څخه روايت دی قال النبي ﷺ ليس الواصل بالمكافي (نه دی وصله رحمي چي په عوض صله رحمي کوي مثلاً، نو قريب تاته يو شی هديه درکړه ته هم يو شی هديه ورکړې) ولكن الواصل اذا انقطعت وصلها.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې په باب کې د صلة الرحم احادیث کثیره په بخاري او مسلم وغیرهما کې موجود دی، لکن د اوسنۍ زمانې رفتار د مسلمانانو او کړه وړه د حدیث بر خلاف دي حتی چې پلار او زوی، ورور او ورور وغیرهم په لږ شي کې چې یې خلاف سره راسي په کلو کلو یو و بل ته سلام نه اچوي او ملاقات ته نه سره ورځي. پښتانه وایي: دا یې قباله په چا یې منې. قال حافظ شیرازي رحمه الله:

یاری اندر کس نمی بینم یارانرا چه شد
دوستی کی آخر آمد آشنا د آن را چه شد
کسی نمی گوید که یاری داشت حق دوستی
حق شناسانرا چی حال افتاد یاران را چی شد

وَيَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ وَيَخَافُونَ سُوٓءَ الْحِسَابِ ﴿٢١﴾

او بېرېږي له خدای (ﷻ) څخه ددوی یعني له عذاب څخه د خدای او له بد حساب څخه او په حاسبوا قبل ان تحاسبوا سره عمل کوي .. سعدي میګوید:

تو پېښ از عقوبت در عفو کوب ..... که سودی ندارد فغان زیر چوب

دروښ وایي: چې سوء الحساب دادی چې په ورځ د قیامت صغیره او کبیره ګنهونه تولې وسړي ته عرض سي او هیڅ شی ور وه نه پخښل سي، نو د بد حساب معنی تنګ حساب والا فحساب الله لا یوصف بالسوء بالمعنی المتعارف لانه ورد لا ظلم الیوم وما انا بظلام للعبید.

وَالَّذِينَ صَبَرُوا ابْتِغَاءَ وَجْهِ رَبِّهِمْ

او هغه کسان چې صبر یې کړی لپاره د طلب د رضا د خدای ﷻ، نو مراد له وجه څخه رضا کما هو عرف العرب لا الوجه یا المعنی المتعارف لعدم کونه جسما کما هو المثبت في العقائد.

پوه سه: چې اهل لغت وایي چې صبر که متعدي په لفظ د علی وي چې صبر علی الشیئ دی، نو تولې اوامر الهیه وي ته شامل دی یعني الصبر علی الصلوة والزکوة والصوم وغیرها من المأمورات او که لفظ متعدي په عن سره یعني عن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الشيئ، نو تولو منهياتو ته شامل دی يعني الصبر عن شرب الخمر و عن الزنی واللواطة وغيرها من المنهيات. او لفظ د صبر متعدي په في سره وُ يعني الصبر في الشيئ، نو صبر ته په تولو مصائبو کي شامل دی يعني الصبر في الفقر، والصبر في موت الولد والصبر في الامراض وغيرها من المصائب والی هذا يرجع جميع التفاسير التي ذكرها المفسرون في تفسير هذه الآية. قال ابن عباس ﷺ على ما امروابه، وقال العطاً في المصائب وقيل عن المعاصي و اللفظ الاخصر الجامع مخالفة الهوى فيشمل الكل.

دروښ وايي: چي و ينبغي ان يكتب هذه الفائدة بمداد الذهب على قراطيس الاذهان فقلما تجدها في غير هذا التفسير و لله الحمد و من الله التوفيق.

وَأَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَأَنفَقُوا مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ سِرًّا وَّعَلَانِيَةً

او اداً كوي لمونځ (سواءً كان فرضاً او واجباً او مسنوناً ومن النوافل) او دوی نفقه کوي بعض له هغه مال څخه چي موږ په رزق ورکړي دوی ته په پټه خوفاً من الرياً وهو الافضل في النوافل بالظاهر في الزكوة المفروضة نفياً للتهمة بكونه مانع الزكوة واقتداً الغير به.

پوه سه: چي لفظ د "من" په مما کي لپاره د تبعيض دی، نو نفقات مفروضه که د ذهب او فضه وي او که د سوائمو من الابل والبقر والغنم وغيرها تولو بعض دي د مال کما لايخفی، او په نفلي صدقه کي د من تبعيضي فائده نهي له اسراف څخه دي بانفاق کل المال لکن هذا النهي يختلف باختلاف الاشخاص من الصبر والتوكل على الله كما روي ان النبي ﷺ لما امر الناس بالصدقة حين ارادته غزوة تبوک فكل واحد من الصحابة الكرام رضي الله عنهم نو هر صحابي بما في الوسع صدقه او مال سره راتګ وکړی، عمر رضي الله عنه وايي چي زه په دغه وخت کي تر نورو اقاتو شتمنوم، نو په زړه کي مي وويل چي که ته يو وخت پر ابوبکر رضي الله عنه غالب کېدې ننه به غالب سې، نو خپل تولو مال او متاع البيت مي سم نيمی کړه، نيم مي کورته پرېښو او نيم مي عليه الصلوة والسلام ته راوړی، نو ده مبارک چي دا دومره مختلف شيان وليدل، نو ماته يې وويل چي په کور کي دي څه شی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پرېښو؟ ما ورته وويل چې نيمايي مال مي کور پرېښو، وروسته ابوبکر ﷺ هم ورته مختلف اموال راوړل. علیه الصلوة والسلام ورته وويل چې کور ته دي څه شی پرېښو؟ ابوبکر ﷺ ورته وويل الله ورسوله. عمر ﷺ وايي چې ما په خپل زړه کې دا مشوره وکړه چې اېنده به د ابوبکر ﷺ د مقابلې نيت نه کوې.

وَيَدْرَءُونَ بِالْحَسَنَةِ السَّيِّئَةَ

دوی دفعه کوي په عمل صالح سره عمل سيئ يعني بد، قاله ابن عباس ﷺ اخذاً من قوله تعالى ان الحسنات يذهبن السيئات. وروي احمد بسند صحيح عن ابي ذر ﷺ عن النبي ﷺ اذا عملت سيئة فاتبعها حسنة يمحها (چې بد کار دي وکړې سمدستي ښه کار پسې کوه هغه سيئه به محو کړي) او ابن عساکر د عمر بن الاسود ﷺ په سند مرسل داسې روايت کړی چې لس سيئات چې ته وکړې يوه حسنه پسې وکړې هغه سيئات به له منځه يوسي.

دروېش وايي: چې وهذا سر قوله علیه الصلوة والسلام ان الحسنة الوحدة تكتب بعشر امثالها، او ابن کيسان رحمه الله وايي چې مراد له سيئة څخه ګناه ده. او مراد له حسنة څخه توبه ده. قال رسول الله ﷺ اذا علمت سيئة فاحدث عندها توبة السر بالسر والعلانية بالعلانية رواه احمد عن عطا رحمه الله. ترجمه: چې بد کار دي وکړې نو په نېز د بد کار توبه وکاږه که بد کار پټ وې نو پټه توبه وکاږه کالزنی وشرب الخمر واللواطة وغيرها، او که دي ګناه ښکاره وه په ښکاره توبه وکاږه مثلاً خلګ دي واعتزال يا وهابيت وغيره ته دعوت کړي. نو ته به هم په ښکاره توبه کاږې تاچې ستا ګمراهان کړي خلګ يې واوري لعلهم يرجعون. او بعض مفسرين رحمهم الله وايي چې شر په شر سره مه دفع کوې بلکې په خير سره په دفع کوي، او سدي رحمه الله وايي چې څوک که د چا سره بېعقلي وکړي دی دي حلم ورته کوي، او قتاده رحمه الله وايي که چا بد درسره وکړه ته احسان ورسره وکړه، او حسن رحمه الله وايي که تا له چا څخه يو شی وغوښتی ده ته محروم کړې بله ورځ که هغه سړي ستا څخه يو شی وغوښتی ته يې مه محرومه کوه، او داغه رنګه که يو قريب ستا څخه قطع د صلې کاوه ته وصل ورسره وکړه يعني صلة الرحم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قال الله تعالى واذا خاطبهم الجاهلون قالوا سلاماً. مسلم له ابو هريره ﷺ څخه روايت کړی دی چې يو سړی و عليه الصلوة والسلام ته راغلی او وه يې ويل ان لي قرابة اصلهم ويقطعوني. مالره قريبان سته چې زه صله رحمي ورسره کوم او دوی قطع د صلة الرحم را څخه کوي. واحسن اليهم ويسيئون اليه. او زه احسان ورسره کوم او دوی بد کوي دما سره "واحلم ويجهلون علي" او زه حلم ورسره کوم او دوی د جهل خبري راته کوي. نو عليه الصلوة والسلام ورته وويل که داغسې وي لکه ته چې وايه نو گويا ته ددوی په خولو تودې اېرې چې په عربي يې مَل بولي او په پښتو يې پړيندی بولي ور اچوې او همېشه به ستا سره د خدای ﷻ له خوا معاون وي پر دی مادمت على ذالک.

فائده سنيه: عبدالله بن المبارک رحمه الله وايي چې تر دې ځايه پورې اته نبه خويونه پوره سوه چې اشاره و اتو دروازو ته د جنت ده. ولهذا خبر يې دا قول د خدای ﷻ وگرځېدی.

أُولَٰئِكَ لَهُمْ عُقْبَى الدَّارِ ﴿٢٢﴾

دغو کسانو لره چې موصوف په مذکوره صفاتو سره وي ثواب دی په دار الآخرة کي. في القاموس اعقبه ای جاز اه آه ثواب ته فعل ولي عقبى وايي لانه يعقب الفعل.

فائده: عقبى او عاقبة او عقبه په اصطلاح کي د قرآن عظيم الشان خاص دی په ثواب او خير الجزاً على الحسنة پورې لکه چې معاقبت او عقاب او عقوبت چې خاص دی په عذاب او سوء الجزاً على السيئة پورې. قرآني آيتونه د ثواب په باب کي (۱) لهم عقبى الدار (۲) والعاقبة للمتقين (۳) هو خير ثواباً وخير عقباً (۴) ونعم عقبى الدار، د عذاب په باره کي قرآني آيتونه (۱) فحق عقاب (۲) شديد العقاب (۳) وان عاقبتم فعاقبوا بمثل ما عوقبتم به (۴) من عاقب بمثل ما عقب به، لكن يستعمل كل واحد من هذه الالفاظ في ضد معانيها اما بالاشتراک اللفظي او باستعارة الضد للضد للاشتراک في الضدية كما تقرر في علم البيان، ومعنى الآية اولئک لهم جزاً حسن في الدار الآخرة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جَنّٰتُ عَدْنٍ يَّدْخُلُوْنَهَا وَمَنْ صَلَحَ مِنْ اٰبَآئِهِمْ وَاَزْوَاجِهِمْ وَذُرِّيّٰتِهِمْ

جنتونه دي د اقامت، دا عبارت قرآني يا بيان ده د عقبى الدار او يا مبتدأ ده خبر يې قوله تعالى "يدخلونها آه" دى، يعني دوى به داخليږي و هغه جنتونه. او هغه څوک چې صالح وي له پلرو څخه ددوى او له مايښو څخه ددوى او له اولادو څخه ددوى،

بوه سه: چې من صلح عطف دى پر ضمير مرفوع په يدخلون کې او دا عطف بېله تاکيد په ضمير منفصل سره روا دى لوجود الفصل بين المعطوفين بالاضافة الى الضمير في المعطوف عليه. او زجاج رحمه الله چې وايي چې فصل کافي نه دى په عطف پر ضمير متصل باندې بلکې خواه مخواه تاکيد بالمنفصل غواړي هغه وايي چې ومن صلح عطف نه دى بلکې مفعول معه دى.

فائده: مراد له صلاح څخه مطلق ايمان دى لا الصلاح الكامل كما قوله تعالى في سورة يوسف بدعائه. والحقني بالصالحين بدليل العطف لانه لو كان المراد بالصلاح كماله لدخل المعطوف في المعطوف عليه وهو خلاف مقتضى العطف يعني المغايرة بين المعطوفين.

فائده: ددې آيت څخه دا استنباط کېږي چې خداى جل جلاله درجات د کاملين في الصلاح وهغو کسانو ته ورکوي چې دوى و درجې د کاملين في الصلاح نه وي رسېدلى او نه يې د کاملينو په شان عمل کړى وي من آبائهم (امهات په آبائهم کې داخل دي تبعاً) وازواجهم وذرياتهم. لكن بشرط الايمان في هولاء. والا لدخل آذر بتوسط ابنه ابراهيم عليه السلام ولدخل كنعان بتوسط ابيه نوح عليه السلام الى غير ذالك. او دا دخول تبعاً لپاره د تطيب د زړو د كاملين في الصلاح دى وتعظيماً لشانهم. حاصل دادى چې مجرد نسبت او حسب بدون الايمان كافي نه دى بدليل ماقلنا آنفاً.

وَالْمَلٰٓئِكَةُ يَدْخُلُوْنَ عَلَيْهِمْ مِّنْ كُلِّ بَابٍ ۝

او ملكي داخليږي پر جنتيانو له هرې دروازې څخه د جنت او يا له دروازو څخه د قصورو ددوى. مقاتل رحمه الله وايي چې ملكي په مقدار کې د ورځې د دنيا درې وارد جنتيانو ته ورځي معهم الهدايا والتحف.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ بِمَا صَبَرْتُمْ

پوه سه: چي سلام مبتدأ ده او علیکم يې خبر دی او جمله حال ده له ضمیر څخه د یدخلون بتقدیر القول ای قائلین.

سوال: سلام خو نکره خالص ده، نو ابتدائیه به څرنګه صحیح وي؟

ځواب: محقق جامي په شرح کي د کافیه وایي چي د سلام سره من قبلي مقدر دی، نو نکره مخصصه ده، ومعنی سلام الملائکة سلمکم الله من الافات التي تخافونها ولا زوال لما انعم الله علیکم، کذا قال المظهري رحمه الله علیه.

سوال: سلام خو دعا ده او دعا خو انشا ده وما قاله المظهري اخبار فکیف یکون معنی السلام؟

ځواب: معنی د قول مظهري رحمه الله علیه دعا په ادامه سره د تلک النعم.

بوه سه: چي کلمه د "با" په بما صبرتم کي سببیه ده، او کلمه ما مصدریه ده ای بصبرکم عن المعاصي وصبرکم علی الطاعات وصبرکم في المصائب وقد مر تفصیل معنی الصبر فتذکر.

فَنِعْمَ عُقْبَى الدَّارِ ﴿٢٤﴾

نبه دی عقبی الدار ددوی.

دروېش وایي: چي معنی د عقبی الدار نژدې تهره سوه فلا نعیده، له حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دی چي فقراؤ د مسجد نبوي یعني اصحاب الصفة رضي الله عنهم و رسول الله صلی الله علیه وسلم یو سړی ورواستاوه هغه سړي وویل اني رسول الفقرا الیک فقال علیه الصلوة والسلام مرحباً بک جئت من قوم هم احب الي" نو هغه سړي وویل چي فقرا وایي چي "الاغنیاً قد ذهبوا بکل خیر" یحجون، او مورډ حج قدرت نه لرو، ویتصدقون او مورډ قدرت د صدقاتو نه لرو او مریان ازادوي، مورډ قدرت نه پر لرو، او چي دوی ناجوړي سي خپل فاضله اموال ذخیره د اخیرت وګرځوي یعني مورډ قدرت نه پر لرو، علیه الصلوة والسلام و رسول ته د فقراؤ وویل چي فقراؤ ته زما له خوا دا پیغام ورسوه چي هغه څوک چي صبر وکړي پر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فقر او ستر گي د ثواب خداى ﷻ ته لري دري خصلته دي چي اغنياؤ لره نسته، اما الخصلة الاولى فان في الجنة غرفاً من ياقوت احمر چي اهل جنت ورته گوري لكه اهل الدنيا چي ستورو ته گوري لايدخلها الا نبي فقير او شهيد فقير او مؤمن فقير والخصلة الثانية يدخل الفقراً الجنة قبل الاغنياً بنصف يوم يعني من ايام الآخرة وهو مقدار خمسة مائة عام والخصلة الثالثة اذا قال الفقير سبحان الله والحمد لله والله اكبر مخلصاً وقال الغني مثل ذالک لم يلحق الغني الفقير في فضله تعالى وتضاعف الثواب كه څه هم غني د هغه كلمات تر سره لسي زره ورځي خيرات هم كړي وكذالک اعمال البر كلها للفقير والغني، نو رسول الفقراً پيغام نبوي ﷺ وفقراؤ ته ورساوه فقراً وويل رضينا يارب.

پوه سه: چي مخصوص بالمدح د نعم محذوف ذي والتقدير فنعم عقبى الدار جنات عدن.

دروښ وايي: چي خداى پاک اوس د مقابلي دلي د اولي دلي بيان كوي او وايي:

وَالَّذِيْنَ يَنْقُضُوْنَ عَهْدَ اللّٰهِ مِنْۢ بَعْدِ مِيْثَاقِهٖ

او هغه كسان چي ماتوي وعده د خداى ﷻ يعني چي دوى د خداى ﷻ سره كړي وه وروسته تر تينګه د هغې يعني بالاقرار والقبول يعني چي يوه له هغو څخه دا وعده وه چي په تورات كي له يهودانو څخه او په انجيل كي له نصارى وو څخه اخستل سوې وه چي تاسي به ايمان راوړئ پر محمد عليه السلام چي نعوت د هغه په دواړو كتابو كي ذكر سوي، كريمه "فلما عرفوه كفروا به.

وَيَقْطَعُوْنَ مَآ اَمَرَ اللّٰهُ بِهٖٓ اَنْ يُّوْصَلَ

او دوى قطع كوي، هغه څه چي خداى ﷻ په هغه سره امر كړي دي چي ددې شي په وصل او پيوند كولو او هغه قطع ددوى داوه چي پر بعض كتابو ايمان لري لكه يهود پر تورات او نصارى پر انجيل، او په بعض كتابو لكه يهود پر انجيل او قرآن كريم او نصارى په تورات او قرآن كريم سره كفر كوي او جلا والى په منځ كي د خداى او د رسولانو د خداى لكه يهود چي وايي چي پر خداى ايمان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لرو او پر عیسی او محمد علیهما السلام ایمان نه لرو، یا نصاری وایي چي پر خدای ﷻ ایمان لرو او پر رسولانو لکه موسی او محمد علیهما السلام ایمان نه لرو او قطع د صلة الارحام کوي چي ددې ټولو په وصل سره خدای ﷻ دوی امر کړي وه.

وَيُفْسِدُونَ فِي الْأَرْضِ

او دوی فساد کوي په مځکه کي چي یو له هغو څخه کفر او معاصي دي، او بل هلاکول دي د کښتو په اور اچولو سره، او بل هلاک د مواشي د مسلمانانو بالقتل، او بل فساد دی په مځکه کي بغیر الحق.

دروښ وایي: چي په مختلفو احادیثو کي چي روایت د بعض له ابوبکر ﷺ څخه دی له نبي کریم ﷺ څخه راغلي دي مامن صاحب ذنب احری ان یجعل الله لصاحبه العقوبة في الدنیا مع ما یدخر له في الآخرة من العذاب والمنع عن دخول الجنة من البغي وقطیعة الرحم (ای دخولاً اولیاً، متفق علیه) و عن عبدالله بن ابی اوفی ﷺ قال سمعت رسول الله ﷺ لاینزل الرحمة علی قوم فیهم قاطع رحم (رواه البیهقي في شعب الایمان) وعن عبدالله ابن عمرو ﷺ قال قال رسول الله ﷺ لایدخل الجنة منان ولا عاق ای لابوین والاساتذة ولا مدمن خمر (چي پر شراب څیښلو همېشه توب کوي رواه النسائي والدارمي)

دروښ وایي: چي د بعضو احادیثو چي ما یې مخرج نه دی بیان کړی د هغو مخرج دغه کسان دي احمد، بخاري، ابو داؤد، ترمذي، ابن ماجه، حاکم او ابن حبان رحمهم الله.

أُولَٰئِكَ لَهُمُ اللَّعْنَةُ وَلَهُمْ سُوءُ الدَّارِ

دغو کسانو لره دي لعنت وي ای البعد عن رحمة الله ﷻ. او دوی لره بد عذاب یعني شدید عذاب في دار الآخرة وهو جهنم، په حدیث نبوي صحیح کي راغلي دي "الفتنة نائمة لعن الله من ایقضها" فتنه بیده ده یعني نسته، لعنت د خدای ﷻ دي وي پر هغه چا چي بیده فتنه ویښوي، یعني چي مسلمانان په اضطراب او اختلاف او په محنت کي واقع کوي بلا فائدة دینیة وذالک حرام لانه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فساد في الارض واضرار بالمسلمين والحاد في الدين، سعدي رحمه الله عليه ميگويد:

زان همنشين تا توانی گريز ..... كه مر فتنه خفت را گفت خيز

ومن الفتن ان يقول للناس ما لا تصل عقولهم اليه كالمتشابهات القرآنية والحديثية، وفي الحديث الصحيح كلم الناس على قدر عقولهم.

مسئله: باچا يا رئيس جمهور چي نائب د كافر نه وي كه څه هم ظالم وي خلگ به پر بغاوت د هغه نه امر كوي لكونه فتنةً وفساداً في الارض، لكن كه آمر او باچا په حقيقت كي كافر وي او مسلمان يې براى نام رئيس جمهور تاكلى وي د هغه حال جلا دى فتدبر. وفي الحديث الصحيح ما نقض القوم من عهد الا كان القتل بينهم ولا ظهرت فاحشة (اى الزنى واللواطة) الا سلط الله عليهم الموت، ولا منع قوم الزكوة الا حبس عنهم القطر يعني باران.

دروښ وايي: چي دا ټوله بيان سوي شيان او كارونه په تجربه رسيدلي دي.

وفا وعهد نكو باشد اربيا موزی ... وگر نه هر كه توبينی ستمگيری داند

اَللّٰهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَقْدِرُ ۚ وَفَرِحُوْا بِالْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۗ

خداى (جل جلاله) فراخي د رزق كوي پر هغه چا چي اراده يې سي او تنگي د رزق راولي يعني لمن يشاء، او خوشالي كوي اهل مكه يعني خوشالي د كبر او د گمراهى يعني په فراخي د رزق او مال و منال د ژوند ناقص د دنيا او شكر هم نه وايي.

وَمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا فِى الْاٰخِرَةِ اِلَّا مَتَاعٌ ۝

او نه دى ژوند د دنيا په مقابل كي د نعمتو د آخرت مگر د څو ورځو نفع اخيستل دي لكه زاد د شبانه مثلاً، ددي آيت حاصل دادى چي عاقل سړي لره په كار ده چي خپله سعي او كوشش ټوله د آخرت و نعمتو ته مبذول كړي الا ما لابد له من السعي في الحيوة الدنيا، ومن الله التوفيق.

وَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْهِ اٰيَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ ۗ

او وايي هغه كسان چي كافران دي "يعني مشركى اهل مكة" وروسته تر دې چي معجزات ظاهرات لكه شق القمر او تسبيح د شگو په لاس كي د ابو جهل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وغير ذالک. ولي نه نازل کېږي پر محمد (عليه السلام) باندي "لولا" په معنى د هلا دى چي حرف تحضيض يا تنديم يې بولي، يعني که پر مضارع داخل سي لپاره د تخصيص دى يعني باعثه کول پر هغه کار، او که پر ماضي داخله سي لپاره د پښېمانه کولو هر يو کار چي سړي کړى وي.

پوه سه: چي مراد له نزول څخه معناه المشهور نه ده يعني له اسمان څخه بلکې په معنى د ولي نه ورکړل کېږي ددې تأويل سبب دادى چي تولـه ددوى غوښتلې معجزې خو له اسمانه نه نازلېدلې "آية من ربه" يوه معجزه له جانبه څخه د خداى دده يعني چي موږ يې غواړو، لکه دوى چي به ويل چي د صفا غر دي د سرو زرو سي يا د مکې تولـه مځکه غرو نيولې ده ستا رب دي دغه غرونه ايسته کړي چي مځکه د مکې فراخه سي يا دا چي مځکه د مکې جاري اوبه نه لري، ته خپل خداى ته ووايه چي يوه جاري ويالـه پکښې تهره کړي چي دواړه طرفونه به موږ باغونه جوړ کړو يعني نو موږ به ستا تصديق وکړو په نبوت کې.

پوه سه: چي دا تولـه غوښتنې ددوى تعنتاً او عناداً او تکبراً وې.

قُلْ إِنَّ اللَّهَ يُضِلُّ مَنْ يَشَاءُ وَيَهْدِي إِلَيْهِ مَنْ أَنَابَ ﴿٢٧﴾

ته ورته ووايه چي په تحقيق خداى (ﷻ) گمراه کوي هغه څوک چي دده اراده د ضلال ورته وسي، او لار وربنيي و ايمان او طاعت ته او ترقي و مدار جوته قرب د خداى ﷻ او وجنت ته هغه چاته چي رجوع وکړي و خداى ﷻ ته يعني اقبل اليه تعالى بقلب سليم عن العناد والتكبر والتعنت، نو خداى پاک د هغه ته هدايت کوي په هغو معجزاتو سره بل بادتي من تلک المعجزات.

حاصل د ځواب دادى چي قصور په نزول کي د آياتو خو نسته لکن الآيات والمعجزات لا توجب الهداية انما الهداية والضلالة بيد الله تعالى يضل من كان على صفتكم يا اهل مكة من العناد والتكبر والتعنت فلا سبيل الى هدايته وان انزلت كل آية.

الَّذِينَ آمَنُوا وَتَطْمَئِنُّ قُلُوبُهُمْ بِذِكْرِ اللَّهِ

هغه کسان چي ايمان يې راوړى (بدل دى د من اناب او يا خبر دى د محذوف

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مبتدأ يعني هم الذين آمنوا آه) او ارام او قرار نسي په زړو کي ايمان او يقين او شک وشبه يې له زړو څخه وځي په ذکر د خداى ﷻ چې مراد څنې قرآن دی په قول د مظهري، او مراد له ذکر څخه عام دی چې قرآن ته هم شامل دی او کلمه توحيد ته هم او سبحان الله وبحمده سبحان الله العظيم او نورو اذکارو ته هم په نېز د روح البيان شامل دی.

دروېش وايي: چې عموم ډېر زېبا دی او د احاديث صحيحه وو سره سمون لري ..... ع :. وللناس فيما يعشقون مذاهب.

أَلَا بِذِكْرِ اللَّهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ ﴿٢٨﴾

آګاه اوسه چې په ذکر د خداى ﷻ بالمعنى المذکور اطمنان او زيادت يقين او آرام پيدا کوي زړونه يعني د مؤمنانو، روح البيان وايي چې زړونه د عوامو په ثنا او تسبيح سره آرام مومي، او زړونه د خواصو په حقائقو د اسما الحسنى بر قراره کېږي، او زړونه د اخصو کسانو په مشاهده د تجلياتو او انوارو خوشاله کېږي.

پوه سه: چې زړونه څو قسمه دي (۱) قلب قاس يعني سخت وهو قلب الكافر والمنافق فاطمنانوه بالدنيا وشهواتها (۲) قلب ناس وهو قلب المؤمن المذنب فاطمنانه بالتوبة ونعيم الجنة (۳) قلب مشتاق وهو قلب المؤمن المطيع فاطمنانه بذكر الله كما في هذه الآية، په نفائس المجالس کي وايي چې ذکر د خداى ﷻ صفايي د زړو ده او سبب د رضا د محبوب ده، نو څوک چې د خداى پاک ذکر کوي خداى ﷻ دوی يادوي، ، کريمه "فاذكروني اذكركم".

په صحيح حديث کي راغلي دي چې عليه الصلوة والسلام يو څو کسان چې په عربي يې سريه بولي د نجد و خواته واستول فغنموا ورجعوا، نو هغو غنيمتونه راوړل او بيرته مدينې ته راغله، نو يو سړي له اصحابو څخه وويل مارئينا بعثاً افضل غنيمةً واسرع رجعةً من هذا البعث، موږ نه دی ليدلی يو لښکر چې افضل دي وي په غنيمت کي او چابک رجوع کونکی تر دغه لښکر، نو عليه الصلوة والسلام وويل الا اذلكم على قوم افضل غنيمة و اسرع رجعةً قوم شهدوا صلات الصبح ثم جلسوا يذكرون الله حتى طلعت الشمس.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ترجمه: ايا زه دلالت او ښوونه نه وكړم تاسي ته پر يو قوم چي افضل وي په غنيمت راوړو كي او په ژر رجوع كي هغه قوم دى چي د سهار لمانځه ته حاضر سي يعني د سهار لمونځ په جماعت سره وكړي او بيا كښېني ذكر د خداى ﷻ كوي يعني هر ذكر چي وي تر هغو پوري چي لمر راخېژي.

دروښ وايي: چي بغوي رحمه الله يو معقول سوال راوړى دى چي په آيت قرآني في موضع آخر كي دا راغلى دى، انما المؤمنين الذين اذا ذكر الله وجلت قلوبهم. نو طمانيت قلبي لكه ددې آيت مقتضى چي ده الا بذكر الله تطمئن القلوب او د "وجل" كما في آية اخرى المذكورة آنفاً څرنګه سره يو ځاى كېداى سي په يوه حال كي وهي حالت ذكر الله باى معنى كان الذكر كما من الاختلاف. بيا بغوي جواب وركړى دى چي مؤمن ته چي وجل پيدا كېږي په نېز د اورېدلو د آياتو د عذاب او عقاب او چي طمانيت ورپيدا كېږي په وخت د اورېدلو د آياتو د ثواب او رحمت يعني زړه د مؤمن بېرېږي چي د خداى ﷻ په وعيد او شدت حساب كي فكر وكړي او ارام د زړه ورته پيدا كېږي چي فضل د خداى او كرم د خداى ورپياد كړي انتهى، او مظهري وايي چي د كلام څخه د بغوي دا فمهمږي چي په منځ كي د وجل او طمانيت منافات سته او سره ددې چي منافات نسته لان مذهب اهل سنة والجماعة ان الايمان بين الخوف والرجاً. او بل دا چي طمانيت چي مبني پر الفت دى يجتمع مع الوجل.

دروښ وايي: چي دې اجتماع لره دېر مثالونه سته مثلاً يو لور وي چي پر پلار دېره گرانه وي لكن مع هذا يخاف ان يغضب عليه فيخرجه من البيت، داغه رنګه يو دېر خادم طالب علم د مشفق استاذ څخه بېرېږي چي پر ادنى شي او عمل به ماته كالي راكړي او له مسجد يا مدرسې څخه به مي وشړي وعلى هذا فقس، وايضاً روى الترمذي رحمه الله عن انس رضي الله عنه چي رسول الله د يو ځوان پوښتنې ته ورغلى چي په حالت كي د مرګ ؤ، نو عليه الصلوة والسلام پوښتنه وكړه كيف نجدك هغه ورته وويل ارجوا الله يا رسول الله يعني د خداى ﷻ د رحمت او مغفرت اميد لرم او له خپلو ګنهو څخه بېرېږم، فقال رسول الله ﷺ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي دا دوه خويه نه سره جمع کېږي په زړه کي د مؤمن په مثل کي د دغه حالت چي د زکندن وخت دي نژدې دی مګر خدای پاک به ورکوي چي دده امید دی، يعني مغفرت، او خدای ﷻ به يې آمن ګرځوي د مما يخاف يعني عذاب د ګنهو فاجتمعا في هذا العبد في حالة واحد فكيف المتنافات بين الرجا والخوف.

دروښ وايي: چي له بعض اکابرو څخه روايت دی که يو چا په ثلث اخير کي د شپې د سه شلبې "لا اله الا الله" زر واره ووايه په حضور قلب سره او په قصد مصمم سره او يو ظالم ته يې واستوله يعني ښېرا يې ورته وکړه ژر به يې خدای پاک هلاک کړي او کور به يې ورخراب کړي او آفات به پر مسلط کړي له منځه به يې يوسي، او شيخ ابو العباس البوني رحمه الله وايي که چا زر واره "لا اله الا الله" د بيد بدلو په وخت کي باتت روحه تحت العرش،... مولی جامي قدس سره:

دلت آئينه خدای نماست ..... روی آئينه تو تيره چراست
صيقلی وار صيقلی ميزن ..... باشد آئينه شود روشن
صيقلی آن اگر نه آگاه ..... نيست جز لا اله الا الله

فائده: شرط د اذکارو دادی چي ذاکر به تلقين له اهل ذکر څخه اخلي. نو ثمرات د ذکر ژر پر مرتبېږي.

اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ طُوْبٰى لَهُمْ وَحُسْنُ مَاٰبٍ ﴿۲۹﴾

هغه کسان چي ايمان يې راوړی دي يعني بالقلب لا بمجرد اللسان فيخرج منه المنافق او عمل کوي د خصلات صالحات من الفرائض والواجبات والسنن والمستحبات البدنية والمالية "الذين آمنوا مبتدأ" ده "طوبى لهم" يې خبر دی "وحسن مآب" او ښه ځای د رجوع ستة چي جنت دی دار المقربين والابرار والصالحين والاخيار جعلنا الله منهم بفضله وكرمه.

بوه سه: چي ترک د منهياتو مندرج په عمل الصالحات کي. کريمه "ان الصلوة تنهى عن الفحشآ والمنكر وكذالک من يؤدی صالحات حسب ما ذكرناه فهو للمنهيات تارک بالطريق الاولى.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: "طوبى" پر وزن د فعلى ده من طاب يطيب كبشرى وزلفى لكن چونكه طوبى اجوف يايي دى، نو اصل يې طيبى ؤ يا يې په واو بدله كړه په سبب د ضمه د ما قبل لكه موقن وموسر.

پوه سه: چې طوبى يا مرفوع محلاً دى يا منصوب محلاً دى يقال في العربية طيباً لك وطيب لك وسلاماً عليك وسلام عليك، او لام د لك لپاره د بيان دى نحو سقياً لك، ترجمه طوبى پر قول د ابن عباس رضي الله عنه فرح لهم وقرة عين، او عكرمه رحمه الله وايي نعم مآلهم او معمر له قتاده څخه روايت كړى دى يقول الرجل طوبى لك اذا اصبت خيراً، او ابراهيم رحمه الله وايي خير لهم وكرامة، او سعيد بن جبير رحمه الله وايي چې طوبى جنت ته وايي په حبشي ژبه، او بغوي رحمه الله د حديث صحيح په حواله وايي چې طوبى د يوې درختي نوم دى.

دروښ وايي: چې دا ټولي معاني صحيح دي او لفظ د طوبى د هري معنى محتمل دى، نو هر مفسر هغسې تفسير كړى دى چې د لفظ سره د طوبى څه مناسب په خيال ورغلى دى، فلفظ طوبى من جوامع الكلم وهذا من بلاغات القرآن العزيز التي فاق من بلاغة كل منطيق.

كَذٰلِكَ اَرْسَلْنٰكَ فِيْٓ اُمَّةٍ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهَآ اُمَمٌ لِّتَتْلُوَا عَلَيْهِمُ الَّذِيْٓ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ وَهُمْ يَكْفُرُوْنَ بِالرَّحْمٰنِ ؕ

لكه موږ چې نور رسولان يعني تر تا دمخه استولي وه، استولى مو يې ته يا محمد په يو امت كي يعني امة العرب بل جميع طوائف الانس بل الجن ايضاً چې په تحقيق تېر سوي دمخه ستا تر امت ډېر امتونه من لدن آدم عليه السلام الى ذمنك حاصل دادى چې ارسال الرسل كوم نوى كار نه دى چې كفار مكه انكار څني كوي تاچې ته تلاوت او قرائت پر دوى د هغه كتاب چې موږ وحي كړي دي وتاته يعني القرآن العزيز. او دوى يعني كفار كفر او انكار كوي له لوى رحمت څخه د خداى جل جلاله.

دروښ وايي: چې ددې آيت په شان نزول كي مشهور اختلاف دادى چې دا آيت مكي دى سبب د نزول يې دادى چې ابوجهل د عليه الصلوة والسلام څخه چې په حطيم كي ناست ؤ او خواست يې كاوه يا الله يا رحمن، ابوجهل نورو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مشرکانو ته ورغلی او وه یې ویل ان محمداً یدعوا الٰهین یدعوا الله ویدعوا رحمٰن، او موږ خو نه پېژنو د رحمان په نامه مګر رحمان الیمامة یعني مسیلمة الکذاب دی فنزلت هذه الآیة ونزلت ایضاً قل ادعوا الله او ادعوا الرحمٰن ایا ما تدعوا فله الاسماء الحسنی" او ضحاک رحمه الله له ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت کړی دی چې دا آیت چې نازل سو "اسجدوا للرحمٰن قالوا وما الرحمٰن"

ترجمه: او حال دادی چې کفر کوي په هغه ذات سره چې بلیغ الرحمة دی او نعمت دده او رحمت دده و هر شي ته شامل دی "کما هو معنی الرحمٰن" علماً وایي چې رحمان ابلغ دی تر رحیم لان زیادة البنا تدل علی زیادة المعنی" او کفار مکه شکر د نعمتو د خدای جل جلاله نه وایي خصوصاً بارسالک الیهم ونزول القرآن الجامع للامور الدنیویة والدینیة بلغتهم. ولي چې دا دوه نعمته لوی د نعمتو دي پر کفارو د مکې، او قتاده او مقاتل او ابن جریج وایي چې دا آیت مدني دی یعني بعد الهجرة نازل سوی دی په صلح کې د حدیبیه چې علیه الصلوة والسلام سره د پینځه لس سوه (۱۵۰۰) صحابه کرامو رضي الله عنهم د عمرې په نیت په میاشت کې ذوا القعدة روان سوه لکن کفار مکه یې مانع وګرځېدله، وروسته تر دې بحث د کفارو د مکې د خوا او د علیه الصلوة والسلام د خوا چې تفصیل د قصې یې په سورة الفتح کې موجود دی. اخیراً سهیل بن عمرو د کفارو د مکې له خوا څخه راغلی چې د علیه الصلوة والسلام صلح پر دې وکړي چې په اوسني کال کې به بیرته ځئ په راتلونکي کال کې هم د ذوا القعدې په میاشتې کې موږ تاسي ته دریږ ورځې مکه درځالي کړو چې تاسي عمره وکړئ، نو علیه الصلوة والسلام وعلي رضي الله عنه ته چې خط یې زده ؤ داسي ووایل اکتب بسم الله الرحمن الرحیم د سهیل ډلي ورته ووایل لانعرف الرحمن الا صاحب الیمامة یعنون مسیلمة الکذاب، سهیل ورته ووایل چې نوشته کړه چې موږ په پخوا نوشته کول باسمک اللهم الی اخیر القصة والله اعلم بالصواب.

قُلْ هُوَ رَبِّي لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ مَتَابِ ﴿٣٠﴾

ووایه ته یا محمد (علیه السلام) چې دغه رحمن چې تاسي یې له پېژنند ګلوی څخه منکر یاست، زما مربي او متولي د کارو دی او یا مي ناصر دی، پر هغه رحمن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

زما اعتماد دی چي نصرت به راکړي پر تاسي باندي او خاص و هغه ته زما رجوع ده په مشکلاتو کي او په سختو حالاتو کي.

پوه سه: چي يعقوب رحمه الله دا لفظ په اثبات د يا وايي په حال کي د وقف او وصل، او نور قاريان يې په حذف د يا وايي په وقف کي والکسرة دليل عليها.

فائده: "هو" مبتدأ ده "ربي" يې خبر دی او لا اله الا هو يې خبر بعد الخبر دی والمعنی لا مستحق للعبادة الا هو، نو رحمٰن په دواړه وصفه موصوف دی الربوبية والالوهية يعني الاستحقاق للعبادة.

پوه سه: چي طبراني له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت کړی دی چي کفارد مکې و عليه الصلوة والسلام ته وويل چي که ته رشتيا رسول الله يې، نو زمونږ مړه شيخان مونږ ته راژوندي کړه ستا په نبوت سره چې ستا په نبوت سره مونږ ته شاهدي ادا کړي، او بل د مکې مځکه چي غرونو تنګه کړې ده دا غرونه ځني لپرې کړه، فنزلت هذه الآية.

وَلَوْ اَنَّ قُرْاٰنًا سُيِّرَتْ بِهِ الْجِبَالُ

او که چېرې په قرآن کريم سره ولاړ سي له خپل ځايو څخه غرونه او مځکه د مکې فراخه هم سي.

دروښ وايي: چي بغوي رحمه الله دې ېر مفصل شان نزول ددې آيت بيان کړی دی او وايي چي مشرکين د مکې چي يو له هغو څخه ابوجهل بن هشام او عبدالله بن امية او نور ګڼ شمېر مشرکان ورسره وه د کعبې شاته کښېنستل او نبي عليه السلام يې راوغوښتی، عليه الصلوة والسلام چي راغلی، نو عبدالله بن اميه ورته وويل چي که ته په دې خوشاله کېږي چي مونږ ستا متابعت وکړو او پر تا ايمان راوړو نو استه که ستا د قرآن په ذريعه غرونه د مکې تاچي مځکه فراخه سي چي هم دا اوس دا غرونو مځکه تنګه کړې ده تاچي مونږ کښتونه پکښې وکړو، او زمونږ لپاره له مځکې چينې راوباسه او په مکه کي ويالې راته وه بهيوه چي مونږ باغونه پرجوړ کړو او درختي پرشنې کړو، ولي چي ستا په ګمان خو ته اهون تر داؤد عليه السلام نه يې چي ددې په شان کي ويل سوي دي "وسخرنا له الجبال تسبح معه" ددې مقصد دا ؤ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي ستا لپاره دي دا عُرونه مسخر سي چي ستا په امر دي له مکي څخه ایسته سي، او یا مړي ته باد مسخر کړه چي مړي پر یو شي کښېنو او باد مو تر شامه پوري ورسوي او هوري خپل بعض کارونه تر سره کړو او هم په داغه ورځ مو باد بیرته خپلو کورو ته را ورسوي، ولي ستا په گمان څو ته اهون تر سلیمان بن داؤد نه یې په نېږد خدای ستا، او د سلیمان تخت څو سره د ملگرو باد په هوا وړی او بیرته یې په هغه ورځ کي بیرته شام ته راوړی، او یا مړي ته ژوندی کړه ځکه چي مړي جدي اعلی قصی بن کلاب یا یو بل مړی ژمړي له مړو څخه چي ستا خوښه وي چي مړي پوښتنه څني وکړو ستا په باره کي چي ته رسول یې او که څرنگه، ولي چي عیسی مړي ژوندي کول او ته خو ستا په گمان سپک نه یې پر خدای تر عیسی.

اَوْ قُطِّعَتْ بِهِ الْاَرْضُ اَوْ كُلِّمَ بِهِ الْمَوْتٰى

او یا قطع د مسافت بعیده د مخکي وکړل سي. یعني چي باد ستا مسخر سي او مړي قطع د مخکي د مسافات بعیده وکړو کمامر. او بعض مفسرین معنی د قطعت به الارض داسي کوي چي مخکه سره څیري سي او چینې او ویالې څني راووځي "او کلم به الموتی" او یا خبرل وکړل سي د مړو سره وروسته تر ژوند د هغو ستا د نبوت په باره کي چي ته نبي بر حق یې یا له ځانه څخه دعوه د نبوت کوې.

پوښتنه: "کلم" یې ولي مذکر راوړی؟

ځواب: لان الموتی مشتمل علی المذکر الحقیقي. او یا چي مراد د کفار مکه خو قصی بن کلاب و امثاله و.

بوه سه: چي ځواب د شرط محذوف دی یعني لما آمنوا لکه په هغه آیت کي "ولو اننا نزلنا الیهم الملائکة وکلمهم الموتی حتی قال في اخیر الآیة ما کانوا لیؤمنوا"

سوال: په دې آیتو کي نسبت د سیرت او د کلم یې ولي وقرآن ته وکړی حیث قال في اولها ولو ان قرآن او سره ددې چي قرآن خو دا کارونه نه کوي په خپله؟

ځواب: مراد دادی چي په برکت د تلاوت د قرآن عظیم به دا کارونه وکړل سي فافهم والله اعلم بالصواب والیه المرجع والمآب.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بَلْ لِلّٰهِ الْاَمْرُ جَمِيْعًا

کلمه د بل لپاره د اضراب ده، په تفسير حسيني کي وايي ددې آيت په تفسير کي "نه چنان است که کافران میگویند که بقرآن تو یا به فرمان تو این چیزها که کفار طلب آن کرده من قوله که کوههای مکه دور شود یا قطعت الارض یاکلم الموتی واقع شود، بلکه خلق این چیزها همه وهمه بقدرت پروردگار تعلق دارد" او خاص په خدای ﷻ پوري قدرت پر هر شي او خدای قادر دی چي مقترحات د کفارو دي په معرض کي د وجود راولي لکن اراده د خدای ﷻ تعلق نه دی پوري نیولی لعلمه تعالی بانه لاینفعهم الآیات والنذر.

دروښ وايي: چي د قرآن د عظمت په شان یو حکایت ته غوږ ونسئ چي یو وخت علي ﷺ مریض وٴ، نو ابوبکر و عمر او عثمان ﷺ ته وویل چي علي ناجوړی دی راځئ چي پوښتنې ته یې ورسو. نو درې واړه د علي ﷺ دروازې ته ورغله او په دغه وخت کي علي ﷺ له خپل مرضه څه خفت محسوس کړی وٴ، نو علي په عیادت ددې درو نامورو صحابه کرامو او په بیمار پرسی ډېر خوشاله سو نو علي ﷺ چي د سخاوت معدن وٴ کور ته ولاړی چي دې معززو مېلمنو ته یو خوراکي شی پیدا کړي، نو بل شی یې په کور کي نه وٴ یو څه عسل وٴ په سپین غاب کي چي د یوه سړي کفایت په کېدی او غاب ښه تک سپین وٴ او یو وېښته په عسلو کي ښکاره کېدی، نو ابوبکر ﷺ وویل چي تر هغو به دا عسل نه خورو چي هر یو خپله رایه پکښې ښکاره نه کړي، نو عمر او عثمان او علي و ابوبکر ﷺ ته وویل چي ته زموږ سید او اکرم او اعز یې نو ته اول رایه ښکاره کړه، نو ابوبکر ﷺ وویل "الدین انور من الطست (غاب) وذکر الله احلی (خوږ) من العسل، و الصراط المستقیم ادق من الشعر، او علي ﷺ وویل الضیف انور من الطست وکلام الضیف احلی من العسل وقلبه ادق من الشعر (یعني ژر خوابدی کېږي)

دروښ وايي: چي وکلهم رضی اله تعالی عنهم صدقوا في مقالاتهم، نو هغه لږ عسل د ګردو بس سوه او په ماړه سوه وهذا من کراماتهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

أَفَلَمْ يَايْئَسِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا

آيا نه دي نا اميده سوي هغه كسان چي ايمان يې راوړی دی يعني له ايمان څخه د دغو مشركانو چي مذكوره معجزات يې له عليه الصلوة والسلام څخه غوښتلي.

پوه سه: چي ياس قطع د طمعي له يو شي څخه والاستفهام بمعنى الامر يعني نا اميد دي سي مسلمانان له ايمان څخه د دغو كافرانو چي ددوی اقتراحي سوالونه دوی واورېدله. او هم دوی د عليه الصلوة والسلام معجزات كثيره عجيبه وليدی كشق القمر وغيره.

شان نزول ددې آيت مفسرينو داسي بيان كړی دی چي بعض مؤمنانو و عليه الصلوة والسلام ته وويل اجب هولاء الكفار يعني دوی ته دغه غوښتنې ددوی ورپوره كړه يعني له خدای ﷻ څخه يې پوره كېده وغواړه فعسى ان يؤمنوا. نو دا آيت نازل سو.

اَنْ لَّوْ يَشَآءُ اللّٰهُ لَهَدَى النَّاسَ جَمِيْعًا ؕ

شان دادی كه چېرې د خدای (ﷻ) اراده وای د ايمان د ټولو خلګو (دا مفعول د يشأ دی) نو ټولو خلګو به ايمان راوړی وای (چي معنى د لهدى الناس ده ای فآمنوا. ولي چي مراد له هدايت څخه دلته دلالت موصوله دی وهي الايمان لكن هدايت د ټولو خلګو نه سي واقع كېدای لعدم ارادته تعالى لذالك بناءً على حكمته الازلية في ذالك.

دروښ وايي: چي دغه حكمت ازلی ته د خدای ﷻ حافظ شيرازي په دې بيت كي اشاره كړې ده:

در كار خانه عشق از كفر ناگزير است .... آتش كرا بسوزد گر بولهب نباشد

كريمه "لاملئن جهنم من الجن والناس اجمعين"

پوه سه: چي كلمه د "ان" مخففه له مثقل څخه دی. او اسم ضمير شان محذوف دی او خبر يې جمله د "لو يشأ الله" ده. والتقدير انه شان دادی، او جواب يې "لهدى الناس" دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَا يَزَالُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا تُصِيْبُهُمْ بِمَا صَنَعُوْا قَارِعَةٌ

او همیشه و هغه کسانو ته چې کفر کوي او وایي چې رحمن موږ نه منو چې مراد ځنې مشرکان د مکې دي، دوی ته رسېږي په سبب د کارو ددوی من الشرک واعمالهم الخبیثة "قارعة" یوه بلا چې دوی وټکوي (وهذا معنی القرع) او نابیره پر نازلېږي من القتل والاسر والحرب کما في بدر.

وَاَوْ تَحُلُّ قَرِيْبًا مِّنْ دَارِهِمْ حَتّٰى يَاْتِيَ وَعْدُ اللّٰهِ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُخْلِفُ الْمِيْعَادَ

او یا واقع کېږي دا قارعه نژدې و دار ته ددوی چې مکه ده چې فزع او بېره او غورزکی و دوی ته هم رسېږي، تر هغو به قارعات جاري وي پر اهل مکه چې راځي وعده د خدای ﷻ (وعد مصدر دی په معنی د موعود دی) چې مراد ځنې یا موت پر کفر دی او یا ورځ د قیامت ده او یا مراد ځنې فتح د مکې ده. په تحقیق خدای ﷻ خلاف نه کوي د خپلې وعدې لامتناع الکذب والخلف علی الله تعالی (نو میعاد مصدر میمي دی په معنی د وعد)

پوه سه: چې کفارو د مکې چې هغه مذکوره سوالونه د علیه الصلوة والسلام څخه پر طریقه د استهزا کوله، نو د علیه الصلوة والسلام د تسلي لپاره یې دا آیت نازل کړی، دروېش وایي چې وجه د تسلي داده چې بلا چې عامه سي اسانه سي.

وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ مِّنْ قَبْلِكَ فَاَمْلَيْتُ لِلَّذِيْنَ كَفَرُوْا ثُمَّ اَخَذْتُهُمْ ۫ فَكَيْفَ كَانَ عِقَابِ

والله په تحقیق پسخند وهل سوی ؤ لکه کفار مکه چې په تا پسخند وهي نو تا دمخه په رسولانو (نو لام موطئه د قسم دی) وروسته ما مهلت ورکړی دی و هغه کسانو ته چې کافران وه او کفر یې کاوه، وروسته دوی مو ونیول په عقوبت سره.

پوه سه: "ملوة" چې ماخذ دی د املیت اوږده مدت ته وایي ومنه الملوان للیل والنهار لدوامها مادام الدنیا والمعنی ما مهلت ورکړی دی و دوی ته یعني الذین کفروا ډېره مده بېله عذابه استدراجاً.

پوه سه: چې عقاب د امم ماضیه کفره وو قسم قسم ؤ کما في القرآن العزیز

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

من بيان تلك الانواع. نو څرنګه و عقاب زما ای هو واقع موقعه اذ لا ظلم من الله تو ستاد مستهزئينو سره په ورته رفتار وکړل سي.

پوه سه: چي کسره د "عقاب" عوض د یا محذوفي ده.

دروښ وايي: چي مثال د امهال د کافرانو ثم اخذهم بالعذاب الشديد لکه یو سړی چي یو پسه په کور کي ساتي څو کاله او ښه ښه وانښه او اوربشي ورکوي حتی چي ښه چاغ او غټ سي یو ورځ يې پر غاړه چاړه ورکښېږدي او ذبح يې کړي. و هكذا الابل والبقر وغيرهما مما يؤكل لحمه.

فائده: د سړي د شقاوت علامه داده چي استهزا په انبياؤ سره د خدای ﷻ کوي كما اشير اليه في هذه الآية. او علماً د اسلام. اولياً الله بالحق وعلى جادة رسول الله ﷺ پر انبياؤ قياس کړی دی يعني د هغو استهزا هم سبب د عذاب الهي ده ولو بعد حين لکه په صحيح حديث قدسي کي چي راغلي دي "من اهان لي وفي رواية من عادى لي ولياً فقد بارزني بالمحاربة" يعني که چا په غضب کړی او آزار يې ورساوه يوه ته د اولياً زما (پوه سه! چي د لي لفظ متعلق په ولياً سره) فقد بارزني بالمحاربة وذالک لان الولي بالحق نيصر دين الله فيكون الله ناصره.

دروښ وايي: چي وعلى هذا فقس الائمة المجتهدين كالامام الاعظم ابي حنيفة والامام محمد بن ادريس الشافعي و الامام احمد بن حنبل والامام مالک بن انس رحمهم الله فهؤلاً اساطين الشريعة المحمدي ﷺ فالاستهزا بهم والاهانة لهم موجب لعذاب الله اما في الدنيا او في الآخرة او في كلهما.

دروښ وايي: چي د اوسنی زمانې سلفيان او پنج پيريان او په صرف نامه د اهل حديث د اولياً الله او د ائمة د دين د پر اهانت او سپکاوی کوي. دوستان خدا برين دو بيت عمل مينا يند:

گر تو خواهی دردو عالم زندگی ..... بندگی کن بندگی کن بندگی
کار کن تا مزد يابی بز مزيد ..... کان ترا از بهر اين کار آفرين

ومع هذا اديان طوائف مذكوره بغيبت وبهتان زبان ايشان باز است والى الله المشتكى.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

أَفَمَنْ هُوَ قَآئِمٌ عَلَىٰ كُلِّ نَفْسٍۭ بِمَا كَسَبَتْ

آیا هغه څوک چي هغه رقیب دی او خبر دی پر هر نفس یعني سړی باندي په هغه شي کي چي دا نفس یې کسب او فعل کوي من خیر او شر چي پټه نه ده پر هغه هیڅ شی له عملو څخه ددوی او نه هیڅ شی د جزاً د عملو ددوی چي ددغه ذات څخه مراد الله ﷻ دی.

پوه سه: چي خبر د "من" محذوف دی وتقدیره کمن لیس کذالک.

فائده: استفهام لپاره د انکار دی ای لیس هذان الذاتان مستویین.

قانون نحوي: وروسته تر همزه د استفهام چي حرف عطف یا واو فا یا ثم راسي د هغه حرف عطف معطوف علیه محذوف دی ولا یجوز عطفه علي ما قبل الاستفهام لفوات صدارة الاستفهام، فالتقدیر ه آتشرکون مع الله اصناماً (دا هغه معطوف علیه مقدر دی) فتجعلون من هو قائم آه وهو الله تعالی المعبود بالحق کمن لیس کک ای قائم علی کل نفس آه" وهذه هي الاصنام. یعني په استحقاق کي د عبادت دا دوه سره برابر دي؟ یعني نه دي سره برابر (وهذا معنی الاستفهام الانکاري) نو حاصل دادی چي تاسي د خدای ﷻ سره جمادات بتان په عبادت کي او په طلب کي د حاجاتو ددوی څخه مه شریکوئ.

پوښتنه: تاخو دا قانون نحوي په دې تفسیر کي څو ځای نور هم راوړی دی، نو فائده د تکرار یې څه ده، بلکې حواله به دي پر دمخه ذکر سوي باندي ورکړې وای؟

ځواب: د دروښ غرض په تکرار کي شفقت دی پر متعلمانو ددې تفسیر تاچي دوی مجبوره نسي چي په ورقو کي د تفسیر په مذکوره قانون نحوي پسي ګرځي، خصوصاً هغه متعلمین چي د پرون خبره یې ننه ورځ نه وي پیاد.

وَجَعَلُوا لِلَّهِ شُرَكَآءَ

او ګرځولي دي مشرکانو د مکې خدای ﷻ لره متعدد شریکان یعني بتان، بعض مفسرین وایي چي کلمه د واو لپاره د استیناف ده.

دروښ وایي: چي په هدایه کي دغه واو استینافي دپر لیدل کېږي مثلاً د باب یا د فصل په عنوان پسي متصل واو راسي نو محشیان لیکي هذه الواو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

للاستيناف اه، او بعض مفسرين چې دا عطف پر مقدر دی تقديره، لم يوحدوه وجعلوا له شركاء آه.

سوال: د "لله" اسم ظاهر كې ضمير يعني له چې راجع و من ته واى، ولې نسو ذكر حكمت يې څه دى؟

خواب: چونكه لفظ د الله موضوع دى لپاره د ذات مستحق للعبادة بالحق، نو په لفظ كې د الله تنبيه ده پر عدم شريك له تعالى.

قُلْ سَمُّوهُمْ

ته ورته ووايه چې تاسي نومان د دغو شريكانو واخلئ.

پوه سه: چې مراد مجرد نومان ذكر كول نه دي مثل اللات والعزى وغيرهما اذ لا فائدة في ذكر الاسماء بل المعنى وصفوهم تاسي ددې بتانو صفت وكړئ، او حال يې بيان كړئ مثلاً خداى ﷻ چې قادر، حكيم، خالق كل شيئ و رازق كل شيئ وسميع البصير الى غير ذالك من الصفات الجميلة الجلالية، نو ستاسي په بتانو كې دغه صفات سته چې دوى مستحق د عبادت وگرځي لكه خداى ﷻ كلا وحاشاً، فلا تجعلوا لله انداداً افلا تعقلون.

أَمْ تُنَبِّئُونَهُ

او كه تاسي خبروي خداى ﷻ.

پوه سه: چې كلمه ام منقطعه ده په معنى د "بل آه" دى بل لپاره د انتقال من قوله سموهم او همزه لپاره د انكار دى.

بِمَا لَا يَعْلَمُ فِي الْأَرْضِ أَمْ بِظَاهِرٍ مِّنَ الْقَوْلِ

په هغو شريكانو چې خداى ﷻ نه دى په خبر په مځكه كې دي والله تعالى لايعلم شريكاً مستحقاً للعبادة في الارض، ولې علم د خداى ﷻ خو محصور پر ممكناتو دى والشريك المستحق للعبادة ممتنع.

سوال: تخصيص د ارض يې وكړى مع انه تعالى لاشريك له في السموات ايضاً فلا يعلم ذالك ايضاً؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خواب: وجه د تخصیص یې داده چې بتان چې دوی شرکاً د خدای بلل من اللات والعزی ومناة وهبل وغیر ذالک څو په مځکه کې وه او دوی په اسمان کې بت نه درلودی چې د خدای شریک یې بللی وای فهذه الآیة من قبیل انتفاً المعلوم بانتفاً انعلم. وبعبارة اخری من قبیل انتفاً الملزوم بانتفاً اللازم فتدبر.

یوه سه: چې ام دلته هم منقطعه دی په معنی د بل للانتقال من دلیل الی دلیل آخر والهمزة الانکاریة، ترجمه: که یې تاسي مسمی کوئ خدایان په ظاهر د قول چې د آباً او اجداد څخه مو اورېدلي دي بهله دې چې مصداق دي ولري، ددې مثال دادی لکه پر حبشي چې د کافور نوم څوک کښېږدي. او بعض مفسرین وایي چې ظاهر په دې آیت کې په معنی د باطل دی کما في قول الشاعر:

وعیرتها الواشون باني احبها ..... وتلک شکاة ظاهر عنک عارها [1]

دروښ وایي: چې دا احتمال مظهري رحمه الله راوړی دی په لفظ د قیل سره لکن نور څه یې نه دي ویلي، او روح المعاني هم راوړی دی لکن وروسته یې ویلي دي ومن اراد ذالک فقد تکلف انتهی.

فائده: په مظهري کې لفظ د "شعرهم" غلط رواړل سوی دی یعني وعیرني لکن اصل لفظ لکه دروښ چې نوشته کړی "وعیرتها" دی او په روح المعاني کې هم وعیرتها نوشته دی.

دروښ وایي: چې ولهذا الشعر قصة طویلة تجدها في البیضاوي والمطول.

بَلْ زُيِّنَ لِلَّذِينَ كَفَرُوا مَكْرُهُمْ وَصُدُّوا عَنِ السَّبِيلِ ۗ

بلکې ښائسته کړل سوی دی هغه کسانو لره چې کافران (والمزین هو الشیطان) مکر ددوی په ابطال کې ددین حق د توحید په تخییل د باطل چې شرک دی حقاً، او دوی یعني المشرکین بند کړل سوي دي له لارې څخه د توحید او اسلام یعني شیطان دوی له لارې څخه د حق بند کړي دي په وسوسه سره که څه هم صارف في الحقیقة خدای ﷻ دی. کریمه "الله خلقکم وما تعملون" وهو المشرب الاعذب لاهل السنة خلافاً للمعتزلة دوی وایي چې خالق د افعالو د

---

[1] ای باطل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بند ګانو من خير وشر وكفر واسلام په خپله بندګان، والدلائل والجواب في كتب عقائد المتأخرين كشرح العقائد وشرح المقاصد للعلامة التفتازاني رحمه الله عليه والمواقف وشرحه للسيد الجرجاني رحمه الله عليه وغيرها.

وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ هَادٍ ﴿٣٣﴾

او څوک چې خداى ګمراه کړي من خلق اسباب الضلال فيه كذا قال سعدي المفتي الچلپي، نو هغه لره هيڅ هدايت کونکى نسته يعني په هدايت موصله الى المطلوب وكلمة من زائدة لاستغراق النفي.

لَهُمْ عَذَابٌ فِى الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا

دوى لره عذاب دى په ژوند کې ددنيا په قتل سره او په بندي کولو سره او نور مصائب او دا عذاب د دنيا چې ورکول کېږي په سبب د کفر ددوى.

فائده: جزاً ته عقوبت وايي په سبب ددې چې په عقب د بد فعل راځي، او عذاب چې يې بولي عذاب په لغت کې د عربو منع ته وايي كما يقال عذبته عذاباً اى منعته، او له دې سببه خوږو اوبو ته عذب وايي لانه يمنع العطش يعني تنده ماتوي، او عذاب مصطلح ته چې عذاب وايي لانه يمنع الجاني عن معاودة مثل جرمه ويمنع غيره عن مثل فعله سعدي قدس سره وايي:

پند گير از مصائب ديگران ..... تا نگيرند ديگران ز تو پند

وَلَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ اَشَقُّ ۚ وَمَا لَهُمْ مِّنَ اللّٰهِ مِنْ وَّاقٍ ﴿٣٤﴾

او عذاب د اخيرت ډېر سخت دى تر عذاب د دنيا لدوامه وكونه عذاب النار. او نسته دوى لره له خداى ﷻ څخه يعني من عذابه يو حافظ او ساتونکى.

پوه سه: چې دوهم من زائد د استغراق لپاره دى او من اولى متعلق په واق پورې دى.

پوه سه: چې ابو مرشد الغنوي قدس سره به همېشه تر سترګو وښکي تويولې او دائم الاوقات به يې ژړله، نو يو چا پوښتنه وكړه ددې ژړا د سبب دده په خواب کې ورته وويل که مائه خداى ﷻ ويلي واى چې که تا ګناه وكړه زه تا په ګرم حمام کې بندي کوم، نو خو هم مالره بايد به واى چې زما وښکي به نه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قطع کېدای، نو څرنګه به زما وښکي قطع سي چي خدای ﷻ زما سره وعده کړې ده چي که ګناه وکړې زه به تا جهنم ته داخل کړم چي په هغه کي زر کاله اور بل سوی دی چي تولې سور ګرځېدلی دی، او بیا زر کاله اور پکښي بل سوی دی چي تولې سپین ګرځېدلی دی، او بیا زر کاله اور پکښي بل سوی دی چي تولې لکه تاریکه شپه تور ګرځېدلی دی اعاذنا الله منها بمحض فضله وکرمه و بشفاعة سید المرسلین ﷺ آمین یارب العالمین... ابیات:

الهي يا الهي يا الهي ..... ندارم جز اميدت تکيه گاهي
زکن موجود کردی هر دو عالم ..... کرم کن بر من گم کرده راهی
ندارم طاعت مقبول درگاه ..... بجز اشک ندامت آه آهی
ندارم توشه راه قیامت ..... بجز شرمندگی و روسیاهی

مَثَلُ الْجَنَّةِ الَّتِي وُعِدَ الْمُتَّقُونَ ؕ

حال د جنت چي وعده یې کړل سوې ده د متقیانو من الکفر والمعاصي.

پوه سه: چي "مثل" مبتدأ ده او خبر یې محذوف دی په نېز د سېبویه، والتقدیر فیما یقص علیکم او ما بعد یعني تجري آه، له عائد محذوف څخه په صله کي حال دی فتأمل.

تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهٰرُ ؕ اُكُلُهَا دَآئِمٌ وَّظِلُّهَا ؕ

چي بهېږي به لاندي تر درختو د هغو جنتو او تر قصورو د هغو ویالې یوه د شیدو بله د عسلو بله د شرابو (چي په شرابو کي د جنت نه د سر درد سته او نه دوی ته بېهوشي ورپېښېږي لکه په شرابو کي د دنیا) کریمه "لا فیها غول ولاهم عنها ینزعون "اکلها دائم" مېوې د جنت هره مېوه چي وي (نو اکل په معنی د ماکول دی) همېشه به وي قطع کېږي به نه لکه مېوې د دنیا چي په خپل وخت کي وي بیا قطع سي، له حضرت ثوبان ﷺ روایت دی چي ده واورېدله د علیه الصلوة والسلام څخه "لا ینزع رجل من الجنة ثمرها الا اعید في مکانها مثلها" نه شکوي یو سړی له اهل جنت څخه مېوه د جنت مګر په داسي حال کي چي په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځای کي د هغې مېوې مثل يې پيدا کېږي مثلاً د انار له درختې څخه يې يو انار وشکاوه په هغه ځای کي بل انار پيدا کېږي وعلى هذا فقس العنب والتين وغيرهما من الثمرات "وظلها" او سايه د جنت به هم همېشه وي. نسي نقل کولای لمر لکه په دنيا کي اذ لا شمس في الجنة.

سوال: سايه خو فرع د نور ده ځکه د شپې چې سپوږمی نه وي سايه هم نه وي؟

ځواب: نور خو حصر په لمر او سپوږمی کي نه دی ففي الجنة نور يكون بسببه لاشجار الجنة ظل.

پوښتنه: سايه په جنت کي څه په کار ده سايه خو د ګرمی له کبله په کار ده، ولا حر ولا برد في الجنة؟

ځواب: روح البيان او روح المعاني وغيرهما وايي چې د دوام الظل څخه مراد دوام الاستراحة دی في الجنة، تعبير د دوام الاستراحة يې په دوام الظل سره وکړی لان بلاد العرب حارة فيكون الظل هنالک استراحة عظيمة.

فائده: له دوام الاکل څخه مراد دوام بالنوع دی لان الشخص من الاکل قد اکل فلا دوام بالشخص ويدل عليه قوله عليه السلام في الحديث المذكور آنفاً في مكانها مثلها.

پوښتنه: په آيت شريف کي راغلي دي كل شيئ هالک الا وجهه، نو څرنګه اکل او مېوې د جنت دائم کېدای سي؟

ځواب: دوام د هلاک لحظة سره منافي نه دی، او بل ډېر معقول ځواب دادی چې دوام د مېوو د جنت وروسته تر دخول د جنتيانو دي كما يقتضيه سوق الكلام، نو هلاک د مېوو د جنت عند هلاک كل شيئ قبل دخول اهل الجنة لاينافي دوامه بعد دخول اهل الجنة فافهم، لبيد شاعر دمخه تر اسلام څو شعر ويلی دی چې عليه الصلوة والسلام يې هم تحسين کړی دی:

الا كل شيئ ما خلا الله باطل ..... وكل نعيم لا محالة زائل

يعني نعيم الدنيا فلا يرد السوال ان نعيم الجنة دائم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تِلْكَ عُقْبَى الَّذِينَ اتَّقَوا ۖ وَّعُقْبَى الْكَافِرِينَ النَّارُ ﴿٣٥﴾

دغه جنت چې تاسي يې صفات واورېدله جزا او ثواب او عاقبة الامر دی د هغه کسانو چې په دنيا کې د خدای ﷻ ېيره ورسره وه، او آخر الامر د کفارو اور دی. حاصل دادی چې ايمان او تقوی لار د جنت ده او کفر لار د دوزخ ده.

دروېش وايي: چې مظهري ويلي دي ان كان العقبى بمعنى الجزا فاستعماله ههنا على سبيل الاستعارة انتهى، زه وايم چې جزا خو خير او شر دواړو ته شامله ده فلا حاجة الى الاستعارة كما لا يخفى. نعم ان كان لفظ العقبى مخصوصة بالثواب والجنة فالحاجة الى الاستعارة موجودة واذ ليس فليست.

وَالَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ يَفْرَحُونَ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ

او هغه کسان چې موږ ورکړی دی و دوی ته کتاب چې مراد څنې مسلمانان د قوم د يهودانو دي لکه عبدالله بن سلام و اصحابه رضي الله عنهم، او يا د نصاری وو چې اتيا کسه وه څلوېښت د نجران وه او اته د يمن وه او دوديرش د حبشې وه، نو مراد له کتاب الله څخه تورات او انجيل دي، دوی خوشاله دي په ما انزل اليک سره چې قرآن دی، ولې قرآن کريم فضل الله او بل موافق دی د تورات او انجيل سره ولې چې قرآن مبارک نازل سوی پر هغه چا دی چې نعت يې په تورات او انجيل کې مثبت دی يعنې محمد ﷺ، نو دوی په ټوله قرآن مبارک سره راضي او خوشاله دي.

دروېش وايي: چې دا تفسير دی چې روح البيان، روح المعاني او قرطبي په ګډه سره کړی دی او دا هم صحيح تفسير دی عند الفقير، او مظهري د "الذين آتيناهم الكتاب" په تفسير کې وايي يعنې اصحاب محمد ﷺ او مؤمنوا اهل الكتاب كعبد الله بن سلام واصحابه ومن آمن من النصارى رضي الله عنهم آه، وروسته يې په تفسير کې د يفرحون آه داسې ويلي دي لموافقته لما عنده آه.

دروېش وايي: چې موافقت لما عندهم خو يوازې په مؤمنون کې د اهل الكتابين جوړېږي، نو مظهري ولې اصحاب محمد ﷺ په اول کې راوړل.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمِنَ الْاَحْزَابِ مَنْ يُّنْكِرُ بَعْضَهٗ

او بعض له ډلو څخه د کفارو من اليهود والنصارى لکه کعب بن الاشرف او دده تابعان او په سيد او د عاقب، هغه څوک دی چې انکار کوي له بعض څخه د ما انزل اليک يعني مخالف وي د خواهشاتو نفسانيه وو ددوی يا هغه احکام د شريعت نبوي چې مخالف وي ددوی د شرائعو منسوخه وو څخه او په اول کې د نبوت د عليه الصلوة والسلام، او بعض مفسرين وايي چې مراد د ينکر بعضه مشرکان د مکې دي چې عليه الصلوة والسلام په کال کې د حديبيه ددوی سره کتاب الصلح نوشته کاوه او کاتب ته يې ويل چې نوشته کړه بسم الله الرحمن الرحيم مشرکانو د مکې ورته وويل لا نعرف من الرحمن الا رحمن اليمامة يعني مسيلمة الکذاب، بلکې نوشته کړه د پخوا پر رواج باسمک اللهم فانزل الله وهم بذکر الرحمن هم کافرون.

پوښتنه: نو ولې يې ددوی په باره کې داسې وويل من ينکر بعضه؟

ځواب: دوی خو له ذکر څخه د الله منکر نه وه بلکې د رحمن څخه منکر وه، او په تفسير کواشي کې وايي چې يهودان په قصصو کې موافق وه د قرآن سره وانکروا غيرها يعني غير القصص، او له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی آمنوا اليهود بسورة يوسف او مشرکان له تولو قرآن څخه منکر وه.

قُلْ اِنَّمَآ اُمِرْتُ اَنْ اَعْبُدَ اللّٰهَ وَلَآ اُشْرِكَ بِهٖ

ته ورته ووايه يا محمد چې زه امر کړل سوی يم ان ای بان چې به عبادت کوم د خدای ﷻ او زه به نه شريک کوم له خدای پاک سره په عبادت کې يعني من الاصنام وغيرها.

ددې آيت تحقيق: که دا آيت په عامو کفارو کې نازل وي لکه مشرکانو د مکې چې به ويل چې محمد موږ په توحيد سره امر کوي او دی په خپله د الله سره بل شريک وايي چې رحمن دی نو معنی د آيت داسې ده چې په توحيد سره د خدای ﷻ اوزه چې ذکر د الله او د رحمن يا د رحيم کوم يا د نورو اسماء الحسنی دا منافي د توحيد سره د خدای ﷻ نه دی، نو انکار ستاسي پر ذکر د رحمن هيڅ معنا نه لري. او که دا آيت په منکرانو کې د اهل کتاب نازل سوی وي نو معنی د آيت داده چې زه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په ما نزل الي امر سوی یم په عبادت د خدای ﷻ او په توحید د خدای وهو العمدة في جميع الاديان او له دې څخه تاسي انکار هم نسئ کولای، او هرچه هغه جزئیات د الهي احکامو دي مما يخالف شرائعكم، نو دا هم يو نوی کار نه دی، ولي چې شرائع او کتب سماويه ينسخ بعضها بعضاً في جزئيات الاحكام.

اِلَيْهِ اَدْعُوْا وَاِلَيْهِ مَاٰبِ ۝

خاص خدای ﷻ ته زه تاسي رابولم لا الی غیره، او خاص خدای ته زما رجوع ده ولا سبیل الی انکار ذالک "الیه" متعلق په "ادعوا" پوري دی، تقدیم یې لپاره د حصر دی.

وَكَذٰلِكَ اَنْزَلْنٰهُ حُكْمًا عَرَبِيًّا ؕ

"وكذالک" يعني چې ما کتب سابقه په ژبه د من ارسل اليهم نازل کړی دی من العبراني والسرياني وغيرهما، موږ نازل کړی دی قرآن پر تا یا محمد (ﷺ) مشتمل پر احکامو من الحل والحرمة والوقائع وغيرها على ما يقتضيه الحكمة په ژبه د عربو چې تا او ستا قوم ته فهم اسانه سي.

وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ اَهْوَآءَهُمْ بَعْدَ مَا جَآءَكَ مِنَ الْعِلْمِ ۙ مَا لَكَ مِنَ اللّٰهِ مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا وَاقٍ ۝

او که ته متابعت وکړې يعني فرضاً د خواهشاتو د کفارو وروسته تر دې چې تاته علم راغلی چې کفارو د مکې به ویل ایت بقرآن غیر هذا اوبدله، نو نسته تا لره ناصر او کومکي او حافظ چې دفع د عذاب د خدای ﷻ دي وکړي له تا څخه.

پوه سه: چې یهودانو به ویل چې دا سړی یعنون محمداً ﷺ نسته ده لره همت بېله بنځو یعني الازواج المطهرات ﷺ یعني دی د ماینو ډېر شوقي دی حتی چې نهه ماینې لري، نو خدای پاک دا آیت نازل کړی.

وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا رُسُلًا مِّنْ قَبْلِكَ وَجَعَلْنَا لَهُمْ اَزْوَاجًا وَّذُرِّيَّةً ؕ

لام موطئه د قسم محذوف دی یعني قسم په خدای دی چې ما را استولي رسولان یعني په کثرت سره یعني هغه هم بشر وه لکه ته ملائکه نه وه، او موږ گرځولي دوی لره ماینې، اولاد ونه له ته چې لرې فلا اعتراض عليك في ذالک

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بلکې ستا خو نهه مايني دي او د داؤد علیه السلام سل مايني وې د نکاح او درې سوه سريه يعني ميني ځيانې وې، او دده زوی سليمان علیه السلام درې سوه د مهر مايني وې او اووه سوه سريه وې فکيف يضر کثرة الازواج لنبينا ﷺ، په خبر کې راغلي دي چې عليه الصلوة والسلام ته ورکړل سوی ؤ قدرت د جماع د څلوېښتو کسانو د جنت، او د يوه جنتي قدرت د څلوېښتو کسانو د دنيا دی، نو عليه الصلوة والسلام ته ورکړل سوی ؤ قوت د څلورو زرو کسانو د دنيا، او سليمان علیه السلام ته قوت د زرو کسانو د دنيا ورکړل سوی ؤ، په انسان العيون کې وايي چې ازواج المدخول بهن د عليه الصلوة والسلام دوولس مايني وې، او څلور سريه يې درلودې، او په بستان العارفين کې وايي چې ما تزوج به د آنحضرت ﷺ څورلس ښځې وې، او په واقعات محمودیه کې وايي چې د فخر الانبیا ﷺ قد تزوج (۲۱) يعني يوويشت ښځې يې په نکاح کړې دي ومات عن تسع نسوة.

فائده: سفيان بن عيينة رحمه الله کثرة النسا ليس من الدنيا. ولې چې علي رضي الله عنه چې په امورو کې د دنيا بېخې بې رغبته ؤ څلور مايني او څلور سريه يې درلودې، او مغيره بن شعبه رضي الله عنه اتيا مايني په نوبت نوبت کړې دي، او په حديث شريف کې راغلي دي فضلت على الناس بالسخا والشجاعة وقوة البطش وكثرة الجماع.

دروښ وايي: چې حاصل د کلام دادی چې کثرت د ماينو عيب نه دی.

وَمَا كَانَ لِرَسُوْلٍ اَنْ يَّاْتِيَ بِاٰيَةٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ۚ

نسته هيڅ رسول لره (نکره په سياق کې د نفي عموم فائده کوي نو ځکه ما ترجمه په هيڅ رسول وکړه) او نه د هيڅ چا په قدرت کې سته، چې دوی دې راتګ وکړي په يوه معجزه سره يعني چې خلګ يعني کافران ځني غواړي اقتراحاً لکه د عليه الصلوة والسلام څخه چې مشرکانو د مکې غوښتنه چې غرونه د مکې د خپلو ځايو څخه ايسته کړه تا چې مځکه د مکې فراخه سي او يا د صفا غر د سرو زرو وګرځوه يا په مکه کې لويه ويالې جاري کړه الى غير ذالک من الاقتراحات (يعني ناحقه غوښتنې) "الا باذن الله" مګر نه په اجازه د خدای (ﷻ)، ولې چې رسولان بندګان هيڅ شی په طاقت کې نه لري الا ما شاء الله.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لِكُلِّ أَجَلٍ كِتَابٌ ﴿٣٨﴾

ولي چي وخت د هر كار خپل وخت مكتوب لري عند الله يعني في اللوح المحفوظ يعني د هري معجزې وخت مكتوب سته عند الله لا تتقدم ولا تتأخر وان استعجل الناس، او د هر شي بداية او نهاية مكتوب دی، مثلاً چي زيد به په فلاني تاريخ پيدا كېږي او دومره مده به كافر وي او فلاني وخت به ايمان راوړي، او دغه نزول د هر آيت يا سورت قرآني مدة معلومه لري، ومثال ذالك مما يقع في العالم العلوي والسفلي.

يَمْحُوا اللَّهُ مَا يَشَاءُ وَيُثْبِتُ ۖ

محو كوي خداى ﷻ هغه شى چي دده اراده ورته وسي او ثابت پرېږدي يعني ما يشاء.

دروښ وايي: چي ددې آيت په تفسير كي مختلف اوږده او لنډ بيانات مفسرينو رحمهم الله راوړي دي، چناچه سعيد بن جبير او قتاده وايي چي محو كوي خداى پاك مايشاء من الفرائض والواجبات والشرائع، نو يې نسخ كړي او بدل يې كړي لكه بعض احكام د تورات او انجيل چي په قرآن سره منسوخ سوه او ثابت پرېږيد بعض احكام يعني نه يې كړي نسخ، او عكرمه رحمه الله وايي يمحو بالتوبة جميع الذنوب ويثبت بدل ذالك حسنات، كريمه "الا من تاب (اى من الشرك والكفر) وآمن وعمل عملاً صالحاً فاولئك يبدل سيئاتهم حسنات، او ابن جبير رحمه الله وايي يغفر ما يشاء من ذنوب عباده ويترك مايشاء فلا يغفره (يعني بخښي خداى پاك هغه گناه چي په حقوق كي د خداى ﷻ وي بالتوبة وبلا توبة لمن يشاء، او پرېږدي هغه گناه چي خوښه يې وي من حقوق الناس ومظالم العباد) او بعض روات وايي يمحو مايشاء ممن حان اجله ويثبت ممن لم يات اجله، او علي رضي الله عنه يې داسي تفسير كړى دى يمحو مايشاء من القرون قال الله تعالى اولم يروا كم اهلكنا من قبلهم من القرون ويثبت مايشاء لقوله تعالى ثم انشانا من بعدهم قرونا آخرين" او ابن عباس رضي الله عنهما او ضحاك رحمه الله وايي يمحو من ديوان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الحفظة يعني له دفتر څخه د کرام کاتبين هغه فعل او قول چي نه حسنه وي او نه سيئه وي. ولي دوی خو مامور دي په کتاب سره د هر قول او فعل نو چي نه حسنه وي او نه سيئه وي هغه خدای محوه کړځوي او حسنه او سيئه پرېږدي او بعض روات وايي يمحو الدنيا ويثبت الآخرة، او حسن بصري رحمه الله او ګڼ شمېر نورو هم ويلي دي چي دا آيت په آجال کي د بني آدم دی چي په حديث صحيحه وو کي راغلي دي چي په ليلة النصف کي د شعبان خدای پاک محو کوي، بعض خلګ له دېوان څخه د ژوند ويثبتهم في ديوان الموتى، او بعض مفسرين وايي که په اول کي د دفتر د کرام کاتبين او په اخير کي يې حسنه او خير ؤ يمحو الله ما بينهما من السيئات، او که يې په اول او په اخير کي حسنه نه وه يثبت من السيئات.

پوه سه: چي چي د ابن عباس رضي الله عنهما روايت دی يمحو الله ما يشاً من امور عباده ويثبت الا السعادة والشقاوة والآجال فانه لا محو فيها. او بعض علماً وايي چي محو او اثبات عام دی په رزق او اجل او سعادت او شقاوت کي هم جاري کېږي او ددې قول نسبت وه يو جماعت ته د صحابه کرامو او تابيعنو کړل سوی. ولي چي دوی به هم خدای پاک ته زاری کولې چي مونږ سعداً وګرځوې فلو لا التغيير في السعادة والشقاوة لما كان لهذا الدعاً فائدة، او له ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی چي بعضو خائفينو داسي دعاً کوله اللهم ان كنت كتبتني عندک في ام الكتاب شقياً فامح عني اسم الشقاوة واثبتني عندک سعيداً وان كنت كتبتني في ام الكتاب عندک سعيداً فاثبتني عندک سعيداً موفقاً للخير فانک تقول في كتابک الذي انزلت يمحو الله مايشاً ويثبت وعنده ام الكتاب ويدل على هذ المذهب، هغه حديث چي عبد بن حميد وغيره له عمر رضي الله عنه څخه روايت کړی دی چي ده طواف پر بيت الله الشريف کاوه او داسي دعاً يې کوله "ان كتبت علي شقاوةً او ذنباً فامحه واجعله سعادةً ومغفرة فانک تمحو ما تشاً وتثبت وعندک ام الكتاب"

دروښ وايي: چي و تعميم ته د محو او اثبات شيخ الاسلام علي البزدوي رحمه الله هم تللی دی حيث قال والانسب تعميم كل من المحو والاثبات ليشمل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الكل ويدخل فيه مواد الانكار اى السعادة والشقاوة والاجل آه، يدل على هذا ما ورد في بعض الاخبار چي د يو بنده عمر او اجل دهرش كاله پاته وي، نو داسې يو وسيله رحمي قطع كړي، نو اجل يې درې ورځي ته نقل سي، او يو سړی وي چې اجل ته يې درې ورځي پاته وي او دی يو وسيله وكړي اجل يې دهرش كاله وگرځي.

دروښ وايي: چې بعض حكماً الاسلام وايي چې خدای پاک دوه كتابه لري يو كتاب المحو والاثبات دی چې په هغه كې معلق قضاً د خدای ﷻ نوشته دی، او بل لوح محفوظ دی چې په هغه كې قضاً مبرم يعني قاطع قضاً د خدای ﷻ چې تغيير او تبديل ځای نه لري، د مثال په توگه په كتاب المحو والاثبات كې نوشته وي چې زيد به په فلاني تاريخ ناجوړه سي او مړ به سي، نو زيد په هغه تاريخ ناجوړه خو سو لكن يا يې دوا وكړه او يا صدقه رد البلا يې وكړه يا يې استعانت په آيات الشفاً وغوښتی الی غير ذالک، نو جوړ سو نو كتاب المحو والاثبات دده د مرگ عبارت خدای ﷻ محو كړی او اثبات د حيوت په سبب د امورو مذكوره ثابت، او په لوح محفوظ كې داسې نوشته وي چې زيد به په فلاني تاريخ ناجوړی سي لكن استعانت په امور مذكوره به وكړي او جوړ به سي

دروښ وايي: چې دا ډ تحقيق ددې آيت حسب الطاقة او دا اقوال چې دروښ رواړل ددغو تفاسيرو څخه ماخوذ دي روح المعاني چې ددې آيت ډېر طويل تفسير كړی دی، او روح البيان، تفسير مظهري، تفسير كبير للامام الرازي، تفسير قرطبي، نو حاسد هيڅ حق د اعتراض پر فقير نه لري لان على الناقل تصحيح النقل لا تصحيح المنقول او ډېر ناپوه علماً ددې زماني فرق د نقل او د حكم نسي كولای، مثلاً فقير په بعض رسالو كې يو حكم د بل قائل څخه چې د هغه نوم مې هم بيان كړی وي نقل كړی وي، نو جاهل ملا صاحب وايي چې عبيد الله په فلاني رساله كې داسې حكم كړی دی.

وَعِنْدَهٗۤ اُمُّ الْكِتٰبِ ﴿۳۹﴾

او په نېز د خدای ﷻ اصل د كتاب (پوه سه! چې عرب هر اصل ته ام وايي)

دروښ وايي: چې مظهري تفسير د ام الكتاب په علم سره د خدای كړی دی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي په هغه کي تغيير او تبديل محال دی کذا قال کعب حين سئاله ابن عباس رضي الله عنهما عن ام الكتاب، او بغوي رحمه الله وايي هو اللوح المحفوظ الذي يايبدل ولا يغير ما فيه وهذا هو المشهور.

دروېش وايي: چي تفسير د ام الكتاب په علم سره د خدای ﷻ ما رواه عبدالرزاق وابن جرير عن كعب رضي الله عنه كذا في روح المعاني، او روح البيان وايي په تفسير کي د ام الكتاب وهو العلم الازلي السرمدي القائم بذاته تعالى وقد احاط الله بكل شيئ علماً بلا زيادة ونقصان وكل شيئ عنده بمقدار انتهى.

دروېش وايي: چي وروسته روح البيان مذهب د حكماؤ ته مېل كلي كړی دی او طويل بحث يې پر لار اچولی دی ولا يليق ذالک بتفسير الكلام العزيز كما لا يخفى،،،، بيت:

ومن مذهبي حب الديار لاهلها ..... وللناس فيما يعشقون مذاهب

وَإِنْ مَّا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ الَّذِي نَعِدُهُمْ

بوه سه: چي په "اما" کي ادغام د نون ان شرطيه په ما زائده کي دی وجزاً د ان محذوف ده ای فذالک هو المطلوب.

ترجمه: که چېرې زه وويښم په تا يا محمد (ﷺ) دمخه تر وفات ستا بعض د هغه امورو چي موږ د تاسي وعده کړې ده يعني چي کفار به مغلوب سي په دې دنيا او اسلام به غالب سي لکه چي خدای ﷻ په عليه الصلوة والسلام مغلوبيت د کفارو د مکې په ورځ د بدر چي کفارو ته په درې سوه ديارلس کسه سره يې شکست ورکړی، او اوويا کسان په شمول د ابو جهل فرعون هذه الامة او اوويا بنديان سوه چي تفصيل يې وړاندي تېر سو.

أَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَإِنَّمَا عَلَيْكَ الْبَلَاغُ وَعَلَيْنَا الْحِسَابُ ﴿٤٠﴾

او يا به موږ تا وفات کړو دمخه تر راتلو د عذاب موعود د کفارو بيا يې موږ په عذاب نسو، حاصل دا چي ته غم مه کوه د اعراض ددوی ستا له دين څخه او هم طلب د ژر ورکولو ددوی مه کوه لان لكل شيئ ميعاد، ولي چي ستا په ذمه کي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نسته مگر تبليغ د دين د اسلام هغه خو تا په وجه اتم سره وکړي او پر موږ دي حساب ددوی په ورځ د قيامت چي دوی راژوندي سي هغه په تا پوري اړه نه لري.

أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا نَأْتِي الْأَرْضَ نَنقُصُهَا مِنْ أَطْرَافِهَا ۚ

آيا دوی نه وينې (يعني کفار د مکې) يعني چي موږ ورځو امر زموږ ورځي و محکي ته د کافرانو، چي موږ کمو و محکه د کافرانو يعني ددوی د تسلط څخه يې باسو او مسلمانانو ته يې فتح کوو له اطرافو څخه د محکي د دوی. بغوي رحمه الله وايي چي اکثره مفسرين پر دې دي چي مراد په آيت کي فتح د ديار د اهل الشرک ده. فان ما زاد في ديار اهل الاسلام فقد نقص من ديار اهل الشرک.

ترجمه: آيا نه وينې چي موږ قصد او اراده کوو و محکو ته د کفارو اوله اطرافو څخه ور کمو و په فتح سره پر مسلمانانو ارضاً بعد ارض پر شاوخوا ددوی، نو دوی له دې څخه عبرت نه اخلي چي ايمان راوړي. وهذا قول ابن عباس رضي الله عنهما وقتادة وجماعة. او په دې آيت سره خداى پاک تسلي ورکوي و عليه الصلوة والسلام ته چي غمجن نه سې او په دې پوه سې چي خداى پاک پوره کوي ما وعده من الظفر لاهل الاسلام على الكفرة المنكرين المعاندين.

وَاللَّهُ يَحْكُمُ لَا مُعَقِّبَ لِحُكْمِهِ ۚ

او خداى (جل جلاله) حکم کوي په خپلو بندګانو کي مايشأ من الظفر والفتح والهزيمة. ردونکی نسته د قضاً د خداى جل جلاله ولا ناقض لحكمه والمعنى انه تعالى قد حكم واراد الاسلام بالاقبال وعلى الكفر بالادبار وذالك كائن لامرد له.

پوه سه: چي محل د لا مع المنفي نصب دى على الحال اى يحكم نافذاً حكمه.

وَهُوَ سَرِيعُ الْحِسَابِ ﴿٤١﴾

او خداى (جل جلاله) ژر حساب کونکی دى د کفارو سره په ورځ د قيامت بعد مايعذبهم في الدنيا بالقتل والاسر والاجلاء من الاوطان.

پوښته: نقص د اطرافو د محکي د کفارو څو په فتح سره دى چي هغه مبني پر جهاد وه او امر د جهاد و عليه الصلوة والسلام ته چي ورکړل سوى و هغه خو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په مدینه منوره کي ؤ او دا سورت خو مکي دی.

خواب: کون السورة مکیة لا ینافي کون بعض آیاتها مدنیة وبالعکس لان کون السورة مکیة او مدنیة مبني علی الاغلب والاکثر ومثل هذا کثیر في القرآن الکریم کما لا یخفی.

دروښ وایي: چي ددې کبله مفسرین رحمهم الله وایي چي فلانی سورت مکیه دی الا آیة کذا وکذا. او دا سورة مدنیة الا آیة کذا وکذا فانها مکیة فافهم وتذکر فان هذه فائدة سنیة تنفع في جمیع القرآن.

وَقَدْ مَكَرَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ

پوه سه: چي مکر ایصال د مکروه دی و یو چا ته په دې ډول چي هغه په ځان نه پوهیږي. والمعنی په تحقیق مکر کړی ؤ هغه کسانو چي دمخه تر مشرکینو د مکې وه یعني کفارو د امم سابقه ؤ د انبیاؤ سره خپل او د مؤمنانو سره د هغې زمانې لکه چي مکر وکړی کفارو د قریشو د تا سره.

فَلِلَّهِ الْمَكْرُ جَمِيعًا

ای عند الله جزاً مکرهم په دې کي هم تسلي ده و علیه الصلوة والسلام ته په دې چي مکر د انبیاً او د مؤمنین سره عادت قدیمه دی د کفارو. پښتانه وایي: د عالم سره غم نه غم دی.

پوه سه: چي مکر د کفار قدیمه وو تدبیر د قتل د انبیاؤ لکه مکر د نمرود د ابراهیم علیه السلام سره چي لویه مناره یې جوړه کړه او په مناره کي وختی چي رب د ابراهیم ووژني، او مکر د فرعون چي موسی علیه السلام مړ کړي، او مکر د یهودانو د عیسی علیه السلام د وژلو، او مکر د ثمودیانو و صالح علیه السلام ته چي دوی ویله چي صالح او دده اهل به مړه کړو د شپې، او د مکې والو مکر و آنحضرت ﷺ ته چي په دار الندوة کي پلان د قتل د علیه الصلوة والسلام منظور کړی باتفاق الاراً، په روح المعاني کي وایي چي مکر د خدای جل جلاله اهلاک ددوی دی من حیث لا یشعرون شبه ذالک بمکر الماکر علی سبیل الاستعارة او مشاکلةً مثل جزاً سیئة بمثلها.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يَعْلَمُ مَا تَكْسِبُ كُلُّ نَفْسٍ ۗ وَسَيَعْلَمُ الْكُفَّارُ لِمَنْ عُقْبَى الدَّارِ ﴿۴۲﴾

خدای ﷻ خبر دی په هر هغه چي نفس يې کوي يعني، نو جزاً به ورکوي موافق دده د عمله سره من خير وشر، او ژر دی چي خبر به سي کافران.

پوه سه: چي مظهري وايي ای لمن جزاً الحسنات في الدار الآخرة ددې دوو ډلو څخه د مؤمنانو او کافرانو چي کافرانو ته په عذاب معهود ورکړل سي وهم في غفلة منه، او مؤمنانو به جنت ته داخل کړل سي، وهذا كالتفسير لمكر الله بالكافرين.

وَيَقُولُ الَّذِينَ كَفَرُوا لَسْتَ مُرْسَلًا ۚ قُلْ كَفَىٰ بِاللَّهِ شَهِيدًا

او وايي هغه کسان چي دوی کفر کوي چي مراد څنې کفار د مکې دي يا رئيسان د يهودانو، ته نه يې را استول سوی يعني د خدای له خوا بلکې کاذبانه دعوه د نبوت دي کړېده، ته ورته ووايه چي کافي دی خدای ﷻ شاهد يعني زما په نبوت سره.

پوه سه: چي با زائده ده پر فاعل باندي او شهيداً تمييز دی له نسبت څخه والمعنى كفى شهادة الله.

بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ ۙ

زما او ستاسي تر منځ.

فائده: شاهدي د خدای ﷻ پر نبوت د عليه الصلوة والسلام اعطاً د معجزاتو خارقاتو د عادت الهي لكه شق القمر، او تسبيح د شګو په لاس کي د ابو جهل وغير ذالک او په اعلى درجه کي قرآن عزيز حيث قال الله تعالى "وان كنتم في ريب مما انزلنا على عبدنا فأتوا بسورة من مثله الى اخير الآية كما مر في سورة البقرة، يعني نو بل شاهد ته ضرورت سته بعد شهادة الله، او خدای پاک حاکم مطلق دی يوم الجزاً فلا يكون لهم عذر في هذا اليوم.

وَمَنْ عِنْدَهُ عِلْمُ الْكِتَابِ ﴿۴۳﴾

او هغه څوک شاهد زما پر نبوت باندي چي دده سره علم د کتاب سته يعني التورات، هذا عطف على لفظ الله، او مراد څنې مؤمنون د اهل کتاب دي لكه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عبد الله بن سلام ﷺ وامثاله، او دغه رنګه مؤمنان دي احبار د يهودانو ولايضر انكار الكافرين منهم عناداً وتكبراً وحفظاً لرياستهم على العوام واخذ الاموال منهم. كريمه " اشتروا بآياتنا ثمناً قليلاً.

فائده: چونكه اسلام د عبد الله بن سلام ﷺ په مدينه كي ؤ، نو ځكه بعض علماً وايي چي مذكوره آيت ددې سورت مدني دی كه څه هم نور ټوله سورت مكي دی.

مسئله: فلاسفه وايي چي محمد عليه السلام يو لوی حكيم او فيلسوف او لوی علم خدای ﷻ ورکړی ؤ نبي نه ؤ وهوًلاً من الكفار.

مسئله: ايمان پر عليه الصلوة والسلام باندي فرض عين دی، په دې دول چي دی رسول دی زمونږ في الحال او مبعوث دی و انس او جن ته او خاتم د انبياؤ او رسولانو دی، نو هغه كسان لكه قاديانان چي عليه الصلوة والسلام رسول بولي او خاتم الرسول يې نه بولي او دين دده مبارک باقي نه بولي الى يوم القيامة فهم كفار بالاجماع.

دروښ وايي: چي تفسير د سورت رعد پر پينځه ويشت د مياشتي د رجب پر اووه بجې د سهار د دوشنبې د ورځي سنه (۱۴۲۹) هـ ق او د فقير عمر د يونوې (۹۱) كالو په شاوخوا كي ؤ، وروسته شروع په تفسير د سورة ابراهيم كوم ان شاً الله تعالى.

التجاً: د عاصي دا تمنا او دعاً ده چي خدای ﷻ دي تفسير ايوبي په خپل قدرت كامله پای ته ورسوي او فقير ته دي دومره مهلت په ژوند كي سره د صحت او عافيت ورکړي چي دا تفسير تر اخيره پوري ورسوي وما ذالک على الله بعزيز.

الحمدلله على التوفيق والصلوة والسلام على سيدا المرسلين وعلى آله وصحبه اجمعين.

تفسير ايوبي حنفي د نصيراحمد احمدي لخوا سكين او pdf سو. د دعا محتاج احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سُوْرَةُ اِبْرٰهِيْمَ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ اثْنَتَانِ وَخَمْسُوْنَ اٰيَةً وَّسَبْعُ رُكُوْعَاتٍ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الحمد لله والصلوة على عباده الذين اصطفى.

رب يسر ولا تعسر وتممه بالخير والعافية.

دروښ وايي: چې دا مذهب د مظهري ؤ او روح البيان وايي چې سورة ابراهيم مکي دی مګر "الم تر الی الذين بدلوا" دوه آيتـه، او دی وايي چې آيتونـه يا يو پينځوس يا دوو پينځوس يا څلور پينځوس يا پينځه پينځوس دي والله اعلم.

اَلٓرٰ ۟ كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ اِلَيْكَ لِتُخْرِجَ النَّاسَ

دروښ وايي: چې تحقيق د مقطعاتو او اختلاف د علماؤ رحمهم الله پـه اوائلو کې د بعض السور تېر سو لکه سورت بقره.

کتاب موږ نازل کړی دی و تاته يا محمد (ﷺ) "کتاب" خبر د مبتدأ محذوف دی ای هذه السورة او القرآن کتاب "انزلناه اه" صفت دی د "کتاب" "لتخرج الناس" متعلق دی په "انزلناه" پورې يعنې حکمت د نزول يې دادی چې تا و باسې خلګ پـه بلنه سره ددوی و توحيد او اسلام ته او ته و دوی ته وښيه هغه شيان او احکام چې ددوی نفع او يا ضرر پکښې وي يعنې په توفيق د خدای ﷻ.

مِنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ ۙ

لـه تاريکی څخـه د اقسامو د ضلال من الشرک والمجوسية واليهودية والنصرانية ورښا تـه د دين د اسلام.

دروښ وايي: چې چونکه انواع د کفر او ضلال ډيرې وې کما قلنا نو ځکه يې ظلمات جمع راوړی او دين اسلام چونکه يو ؤ، نو ځکه يې لفظ د نور مفرد راوړی.

فائده: اطلاق د ظلمات پر انواع د کفر او د نور اطلاق پر اسلام تشبيهاً او استعارةً دی کما لا يخفى فافهم.

بِاِذْنِ رَبِّهِمْ اِلٰى صِرَاطِ الْعَزِيْزِ الْحَمِيْدِ ۙ

يعنې په توفيق او تسهيل د خدای ﷻ ددوی چې مربي ددوی دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې جار او مجرور متعلق دی په "تخرج" پورې. او یا حال دی له فاعل یا مفعول څخه د "تخرج" یعنې متلبساً باذن ربهم.

پوه سه: چې "الی صراط" بدل دی من قوله "الی النور" بتکریر الجار یعنې چې و باسې ته خلګ ولاړي ته د خدای ﷻ چې غالب دی په قدرت تامه سره او محمود دی بحیث لایستحق الحمد الا هو (نو فعیل په معنا د مفعول دی)

فائده: اضافت د "صراط" چې یې لفظ "الله" ته وکړی له دې سببه چې مقصود له دې لاړي څخه خدای ﷻ دی او یا مظهر ددې لارې خدای پاک دی. او ممکنه ده چې حمید دي په معنا د فاعل وي ای المجازي یعنې جزاً ورکونکی دی هر حامد ته پر حمد د هغه.

فائده: مراد له "صراط" څخه دین د اسلام دی فانه طریق موصل الی الجنة بل الی خیرات الدارین.

اللهِ الَّذِیْ لَهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ ؕ

پوه سه: چې لفظ "الله" په جر سره عطف بیان دی د "عزیز حمید" صفت یې نه دی لانه علم للذات الواجب الوجود الخالق للعالم والعلم لا ینعت به. هغه خدای چې ده لره دي ملکاً وخلقاً وعبیداً هغه شیان چې په اسمانو او مځکه کې دي که ذوی العقول او که غیر ذوی العقول وي من الموجودات.

وَوَیْلٌ لِّلْكٰفِرِیْنَ مِنْ عَذَابٍ شَدِیْدِ ۙ

پوه سه: چې "ویل" هلاک ته وایي. او کاشفي رحمه الله وایي چې رنج و مشقت ته وایي. وهو مبتدأ و خبره "للکافرین آه" کافرو لره یعنې بالقرآن له عذاب سخت څخه چې عذاب النار دی.

پوښتنه: "ویل" خو نکره محضه ده، نو ابتدا یې څرنګه صحیح ده؟

ځواب: ابتدا یې له قبیلې څخه د "سلام علیکم" ای سلام من قبلي علیک یعنې ویل من قبل الله. او یا له قبیلې څخه د شر اهر ذناب ای شر عظیم.

فائده: "ویل عظیم" دا دواړه ځوابه مأخوذ دي له شرح څخه د عبدالرحمن الجامي قدس سره علی کافیة ابن الحاجب.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: قاضي بيضاوي وايي چي ويل خو مصدر دی لکه هلاک دومره فرق يې دی چي له "ويل" څخه اشتقاق نه کېږي او له "هلاک" څخه اشتقاق ستنه، نو بايد منصوب واى لکه بعداً لک وخيبةً لک. لکن رفع يې ورکړه لافادة الثبات فهو وعيد شديد.

الَّذِينَ يَسْتَحِبُّونَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا عَلَى الْاٰخِرَةِ

هغه کافران چي دوی خوښ او مختاره کړي په دې د ځان لپاره، يعني لذات او شهوات د ژوند ناقص چي بې بقا دي پر نعمتو د آخرت والا لآمنوا لان الموصل الى نعيم الآخرة هو الايمان ليس الا.

اعراب: الذين سره د صلې يا صفت د کافرون دی يا منصوب دي على الذم په تقدير د اعني، او يا مرفوع على الذم دی په تقدير د مبتدأ دی هم الذين آه كما قالوا في قوله اعوذ بالله من الشيطان الرجيم، بالجر على انه صفت للشيطان او بالنصب على الذم يعني اعني الرجيم، او برفعه بحذف المبتدأ اى هو الرجيم.

پوښتنه: په دې درې اعرابو خو طالبان او امامان هم نه پوهېږي فضلاً عن العوام او ستا تفسير خو ستا په وينا د پښتنو لپاره دی؟

ځواب: ما ځو ځايه مکرر ويلي دي چي زما تفسير د پښتنو لپاره دی داسي مي نه دي ويلي چي فقط د پښتنو عوامو لپاره دی، بلکې نفع ددې تفسير د عوامو او خواصو دواړو ته رسېږي ان شاء الله ﷻ.

پوښتنه: باب د استفعال يعني په "يستحبون" کې خو لپاره د طلب دی، نو کافران له چا څخه طلب کوي؟

ځواب: په خواص الابواب د شافيه د ابن الحاجب کي وايي چي کله کله باب د استفعال په معنا د مجرد وي اى يحبون سلمنا ان باب الاستفعال للطلب فان المختار للشيئ يطلب من نفسه انيكون احب اليها من غيره كذا قال المظهري.

وَيَصُدُّونَ عَنْ سَبِيلِ اللّٰهِ وَيَبْغُونَهَا عِوَجًا

او دوی منع کوي (يعني خلګ، فالمفعول محذوف) له لاري څخه د خداى يعني په سبب د متابعت د رسول د خداى (ﷻ) "ويبغونها عوجاً" اى يطلبون

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سبيل الله (على حذف حرف الجر وايصال الفعل والاصل يطلبون لها) دوی طلبوي او تلاش کوي د سبيل الله لپاره کږوالی له حق څخه يعني يو نقصان چي دوي په هغه سره اعتراض پر وکړي، او يا معنا د آيت داده چي دوی طلبوي لار و خدای ﷻ ته په داسي حال کي چي دوی مائل له حق څخه وي چي دين د اسلام ی يعني په بت پرستی. کي دوی حق طلبوي مع انه محال. او يا ضمير منصوب د "يبغونها" راجع دی و دنيا ته ای يطلبون الدنيا على طريق الميل عن الحق يعني من الطرق المحرمة كالربوا والسرقة وغير ذالک.

أُولَٰئِكَ فِي ضَلَٰلٍۭ بَعِيدٍ ﴿٣﴾

او دغه کسان دي په گمراهي کي چي له حق څخه لهري دي.

پوه سه: چي بعد له حق څخه په واقع صفت د ضال دی لکن په ظاهره يې اسناد و ضلال ته وکړی مبالغةً.

وَمَآ أَرْسَلْنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّا بِلِسَانِ قَوْمِهِۦ لِيُبَيِّنَ لَهُمْ ۖ

او موږ نه دی استولی يو رسول مگر په لغت (نو مراد له لسان څخه لغت دی لان اللسان آلة اللغة) د هغه قوم چي دا رسول و هغو ته مبعوث دی يعني ان كان عربياً فعربياً و ان كان اعجمياً فاعجمياً و ان كان سريانياً فسريانياً الى غير ذالک "ليبين لهم" تا چي رسول ودوی ته بيان ددوی په ژبه وکړي، نو دوی به په پوه سي په اساني سره او رسول به پر دوی حجت ثابت کړي د دوی په ژبه.

فائده سنيه: پوه سه! چي رسولان دمخه تر عليه الصلوة والسلام مبعوث وه خاص خاص اقوامو ته په لغت د هغو قومو لكن بعثت د رسول كريم ﷺ و تولو اقوامو ته دی من العرب والعجم الترک والتاجک الى غير ذالک من الاقوام لكن دی مبارک اولاً مامور ؤ په دعوت د خپل قوم چي عرب وه قال الله تعالى "لتنذر ام القرى ومن حولها" وقال ايضاً "لتنذر قوماً ما انذر آبائهم" او دا قوم چي نه وه رسول سوي آبا ددوی من قبل هم العرب كما لايخفى، نو عليه الصلوة والسلام مبعوث سو بلسان عربي مبين الى اهل الحجاز، او نور خلګ تبع دي د عربو،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ولي چې عربو له علیه الصلوة والسلام څخه دین د اسلام زدکړی او بیا یې و نورو اقوامو ته ترجمه کړی دی، ولهذا قال علیه الصلوة والسلام الناس تبع لقریش في الخیر والشر رواه احمد ومسلم في الصحیح عن جابر ﷺ.

معنا د حدیث دا ده چې ټوله کفار تبع دي د کفارو د قریشو حیث کفروا اولاً ثم کفر غیرهم، نو پر کفارو د قریشو د ټولو کافرانو ګناه ده او مسلمانان ټوله تبع دي د مؤمنانو د قریشو حیث آمنوا اولاً فلهم اجرهم کلهم، کما ورد في الحدیث الصحیح الذي رواه جریر ﷺ و اورد مسلم قال قال رسول الله ﷺ من سن في الاسلام سنة حسنة فله اجرها واجر من عمل بها من غیر ان ینقص من اجورهم شیئ" که چا وضع کړه په اسلام کې یوه طریقه حسنه، نو واضع لره د دغې طریقې حسنه ثواب د هغې حسنې دی او ثواب د هغه چا چې عمل په طریقه حسنه ده واضع وکړی بهله دې چې عاملینو د حسناتو څخه دي شی کم کړي "ومن سن في الاسلام سنة سیئة فله وزرها و وزر من عمل بها من ان ینقص من اوزارهم شیئ" که چا وضع کړه په اسلام کې یوه طریقه چې بده وه یعني لکه امامان د روافضو او معتزله وو وغیرهم من فرق الضلال، نو دوی لره ګناه د هغې بدې طریقې او ګناه د هغو کسانو چې ددوی په بده طریقه عمل کوي بهله له دې چې له ګناهو څخه د نورو عاملانو دي شیئ ور کم کړي.

دروېش وایي: چې هم دا سبب دی چې په حدیث صحیح کې چې روایت یې بخاري کړی دی چې په هر قتل عمد (ناحقه) کې چې یو څوک یې وکړي تر قیامته پورې قابیل ابن آدم چې خپل ورور هابیل یې ناحقه قتل کړی ورسره شریک دی، وقصة مشهورة غایة الشهرة.

فائده: چونکه رسول کریم ﷺ سید الانبیاؤ دی او خیر او اشرف د انبیاؤ دی او شریعت دده خیر الشرائع کلها وامته خیر الامم وافضلهم، کریمه "کنتم خیر امة اخرجت للناس الآیة" نو خدای ﷻ چې امت دده پر کتاب واحد سره جمع کړی چې په لسان عربي سره الذي هو اشرف الالسنة وسیدها وافضلها وهو لسانه ولسان قومه ولسان اهل الجنة فکان سائر الالسنة تابعاً للسان العربي کما ان الناس تابع العرب.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حاصل د کلام دادی چې لار ښوونه و چا ته نه سي کېدای الا بمعرفة اللسان سواً کان بالذات کما في العرب او بالترجمة کما في غير العرب، قصة شاهدة لما قلنا. څلور کسان وه عرب، عجم، رومي او تُرکي، نو يو څو درهمه يې په لار کې پيدا کړه دوی چونکه يو د بل په ژبه نه سره پوهېدل، نو ددوی په دراهمو کې اختلاف وُ چې څه شی بايد په رانسو، نو يو بل سړی پر راغلی چې دا ژبې يې تولې زده وې، نو دې سړي عربي ته وويل "ای شیئ ترید" و للعجمي "چه میخواهی" وللترکی "نه استریسین" وللرومي "وټ دو يو وانټ" نو هغه عارف الالسنة پوه سو چې توله غواړي چې په دغو دراهمو انګور رانسو چې وه يې خورو. نو هغه سړي ورته وويل چې دراهم راکړئ چې زه شی درله راوړم نو ورغلی انګور يې ورته راوړه، نو اختلاف ددوی دفع سو.

دروښ وايي: چې علماً صالحين د امت مرحومه په حکم د ليبينن لهم داخل دي قال رسول الله ﷺ "العلماً ورثة الانبياً الی اخيره" رواه احمد والترمذي و ابو داؤد و ابن ماجه والدارمي عن کثير بن قيس، او د ابو سعيد څخه روايت دی چې قال رسول الله ﷺ ان الناس لکم تبع يعني د دين په زدکړه کې وان رجالاً ياتونکم من اقطار الارض، بعض خلګ به تاسي ته راځي له اطرافو څخه د متُحکي "يتفقهون في الدين" چې دوی به په دين ځان خبروي "فاذا اتوکم فاستوصوا بهم خيراً" نو چې دوی راسي نو قبول د وصيت وکړي ددوی سره د خير.

دروښ وايي: چې مظهري څو روايته له قبول څخه لهړي راوړي دي د ابن عباس رضی الله عنهما، او دا هم نه ده معلومه چې تر ابن عباس رضی الله عنهما پورې يې سند څرنګه دی او رجال يې څوک دي، چې د هغو حاصل دادی چې توله کتابونه د خدای ﷻ په عربي ژبه نازل سوي دي بيا يې ترجمه جبرئيل عليه السلام و هر نبي ته په ژبه د هغه د قوم کړې ده.

دروښ وايي: چې ما روح البيان، قرطبي او بيضاوي مطالعه کړه هيڅ تعرض يې و دې خبرې ته نه و کړی والله اعلم بالصواب، بلکې روح المعاني په تفسير په لسم جلد ص۱۸۶ کې وايي چې ضمير د "قومه" راجع دی و عليه الصلوة والسلام ته چې له سياق څخه فهمېږي اخرج ابن ابي عن سفيان الثوري

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لم ينزل وحي الا بالعربية كما مر بيا هر نبي و قوم ته خپل بلغتهم ددې قول نسبت وكلبي رحمه الله ته كړل سوى دى وفيه انه اذا لم يقع التبين الا بعد الترجمة فات الغرض المذكور في قوله تعالى "وما ارسلنا من رسول الا بلسان قومه ليبين لهم الآية لان ضمير قومه راجع الى الرسول وكذالك ضمير ليبين راجع الى رسول وعلى مذهب سفيان الثوري رحمه الله لم يكن الرسول مبيناً لقومه بلسان ما نزل اليه وهو العربية بل مبيناً لهم بترجمة ما نزل اليه وفي الكشاف ان ذالك اى ماقاله سفيان الثوري رحمه الله ليس بصحيح لان ضمير لهم لقوم وهو العرب فيؤدي الى ان الله تعالى انز التورات بلسان العرب ليبين للعرب وهو معنى فاسده وو كي چې موسى عليه السلام تورات خپل قوم ته په خپل ژبه راوړى ؤ لا للعرب بالعربية فافهم انتهى ما قاله السيد الآلوسي في روح المعاني مع زيادة بعض التراجم للعبد العاصي ثم اورد روح المعاني سوالاً وجواباً لا حاجة الى ذكرهما.

دروبش وايي: چې ما نقلنا عن روح المعاني كاف في رد قول سفيان الثوري والكلبي المذكور سابقاً والمظهري ايضاً لم يرض بالقول المذكور يعني مذهب سفيان الثوري والكلبي حيث قال في الآخير قلت وارجاع الضمير في قومه الى محمد ﷺ بعيد فيابي عنه قوله تعالى ليبين لهم اشارةً الى ما في روح المعاني.

فائده: ددې آيت تفصيل له خواصو څخه د تفسير ايوبي دى.

فَيُضِلُّ اللّٰهُ مَنْ يَّشَآءُ وَيَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ ؕ

نو خداى عليه السلام خلق د كفر او ضلال كوي په هغه چا كې چې اراده د ضلال يې ورته وسي په سبب د اسبابو مباشره په هغه چا كې چې حب د كفر او ضلال وي او هدايت كوي يعني خلق د هدايت كوي په هغه چا كې چې اراده د هدايت خداى پاک ورته وكړي لاستحقاقه له لما فيه من الانابة والاقبال الى الحق باختياره كذا في روح البيان.

دروبش وايي: چې پر دغه ترجمه چې جبريه چې دوى بنده مجبور محض بولي په كفر او په ايمان او په طاعت او عصيان كې په دغه آيت سره دليل وايي پر خپل مذهب باطل سره فتفكر فيه لتفهم بطلان استدلالهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝

او خدای ﷻ غالب دی چې ردونکی د قضا او مشیت دده څوک نسي کېدای او په هر کار او حکم کې خدای ﷻ حکمت لري فضول کار پر خدای پاک محال دی.

وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا مُوْسٰى بِاٰيٰتِنَآ اَنْ اَخْرِجْ قَوْمَكَ مِنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ ۙ وَذَكِّرْهُمْ بِاَيّٰىمِ اللّٰهِ ؕ

(لام موطئه د قسم محذوف دی) موږ استولی دی موسی "بآياتنا" يعني متلبساً بآياتنا من العصا واليد البيضا وباقي معجزاته التسع كما مرت في هذا التفسير "ان اخرج" چې ته وباسه.

پوه سه: چې "ان" مفسر دی د "ارسلنا" ولې چې په ارسال معنی د قول سته او وروسته تر قول ان مفتوح دی كما ثبت في النحو او يا ان مصدري دی بتقدير حرف الجر ای باخراج له تاريکيو څخه و نور ته.

پوه سه: چې ابن عباس او ابي بن كعب رضي الله عنهما او مجاهد او قتاده في تفسير قوله تعالى "وذكرهم بايام الله" وايي چې مراد له ايام څخه نعمتونه د خدای ﷻ دي، او مقاتل رحمه الله وايي چې مراد له "ايام الله" څخه و قائع د عذاب د خدای ﷻ دي په امم سابقه وو كې كقوم نوح وعاد وثمود، د عربو محاوره ده فلان عالم بايام العرب ای بوقائعهم.

پوښتنه: ايام خو ورځو ته وايي، نو څرنګه مراد څنې نعمتونه د خدای ﷻ دي يا عذابونه د امم سابقه وو دي؟

ځواب: چونکه دغه نعمتونه يا بلاوي د ورځې پېښېدلې نو ځکه تعبير په ايام څنې وکړی، فالتقدير فذكرهم بما كان في الايام الماضية من النعم او البلايا فتدبر.

اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُوْرٍ ۝

په تحقيق په دغو وقائعو كې د پر دلائل دي پر وجود د صانع او پر قدرت او پر وحدت او پر علم او قدرت او حكمت دده هر هغه چا لره چې كثير الصبر وي پر بلايا و او پر طاعت او له معصيت څخه، عرب وايي چې صبر چې متعدي په على سره وي،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نو مراد ځني صبر دی له معصيت ځخه لان النفس امارة بالسوء او صبر چې متعدي په کلمه د في وي مراد ځني صبر دی په بلا یاوو کې لان البلایا داعیة الی الجزع والفزع فلابد من المداوات بالصبر فیها او کثیر الشکر وي پر نعمتو د خدای ﷻ.

فائده: صبار او شکور دواړو صیغې د مبالغې دي، خدای ﷻ "صبار" او "شکور" له القابو ځخه د مؤمن وګرځول تنبیهاً علی انه لابد لکل مؤمن ان یوجد فیه هذین الوصفین لکن دا دوه وصفه کامل مؤمن لره دي، بیهقي له انس ﷺ ځخه روایت کړی دی الایمان نصفان نصفه في الصبر ونصفه في الشکر، وروی مسلم في صحیحه واحمد عن صهیب ﷺ مرفوعاً عجباً لامر المؤمن ان امره کله خیر ولیس ذالک لاحد الا للمؤمن (ای الکامل) ان اصابته سراً شکر (ای النعمة) وکان خیراً له (من البطر والکبر) وان اصابته ضراً (ای المرض او الفقر) صبر وکان خیراً له (من الجزع والفزع)

وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِ اذْكُرُوا نِعْمَةَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ أَنجَاكُم مِّنْ آلِ فِرْعَوْنَ

ای اذکر هغه وخت چې موسی (علیه السلام) قوم ته خپل وویل چې درپیاد کړئ نعمت د خدای ﷻ پر تاسي باندې. مراد له ذکر ځخه د نعمت په هر ځای کې د قرآن شکر د هغه نعمت دی چې تاسي ته نجات درکړي.

بوه سه: چې لفظ د "اذ" چې ظرف دی متعلق په نعمة الله پورې دی ای بنعمة الله وقت انجاکم له قوم ځخه د فرعون په امر د فرعون.

يَسُومُونَكُمْ سُوءَ الْعَذَابِ

دا حال دی له آل فرعون ځخه. په تهذیب المصاد کې وایي السوم چشانیدن عذاب وخواری انتهی و في البحر العلوم یذیقونکم ویبغونکم شدة العذاب، والسوء مصدر سأ یسوء وهو اسم جامع لجمیع الافات. مراد له "سوء العذاب" ځخه دادی چې فرعونیانو په امر د فرعون د بني اسرائیلو دلته خادمان د خپلو کورو ګرځولي وې او په نرانو یې سخت سخت کارونه کول ختې یې په کولې د فرعونیانو لپاره یې کورونه په جوړول الی غیر ذالک.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَيُذَبِّحُونَ أَبْنَآءَكُمْ وَيَسْتَحْيُونَ نِسَآءَكُمْ

دا جملې احوال دي د آل فرعون او يا له مخاطبينو څخه چې بنې اسرائيل دي يا له دواړو څخه او دوی ذبح کول ستاسي زامن يعني نر اولاد يعني چې صرف به له موره پيدا سوه او ژوندی به يې پرېښولې ستاسي ښځي.

سوال: ښځه خو لوی ښځي ته وايي، نو په وخت کي د ولادت خو دوی ته ښځه نه وايي؟

ځواب: دا مجاز دی په اعتبار د ما يؤل اليه يعني چې ددوی څخه به په اټينده کي لوی ښځي جوړېږي فهو من قبيل قوله تعالى في سورة يوسف "اني اعصر خمراً" والحقيقة اني اعصر عنباً.

پوه سه: چې چونکه عطف تغاير د معطوفينو غواړي، نو له "عذاب اليم" څخه غير د ذبح الابناً مراد دی، كما قلنا من قبل في تفسير سوء العذاب. او که واو عاطفه نه وای لکه په سورة بقره او په سورت اعراف کي نو به ذبح الابناً تفسير د سوء عذاب وای.

فائده: فرعون او فرعونيانو چې ذبح د ابناً د بني اسرائيلو کولو له دې سببه چې فرعون خوب ليدلی ؤ چې يو عظيم اور له بيت المقدس څخه راوځي او پر مصر را وګرځي او قبطيان يعني قوم د فرعون ټوله وسوځي او بني اسرائيل سالم پاته سي، نو ده چې کاهنانو ته دا خوب ووايه هغو يې داسي تعبير ورته وکړی چې په بني اسرائيلو کي به داسي يو مولود پيدا سي چې ستا د ملک د زوال سبب به وګرځي او هم ستا د هلاک، نو فرعون د تدبير او د عناد لستونې راوغښتل چې د تقدير الهي دفع او مقابله وکړي لکن ويأبى الله الا ان يتم نوره او ښځي چې يې ژوندی پرېښولې له دې سببه چې د فرعون غرض له نرو سره ؤ كما قال له الكهنة او بل ددې لپاره چې مينځيانې يې وګرځوي او ځپل د کورو خدمت په وکړي وقد مرت تمام القصة في تفسير سورة البقرة فتدبر.

وَفِي ذَٰلِكُم بَلَآءٌ مِّن رَّبِّكُمْ عَظِيمٌ ۝٦

پوه سه: چې اصلاً معنى د بلاً امتحان ده امتحان د خداى پاک ګاهي په خير

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او نعمت سره وي تاچي خلګ شکر ووايي او ګاهي په مصيبت او عذاب سره وي تاچي خلګ صبر وکړي پر قضاء د خدای پاک کما في قوله تعالى "ونبلونكم بالشر والخير فتنة" نو پر اول تقدير ذالک اشاره و انجاء ته ده، المذكور في قوله "اذ انجاكم من آل فرعون آه" والبلاء بمعنى النعمة وعلى التقدير الثاني ذالک اشاره ده وسوء العذاب او يذبحون آه ته والبلاء بمعنى النقمة والعذاب.

سوال: څرنګه فعل ددې بلاء و منسوب و خدای ﷻ ته دی؟

ځواب: خدای پاک چې فرعونيان قادر کړه پر دې عذاب د بني اسرائيلو او دوی ته يې ډير وخت مهلت هم ورکړی نو له دې کبله يې نسبت و خدای ﷻ ته وکړی.

وَإِذْ تَأَذَّنَ رَبُّكُمْ لَئِنْ شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ وَلَئِنْ كَفَرْتُمْ إِنَّ عَذَابِي لَشَدِيدٌ ﴿٧﴾

پوه سه: چې دا هم قول د موسى عليه السلام دی و قوم ته او معطوف دی پر نعمت والتقدير اذكروا نعمة الله عليكم واذكروا حين تأذن ربكم، كه تاسي شكر د نعمت زما ووایاست اې بني اسرائيلو يعني ايمان راوړئ او طاعت د نبي خپل وکړئ زه به خامخا هغه نعمت و تاسي ته زياتوم په مقدار او په دوام سره، قالوا ان الشكر قيد للموجود وجلب للمفقود، قال رسول الله ﷺ من اعطي الشكر لم يحرم الزيادة كه چا ته شكر ورکړل سو له زيادت څخه نه محرومه کېږي كذا روى عن ابن عباس رضي الله عنهما، او كه تاسي ناشكري د نعمت زما وکړئ په تحقيق زما عذاب سخت دی.

فائده: معنى د اذان اعلام او خبرول ده لكن چې د باب د تفعل په صيغه يې راوړی ددې لپاره چې په دې اعلام کې ځای د شک او شبهې نسته لما في خواص ابواب الشافية من ان باب التفعل قد يكون للتكلف والمبالغة كما في قولهم تزهد فلان اى تكلف في الزهد لكن التكلف محال في حقه تعالى فهو محمول على غاية الكمال والمعنى په ياد کړئ هغه وخت چې اعلان وکړی خدای ستاسي

پوه سه: چې اصل جزاء د شرط مذكور محذوفه ده، والتقدير لئن كفرتم اعذبكم عذاباً شديداً يعني بسلب النعمة في الدنيا والعذاب في الآخرة لان عذابي لشديد، نو اصل جزاء يې حذف کړه او دليل د جزاء يې په ځای کې و دراوه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: په صورت کي د شکر يې تصريح په جزاً سره وکړه يعني لازيدنکم او په صورت کي د کفران النعمة يې تصريح په جزاً سره نه وکړه حکمت يې څه دی؟

ځواب: دا عادت د کرامو دی او بل حکمت دادی چي تنبيه پر دې ده چي زياتوالی د نعمت د شکر سره لازم لاينفک دی. او کفران د نعمت موجب د عذاب نه دی بلکي عذاب په مشيت کي د خدای ﷻ دی يعني ان شأ عذب و ان شأ عفي عنه يعني بشرط کون الشاکر مؤمناً کما انعقد عليه الاجماع. ،، بيت:

شکر نعمت نعمتت افزون کند ..... کس زيان بر شکر گفتی چون کند

فائده: تولـه جمله د لئن شکرتم آه منصوب محلاً مفعول د فعل مقدر ده ای قال لهم لئن شکرتم آه.

وَقَالَ مُوسَىٰ إِن تَكْفُرُوا أَنتُمْ وَمَن فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا فَإِنَّ اللَّهَ لَغَنِيٌّ حَمِيدٌ ﴿٨﴾

وويل موسی (عليه السلام) يعني بني اسرائيلو ته که تاسي کفر وکړئ او دغه رنګه کفر وکړي هغه څوک چي په مخکه کي دي يعني من الانس والجن او شکر د خدای نه ووايياست، نو په تحقيق خدای (ﷻ) بې پرواه دی ستاسي له شکر څخه لان شکرکم لايفيد لله ﷻ کمالاً لانه تعالی کامل في ذاته وصفاته ليس له کمال منتظر. او خدای پاک محمود او مستحق د حمد دی حمده احد او لم يحمده. وحاصل الآية چي ضرر د کفر او د ناشکری ستاسي راجع دی وتاسي ته دی ولي چي د مزيد څخه د انعام محرومه سولاست او ځانونه مو و عذاب شديد ته د خدای و سپارله لانه تعالی غني حميد.

دروښ وايي: چي په حديث صحيح کي چي روايت يې ابو هريره ﷺ کړی دی "من رزق ستاً لم يحرم ستاً" که چا ته ورکړل سوه شپږ شيان، نو نه به سي محرومه د شپږ شيانو څخه. (١) "من رزق الشکر لم يحرم من الزياده" کريمه "لئن شکرتم لازيدنکم. (٢) ومن رزق صبراً لم يحرم الثواب لقوله تعالی انما يوفی الصابرون اجرهم بغير حساب" قال المولی الجامي قدس سره السامي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اگر ز سهم حوادث مصيبتی رسد ت
درين نشيمن حرمان كه موطن خطر يست
مكن بدست جزع خرقه صبوری چاک
كه فوت اجر مصيبت مصيبت ديگر است

(٣) "ومن رزق التوبة لم يحرمه القبول لقوله جل مجده "وهو الذي يقبل التوبة عن عباده آه" (۴) ومن رزق الاستغفار لم يحرم المغفرة لقوله تعالى استغفروا ربكم انه كان غفاراً" (۵) ومن رزق الدعا لم يحرم الاجابة لقوله تعالى ادعوني استجب لكم" ولي خداى ﷻ د بنده په زړه كي نه وراچوي دعا مگر نه د اجابت لپاره (٦) من رزق النفقة اى في سبيل الله لم يحرم الخلف لقوله تعالى "وما انفقتم من شيئ فهو يخلفه"

اَلَمْ يَاْتِكُمْ نَبَؤُا الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ قَوْمِ نُوْحٍ وَّعَادٍ وَّثَمُوْدَ ۛ وَالَّذِيْنَ مِنْ بَعْدِهِمْ ۛ

آيا نه دي راغلي تاسي ته، خبر د هغو كسانو او امتو چي تاسي دمخه و قوم د نوح عليه السلام او د عاديانو او ثموديانو او هغه كسانو چي تردي وروسته وه لكه نمروديان قوم د ابراهيم و قوم لوط و اصحاب الرس و اصحاب مدين واصحاب الايكة و غيرهم.

پوه سه: چي له كلام څخه د موسى عليه السلام و بني اسرائيلو ته او استفهام لپاره د تقرير دى يعني راغلي دي، او بعض مفسرين وايي چي دا كلام مستأنف دى او خطاب و امة ته د عليه الصلوة والسلام دى ولا يخفى انه خلاف سياق الكلام

لَا يَعْلَمُهُمْ اِلَّا اللّٰهُ ۛ

علم نه پر لري بهله خدايه بل څوک يعني لكثرة عددهم. ابن عباس رضي الله عنه وايي چي په منځ كي د ابراهيم عليه السلام او عدنان لس قرنه وه لا يعلمهم الا الله، او مالک بن انس رحمه الله وايي چي انسان ته دا مكروه ده چي خپل څان اباً اباً تر آدم عليه السلام پورې رسوي لانه خلاف هذه الآية فافهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ فَرَدُّوْٓا اَيْدِيَهُمْ فِيْٓ اَفْوَاهِهِمْ

چې راتګ کړی ؤ دوی ته رسولانو ددوی په معجزاتو ظاهرتو سره، نو رد کړل کافرانو خپل لاسونه په خپلو خولو کې، ابن مسعود ﷺ وایي عضوا علی ایدیهم غیظاً دوی په غاښو چیچل خپل لاسونه له ډېره درده له دې سببه چې پر خلاف ددوی د دین چې شرک ؤ رسولانو راتګ په معجزاتو سره وکړی.

دروښ وایي: چې د هر نبي معجزې په خپل ځای کې ذکر سوي دي.

دروښ وایي: چې دا عادت تر اوسه جاري دی چې چاته چې درد ورسي خپل لاسونه په غاښوي کما في قوله تعالی "عضوا علیکم الانامل من الغیظ" ورد في المنافقین حیث روا ایتلاف الاوس والخزرج الفةً شدیدةً بعد الایمان بمحمد علیه السلام مع کون هاتین الطائفتین اعداً فیما بینهما من مئات سنة.

او له ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چې کفارو چې به کتاب الله واورېدی تعجب به یې وکړی نو به یې رد کړل خپل لاسونه پر خولو یعني لاسونه به یې پر خولو ونیول تعجباً و استهزاء کمن غلب علیه الضحک فیضع یده علی فمه، او کلبي رحمه الله وایي چې کافرانو چې به د رسولانو خبرې واورېدلې خپل لاسونه به یې پر خوله کښېښول په دې سره یې اشاره ودې ته کوله چې رسولانو ته یې ویل چې پته خوله سئ او چپ سئ دا خبرې مه کوئ، او بعض مفسران وایي لکه مقاتل چې کافرانو به لاسونه پر خولو د رسولانو ونیول چې ساکت یې کړي د توحید له تبلیغ څخه.

وَقَالُوْٓا اِنَّا كَفَرْنَا بِمَآ اُرْسِلْتُمْ بِهٖ وَاِنَّا لَفِيْ شَكٍّ مِّمَّا تَدْعُوْنَنَآ اِلَيْهِ مُرِيْبٍ ۝

وویل امتو د رسولانو دوی ته چې په تحقیق موږ کافران یعني منکران یو له هغه څې څخه چې تاسي را استول سوي یاست په هغه یعني التوحید وعبادة الله وحده وترک عبادت الاصنام وغیر ذالک من الشرائع چې هغه موږ په شک کې اچولي یو.

سوال: کافران له رسالت څخه د رسولانو منکر وه، نو څرنګه یې بما ارسلتم رسولانو ته وویل؟

ځواب: معنی د "ما ارسلتم به" داده علی زعمکم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قَالَتْ رُسُلُهُمْ أَفِي اللَّهِ شَكٌّ

وويل رسولانو ددوی، آیا د خدای په وجود او توحید کي ستاسي شک دی؟

پوه سه: چي تانیث د قالت مبني دی پر تاویل د رسلهم بالجماعة فافهم.

پوه سه: استفهام لپاره د انکار دی بمعنی لاینبغي الشک بذالک للعاقل. همزه د استفهام یې پر في الله داخل کړی نه پر شک لان الکلام في المشکوک فیه وهو الله دون الشک لان الشک موجود فیهم البتة، و حاصل الآیة چي رسولانو دوی ته وویل چي موږ خو تاسي رابولو و الله وحده ته او دا یو داسي امر دی چي د شک قابل نه دی لدلالة کل شیئ من المحسوسات والمعقولات علی وجوده ووحدته وسائرصفاته الکمالیة قال السعدي الشیرازي.

برگ درختان سبز درنظر هوشیار ..... هر ورقی دفتریست معرفت کردگار

فَاطِرِ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ يَدْعُوكُمْ لِيَغْفِرَ لَكُمْ مِنْ ذُنُوبِكُمْ

(صفت یا بدل دی له لفظ الله څخه) چي هغه خالق دی د اسمانو یعني سره د ما فیها من الشمس والقمر والکواکب وغیرها او د مخکي یعني سره د ماعلیها وما فیها من الحیوانات والنباتات والخزائن والذهب والفضة وغیرها، تاسي خدای پاک بولئ وځان ته او و ایمان ته، او یا په بعثت زموږ و تاسي ته تاچي خدای پاک وبخښي و تاسي ته گنهونه ستاسي.

فائده: بعض مفسران وایي چي من زائد دی لقوله علیه السلام الاسلام یهدم ماکان قبله رواه مسلم، او بعض مفسران وایي چي من لپاره د تبعیض دی فان الاسلام یهدم من الذنوب ماکان بینه وبین الله من المعاصي دون مظالم العباد و حقوقهم.

وَيُؤَخِّرَكُمْ إِلَىٰ أَجَلٍ مُسَمًّى

او خدای پاک به تاسي وځنډوي تر هغه مدې چي معین کړی یې دی چي اخیر د عمرو ستاسي دی، او ژر به عذاب نه کړي درباندي نازل.

مسئله: دا آیت پر دې باندي دلالت کوي چي اصرار پر کفر باندي په حق کي د معذبینو د امم ماضیه سبب وُ د اهلاک ددوی او ددوی په باب کي قضاً معلق داسي وه که دوی ایمان راوړی وای لطال اعمارهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چي فقير په "من ذنوبكم" کي کلمه د "من" تبعيضي وبلل او حقوق د عباد او مظالم يې ځنې مستثنى کړه، دا مذهب د روح البيان ولكن روح المعاني ص١٩٦ که څه هم مذهب د تبعيض يې راوړی په کلمه د قيل وروسته يې ويلي دي "والذي صححه المحدثون" په شرح کي د هغه حديث د مسلم الذي مر عنقريب ان الاسلام يرفع ماقبله مطلقاً حتى المظالم وحقوق العباد وايد ذالک بظاهر قوله تعالى في آية اخرى يغفرلكم ذنوبكم بدون كلمة من، ثم قال ومن هذا ذهب ابو عبيدة والاخفش الى زيادة من.

دروښ وايي: چي روح المعاني ډېر وړد کلام راوړی دی كما هو عادته والله اعلم بالصواب والمراد في كتابه.

قَالُوٓا۟ إِنْ أَنتُمْ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا

وويل کافرانو و رسولانو ته چي نه ياست تاسي مگر بشر و انسان مثل زمونږ په ماهيت او په صورت کي او په اکل او شرب وغيرذالک، نو ستاسي څه فضيلت دی پر مونږ باندي چي تاسي دعوی د رسالت د خدای ﷻ کوئ يعني که خدای ﷻ وبشر ته رسول را استولای نو له يو جنس افضل څخه بې راستولی وای کقولهم لو شاء الله لانزل ملائكة.

دروښ وايي: چي دا خبره ددوی غايت حماقت وو چي الوهيت او معبوديت به پر بتانو روابولي او رسالت چي تر الوهيت ډېره کښته مرتبه ده پر بشر چي تر بتانو ډېر لوړ مقام لري روا نه باله.

تُرِيدُونَ أَن تَصُدُّونَا عَمَّا كَانَ يَعْبُدُ ءَابَآؤُنَا فَأْتُونَا بِسُلْطَٰنٍ مُّبِينٍ ﴿١٠﴾

ستاسي رسولانو دا اراده ده چي تاسي مونږ منع کړئ له عبادت څخه د شيانو يعني الاصنام چي زمونږ پلرو او نيکه ګانو د هغو عبادت کاوه، تاسي مونږ ته راوړئ يو حجت واضحه پر فضل ستاسي او پر استحقاق د رسالت.

پوښتنه: هر رسول و خپل قوم ته په معجزاتو ظاهره سره راتلګ کړی وو فما وجه قولهم "فأتونا الخ"؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خواب: دوی خو هغه ومعجزات سحر باله او تعنتاً او عناداً یې نوري معجزاتي غوښتې لکه رسول کریم ﷺ شق القمر او کلمه د توحید د حصاتو په لاس کي د ابو جهل یې سحر باله، بعضو به ورته ویل چي معجزه د عصا موسی او ید بیضا وغیرهما معجزه راته رواړه او بعض به ویل چي د صفا غر راته سره زر وګرځوه او بعضو به ویل چي د مکې مځکه غرونو اشغال کړې ده دا غرونه ایسته کړه چي د مکې ساحه فراخه سي الی غیر ذالک من اقتراحاتهم.

قَالَتْ لَهُمْ رُسُلُهُمْ إِنْ نَّحْنُ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ

وویل دوی ته رسولانو ددوی چي هو صحیح ده چي موږ نه یو الا بشر لکه تاسي لکن مثلیت په بشریت خو مستلزم عدم رسالت لره زموږ نه دی.

وَلَٰكِنَّ اللَّهَ يَمُنُّ عَلَىٰ مَن يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ

لکن خدای پاک احسان کوي له هغه چا سره چي د خدای پاک اراده ورته وسي له خپلو بندګانو څخه په نبوت او یا په فضائلو سره یعني رسالت موهبي او فضل الهي رتبه ده په مشیت پوري د خدای ﷻ مربوطه ده اشتراک الجنس یې مانع نه دی.

وَمَا كَانَ لَنَا أَن نَّأْتِيَكُم بِسُلْطَانٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ

او نه ده صحیح او نه ده ممکنه موږ لره راتګ په معجزاتو سره په خپل اختیار او طاقت سره حتی چي ستاسي اقتراحي معجزاتي درته راوړو بلکي معجزات مربوط او مشروط په اراده پوري د خدای ﷻ دی نو هر نبي ته یوه نوع د معجزاتو ورکوي چي په صحت د دعوی د نبوت دده کافي وي.

دروښ وایي: چي غالب عادت د خدای ﷻ جاري دی په دې سره چي په هره زمانه کي یو کار او صنعت په خلګو ډېر جاري وي او خلګ ډېر مهارت پکښې لري ظاهراً د هغه صنعت و نبي ته د هغه وخت ورکوي تاچه په هغه ماهرانه کار او صنعت کي پر خلګو غالب سي مثلاً په زمانه کي د بعثت د موسی علیه السلام په عمالقه قوم فرعون کي سحر او جادو ډېر شهرت درلودی چي یو شی له خپل ماهیت څخه علحدةً د خلګو په نظر ورکاوه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې لکه زمونږ په زمانه کې هم ورته کسان ستنه، نو خدای ﷻ د موسی علیه السلام لوی معجزې د هغه سحر او جادو له مثل څخه وګرځولې یعنې عصا او ید بیضا که څه هم د موسی علیه السلام نهه معجزې وقتاً فوقتاً خدای ﷻ ورکړې هغه وچې خدای پاک موسی علیه السلام پر اوویا زره ساحرانو غالب وګرځاوه او هغو تولو ایمان راوړی، او د عیسی علیه السلام په زمانه کې طبابت او ډاکټری په هر شهرت درلودی، نو خدای پاک و عیسی علیه السلام ته معجزه د احیاً الموتی، ابرا الاکمه والابرص ورکړه چې دا دړې معجزې له دائرې څخه د قدرت د طبیبانو خارج وې او عیسی علیه السلام پر تولو غالب سو، او د رسول اکرم ﷺ په زمانه کې بلاغت او فصاحت او اشعارو ډېره ډېره لویه چرچه وه کما یشهد به کتاب سبع معلقات چې د اوو شاعرانو قصیدې پکښې درج دي چې یو د بل له سیالی څخه یې جوړې کړې وې چې هغه کتاب اوس هم موجود دی او په بعض مدارسو کې په نظام درسي کې داخل دي او نهایت سخت کتاب دی چې د هر ملا او عالم یې درس له طاقته نه دی پوره، مقوله: انجیر خوردن نه کار هر مرغیست.

نو د علیه الصلوة والسلام تر تولو لویه معجزه چې باقي تر الازمان و مر الدهور به وي قرآن عظیم الشان معجزه و ګرځول او په هغه کتاب بلاغت مآب کې خدای ﷻ اعلان وکړی "ان کنتم في ریب الی اخیر الآیة" لکن سره د هغه بلغاً د عدنان او فصحاً د قحطان یې له مقابلې څخه پاتې راغله او عاجزه سوه. دا وه توضیح په مناسبت د دې مقام د دروښ عاصي له خوا ومن الله التوفیق.

وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۲﴾

او خاص پر خدای ﷻ دی توکل او اعتماد کوي مؤمنان.

پوه سه: چې په دې آیت کې لارښوونه ده "ومن آمنوا بالرسل واتبعوهم بالصبر علی اذی الکفار والتوکل علی الله في معاندة الاعداً لان الایمان بالله یقتضی التوکل علیه تعالی" ولې چې د مؤمن چې دا عقیده وي چې خالق د خیر او د شر خدای ﷻ دی، او ضار او دافع هم خدای ﷻ دی او معطي او مانع هم خدای ﷻ دی الواحد القهار لاغیره نو پرده لازمه ده چې تفویض د تولو امورو خپل و خدای ﷻ ته وکړی لاغیره.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې توکل منافي د اسبابو سره نه دی ولي چې علیه الصلوة والسلام په خپل غزوات کې د آلات د حرب حسب الطاقة برابروله، ، ع: کشت کن پس تکیه بر جبار کن.

وَمَا لَنَآ اَلَّا نَتَوَكَّلَ عَلَى اللّٰهِ وَقَدْ هَدٰىنَا سُبُلَنَا ۭ وَلَنَصْبِرَنَّ عَلٰي مَآ اٰذَيْتُمُوْنَا ۭ وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُتَوَكِّلُوْنَ ﴿۱۲﴾

او څه سبب او باعث دی موږ لره چې توکل به نه کوو پر خدای ﷻ، او په تحقیق موږ ته خدای ﷻ د لارو زمونږ چې موږ یې په دې پوه کړي یو چې کارونه ټوله په قدرت کې د خدای ﷻ دي او زمونږ پر دې هم ایمان دی فلامانع للتوکل علیه تعالی بل الداعي الیه موجود وهو هدایته تعالی ایاناً، او موږ مؤمنان صبر کوو پر ازار ستاسي ایها الکفار موږ لره او خاص پر خدای ﷻ دي توکل کوي مؤمنان.

پوښتنه: په آیت د تکرار د توکل څه حکمت دی؟

ځواب: په اول آیت مراد ایجاد د توکل دی او په دوهم آیت کې مراد ثبات پر توکل دی، او بل ځواب دادی چې توکل حقیقي پر خدای ﷻ وپر شاق او سخت امر دی فلهذا کرره الله ﷻ مرة بعد اخری.

دروښ وایي: چې یوه فائده د توکل پر خدای ﷻ داده چې هر مصیبت که په نفس کې وي او که په مال کې او که په اولاد کې وي پر سړي آسان ګرځي، او بله فائده یې داده چې توکل علی الله په جهاد کې د کفارو سره و مؤمن ته ډاډګېرنه په برخه کوي الی غیر ذالک من الفوائد.

وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِرُسُلِهِمْ لَنُخْرِجَنَّكُمْ مِّنْ اَرْضِنَآ اَوْ لَتَعُوْدُنَّ فِيْ مِلَّتِنَا ۭ

او ویل به هغه کسانو چې کفر یې کاوه، یعني هري ډلې ددوی و رسولانو ته چې ددوی په له رسالت څخه د هغو منکر وه "لام موطئه د قسم محذوف دی یعني قسم په خدای ﷻ دی چې یو ددې دوو کارو به حتماً تاسي کوئ" یا موږ تاسي د خپلي محکي څخه فرار کوو، او یا راوګرځئ زمونږ ملت او دین ته چې شرک دی.

سوال: د عود معنی خو داده چې بیا به موږ ته عود کوئ لکه پخوا چې زمونږ په دین کې واست، او سره ددې چې رسولان خو هیڅ وخت ددوی په دین کې نه وه؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: دلته عود پر ځپل معنی نه دی بلکې په معنی د لتصیرون تاسي به داخلېږئ زمونږ په دین کي. او بل ځواب دادی چې "لتعودن في ملتنا عام" دی رسول او مؤمنانو ته، نو تغلیب یې ورکړی و مؤمنانو ته پر رسول باندي او مؤمنانو نحو دمخه تر ایمان ددوی پر دین وه. او بل ځواب دادی چې کلمه د او بنا پر توزیع ده یعني هغه ځوک چې زمونږ ملت نه راګرځي لکه رسولان هغه مونږ له وطنه باسو او هغه ځوک چې زمونږ دین ته بیرته راسي هغه مونږ په وطن کي پرېږدو.

فَأَوْحَىٰ إِلَيْهِمْ رَبُّهُمْ لَنُهْلِكَنَّ الظَّالِمِينَ ﴿١٣﴾

نو وحي وکړې و رسولانو ته رب ددوی چې هر آئینه به مونږ هلاکوو ظالمان چې د رسولانو د قوم کافران وه.

وَلَنُسْكِنَنَّكُمُ الْأَرْضَ مِن بَعْدِهِمْ ۚ

او مونږ به سکونت او اوسېده درکوو و تاسي ته سره د خپلو اتباعو مؤمنانو په مځکه کي یعني د کافرانو وروسته تر دوی یعني تر هلاک ددوی.

ذَٰلِكَ لِمَنْ خَافَ مَقَامِي وَخَافَ وَعِيدِ ﴿١٤﴾

دغه وعده چې رسولانو ته به وحي وسوې چې عبارت له اهلاک ځخه د کافرانو ده، او مسلط والی د مؤمنانو دی پر مځکه د کافرانو د هغه چا لپاره دی چې ببرېږي په قیامې ځخه په حضور کي د رب العزت په ورځ د قیامت او ببرېږي له عذاب ځخه زما.

پوه سه: چې کسره د دال عوض د مضاف الیه ده ای وعیدي، او بعض قاریان یې په اثبات د یا وایي لکن په حال د وصل په ما بعد سره فقط او له عذاب ځخه مراد عذاب موعود د کافرانو دی.

پوه سه: چې مؤمنان ټوله په لمن خاف آه کي داخل دي.

وَاسْتَفْتَحُوا وَخَابَ كُلُّ جَبَّارٍ عَنِيدٍ ﴿١٥﴾

او طلب د فتح وکړی، او په خسران کي واقع سو او په هلاک کي هر جبار متکبر علی الله او معاند د حق دین د توحید.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي په "واستفتحوا" کي سين او تا لپاره د طلب دي، نو که مصدر د دغه لفظ فتح وي نو معنی يې داده چي رسولانو طلب د فتح وکړی پر خپلو اعدا کافرانو باندي او که مصدر يې فتاحه وي په معنی د قضاوة نو د قبيلې د هغه آيت دی "ربنا افتح بيننا وبين قومنا بالحق"

پوه سه: چي دا جمله عطف ده پر "اوحی باندي" او ضمير د جمع راجع دی و انبيأته، يعنې چي له ايمان څخه د قوم نا اميده سوه، نو دوی به خدای ﷻ ته خواست د فتح او عذاب وکړی د قوم لپاره لکه نوح عليه السلام چي وويل "رب لاتذر على الارض من الكافرين ديارا" يا لکه موسی عليه السلام چي خواست وکړی "ربنا اتيت فرعون وملائه الی قوله اطمس الآية" او ابن عباس رضي الله عنهما او مقاتل رحمه الله وايي ضمير د جمع کفارو ته راجع دی کما قال کفار مکة اللهم ان كان هذا هو الحق من عندك فامطر علينا حجارة من السما آه" يعنې موږ حق دين د محمد عليه السلام نه منو، نو که دا دين حق وي نو پر موږ د ډبرو باران وکړې وهذا اظهار غاية الانكار. او بعض مفسرين وايي چي ضمير د جمع مؤمنانو او کافرانو دواړو ته راجع دی، ولې خو دواړې ډالې خپل ځانونه پر حق بولي او دواړو ډلو به ويل اللهم انصر المحق منا واهلك المبطل، وكل حزب بما لديهم فرحون.

حکايت: امام دميري رحمه الله په حيوة الحيوان کي وايي چي امام ماوردي رح په خپل کتاب کي په نامه د ادب الدنيا والدين کي وايي چي يوه ورځ وليد بن يزيد بن عبد الملک بن مروان په قرآن مجيد خپل د ځان لپاره فال واچاوه، نو دا آيت په فال کي راغلی "وخاب كل جبار عنيد" نو قرآن مبارک يې ټوک ټوک کړی او دا دوه بيته يې هم وويل:

اتوعد كل جبار عنيد ..... فها انا ذاك جبار عنيد

اذا ما جئت ربک يوم حشر ..... فقل يا رب مزقني الوليد

نو لږ ورځې وروسته دا وليد ووژل سو د خپل دښمن له خوا شر قتلة او سر يې ځني پرې کړی اول يې دده د قصر پر بام وځړاوه او بيا يې د بنار پر دهوالې انتهى.

په انسان العيون کي وايي چي مروان سبب د قتل د عثمان رضي الله عنه وو او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عبد الملک د مروان زوی سبب د قتل د عبد الله بن الزبير ﷺ و. و وقع من الوليد بن يزيد بن عبد الملک الامور الفظيعة انتهى.

په روح المعاني کي وايي چي رسول الله ﷺ په خوب کي بن امية په صورت کي د بيزوګانو ليدلي وه فقال عليه السلام ويل لبني امية ثلاث مرات، او په بني اميه وو کي د خير او د صلاح سړی ډير کم پيدا سوی دی، څه وخت چي ابو مسلم خراساني پر بن اميه حمله وکړه. نو حکمت يې بني العباس قبيلې ته وسپاره انتهى.

دروښ وايي: چي تفصيل ددې خبرو دي په سير او تواريخو کي مطالعه کړل سي.

مِّن وَرَآئِهِۦ جَهَنَّمُ وَيُسْقَىٰ مِن مَّآءٍ صَدِيدٍ ﴿١٦﴾

و مخ ته دده جهنم دی لکه دی چي پر غاړه ولاړ دی په دنيا کي او دوزخ ته مبعوث دی په اخرت کي، او بعض مفسرين وايي چي من ورائه ای وراً حيو ته ای بعده. ابو عبيده وايي چي لفظ د وراً له اضدادو څخه دی يعني پر دوه ضده يې اطلاق کېږي القدام والخلف، او په ده څيښل کېږي. (دا فعل عطف دی پر محذوف تقديره من ورائه جهنم يلقى فيها ويسقى)

يوه سه: چي "صديد" عطف بيان د ماً دی، او صديد هغه ماً مانتده نجس بدبوی اوبو ته وايي چي د دوزخيانو له پوستو څخه او ددوی له نسو څخه راوځي او نونه او وينې سره ګډ وي، نو پر دوزخيانو چي غايت تنده غلبه وکړي، نو دغه اوبه ورکول کېږي، ددوی بد ځني وکړل سي او چي ښه يې ورنژدې کړي مخان يې ورکباب کړي او د پوستکي پکښې واقع سي حتى چي د غايت مجبوری د تندي يې وځيښي کلمې يې ور تو ته تو ته کړي تر دېره يې راووځي. وفي موضع آخر من القرآن "وسقوا ماءً حميماً فقطع امعائهم الآية"

يَتَجَرَّعُهُۥ وَلَا يَكَادُ يُسِيغُهُۥ وَيَأْتِيهِ ٱلْمَوْتُ مِن كُلِّ مَكَانٍ وَمَا هُوَ بِمَيِّتٍ ۖ

په تکليف يې څيښي هغه هم غړپ غړپ لغاية نتنه (وهو صفت لماً او يا حال دی له ضمير څخه د يسقى) قريبه نه ده چي تر ستوني دي تېر سي فکيف

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يسد عطشه (والسوغ في اللغة تيرى د مشروب دى تر حلق په اسانى سره مع طيب النفس) او ده ته راځي مرګ يعني اسباب د مرګ من انواع العذاب له هر طرف څخه دده د جسد لان النار محيطة به من جميع الجوانب، او نه دى دوزخي چي مړ دي سي او په استراحت دي سي له عذابه څخه.

وَمِنْ وَّرَآئِهٖ عَذَابٌ غَلِيْظٌ ﴿۱۷﴾

په مخ کي دده يا وروسته عذاب دى سخت او اشد د مخه تر ذکر سوي عذاب وهو الخلود في النار، او فضيل بن عياض وايي چي عذاب غليظه دادى چي ددوى نفسونه بند سي ساه يې نه پورته کېږي او نه کښته کېږي، له دې سببه په خپه وژل چي صلب يې بولي اشد دى له انواعو څخه د مرګ.

دروبش وايي: چي د عذاب د دوزخ عصمنا الله منه له دې حديث څخه نبه معلومېږي چي عليه الصلوة والسلام وايي چي له خداى ﷻ له خوا څخه ملک ويو سپک ته عذاباً من اهل النار ووايي چي که تولهما في الارض ستا واى تابه په فديه ددې عذاب ورکاوه دى ورته ووايي نعم هو، نو دا هغه اخف عذاباً دى الى اخير الحديث.

مَثَلُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ اَعْمَالُهُمْ كَرَمَادِ ِۨاشْتَدَّتْ بِهِ الرِّيْحُ فِيْ يَوْمٍ عَاصِفٍ ؕ

او حال چي لکه مثل دى په غرابت کي د هغو کسانو چي کفر يعني انکار د وحدانيت څخه ددوى د خداى ﷻ يې کړى وي، عملونه ددوى لکه ايرې ("اعمالهم" مبتدأ ده "کرماد" يې خبر دى او دا جمله مستأنفه ده لپاره د بيان د حال ددوى) چي سخت سي پر هغو ايرو باندې باد يعني چابک پورته کړي له ځايه څخه په هغه ورځ چي تند باد پکښې وي.

پوه سه: چي "مثل الذين" مبتدأ ده خبر يې محذوف دى اى فيما يتلى عليكم.

پوه سه: چي عاصف خو اصلاً صفت د باد دى لکن په نظم کي د قرآن يې صفت د يوم گرځولى دى چي ظرف د باد مبالغةً في شدة هبوبه كقولهم نهاره صائم وليله قائم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې مراد له اعمالو څخه د کفارو هغه عملونه دي چې ددوی په ګمان به حسنات وه او دوی به د حسن الثواب زعم کاوه لکه صدقه، صلة الرحم، عتق الرقاب ونحو ذالک.

دروښ وايي: چې له دې قسمه څخه دي خبريه مؤسسې د کافرانو چې د مسلمانانو و کونډيانو او يتيمانو ته مالونه را استوي يا د مسلمانانو د وطنو تعمير کوي يا سړکان وربخوي الى غير ذالک من الحسنات لکن لما کانت على غير شرط الحسنات وهو الايمان فهي ايضاً کرماد اشتدت آه.

فائده: چونکه اعمال د کفارو اساس محکم نه درلودی وهو معرفة الله والايمان به بالتوحيد وغيره من صفات الکمال، نو ځکه خدای ﷻ شان په رماد آه سره ووايه.

لَا يَقْدِرُونَ مِمَّا كَسَبُوا عَلَىٰ شَيْءٍ ۚ ذَٰلِكَ هُوَ الضَّلَالُ الْبَعِيدُ ﴿١٨﴾

قدرت نه لري کافران په ورځ د قيامت پر يوشي د عملو خپل چې دوی په دنيا کې کول من الحسنات يعني پر ثواب د هغو، ولي هغه عملونه ددوی لعدم شرطها وهو الايمان لغوه عندالله، او دغه ضلال ددوی سره ددې چې دوی ځانونه محسنون بلله لويه ګمراهي ده بعيد عن الحق بمراحل لکونها مبنية على شرک والکفر.

دروښ وايي: چې دا چې حال د حسناتو ددوی دی فکيف حال سيئاتهم من القتل وسجود الاصنام والسرقة وغيرها، طبراني د ام سلمه ﷺ څخه روايت کړی دی چې حارث بن هشام ﷺ چې د ابوجهل بن هشام ورور ؤ عليه الصلوة والسلام په حجة الوداع کې ؤ نو ده وويل يا رسول الله ته خلګ باعثه کوې پر وصيله رحمي باندې او پر احسان د همسايه او کومک مالي او نفقې د يتيمانو، او پر مهمان نوازۍ او پر اطعام د مسکين دا ټوله خويونه خو په هشام کې وه يعني چې ددوه پلار ؤ فما ظنک به يا رسول الله؟ عليه الصلوة والسلام ورته وويل کل قبر لا يشهد صاحبه ان لا اله الا الله فهو جذوة من النار، يعني سټا پلار مشرک ؤ نو قبر يې ځاى د اور دى الى اخير الحديث، او په بل روايت کې راغلي دي چې عليه الصلوة والسلام ته مينځياني د طى د قبيلې راوستل سوې، په هغو کې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يوې مينځي عليه الصلوة والسلام ته وويل يا محمد که ستا خوښه وي ما خوشي کړه او قبائل د عربو زما په سبي (مينځتوب) مه خوشاله کوه فاني بنت سيد قوم طی. زما پلار مسکينانو ته ډوډۍ ورکوله او وږي يې مړول او افشاً د سلام يې کوله او طالب د حاجت يې هيڅ کله جواب کړی نه دی "انا بنت حاتم طی" يعني چې په ټوله نړۍ کې د تاريخ په پاڼو د حاتم طائي د سخاوت نوم درج دی، نو عليه الصلوة والسلام ورته وويل يا جارية هذه صفة المؤمنين حقاً که چېرې ستا پلار مشرک نه وای موږ به دعا د رحمت الهي ورته کړې وای، او مسلمانانو ته عليه الصلوة والسلام وويل چې دا ښځه خوشي کړئ فان اباها کان يحب مکارم الاخلاق والله يحب مکارم الاخلاق په يوه روايت کې راغلي دي چې عليه الصلوة والسلام په ليلة المعراج کې چې معاينه د دوزخ يې کوله يو سړی يې په دوزخ کې وليدی چې اور يې بدن نه مسه کاوه. نو عليه الصلوة والسلام پوښتنه وکړه چې دا سړی چې په دوزخ کې دی او اور يې نه مسه کوي څوک دی؟ فقال جبرئيل وويل هذا حاتم طی صرف الله عنه عذاب جهنم بسخائه وجوده.

کنون بر کف دست نه هرچه هست ..... که فردا بدندان گزی پشت دست
مگردان غريب ازدرت بی نصيب ..... مبادا که گردی بدرها غريب
نه خواهنده بر در دیگران..... بشکرانه خواهنده از درمران
بريشان کن امروز گنجينه چست ..... که فردا کليدس نه دردست تست

حکايت: عبدالله بن جدعان چې د حضرت عائشې رضي الله عنها د اکا زوی وۀ په ابتدا کې د امر ډېر مسکين ؤ او سره د هغه ډېر شرير او جنايت کار سړی ؤ، هر جنايت چې به يې وکړی پلار او قوم به يې فديه او تاوان ورکاوه اخير الامر د ډېرو جنایاتو په سبب پلار او قوم ځنې بېزاره سوه او ځواب يې ورکړی، نو دی سر گردان د مکې په غرو کې گرځېدی او تمنی د مرگ يې درلوده، اخير يې يو غار په غره کې د شپې وليدی نو يې دا خيال سو چې په دې غار به ننوځي خودکشي به وکړې، غار ته چې ورنژدې سو له غار څخه يو مار چې سترگې يې لکه څراغ رڼا يې درلوده پر راووتی عبدالله بن جدعان را ترشا سو مار بيرته په غار ننوتی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دی دهر حیران سو چې دې مار ولې پرتا حمله ونه کړه، بیا چې غار ته ورنژدې سو مار بیا سې راووتی بیا دی ځنې تر شا سو مار بیرته په غار ننوتی ځو واړه چې یې دا تجربه وکړه نو یې یقین سو چې دا مصنوعي کار دی. نو مار ته یې ورحمله کړه تینګ یې کړی هغه د سرو زرو مار ډبه سترګو کې یې یاقوت ور اینبي وه. نو یې مار تکړه تکړه کړی، نو یې په غار کې د دهرو بادشاهانو مجسمې ولیدلې او په دې غار کې دهر اموال سره زر، سپین زر، یاقوت او قیمتي ملغلرې پیدا کړې او په دې لویه خزانه کې یې یوه تخته پیدا کړه چې پر تخته نوشته وه، انا فضیلة بن جرهم بن قحطان بن هود نبي الله. پینځه سوه کاله عمر ماته خدای راکړی ؤ او په دې پینځه سوه کاله کې ما ظاهر او باطن د ځکې ولټوی حتی چې دغه خزائن او اموال مې سره جمع کړه لکن هرګ نجات نه کړی را،،، سعدي شیرازي رحمه الله:

جهان ای پسر ملک جاوید نیست ..... زدنیا وفاداری امید نیست
به بر باد رفتی سحر گاه وشام ..... سر بر سلیمان علیه السلام
بآخر ندیدی که بر باد رفت ..... خنک آنکه باداش وداد رفت

خبر عبدالله بن جدعان شپه هوړې سهار کړه او څه سره زر او سپین زر یې راواخستل او پلار ته یې ورکړه چې زما د جنایاتو فدیه ورکړه او بیا یې څه مال راوړی د قبیلې په خلګو یې تقسیم کړی حتی چې د قبیلې رئیس ومنل سو، سم له لاسه یې د خزانې پیسې سره زر او سپین زر او غصیان راوډل اخیر یې لاس په سخاوت پورې کړی عام او خاص ته یې فراوان دوډی ورکوله، نو حضرت عائشې رضي الله عنها وویل یا رسول الله ان ابن جدعان کان في الجاهلية يصل الرحم ويطعم المسكين فهل ينفعه ذالک يوم القيامة؟ فقال عليه السلام لا لانه لم يقل يوماً يارب اغفر لي خطيئتي يوم الدين. يعني مات على الشرک كذا في انسان العيون،

أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ بِالْحَقِّ

آیا ته نه ګورې (الخطاب لغير معين من الكفار خصوصاً كفار قريش) چې خدای ﷻ پیدا کړي په خپل قدرت بلا نهایت سره اسمانونه اوده (پر نظام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

محكم سره د ما فيها من الشمس والقمر والنجوم وغيرها او محكمه سره د ما عليها من الحيوانات والنباتات والاشجار والثمرات وغيرها من الفلذات والجواهرات) په حق سره يعني بالحكمة البالغة مشتملاً على المنافع الكثيرة الدالة على وجود الصانع وتوحيده.

يوه سه: چې مراد له نظر څخه د عبرت او تأمل عميق نظر دی كما لا يخفى، او يا مراد له رؤيت علمي دی.

دروېش وايي: چې روح البيان وايي چې خطاب د "تر" و عليه الصلوة والسلام ته دی او مراد د امت دعوت دده دی يعني چې كافران دي نه امت اجابت چې مؤمنان دي آه. ولا يخفى انه تكلف شايد باعث د روح البيان پر دې تفسير دادی چې كلمه د "تر" مخاطب مفرد ده، نو خطاب و تولو كافرانو نسې كېدای لكن دروېش د هغه دفع په ترجمه كې د آيت وكړه بقوله الخطاب لغير معين. وحاصل ان افراد الخطاب بتأويل كل من يصلح للخطاب من الكفرة والدليل على ما قلنا قوله تعالى:

اِنْ يَّشَاْ يُذْهِبْكُمْ وَيَاْتِ بِخَلْقٍ جَدِيْدٍ ﴿١٩﴾

كه د خدای (ﷻ) اراده سې تاسي به نيستي او هلاک كړي او ستاسي په عوض كې به نوی مخلوق پيدا كړي.

دروېش وايي: چې دا خطاب څو بيلا ريب و كافرانو ته دی فافهم وخذ ما صفا ودع ماكدر والله اعلم بالصواب.

دروېش وايي: چې صاحب د روح المعاني دواړه مسلكه راوړي دي يعني الخطاب لسيد المخاطبين ﷺ والمراد امته كما مر عن قريب والخطاب العام كما اشرنا اليه.

وَمَا ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ بِعَزِيْزٍ ﴿٢٠﴾

او نه دی دا اهلاک ستاسي او اتيان په خلق جديد سره پر خدای ﷻ باندې متعذر او گران فانه تعالى قادر لذاته لا اختصاص له بمقدور دون مقدور، نو عاقل سړي لره په كار دی چې د داسي مقتدر خدای ﷻ عبادت او اطاعت وكړي په اميد د ثواب، او عصيان او سركښي څخه ونه كړي خوفاً من عقابه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَبَرَزُوا لِلّٰهِ جَمِيعًا

دوی په نېکاره سي يعني له قبر څخه به راووځي په ورځ د قيامت لپاره د امر او د حساب د خدای ﷻ.

سوال: دا بروز د خلګو خو په مستقبل کي د زمانې راتلونکي دی نو تعبير په ماضي چي برزوا د څه حکمت لپاره وکړل سو؟

ځواب: هر کار چي په مستقبل کي متيقن الوقوع وي لکه ورځ د قيامت هغه لکه ماضي په سبب د تيقن ومثل هذا کثير في القرآن کما لا يخفى.

فَقَالَ الضُّعَفٰٓؤُا لِلَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْٓا اِنَّا كُنَّا لَكُمْ تَبَعًا

نو وبه وايي ضعيفان "الضعفآء" جمع د ضعيف ده يا مراد دادی چي ضعيف الحال وه په دنيا کي. يعني مال او شتمني يې نه درلوده، او يا مراد دادی چي ضعيف العقل والرای وه، و هغو کسانو ته چې تکبر يې کاوه پر خلګو چې د ضعيفانو رئيسان او دوی يې له متابعت څخه د رسولانو منع کول، مونږ خو ستاسي تابعان ؤ يعني کفر او عصيان د رسولانو مو ستاسي په متابعت کاوه.

پوه سه: چي "تبعاً" جمع د تابع ده لکه حرس جمع د حارس ده.

فَهَلْ اَنْتُمْ مُّغْنُوْنَ عَنَّا مِنْ عَذَابِ اللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ

آيا تاسي نسئ دفع کولای زمونږ څخه عذاب د خدای ﷻ يو څه که څه هم لږ وي.

پوه سه: چي اول "من" لپاره د بيان دی واقع په ځای کي د مفعول به دی، والتقدير هل انتم دافعون بعض شيئ كائناً من عذاب الله.

قَالُوْا لَوْ هَدٰىنَا اللّٰهُ لَهَدَيْنٰكُمْ

"قالوا" ای المنکرين په ځواب کي د سرزنش د اتباع او عذر ددې وايي چي مونږ تاسي کفر ته دعوت درکاوه، که خدای (ﷻ) مونږ ته هدايت و ايمان ته راکړي وای مونږ به تاسي ته دعوت د ايمان درکړی وای لکن مونږ په خپله ګمراهان وو، نو تاسي ته به مو هم دعوت د ګمراهۍ درکاوه، والحاصل اخترنا لكم ما اخترنا لانفسنا من الكفر والضلال.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سَوَآءٌ عَلَيْنَآ اَجَزِعْنَآ اَمْ صَبَرْنَا مَا لَنَا مِنْ مَّحِيْصٍ ﴿٢١﴾

برابرده ده پر موږ يعني المتبوعون والتابعون كه موږ جزع او فرياد وكړو او صبر و امر ته د خداى ﷻ وكړو. نسته موږ لره څاى د نجات او تېښتي، بعض مفسران وايي چې دا جمله قول د رئيسانو د كفر دى او صحيح داده چې دا مقول د دواړو فريقينو ده. مقاتل رحمه الله وايي چې دواړه ډلې كه متبوعان كه تابعان دي په دوزخ كې سره و وايي چې راسئ چې جزع او فرياد شروع كړو شايد خداى به رحم راباندې وكړي. نو پينځه سوه (٥٠٠) كاله جزع وكړي لكن فائده ونه كړي. بيا سره ووايي چې راسئ صبر وكړو لان الصبر مفتاح الفرج لكه مؤمنانو چې په دنيا كې صبر پر طاعاتو د خداى ﷻ كړى ؤ. نو پينځه سوه كاله صبر وكړي هغه هم نتيجه ورنه كړي فعند ذالك يقولون سواء علينا الآية.

په تفسير مظهري كې وايي چې كافرانو چې دا خبره وكړه "ما لنا من محيص آه" ابليس ولاړ سو دوى ته يې خطبه وويل او داسې يې وويل ان الله وعدكم وعد الحق ووعدتكم فاخلفتكم، وما كان لي عليكم من سلطان (ما درواغ درته وويل چې نه بعث سته او نه عذاب. يعني تسلط ما نه درلودى پر تاسې) الا ان دعوتكم فاستجبتم لي فلا تلوموني ولوموا انفسكم (دا استثناً منقطع ده ما تاسې ته صرف دعوت بې دليله دركړى تاسې د دعوت قبلونه وكړه زما. ما مه ملامتوئ بلكې خپل ځانونه ملامت كړئ يعني چې زما بې دليله درواغ مو ومنل) فلما سمعوا مقالته مقتوا انفسهم فنودوا لمقت الله اكبر من مقتكم انفسكم اذ تدعون الى الايمان فتكفرون (دوى د ابليس دا خبره واورېدل خپلو ځانو ته په غضب او ملامتيا سوه. دوى ته ندا وكړه سوه له جانبه د خداى ﷻ په واسطه د ملكي چې غضب د خداى پاك لوى دى تر غضب ستاسې پر خپلو ځانو باندې هغه وخت چې تاسې ته دعوت دركړل كېدى و ايمان ته يعني په واسطه د انبيا عليهم السلام او تاسې كفر كاوه) فنادوا الثانية ربنا ابصرنا وسمعنا فارجعنا نعمل صالحاً انا موقنون (دوهم وار دوى ناړې كړې يعني خداى ﷻ ته اې زمونږ ربه موږ وليدى بعث بعد الموت يعني چې په دنيا كې ځني منكر ؤ او وامر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ورېدله مخاطبه ستاسي، مونږ بيرته و دنيا ته رد کړئ مونږ په عمل صالح وکړو او زمونږ يقين سو) فرد عليهم ولو شئنا لآتينا كل نفس هدائها الى اخير الآية. فنادوا الثالثة ربنا اخرنا الى اجل قريب نجب دعوتك ونتبع الرسل (درېيم وار ناري کړي يعني خداى ﷻ ته اى ربه زمونږ و څندوه يعني زمونږ عذاب تر يو لږ مدې پورې يعني لږ ته په دنيا کي ژوند راکړې مونږ به ستا دعوت يعني و ايمان ته قبول او مونږ به متابعت د رسولانو وکړو) فرد عليهم اولم تكونوا اقسم من قبل مالكم من زوال الى اخير الآية. فنادوا الرابعة ربنا اخرجنا نعمل صالحاً غير الذي كنا نعمل (څلورم وار ناري کړي اې زمونږ ربه مونږ وباسې يعني و دنيا ته مونږ به عمل صالح وکړو غير له هغه څخه چې مونږ عمل کاوه يعني په دمخه ژوند کي د دنيا) فرد عليهم اولم نعمركم مايتذكر فيه من تذكر وجائكم النذير (آيا نه درکړې ما عمر تاسي ته دومره اندازه چې په هغه عمر کي پند واخلي هغه څوک چې پند اخلي او درغلي و تاسي ته پېرونکى يعني رسول) بيا يو څو زمانه خداى ﷻ خبري ددوى بندي کړي يعني چې په واسطه کېدلې ثم ناداهم بيا ور ناري کړي "الم تكم آياتي تتلى عليكم فكنتم بها تكذبون" (آيا نه وه راغلي زما آيات چې تلاوت کېدى پر تاسي. نو تاسي واست چې د هغو آياتو تكذيب مو کاوه) فلما سمعوا ذالك قالوا لا يرحمنا ربنا ثم نادوا عند ذالك ربنا غلبت علينا شقوتنا وكنا قوماً ضالين ربنا اخرجنا منها فان عدنا فانا ظالمون (چې دوى واورېده هغه کلام د خداى ﷻ دوى وويل آيا رحم به وښه کړي پر مونږ رب زمونږ بيا ناري کړي په دغه وخت کي يا رب زمونږ غلبه کړې وه پر مونږ بدبختي زمونږ او مونږ يو قوم گمراهان کافران وو، يا زمونږ ربه مونږ وباسه د آخرت له اوره څخه يعني و دنيا ته که چېرې مونږ بيرته عود يعني کفر ته وکړې نو مونږ ظالمان يو يعني د دنيا ته که چېرې مونږ بيرته عود يعني کفر ته وکړې نو مونږ ظالمان يو يعني مستحق د عذاب النار الابدية يو) فقال اخسئوا فيها ولا تكلمون (خداى پاک ورته ووايي يعني په ذريعه د ملکي په ذلت اوسېږئ په اور کي نوري خبري مه راسره کوئ) فانقطع الرجا والدعا منهم واطبقت النار عليهم (نو قطع سي اومېد او دعا ددوى او اوور مطبق سي پر دوى انتهى بيان المظهري مع الترجمة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چي دغه ترتيب د خبرو د کفارو او د خدای ﷻ يعنې چې اول به فلاني ناره وکړه او دوهم به فلاني الخ نه پوهيږم چې مظهري دا ترتيب په احاديثو کې د صحاح سته خو نه دی راغلی، نو ده په نورو کتابو کې د احاديثو شريفه وو ليدلی دی او که څرنګه؟!.

تنبيه: زما دا مقصد نه دی چې مذکوره آيتونه او ځوابونه په قرآن مبارک کې نسته هغه ماته هم معلومه ده زما سوال صرف د ترتيب سره دی فافهم والله اعلم بالصواب واليه المرجع والمآب.

وَقَالَ الشَّيْطٰنُ لَمَّا قُضِيَ الْاَمْرُ

او وايي چې شيطان يعنې په وهغه وخت کې والتعبير بالماضي لتيقنه في المستقبل. هغه وخت چې حکم الهي او فيصله د انسانانو تر منځ وکړل سي يعنې اهل جنت جنت ته ولاړ سي او اهل النار دوزخ ته ولاړ سي، مقاتل رحمه الله وايي چې ابليس ته منبر په دوزخ کې کښېښول سي، نو کفار سره ددوی د آمرانو پر ابليس راټول سي، نو شيطان و کافرانو ته د انس او جن خطبه ووايي بما سيئاتي في القرآن.

فائده: طبراني په تفسير کبير کې او ابن المبارک، ابن جرير، ابن مردوية، ابن ابی حاتم او بغوي رحمهم الله په خپلو تفاسيرو کې وايي چې څه وخت چې خدای ﷻ اولين او اخرين سره جمع کړي وقضى بينهم وفرغ من القضاء، نو مؤمنان (يعنې ګناه کاران) ووايي چې خدای پاک خو قضاء وکړه وفرغ، يعنې جنتيان يې و جنت ته واستول او دوزخيان يې دوزخ ته، نو زمونږ شفاعت به څوک وکړي الی ربنا، نو ددوی اتفاق پر آدم عليه السلام باندې سي چې دی خو ابو البشر دی او خدای پاک په خپل خاص قدرت سره پيدا کړی دی او خبرې يې هم ورسره کړې دي او ملائکه يې په سجده وده ته امر کړې وې، نو آدم عليه السلام ته سره راغونډ سي، نو سر ګذشت د قضاء الهي ورته بيان کړي، نو ورته ووايي چې زمونږ شفاعت و خدای عزوجل ته وکړه، آدم عليه السلام خپل عذر داسي بيان کړي چې زه يې په جنت کې د غنم له خوراک څخه منع کړی وم، ما وخورې نفسي نفسي فاذهبوا الی غيری،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ولاړ سئ نوح عليه السلام ته چې آدم ثاني د نوع د بشر دی. نو دوی ټوله راسي نوح عليه السلام ته نو هغه خپل عذر ورته بيان کړي داسي چې ماخدای ﷻ ته سوال د خپل زوی کنعان چې کافر و د نجات وکړی ما ورته وويل ان ابني من اهلي آه، خدای پاک راته وويل انه ليس من اهلک آه، نو نوح عليه السلام حواله د شفاعت پر ابراهيم عليه السلام ورکړي هغه هم خپل عذر ورته ووايي او حواله پر موسی عليه السلام ورکړي، هغه هم خپل عذر ورته ووايي حواله د شفاعت پر عيسی عليه السلام ورکړي هغه هم خپل عذر ورته ووايي او داسي ورته ووايي ادلکم علی النبي الامي العربي عليه السلام، نو عليه الصلوة والسلام ورته وايي نعم انا لهذا المقام فيشفع عليه السلام الی اخير الحديث الطويل، . سعدي شيرازي قدس سره ميگويد:

عطايی شفاعت چنانش دهند ..... که امت تمامی زدوزخ رهند

وروسته کافران سره ووايي قد وجد المؤمنون من يشفع لهم فمن يشفع لنا، نو دوی سره ووايي ماهو غير ابليس الذي اضلنا نو ابليس ته ورسي او ورته ووايي چې مؤمنانو خو شفاعت کونکی پيدا کړی، نو ابليسه درولاړ سه زمونږ شفاعت بيا ته وکړه فانک انت اضلتنا، دی چې ولاړ سي يوه ډېره لويه بدبويي پيدا سي و يقول:

إِنَّ اللَّهَ وَعَدَكُمْ وَعْدَ الْحَقِّ وَوَعَدْتُكُمْ فَأَخْلَفْتُكُمْ

په تحقيق خدای (ﷻ) ستاسي سره وعده کړې وه يعني پر ژبه د نبيانو عليهم السلام وعده د حق، يعني بالبعث بعد الموت والجزا اما بالجنة او بالنار او هغه وعده يې هم رشتيا کړه، ما وعده کړې ستاسي يعني بالباطل يعني چې نه بعث الموت سته او نه جنت او نه دوزخ سته او نه حساب او اصنام ستاسي حق د عبادت لري، او که فرضاً بعث بعد الموت او جزاً واقع سي داغه بتان ستاسي شفاعت کوي "فاخلفتكم" زما وعده خلاف ثابته سوه يعني زما وعده دروغ سوه.

وَمَا كَانَ لِيَ عَلَيْكُم مِّن سُلْطَانٍ إِلَّا أَن دَعَوْتُكُمْ فَاسْتَجَبْتُمْ لِي

او نه وو ما لره پر تاسي تسلط چې تاسي دې پر کفر مجبور کړم او يا معنا دا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي مالره پر خپله دعوی یو دلیل هم نه ؤ یعني لکه انبیاً علیهم السلام چي پر خپل دعوو حجت د معجزاتو درلودی، مګر نه چي ما تاسي ته دعوت درکړی د کفر او معاصیو په وسوسه یعني دا خو کوم حجت نه ؤ زما له خوا څخه لکن دا داسي مثال لري تحیة بینهم ضرب وجیع" یا استثناً منقطع ده یعني لکن دعوتکم "استجبتم لي" تاسي ژر زما دعوت قبول کړی او زما څخه مو کوم حجت نه کړی طلب زما پر دعوه او د صاحب المعجزات چي رسولان وه له هغو څخه مو زما د دعوت بې حجت ته لبیک ووایه.

فَلَا تَلُومُونِي وَلُومُوا أَنفُسَكُم

نو مه ملامتوئ ما چي ما وسوسه دراچولې ولي چي ستاسي او زما تر منځ عداوت قدیمه ؤ، او پر خپلو ځانو ملامتیا ووایاست چي بې حجته سره د عداوته مو زما دعوت قبول کړی. او د صاحب المعجزات البینات دعوت مو رد کړی.

فائده: معتزله په ورته آیاتو سره دلیل وایي چي بندګان مستقل دي په خپلو اعمالو کي یعني خالق د خپلو افعالو دي، لکن دوی درواغ وایي له داسي آیاتو څخه خو صرف مداخله د عبادو په خپلو افعالو کي ثابتېږي ولو بالکسب. ونحن معشر اهل السنة والجماعة قائلون به حیث نقول خالق افعال العباد هو الله عزوجل وانما للعبد مداخلة الکسب فیها.

دروېش وایي: چي فرق په منځ کي د خلق او د کسب دقیق دی وقد بینه محب الله البهاري رحمه الله في مسلم الثبوت.

مَا أَنَا بِمُصْرِخِكُمْ وَمَا أَنتُم بِمُصْرِخِيَّ

زه نه یم خلاصونکی ستاسي له عذاب څخه د خدای عزوجل او نه تاسي یاست خلاصونکي زما یعني له عذاب څخه د خدای عزوجل مثل قول بهلول:

بز بپای خود میش بیای خود

إِنِّي كَفَرْتُ بِمَا أَشْرَكْتُمُونِ مِن قَبْلُ

زه بېزاره یم او بد بولم ننه ورځ ستاسي اشراک ما لره (نو کلمه د ما مصدریه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ده) په اطاعت کي د خدای سوه په دنيا کي يعني په دنيا کي تاسي زما اطاعت کاوه لکه د خدای، اوس زه هغه اشراک بد او منکر يولم

پوه سه: چي کسره عوض ده عن الياء المحذوفة "قبل" سره د دخول د حرف جر په ضمه ويل کيږي لان هذه الضمة ليست باعراب بل ضمة بنائية عوضاً عن حذف المضاف للفظ قبل اللازم الاضافة كما تقرر في علم النحو.

إِنَّ الظّٰلِمِيْنَ لَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٢٢﴾

په تحقيق ظالمانو او کافرانو لره عذاب دردناکه ستة، بعض مفسرين واي چي دا تتمه د قول د ابليس ده، والظاهر انه كلام من الله ﷻ.

پوه سه: چي ظالمان شيطان او تابعين دده دي ولي چي ظلم وضع د شي بې خايه ته وايي شيطان دعوت الى الباطل بې ځايه استعمال کړی، ولي ځای د دعوت دی حق ته او تابعانو دده اتباع بې ځايه استعمال کړه، ولي ځای د اتباع اتباع الرسل ده، صاحب د روح البيان او مظهري وايي وفي حكايت امثاله لطف للسامعين وايقاظ لهم حتى يحاسبوا انفسهم ويتدبروا في عواقبهم حتى لايكونوا امثل الشيطان واتباعه.

وَاُدْخِلَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ

خٰلِدِيْنَ فِيْهَا بِاِذْنِ رَبِّهِمْ تَحِيَّتُهُمْ فِيْهَا سَلٰمٌ ﴿٢٣﴾

او داخل به کړل سي (داخلونکي يې ملکي دي) هغه کسان چي ايمان يې راوړی وي يعني پر خدای ﷻ په وحدانيت سره او په قيامت سره او عملونه صالح يې کړي وي يعني بدني او مالي او قولي من الفرائض والواجبات والسنن، و جنتو ته چي بهيږي به لاندي تر هغو يعني لاندي تر قصورو او مانيو د جنتو ولې يعني څلور الماء، واللبن، والعسل والخمر او همېشه به وي دوی په دې جنتو کي په اجازه او اراده د رب ددوی، پېش کش ددوی به په جنتو کي سلام وي يعني يو پر بل او د ملکو له خوا پر دوی، کريمه "سلام عليكم طبتم فادخلوها خالدين، وايضاً سلام من جانب ربهم، كريمه "سلام قولاً من رب رحيم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بوه سه: چې د سلام معنا دعا ده په سلامتيا د آفاتو او له بلاؤ څخه.

بوه سه: چې ابتداً د سلام مستحب ده او رد يې واجب دی.

مسئله: تكفي للتسليم واحد من جماعة ويكفي لردها ايضاً واحد. وللسلام ورده مسائل مذكورة في الاحاديث والفقة.

أَلَمْ تَرَ كَيْفَ ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا كَلِمَةً طَيِّبَةً

آيا ته ګوري يا محمد او يا كل مؤمن چې څرنګه بيانوي او وضع كړي دي خداى ﷻ "مثلاً" مثل هغه عبارت ته وايي چې يو شى د بله سره مشابه ګوي في وجه الشبه المشترک بينهما ولا يستعمل الا في قول غريب "كلمة طيبة" مفعول ثاني د ضرب دی لتضمنه معنى الجعل او يا بدل دی له مثلاً څخه مراد د كلمة طيبة څخه قول لا اله الا الله بالاخلاص.

كَشَجَرَةٍ طَيِّبَةٍ أَصْلُهَا ثَابِتٌ وَفَرْعُهَا فِي السَّمَآءِ ﴿٢٤﴾

"كشجرة طيبة" اى جعل كلمة طيبة لكه درخته چې قوي وي بيخ يې او پورته وي د اسمان پر خوا طيبة الثمر مراد څني د خورما درخته ده "اصلها ثابت" بيخ يې ټينګ وي په مځكه كې يعني بكثرة العروق "وفرعها في السماء" او ښاخ ددې يعني جنس ښاخونه ددې په جهت كې د اسمان يعني جګه وي.

تُؤْتِيٓ أُكُلَهَا كُلَّ حِينٍۭ بِإِذْنِ رَبِّهَا

چې وركوي دغه درخته ماكول يعني مېوه ځپل هر وخت چې خداى ﷻ ددې مېوې لپاره اينبې دي په اراده د خالق ددې.

دروښ وايي: چې وجه د شبه په مشبه كې چې كلمه طيبه ده داده چې دا كلمه راسخ ده په زړه كې د مؤمن بالتصديق، او چې په خوله يې وايي دا كلمه طيبه پورته څې د اسمان پر خوا، نو حجاب نه لري تر رسېدلو و خداى ﷻ ته "اليه يصعد الكلم الطيب الآية" اى الى المحل القبول عنده تعالى وهو العرش او لا جهة له تعالى، له عبدالله بن عمرو ﷺ څخه روايت دی على ما في الترمذي قال رسول الله التسبيح (يعني سبحان الله) نصف الميزان، والحمد لله يملؤه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

(ترازو دكوي) ولا اله الا الله ليس لها حجاب دون الله ﷻ (اى مانع عن حضوره تعالى) او له ابو هريره ﷺ څخه روايت دى قال قال رسول الله ﷺ ما قال عبده لا اله الا الله مخلصاً (يعني لا ككلمة المنافق) قط الا فتحت له ابواب السماً حتى يفضى الى العرش ما اجتنب الكبائر.

فائده: له دې حديث څخه دا معلومه سوه چې د مرتكب الكبائر كلمه تر عرشه پورې نه رسېږي كه څه هم ثواب خو لري، رواه الترمذي.

پوه سه: چې ترمذي، نسائي، ابن حبان او حاكم رحمهم الله له انس ﷺ څخه روايت كړى دى چې عليه الصلوة والسلام وويل چې شجرة طيبة د خورما درخته ده او شجرة خبيثة حنظله ده يعني مړه غوني چې پر هيشت د هندواني ده لكن نهايت ترخه او بدبويه ده.

پوه سه: چې حين په لغت كې مطلق وخت ته وايي، نو د خورما په باب كې سعيد بن جبير رضي الله عنه، قتاده او حسن رح وايي چې د خورما مېوه چې تر گل ووتل تر وخته د شكولو ددې شپږ مياشتې پې خلگ خوري يا تروه يا بين بين يا خوږه صحيح روايت د خورما په باره كې هغه دى چې ربيع بن انس وايي چې د "كل حين" معنى داده غدوة وعشية، لان الثمر النخل يؤكل ابداً ليلاً ونهاراً صيفاً وشتاءً او تمراً ورطباً او بسراً.

پوه سه: چې وجه د شبه په مشبه به چې شجره طيبه ده دي هم داغه وي چې هر وخت يې مېوه خورل كېږي كمامر آنفاً كما ان عمل المؤمن يعني صاحب الكلمة الطيبة يصعد اول النهار و اوسطه وآخره وكذالك اول الليل و اوسطه وآخره بل بركة الايمان لا ينقطع ابداً حتى صاحبه الجنة بل فيها ابد الآبدين. بغوي رحمه الله وايي د درختې بقا نه راځي مگر په درې شيانو (۱) محكمه ريښې په محكه كې (۲) محكمه تنه (۳) لوړ ښاخونه. داغه رنگه ايمان كامل نه گرځي مگر په درې شيانو (۱) تصديق بالقلب (۲) وقول باللسان (۳) وعمل بالاركان.

له عبد الله بن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ يوه ورځ وويل چې په درختو كې داسې درخته سته چې بلگونه يې نه رژېږي وانها مثل المؤمن د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خلګو فکرونه د ځنګلو درختو ته ولاړل، عبدالله ﷺ وايي چې زما په زړه کې راوګرځېدل چې خورما به وي لکن زه وشرمېدلم چې زه ووايم چې خورما ده ولې چې زه تر ټولو صحابه کرامو کشر وم، نو خلګو وويل حدثنا يا رسول الله ما هي قال عليه السلام هي النخلة الى اخير الحديث، او ابن عباس ﷺ وايي چې شجرة طيبة درخته ده په جنت کې والله اعلم بالصواب.

وَيَضْرِبُ اللّٰهُ الْاَمْثَالَ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ﴿٢٥﴾

او بيانوي خداى ﷻ امثال و خلګو ته يعني د تفهيم لپاره شايد چې خلګ به پند واخلي له امثالو څخه يعني ايمان به راوړي.

فائده: په کلمه طيبه کې چې سابقاً يې مور تفسير په کلمه شهادت وکړی هره کلمه حسنه پکښې داخله ده لکه تلاوت القرآن، تسبيح، تحميد، استغفار، توبه، دعوت الى الاسلام وامثالها چې اظهار د حق پکښې وي.

فائده: د خورما درخته اکرم د درختو ده په نهز د خداى ﷻ فانها خلقت من فضلة طينة آدم عليه السلام فهي كعمة بني آدم و ولدت تحتها مريم كما وردت في احاديث المقاصد الحسنة ولهذا جاً ثمرها احلى و اطيب ومولدة الغذاً الجيد ولا منع منها في جميع الامراض عند الاطباً.

وَمَثَلُ كَلِمَةٍ خَبِيْثَةٍ كَشَجَرَةٍ خَبِيْثَةِ ۣ

او حال د کلمه خبيثه "كشجرة خبيثة" اى غير نافعة ولا مستقرٌ في الارض، چې په عربي يې حنظله بولي او په فارسي يې هندوانه ابو جهل بولي او په پښتو يې مڑغوني بولي.

دروښ وايي: چې مظهري د کلمه خبيثه تفسير په كلمة المنافق سره کړی دی، والصحيح ما في روح البيان هي كلمة الكفر او الدعاً اليه او الكذب او كل كلمة لا يرضاها الله يعني كالغيبة والنميمة والبهتان مما يتعلق باللسان.

اجْتُثَّتْ مِنْ فَوْقِ الْاَرْضِ مَا لَهَا مِنْ قَرَارٍ ﴿٢٦﴾

چې دا قطع کېږي او خېژي له ريښو سره له لوړه څخه د محکي يعني بېل،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کولنګ وغیره ته ضرورت نه لري ولي چي رینبې یې د مځکې پر سر دي. ځکه دې لره قرار پر مځکه. یو شاعر په شان کې د هغې درختې وای:

نه بیخی که آن باشد اورا مدار ..... نه شاخی که گردد بدان سایه دار
گیاهیست افتاده بر روی خاک ..... پریشان وبی حاصلی خور ناک

دروښ وایي: چې زجاج رحمه الله او یوې بلې فرقې د شجرة خبیثة تفسیر په وړه سره کړی دی چې په عربي یې شوم بولي، ولا یخفی چې شوم که څه هم بدبویه ده لکنه لیس کالحنظلة. بلکې په وړه کې فوائد عجیبه ستة لکه جلال الدین السیوطي رحمه الله چې په کتاب الطب والحکمة کې بیان کړې ده حیث قال فابقراط الحکیم الشوم شفاً للناس من السموم وهو حار یابس حریف اذا اکل مع العسل علی الریق قطع البلغم والرطوبات الفاسدة من الجوف وقوی المعدة وقتل الدود المتولد من العفونات واذهب البواسیر الرطبة الی غیر ذالک من الفوائد التي ذکرها السیوطي رحمه الله فکیف یجوز اطلاق الخبیثة علیها؟ ځواب په خبث کې د شوم کافي دی، هغه حدیث چې علیه الصلوة والسلام نهي کړې ده له اکل څخه د شوم او که سړی یې و خوراک ته مجبوره سو، نو دې پخه کړي چې بدبویي یې ولاړه سي. او بعض مفسرین وایي چې مراد له شجرة خبیثة څخه خوزان دي چې په عربي یې شوک بولي.

دروښ وایي: دا تفسیر لیس بشيئ، ولي چې خوز که څه هم مضر دی لکن داسې خو نه دی چې اجتثت من فوق الارض. ولي چې تجربه شاهده ده چې یوځکی ده چې په عربي یې کمائة بولي. وهذا ایضاً لیس بشيئ لانه ورد في الحدیث النبوي الکمائة من المن ومائها شفاً للعین آه. وهي لذیذة الطعم او چې په غورو کې یې پخه کړي د پسه تر غوښه خوند کوي کما جربناه فکیف یصح الطلاق الخبیثة علی الکمائة. وان کانت اجتثت من فوق الارض.

دروښ وایي: چې آلوسي رحمه الله صاحب د روح المعاني په بیان کې د شجرة طیبة او خبیثة د هر اوږد بحث او بیان کړی دی ان شئت فارجع الیه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يُثَبِّتُ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَفِي الْاٰخِرَةِ

خدای (ﷻ) ثابت او محکم ساتي هغه کسان چي قول ثابت وایي یعني کلمة التوحید چي اخلاص ورسره ملګری وي، وجه تسمیة کلمة التوحید بالقول الثابت داده چي دا کلمه چي اخلاص ورسره وي تمکن او ثبات لري په زړو کي د مؤمنانو او ثواب یې ثبات لري عند الله په ژوند کي د دنیا، یعني مؤمنان له دې کلمې څخه نه اوړي که څه هم د ډیرو کړاوونو سره مخامخ سي، لکه زکریا و یحیی و جرجیس والشمعون واصحاب الاخدود و خبیب و اصحابه چي ددوی د حال بیان په قرآن مجید او په احادیث صحیحه ؤ کي راغلی دی، او په اخرت کي هم یعني په برزخ کي د قبر چي نکیر او منکر له دوی څخه سوال کوي کما سیئاتي تفصیله ان شاء الله تعالی.

دروښ وایي: چي د ثبات د مؤمنانو پر قول ثابت یوه قصه د جرجیس ﷺ کما ذکره سعدي المفتي رحمه الله بطور مشت نمونه خروار واورئ، په صحیح روایت کي راغلي دي چي جرجیس ﷺ له حواریینو څخه د عیسی علیه السلام ؤ خدای پاک ده ته ښوولی ؤ هغه اسم چي په هغه سره مړي ژوندي کېدل او دده سکونت په مځکه کي د موصل ؤ او په مځکه کي د موصل یو جبار ؤ چي د بت عبادت یې کاوه، نو جرجیس ﷺ و هغه ته دعوت د عبادت د خدای وحده لاشریک له ورکړی، نو جبار امر وکړی چي د جرجیس پښې او لاسونه یې وترل او د تېرو چړو په طور د ډمنځي راوړه نو په دې چړو یې د جرجیس د ځیګر او لاسو غوښې ورپرېکولې او پر هغو تپو یې بیا مالګه پاشله، خدای ﷻ و جرجیس ته صبر ورکړی او د دعوت التوحید د جبار یې لاس نه واخستی، اخیر جبار مېخونه په اور کي تاوده کړل او د جرجیس په سترګو او غوږو یې ورچغ کړه او ده ته خدای پاک صبر ورکړی او دعوت التوحید یې جاري وساتی، بیا جبار یو حوض جوړ کړی او په هغه کي یې میس ویلي کړه اور یې لاندي تر بل کړی چي ښه سره سوه جرجیس یې ورواچاوه فعجله برداً وسلاماً ژوندی را ووتی او د توحید نارې یې د جبار تر غوږو بیا ورورسول، بیا جبار دی عضواً عضواً پرې کړی، نو جرجیس

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې مړ سو خدای پاک بیرته ژوندی کړی ولم یؤمن معهذا الجبار الظلوم فاهلکه الله مع قومه بان قلب الله ﷻ المدینة علیهم وجعل اعلاها اسفلها. له هم دې جملې څخه دی شمعون دی له زهادو څخه د نصاری و وکان شجاعاً جنګ به یې کاوه د عبدة الاصنام سره د روم. او دعوت د دین حق چې توحید دی ورته کاوه به یې او په یوازې قدرت بې لښکرونو ته د رومیانو شکست ورکاوه باذن الله ﷻ. د روم باچا ودته دهرې حیلې وکړې خو دده پر مړګ کامیاب نه سو.

وَيُضِلُّ اللّٰهُ الظّٰلِمِيْنَ ۚ

او خدای ﷻ ګمراه کوي ظالمان ای المنافقین والکافرین. یعني د قول ثابت لاره نه لري په ځای کې د فتنو او پښې یې سوځېږي اول تر هر شي وهم في الآخرة اضل و ازل. دا د حال د دنیا اوس حال ته د برزخ یعني قبر نظر وکړو وتفسیراً لقوله تعالی وفي الآخرة.

یوه سه: چې اصحابو د صحاح سته و روایت کړی دی له براء بن عازب ﷺ څخه عن النبي ﷺ قال المسلم اذا سئل في القبر (ان قال) یشهد ان لا اله الا الله وان محمداً رسول الله. فذالک قوله تعالی "یثبت الذین آمنوا بالقول الثابت في الحیوة الدنیا وفي الآخرة (یعني تفسیر قوله تعالی وفي الآخرة) او په بل روایت کې له علیه الصلوة والسلام څخه داسې راغلي دي چې ده مبارک وویل چې "یثبت الله الآیة" په عذاب القبر کې نازل دی (والمراد قوله تعالی وفي الآخرة) یقال له (ای لصاحب القبر) من ربک ومن نبیک. فیقول ربي الله ونبي محمد ﷺ وفي روایة احمد و ابو داؤد په دې الفاظو راغلي دي "قال رسول الله ﷺ یأتیه (ای المیت) ملکان فیقولان له من ربک؟ فیقول ربي الله. فیقولان مادینک؟ فیقول دیني الاسلام. فیقولان ما هذا الرجل الذي بعث فیکم؟ فیقول هو رسول الله ﷺ. نو ملکي ورته ووایي چې تاته څه معلومه ده چې دی رسول الله دی؟ دی ورته ووایي چې ما کتاب الله ویلی ؤ او ایمان مې پر راوړی ؤ او د هغه تصدیق مې کړی ؤ یعني په هغه کتاب کې نوشته وه محمد رسول الله الآیة" فذالک قوله تعالی یثبت الله الذین آمنوا الآیة" قال علیه السلام فینادي منادٍ من السماء ان صدق

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عبدي فافرشوه من الجنة والبسوه من الجنة وافتحوا له باباً الى الجنة، قال عليه السلام فيأتيه من روحها وطيبها ويفسح له فيه (فراخي جوړه سي ده لره) مد بصره، واما الكافر فذكر موته (يعني اول عليه الصلوة والسلام ذكر كړه دده د ژكندن سختي) قال عليه السلام ويعاد روحه في جسده ويأتيه ملكان فيجلسانه فيقولان من ربک؟ فيقول هاه هاه لا ادري (پوه سه! چي هاه هاه كاه د متحير ده) فيقولان ما دينک؟ فيقول هاه هاه لاادري. فيقولان ما هذا الرجل الذي بعث فيكم؟ فيقول هاه هاه لا ادري. فينادي مناد من السما ان كذب فافرشوه من النار والبسوه من النار وافتحوا له باباً الى النار فيأتيه من حرها وسمومها. قال عليه السلام ويضيق عليه قبره حتى يختلف فيه اضلاعه ثم يقيض له اعمى اصم معه مرزبة من حديد لو ضرب بها على جبل لصار تراباً فيضربه بها ضربةً يسمعها مابين المشرق والمغفرب الا الثقلين (اى الانس والجن) ثم يعاد فيه الروح. او له حضرت عثمان رضي الله عنه څخه روايت دى چي عليه الصلوة والسلام چي به فارغه سو له دفن څخه د ميت وقف عليه فقال (اى للحاضرين) استغفروا لاخيكم وسلوا له التثبت (يعني بالقول الثابت چي كلمه د توحيد ده) فانه الآن يسئل رواه ابو داؤد.

دروبش وايي: چي ورته حديثونه وهر دي د تولو په راوړلو كي تطويل دى.

تنبيه: دروبش وايي چي عذاب په قبر كي او دغه رنگه تنعيم په قبر كي له عقله څخه كه څه هم لهري دى لكن ايمان پر واجب دى چي له عليه الصلوة والسلام څخه په صحيح طريقه ثابت دى لكه تير سوي حديثونه وامثالها او تفويض د علم به يې خداى او د هغه و رسول ته كوي ځكه چي هغه فرقه چي پښې يې په تناؤ د عقل ترلي دي لكه د معتزله وو فرقه له عذاب قبر او تنعيم القبر څخه كمامر منكر دي مع ان الاحاديث المباركة فيهما متواترة المعنى وان كانت من الاحاد لفظاً والله يهدي من يشاء الى صراط مستقيم.

وَيَفْعَلُ اللّٰهُ مَا يَشَآءُ ﴿٢٧﴾

او خداى (جل جلاله) كوي هغه كارونه چي دده اراده ورته وسي يعني چا ته توفيق د ايمان او د طاعت وركوي او پر قول ثابت يعني كلمة التوحيد ثابت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

گرځوي في الدنيا والآخرة او بعض کسان د خپل استمرار پر کفر خدای ﷻ يې خذلان په نصيب کوي يعني پر خدای پاک څرک اعتراض نسي کولای لانه تعالى قادر حکيم عليم.

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ بَدَّلُوا نِعْمَتَ اللَّهِ كُفْرًا

ته نه گورې هغه کسانو ته چې بدل يې کړی نعمت د خدای ﷻ يعني شکر د نعمت په کفر سره يعني کفر يې په ځای کې د شکر کښېښود. بخاري رحمه الله په خپل صحيح کتاب کې له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت کړی دی "انه قال هم والله کفار قريش ومحمد نعمت الله" او ابن جرير له عطا رحمه الله څخه روايت کړی دی چې دا آيت په شان کې د هغو کسانو دی چې په بدر کې ووژل سوه من کفار مکة والمعنى چې اهل مکه خدای پاک پيدا کړل او په حرم د مکې کې يې سکونت ورکړی چې دوی ته به راتله ثمرات کل شيئ يعني من الآفاق خصوصاً من الطائف ودفع الله بعظيم قدرته اصحاب الفيل كما سيأتي قصته في هذا التفسير في تفسير سورة الفيل ان شاء الله تعالى. او خدای پاک دروازې د رزق پر خلاصي کړې برحلتي الشتاء والصيف كما سيأتي في تفسير "لايلاف قريش آو" ان شاء الله تعالى. او خدای ﷻ محمد ﷺ رسول ورته راواستاوه "رسولاً من انفسهم يتلوا عليهم آياته ويزكيهم ويعلمهم الكتاب والحكمة" او نور عرب يې تبع د قريشو وگرځول. نو قريش ددې نعمت اخيره ناشکري وکړه او په عداوت د محمد مصطفى ﷺ يې خولې. لاسونه او زړونه پر کار واچول "واستحبوا العمى على الهدى" نو خدای پاک اووه کاله پر دوی قحط مسلط کړی او په ورځ د بدر يې په ټولو د ابو جهل فرعون هذه الامة ووژل سو او اوويا کسه يې بنديان سوه، نو پر دوی خدای پاک پرده د ذلت واچول او ټوله نعمتونه يې څنې سلب کړل حتى چې مړه سول پر کفر باندې وذالک هو الخسران المبين.

وَأَحَلُّوا قَوْمَهُمْ دَارَ الْبَوَارِ ﴿٢٨﴾

او دوی يعني رؤسا د کفر داخل کړه خپل قوم يعني چې دوی يې متابعت کاوه پر کفر باندې و سزای ته د هلاک چې دوی باعثه پر کفر گرځول.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جَهَنَّمَ يَصْلَوْنَهَا وَبِئْسَ الْقَرَارُ ﴿٢٩﴾

"جهنم" عطف بيان دی د دار البوار "يصلونها" چي دوی به داخلېږي دغه دار البوار ته. دا جمله حال ده له دار البوار څخه او يا له قوم څخه، ولي چي د دوارو ضمير د ذو الحال پکښې دی ای داخلين مقاسين حرها او نور لږمان او ماران چي په دوزخ کي د کفارو لپاره اماده باش دي.

پوه سه: چي "قرار" مصدر دی په معنی د مقر دی او مخصوص بالذم محذوف دی وهو لفظ جهنم.

فائده: له ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چي ده امير المؤمنين عمر رضي الله عنه ته وويل چي په دې آيت "الذين بدلوا نعمت الله كفراً" مراد څوک دي؟ عمر رضي الله عنه ورته وويل هم الافجران من قريش دوې بدې قبيلې دي د قريشو چي بنو المغيرة او بنو اميه دي، اما بنو مغيرة فكفيتموهم يوم بدر، هرچه بنو مغيرة دي د هغو كفايت تاسي مسلمانانو وکړی په ورځ د بدر يعني چي عموماً رئيسان ددوی په بدر کي ووژل سول، واما بنو امية فتمتعوا حتى حين، او هرچه بنو اميه دي هغه تمتع يعني ژوند د دنيا کوي تر يو وخت پوري كذا ذكر البغوي قول عمر رضي الله عنه.

پوه سه: چي بنو اميه تمتع په کفر سره کول حتی چي اسلام يې راوړی ابو سفيان، معاويه و عمر بن العاص وغيرهم، مظهري وايي چي ثم كفر يزيد ومن معه بما انعم الله عليهم او دوی څانونه چمتو کړل و عداوت ته د آل النبي صلى الله عليه وسلم وقتلوا حسيناً رضي الله عنه ظلماً وكفر يزيد بدين محمد صلى الله عليه وسلم حتى چي يزيد يوه بيانيه ورکړل چي حسين يې شهيد کړی چي د بيانيه مضمون دادی اين اشياخي ينظرون انتقامي بآل محمد ونبي هاشم، چېرې دی زمونږ سپين ږيری چي و گوري انتقام زما له آل محمد څخه او د بني هاشم څخه او اخير بيت ددې قصيدې دادی:

ولست من جندب ان لم انتقم ..... من نبي احمد ماكان فعل

او شراب يې حلال وگرځول او داسي بيت يې ووايه:

فان حرمت يوماً على دين احمد ..... فخذها على المسيح ابن مريم

او تاريخ وايي چي يزيد او يزيد يانو به ښکنځل کول و آل ته د محمد عليه السلام په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

منبر باندي، نو زر مياشتي پر دغه ضلالت وه بيا خداى ﷻ له دوى څخه انتقام واخستى حتى يو ددوى نسو پاته يعني چي خلافت و بني العباس ته نقل سو.

دروبش وايي: چي مظهري رحمه الله صراحةً يزيد او اتباع دده كافران وبلل.

دروبش وايي: چي ورته بيان په باره كي د يزيد او اتباعو دده علامه تفتازاني په شرح العقائد النسفي كي كړى دى حيث قال ونحن لانوقف في شانه بل في ايمانه فلعنة الله عليه واعوانه.

دروبش وايي: چي يزيد په قتل كي د حسين ﷺ مرتكب د گناه كبيرې سو كافر نه دى، نو لعنت نه دى پر روا. او بعض علماؤ د يزيد په باره كي د توقف لار خپل كړې ده يعني نه حكم د كفر پر ده كوي او نه حكم په اسلام دده كوي، حكه تفتازاني وويل ونحن لانوقف في شانه رداً على هو العلماً.

دروبش وايي: چي ابن صلاح په څپله فتاوى كي وايي چي قاتل د حضرت حسين ﷺ لايكفر بذالك وانما ارتكب ذنباً عظيماً. وانما يكفر بالقتل قاتل نبي من الانبياً. بيا ابن صلاح ويلي دي چي مسلمانان د يزيد په باره كي درې ډلي دي، يوه ډله ډېر محبت ورسره كوي، او بله ډله ښكنځل ورته كوي او لعنت پر وايي، او بله فرقه متوسطه فرقه ده چي نه محبت ورسره كوي او نه لعنت پر وايي ابن صلاح زياتوي چي وهذه الفرقة هي المصيبة (يعني حق ته رسېدلې ده) ومذهبها هو اللائق بمن يعرف سير الماضيين ويعلم قواعد الشريعة المطهرة انتهى، علامه تفتازاني رحمه الله دا دوه بيته په غير كي د شرح العقائد ويلي دي:

اللعن على يزيد يجوز ..... والا عن يجزى حسنات ويفوز
قد صح لدى انه معتل ..... واللعن مضاعف فذالك مهموز

دروبش وايي: چي په عقدر الدرر واللآلى كي يې داسي ويلي دي ويع قاتل الحسين ﷺ كيف حاله مع ابويه يعني فاطمة و علي ﷺ وجده يعني محمد ﷺ وانشدوا:

لابدان ترد القيامة فاطم ..... وقميصها بدم الحسين ملطخ
ويل لمن شفعائه خصماؤه ..... والصور في يوم القيامة ينفخ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وروى في الخبر على طريق المعجزة قاتل الحسين ﷺ في تابوت من نار عليه نصف عذاب اهل الدنيا.

دروښ وايي: چې وهذا الخبر ان صح يدل على اعلى مرتبة يزيد في الكفر والله اعلم.

وَجَعَلُوا لِلّٰهِ اَنْدَادًا لِّيُضِلُّوا عَنْ سَبِيْلِهٖ ؕ

او دوی گرځوي خداى ﷻ لره امثالاً في العبادة وفي التسمية باسم الآلهة مع انه ليس له مثل، تاچې دوی گمراهان کړي خلګ.

پوه سه: چې لام د عاقبت دی نحو لدوا للموت وابنوا للخراب لام غرض نه دی. ولي چې ددوی غرض په اتخاذ د انداد خداى ته اضلال الناس نه وو بلکې دوی د اتخاذ الانداد لار حق او هدايت بلل. لكن لما كان النتيجة اضلال الناس جعل كالغرض لهم "عن سبيله" له لاري څخه د خداى ﷻ يعنى دين الاسلام ودين الحق.

قُلْ تَمَتَّعُوْا فَاِنَّ مَصِيْرَكُمْ اِلَى النَّارِ ۝

ته ورته ووايه چې تاسي نفع اخلئ په خپلو شهواتو سره او په عبادت سره د بتانو او په اضلال سره د خلګو چې اتباع مو وهر سي الى ان يأتي عذاب الله المقدر لكم (دا امر تهديد دی) او ستاسی رجوع يعنى في الآخرة و اور ته د دوزخ ده.

قُلْ لِّعِبَادِيَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا يُقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَيُنْفِقُوْا مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ

ته ووايه يا محمد (ﷺ) و بندګانو ته زما چې ايمان يې راوړی دی.

پوه سه: چې دا تخصيص د خطاب و مؤمنانو ته دی او وصف ددوی په عبوديت سره او اضافت ته يې لپاره د تشريف د مضاف دی او تنبيه پر دې ده چې انهم هم المقيمون لحقوق العبودية اهلاً وللخطاب.

نكته: بعض پوهان وايي چې خداى پاک چې مشرف کړه په يا د اضافت و خپل ځان ته دا ددوی لپاره خير دی تر دنيا و مافيها لان الاضافة الى النفس تدل على العتق من النار، ولهذا قال الفقهاء رحمهم الله که يو سړي خپل مريي ته وويل يا ابن و يا ولد بدون الاضافة لا يعتق العبد ولو قال يا ابني او يا ولدي بالاضافة الى نفسه يعتق، قال المولى الجامي.

كسوت خواجگی وخلعت شاهی چه كند .. هر كرا غاشيه بندگيت بردوشست

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې "يقيموا" مجزوم ده علی انه جواب للامر ای قل عند بعض المفسرين کصاحب روح المعاني، او ابو علي رحمه الله وايي چې "يقيموا" لفظاً خبر دی په معنی د امر دی فالجزم للامر وهو مقول قل، وقس عليه وينفقوا، والمعنی چې دوی دي ادامه ورکړي و کولو ته د لمونځو ای الصلوة الخمس او دوی دي انفاق کوي له هغه مال څخه چې په رزق ورکړی دی دوی ته موږ.

سِرًّا وَّعَلَانِيَةً

ای انفاق سر وعلانية فهما مفعول مطلق لينفقوا.

مسئله: که له انفاق څخه مراد عام وي که فرضي وي لکه زکوٰة او که نفلي وي. نو په نفلي کې سر اولی دی لکونه ابعد من الريا او په فرضي کې علانيةً افضل دی لدفع التهمة، او که يوازي فرضي وي، نو سر يې د هغه چا لپاره افضل دی چې مشهور په غنی سره نه وي لدفع اهل الظلم والفساد، او علانيةً د هغه لپاره افضل دی چې مشهور په غنی سره وي دفعاً للتهمة.

فائده: خدای ﷻ لفظ د تبعيض په "مما" کې چې اصل يې "من ما" راوړی له دې سببه چې فرضي انفاق خو دی بعض کمالا يخفی او په نفلي کې تبعيض نهي دی له اسرافه څخه بانفاق جميع المال، وهذا يختلف باختلاف الاشخاص لان ابابکر رضي الله عنه اتی بجميع ماله في غزوة تبوک، حتی چې عليه الصلوة والسلام ورته وويل چې کور ته دي څه شی پرېښود؟ ابوبکر رضي الله عنه ورته وويل الله ورسوله، نو عليه الصلوة والسلام دا دده ټوله مال راوړل رد نه کړل او عمر رضي الله عنه نيمی د مال راوړی، عليه الصلوة والسلام ورته وويل کور دي څه شی پرېښود ده ورته وويل نيمی.

مِّنْ قَبْلِ أَنْ يَّأْتِيَ يَوْمٌ لَّا بَيْعٌ فِيهِ وَلَا خِلٰلٌ ﴿۳۱﴾

دمخه تر دې چې راځي هغه سنا ورځ يعني يوم القيامة چې په هغه ورځ کې بيع نسته چې ګناه کار دي د تقصير دفع وکړي او يا دي په فديه کې د ځان ورکړي او له عذابه دي ځان په خلاص کړي او نه په هغه کې خلت او قرابت سته چې خليل دده شفاعت وکړي لانه لا يشفع عنده الا باذنه ولا اذن من الله في الشفاعة في حق الكفار.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: په ورځ د قيامت خلت خو ثابت دی للمتقين لقوله الاخلاء يومئذ بعضهم لبعض عدو الا المتقين، وايضاً شفاعة بعض المؤمنين لبعض ايضاً ثابتةٌ كما يدل عليه الآحاديث النبوية فما وجه النفي لجنس الخلال؟

ځواب: مظهري رحمه الله عليه ددې سوال په ځواب کې وايي چې امر باقامة الصلوة وايتاء الزكوة امر دی بالتقوى فالمراد نفي د جنس الخلة عند عدم التقوى والمعنى ان لم يتقوا باقامة الصلوة وايتاء الزكوة لايكون لهم يومئذ جنس الخليل.

دروښ وايي: چې دا ځواب د آيت مذکوره کېدای سي يعني قوله الاخلاء يومئذ آه، لکن ځواب د شفاعت د بعض مؤمنانو بعض لره لکه چې دمخه تېره سوه نسي کېدای الا ان يقال شفاعت د بعض مؤمنانو بعض لره مبني پر خلت نه دی بلکې صرف کومک دی فلا ينافي قوله تعالى ولا خلال فافهم، او دا ځواب موافق دی لما قال صاحب روح البيان، والمراد المخالة بسبب ميل الطبع ورغبة النفس انتهى، حاصل دادی چې مخالة د متقين په منځ کې په ميل الطبع ورغبة النفس سره دی او شفاعت د مؤمن و مؤمن ته د زړه سوي له لاري دی.

دروښ وايي: چې ددې مثال دادی چې يو قريب د بل قريب سره کومک مالي يا قولي وکړي بکمال الرغبة وطيب النفس وهذا حال المتقين، او يا يو سړی د بل بېګانه سړي مالي يا قولي مرسته وکړي د زړه سوي له سببه وهذا حال المؤمنين بعضهم لبعض في الشفاعة فافهم لعلك لاتجد هذا التفصيل في مطاوي كتب التفاسير، کريمه "واما بنعمة ربك فحدث" فادفع تهمة الحاسدين.

اَللّٰهُ الَّذِیْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَاَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَخْرَجَ بِهٖ مِنَ الثَّمَرٰتِ رِزْقًا لَّكُمْ

الله (عزوجل) يعني چې معبود بالحق دی هغه ذات دی چې پيدا کړي يې دي اسمانونه يعني سره د مافيها او مځکه سره د مافيها و ما عليها، او نازلي کړي يې دي له اسمانو څخه اوبه يعني بارانونه، نو را ايستلي يې دي په هغو اوبو سره يعني له مځکي څخه بعض له مېوو څخه (د تبعيض وجه داده چې تولي مېوې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په اوبو نه راوځي کثمرات الجنان لپاره د رزق ستاسي)

پوه سه: چي دا مبتدأ ده او موصول سره د صلې يې خبر دی.

پوه سه: چي "رزقاً" مفعول د "اخرج" دی او من الثمرات بیان دی یا حال دی.

فائده: لره رزق څخه یوازي خوراکي مواد نه دي مراد بلکې ما تعیشون به فیشتمل المطعوم والمشروب والملبوس.

فائده: بعض ملبوسات یا مفروشات که د پسو د وړیو وي او که د کتان وي اوکه د بزو له وجغونو څخه وي او که د اوښ له وړیو څخه وي چي وبر یې بولي همه و همه په اوبو پوري مربوط دي کما لا یخفی.

وَسَخَّرَ لَكُمُ الْفُلْكَ لِتَجْرِيَ فِي الْبَحْرِ بِأَمْرِهِ ۖ وَسَخَّرَ لَكُمُ الْأَنْهَارَ ﴿٣٢﴾

او مسخر یې گرځولي دي تاسي لره کښتی. تاچي په سمندر کي روان وي یعني تاسي پکښې ناست یاست او بارونه مو پکښې اینې وي په امر یعني په مشیت د خدای ﷻ هري خواته چي تاسي ځئ شرقاً وغرباً جنوباً و شمالاً او سره ددې چي کوچنی دبره چي دریاب ته ورواچول سي سم له لاسه دوبیرې او کښتی سره د اثقالو نه دوبیرې په قدرت د خدای ﷻ، او مذلل او فرمانبردار ه یې گرځولي تاسي لره لوی او کوچنی رودونه او لوی او کوچنی ویالې. نو د انهار متعارف د پښتو نه دي مراد چي رودونه نه دي شامل، ددې رودو اوبه په ذریعه د ولو هري خواته چي بیایاست خدای پاک درته مسخر گرځولي دي او هر ځای تاسي په دغو اوبو سره نفع اخستلای سئ، او لوی او کوچني پولونه لپاره د عبور پر جوړوئ.

فائده: په لفظ د "فلک" کي مفرد او جمع سره برابر دی فرق یې صرف تقدیري دی یعني که یې پر وزن د قفل و بولې مفرد دی او که یې پر وزن د أسد چي جمع د اسد و بولې نو جمع د قرینه ده فرق یې تذکیر او تانیث دی صفت دی یا د حال یا د فعل مسند کي دا شیان مذکر وه نو لفظ "الفلک" مفرد دی او که یې دا امور مؤنث وه نو جمع دي په مذکوره آیت لفظ د فلک جمع دی، ولي د "لتجري" مؤنث ضمیر یې ورته راجع کړی دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَسَخَّرَ لَكُمُ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ دَآئِبَيْنِ ۚ وَسَخَّرَ لَكُمُ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ ﴿۳۳﴾

او مسخر يې گرځولي دي تاسي لره لمر او سپوږمۍ چې ددوی د خپل مدار په تګ مصالح کثيره د عباد الله نغښتي دي کما لايخفى لان الامور الشرعية کالحج والعمرة والصوم وغيرها مربوطة بسير القمر في فلكه والامور الدنيوية کالزراعة والثمرات منوطة بسير الشمس في بروجها چې دوولس دي "دائبين" چې هر يو پر خپل سير که سريع وي که بطئ پابند دی بقدرة الملک المعبود. او مسخر يې گرځولي دي ستاسي د نفع لپاره شپه او ورځ چې په شپه کې ارام وکړي له ستړيا څخه د عمل د ورځې او ورځ يې روښانه گرځولې ده چې تاسي دنياوي کارونه، تجارتونه، طلب د علم او د يارانو او دوستانو سره ملاقات وکړی "وان تعدوا نعمت الله لاتحصوها"

دروښ وايي: چې په هر ځای کې د قرآن کريم شپه تر ورځې دمخه راوړل سوې ده، سِر يې دا دی چې شپه وخت د راحت او ارام ده، نمونه د جنت ده، او ورځ وخت د ستړتيا، تکليف او اضطراب ده. نو نمونه د دوزخ ده او د ورځې عاصي او مطيع يو ځای سره گرځي په شپه کې مطيع په عبادت او تهجد وغيره ذالک کې مشغول وي او عاصي په طلب د غلا پسې روان وي، يا و تلويزيون يا کورنۍ فحش سېنما ته ناست وي چې کېبل يا (دش) يې بولي چې د کفري دنيا ټوله فواحش ښکاره کوي حتى الجماع او د کور نر او ښځې پېغلانې او مېړه والا او بالغ ځوانان او نابالغه هلاکان ټوله يې وينې، او دا کېبل اوس عمومي رواج دی په عوامو کې که څه هم په ظاهره صوفيان وي.

فوائد شتى: (۱) في قوله تعالى من السماء ما "پوه سه! چې سماء يا په معنى د وريځې دی لان کل ما علاک سماء او يا په معنى د فلک دی.

(۲) في قوله تعالى من الثمرات په حديث صحيح کې راغلي دي چې احب د فواکه و عليه الصلوة والسلام تازه رطب خورما او خټکی وُ وکان ياکل البطيخ بالرطب ويقول يکسر حر هذا (يعني خورما چې طبعاً گرمه ده) وبرد هذا (يعني خټکی چې طبعاً بارد دی) بحر هذا يعني خورما کما في شرح المصابيح، وفي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الحديث كه چا سهار وخت اووه داني عجوه خورما وخورل ضرر به ونه رسوي وه ده ته په دغه ورځ کي نه سحر او نه زهر، لکن شرط دادی چي دا عجوه خورما به په نهاره وخوري يعني د مخه تر خورک د هر شي.

پوه سه: چي عجوه له ښوو خورماوو څخه د مدينې منورې ده چي کوچنۍ دانې يې دي مائل وسنوداً ته او نن صبا دا خورما ډېره قيمتي ده تر ټولو خورماوو.

(۳) احتمال لري چي دا خاصيت به په دغه نوع کي د تمر وي او دا هم احتمال لري چي عليه الصلوة والسلام دعا کړې وي حين قالوا احرق بطوننا تمر المدينة.

(۴) قال عليه الصلوة والسلام كلوا التمر على الريق (يعني په نهاره) فانه يقتل الديدان في البطن (يعني چينجيان)

(۵) عليه الصلوة والسلام به د انګورو وانښکی په چپه لاس کي ونيوی او په ړسته لاس به يې يوه يوه دانه ځني خورل.

(٦) عليه الصلوة والسلام ټوله انواع د مېوو چي په هغه وخت کي موجودي وې خوړلي دي كذا في الطب النبوي ﷺ.

وَاٰتٰىكُمْ مِّنْ كُلِّ مَا سَاَلْتُمُوْهُ

پوه سه: چي کلمه د "من" لپاره د تبعيض ده والمعنى اعطاكم بعض من كل ما سألتموه، نو من كل مفعول ثاني د "اتاكم" دی، روح المعاني وايي چي بعض کاملو علماؤ ويلي دي چي کلمه د "کل" لپاره د تکثير ده لا للاحاطة والتعميم كما في قوله تعالى "وفتحنا عليهم ابواب كل شيئ" او مظهري ورته بيان کړی دی حيث قال اى بعض جميع ماسئلتموه يعني اتاكم شيئاً كائناً لان يسئل لاحتياج الناس اليه سئال او لم يسئل آه.

پوه سه: چي کلمه د ما يا موصوفه ده يا موصوله يا مصدريه لكن مصدريه معنى د مفعول دی، قال المظهري رح لفظة كل لمجرد التكثير لا للاستغراق والتعميم نحو فلان يعلم كل شيئ لان علم كل شييئ مختص به تعالى ليس الا الله.

دروښ وايي: چي حاصل د کلام د ټولو مفسرينو يو دی اختلاف لفظي دی لکن تر ټولو داسي عبارت ويل چي مقصود ددې کلام مبالغه ده يا داسي ويل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي مقصود استغراق عرفي دی به له اذهانو سره د متعلمينو دپاره انسب او فهم ته به اقرب وای که څه هم داسي وينا هم راجع و ماقالوا ته ده.

فائده: مظهري ؒ يو احتمال بعيد غاية البعد راوړی دی چي يجوز انيكون كلمة ما نافية في موضع الحال، يعني اتاكم من كل شيئ والحال انكم ما سألتموه يعني اعطاكم اشياً ماطلبتموها ولا سألتموها انتهى فافهم.

وَإِنْ تَعُدُّوا نِعْمَتَ اللّٰهِ لَا تُحْصُوهَا ؕ

او كه تاسي جميع او ټوله نعمتونه د خدای ﷻ حساب كړئ، تاسي يې نه سئ حصر كولای او طاقت د علم پر ټولو ستاسي له دائرې څخه د طاقت وتلی شی دی جتی چي صرف انواع ددغو نعمتونو نسئ شمېرلای فضلاً عن افرادها فانها غير متناهية.

سوال: په آيت كي لفظ نعمت مفرد راغلی دی، نو ټوله نعمتونه څرنګه څخي مراد كېدای سي؟

ځواب: اضافة النعمة الى الله للاستغراق.

پوښتنه: د نعمت الهي شكر خو پر بنده واجب دی فكيف يطيق العباد شكر هذه النعم الغير المتناهية؟

ځواب: اقرار په عجز سره عن شكر الكل شكره للكل ولهذا سمي الله تعالى بعض المؤمنين شكوراً لاعترافهم بالعجز عن الشكر.

دروښ وايي: چي مجمل بيان د انواع د نعم د خدای ﷻ دادی چي نعم د خدای دوه قسمه دی المنافع كصحة البدن وتحت هذه الصحة افراد وجزئيات لكه صحت د زړه، صحت د پښو، صحت د لاسو، صحت د سترګو، صحت د غوږو، صحت د ملا، صحت د ځيګر الى غير ذالك من اجزاً جسد الانسان، والامن: تر امن لاندي هم دپر جزئيات سته، والعافية تر دې لاندي بيا جزئيات كثيره سته، والتلذذ بالمطاعم والمشارب وله ايضاً افراد لاتحصى، والمناكح والملابس والاموال والاولاد ولكل واحد من هذه الانواع جزئيات لاتحصى ونعمة دفع المضار من الامراض والفقر والشدائد الى غير ذالك.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: فما احسن قوله تعالى وان تعدوا نعمت الله لاتحصوها.

إِنَّ الْإِنسَانَ لَظَلُومٌ كَفَّارٌ ﴿٣٤﴾

بوه سه: چې ظلوم او کفار دواړې صيغې د مبالغې دي.

دروښ وايي: چې الف لام په الانسان کې لپاره د جنس دی په اعتبار د بعض افراده يعنې هذه قضية مهملة في فوق الجزئية فلا يرد ان جميع افراد الانسان ليس كذالک كالانبياً عليهم السلام والاولياً الكاملين رحمهم الله، ومعنى الظلوم چې دی شکايت کوي له خدای ﷻ څخه په سختي او بلا کې او جزع کوي صبر نه لري، او په دې نه پوهېږي چې دا بلا چې ماته رسېدلې د هغه ذات له خوا ده چې جواد دی رحيم دی حکيم دی، نو هر او مرو په دې بلا کې يو حکمت سته وان لم يدرک الانسان المبتلى حکمته. او معنى د کفار شديد الکفران دی په نعمت کې او خوشالي او غنى او صحة البدن کې والاولاد والاموال کې وغير ذالک من النعم الالهية.

وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّ اجْعَلْ هَٰذَا الْبَلَدَ آمِنًا

او په ياد کړه خلګو هغه وخت چې ابراهيم (عليه السلام) وويل اې زما ربه وګرځوه دا ښار يعنې مكة المكرمة ځای د امن (آمن صيغه د فاعل لپاره د نسبت) يعنې له اهل ځخه د دې بلد خوف د دښمن لهرې لرې، نو مقصود په دې دعا کې بلديت نه دی. ولې په دغه وخت کې مکه بلد وه بلکې مقصود امنيت دی او بل ځای په قرآن کريم کې چې داسې راغلي دي "رب اجعل هذا بلد آمناً مقصود د سوال دادی چې دا شهله ښار وګرځوه له ښارو ځخه چې په امن کې وي اهل يې.

وَاجْنُبْنِي وَبَنِيَّ أَن نَّعْبُدَ الْأَصْنَامَ ﴿٣٥﴾

او ساتې او ګوښه کړې ما او زما زامن له دې ځخه چې عبادت د بتانو به کوو.

فائده: له دې آيت ځخه دا معلومه سوه چې عصمت د انبيا عليهم السلام په توفيق د خدای ﷻ دی وحفظه. ولهذا سئل ابراهيم عليه السلام السؤال المذكور.

پوښتنه: د "بني" لفظ خو عام دی لمسيانو کړوسيانو ټم وشم ته شامل دی کما في قوله تعالى يا بني آدم يا بني اسرائيل او سره ددې چې د هرو له اولادو ځخه د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اسماعيل عليه السلام د بتانو عبادت کړی دی؟

خواب: "بني" لمسيانو وغيره ته نه دی شامل بلکې بالذات زامنو ته وايي او په هغه دوه آيته کي چې سائل استشهاد په کړی ؤ عموم مجاز دی.

دروښ وايي: چې چونکه ابراهيم عليه السلام عبادت د اصنامو په ارض مقدس يعني بيت المقدس کي ليدلی ؤ نو په سبب ددې يې دا سوال وکړی چې دا بت پرستي زما زامنو ته په مکه کي سرايت ونه کړي.

دروښ وايي: چې سفيان بن عيينة رحمه الله په دغه آيت سره دليل وايی چې اولاد د اسماعيل عليه السلام تر پايه پوري عبادت د صنم نه دی کړی، لکن مظهري رح وايي چې دا قول دده مردود بکتاب الله وسنت نبيه واجماع امته والحديث المتواتر چې حال د اهل مکه بيانوي فان المشركين في كتاب الله عبارة عن اهل مكة غالباً وهم من ولد اسماعيل عليه السلام، وايضاً قال الله تعالى "وقال الذين اشركوا لوشآ الله ما اشركنا ولا آبائنا الآية.

دروښ وايي: چې تاريخ اسلامي وايي چې عرب له عصر څخه د ابراهيم ؑ پر دين د ابراهيم عليه السلام وه تر زماني پوري د عمرو بن لحي چې رئيس د خزاعة قبيلې ؤ، نو اول سړی چې دين د ابراهيم عليه السلام يې بدل کړی همدغه سړی ؤ، او همدغه عمرو بن لحي اول سړی ؤ چې بتان يې په داخل کي د کعبې مبارکې او شاوخوا ودرول او خلګ يې امر کړه په عبادت د اصنامو وقد جرت هذه السلسلة الى زمن النبي صلى الله عليه وسلم وهو صلى الله عليه وسلم اعلن التوحيد ومنع الناس عن عبادة الاصنام.

پوښتنه: په سورت حم الزخرف کي راغلي دي وجعلها (اى كلمة التوحيد) كلمة باقية في عقبه (اى اولاد ابراهيم) نو له دې آيت څخه دا فهمېږي چې ټوله اولاد د ابراهيم عليه السلام من الابنآ والاحفاد ثم وثم كانوا على كلمة التوحيد؟

خواب: صحيح داده چې دا آيت چې لفظ د عقب پکښې راغلی اقتضآ ددې نه کوي چې ټوله عقب د ابراهيم عليه السلام پر توحيد وه بل غاية مايدل عليه الآية المذكورة ان عقب ابراهيم عليه السلام في زمن من الازمان لم يخلوا عن التوحيد كه دهر وي او که لږ حتى ولو كان فرداً واحداً وكان كذالك الى زمان النبي صلى الله عليه وسلم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

رَبِّ إِنَّهُنَّ أَضْلَلْنَ كَثِيرًا مِّنَ النَّاسِ ۖ

اې زما خدایه دغو بتانو گمراه کړه ډېر له خلګو څخه.

پوه سه: چې نسبت د اضلال و بتانو ته مجاز دی په اعتبار د سببیت یعنې په سبب د عبادت د بتانو ډېر خلګ ګمراهان سوه له حقې لارې څخه د توحید و شرک ته.

فَمَن تَبِعَنِي فَإِنَّهُ مِنِّي ۖ وَمَنْ عَصَانِي فَإِنَّكَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٣٦﴾

نو که څوک متابعت زما وکړي په دین حق کې د توحید هغه بعض زما دی په دنیا او آخرت کې حتی یدخل معي الجنة، او که څوک زما نافرماني وکړي په توحید سره بلکې د شرک تناؤ ټینګ کړي نو ته خدای (ﷻ) غفور او رحیم یې.

پوه سه: چې بعض مفسران تقدیر ددې آیت داسې بیانوي فاغفرله وارحمه فانک غفور رحیم، نو پر دې تقدیر دعاً د مغفرت ده د مشرک.

سوال: دعاً د مغفرت وه مشرک بلکې نفس کافر ته خو نه ده روا؟

ځواب: دا دعاً د ابراهیم علیه السلام هغه وخت وه چې خدای پاک دی نه ؤخبر کړی چې انه تعالی لا یغفر ان یشرک به ویغفر مادون ذالک لمن یشاً" هغه وخت چې خدای پاک ابراهیم علیه السلام په عدم مغفرت د مشرک خبر کړی، نو یې داسې سوال وکړی وارزقهم من الثمرات من آمن منهم بالله والیوم الآخر، په دې سوال کې د ابراهیم علیه السلام ګمان دا ؤچې مشرک ته دعاً د رزق نه ده روا ځکه خدای ﷻ د ده زعم رد کړی بقوله ومن کفر فامتعه قلیلاً ثم اضطرة الی عذاب النار الآیة، حاصل د رد دادی چې رزق د دنیا پر عدم مغفرت د شرک نه دی قیاس لان رزق الله في الدنیا یعم الکافر والمؤمن.

دروبش وایي: چې فقیر چې مذکوره ترجمه د آیت وکړه او توجیه د هغه یې هم په تفصیل سره وکړه، نو هغې توجیه او تفسیر ته د سدي رحمه الله چې دی وایي معناه من عصاني ثم تاب فانک غفور الآیة ضرورت نسته لانه معلوم في جمیع الشرائع، وکذا الاحاجة الی تفسیر مقاتل بل حبان رح من عصاني في مادون الشرک.

فائده: بعضې مفسرینو ددې آیت تفسیر داسې کړی دی فانک قادر علی مغفرته ویجوز منه تعالی مغفرة الشرک وانما المنع من مغفرته معلوم شرعاً

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فامكان المغفرة باق قال النووي ؒ في شرح المسلم ان مغفرت الشرک کانت في الشرائع القديمة في امهم وانما امتنعت في شرعنا انتهى.

دروبش وايي: چي اکثره محققان علماً پر دې مذهب دي چي مغفرت د شرک لم تکن جائزة في شريعة من الشرائع لان الشرک قبيح ذاتاً فکيف يجوز مغفرته في شريعة من الشرائع.

دروبش وايي: وعلى هذا فکلام النووي رحمة الله عليه محمول على حذف المضاف يعني دعاً مغفرت الشرک کانت جائزة في الشرائع القديمة وانما منعت في شرعنا وهذا صحيح لان النبي صلى الله عليه وآله وسلم کان يدعوا المغفرة لعمه ابي طالب حين مات مشرکاً حتى نزل هذه الآية "ما کان للنبي ان يستغفر للمشرکين ولو کان اولى القربى الآية" فترک الدعاً لعمه.

دروبش وايي: چي وهذا تاويل حسن لقول الإمام النووي ؒ والتاويل اولى واحرى من رد کلامه بالکلية فافهم.

رَبَّنَآ إِنِّيٓ أَسۡكَنتُ مِن ذُرِّيَّتِي بِوَادٍ غَيۡرِ ذِي زَرۡعٍ عِندَ بَيۡتِكَ ٱلۡمُحَرَّمِ

اې زمونږ پروردګاره! ما سکونت ورکړی بعض ته د اولاد خپل چي اسماعيل ؑ او دده اولاد ؤ ولي چي اسکان د اسماعيل عليه السلام متضمن اسکان لره د هغو هم دی "بواد" په يوه شپله کي چي مراد ځني وادي د مکة المکرمة ده چي يوه شپله وه په منځ کي د غرو چي ځای د کښت نه وه، ولي چي مځکه د مکة المکرمة ډبرينه مځکه وه هيڅ کښت نه سوای پکښې کېدای البته غرنی درختي پکښې وي.

فائده: لفظ د متکلم مع الغير يې راوړی ولي دا آيت متعلق په ذريه پورې دی فالتعرض لوصف ربوبيته تعالى لهم ادخل في القبول.

سوال: "لا ماً" لفظ يې نه ووايه؟

ځواب: له نفي ځخه د کښت نفي د اوبو لازمي دی اذ لا زرع بدون الماً، په بحر العلوم کي وايي چي په اوسنی زمانه کي فقد رزق الله تعالى لاهل مکة ماً جارياً يعني ماً زمزم حتى بلغ ذالک الماً الى المدينة وفي کل دور مکة ماً زمزم وقريب من مکة قنات جاري لزينب ؒ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې لفظ د "عند" ظرف دی د "اسکنت" والمراد بها الکعبة المکرمة او اضافت د "بیت" و خدای ﷻ ته لپاره د تشریف د مضاف دی اذ لا مکان له تعالی لا في السموات ولا في الارض کما هو مذهب اهل السنة والجماعة بخلاف المجسمة.

پوه سه: چې په وخت کې د سوال د ابراهیم علیه السلام خو خونه د مکې نه وه البته موضع د بیت الله داسې یو لوړ ځای وُ چې سهلونه چې به راغله شاه وخوا پر راګرځېدله او پر لوړ ځای چې د بیت الله ځای وُ نه اوښتله. نو مراد د ابراهیم علیه السلام هغه بیت الله چې قبل الطوفان دالته وه.

وجه التسمية بالمحرم لانه عظيم الحرمة عند الله حرم الله التعريض له بسوء يوم خلق السموات والارض، او قتال يې په دې کې حرام ګرځولی دی او دغه رنګه ښکار د حرم مکي في جميع اطرافه الى ان ينتهى الحل، او دغه رنګه بېله احرامه دخول د مکې ته حرام دی، او بل طوفان نوح علیه السلام غلبه پر ونه کړه ولذا سمي عتيقاً، وفي الحديث المتفق عليه للبخاري ومسلم قال رسول الله ﷺ يوم فتح مكة ان هذا البلد حرمه الله يوم خلق السموات والارض فهو حرام بحرمة الله الى يوم القيامة، او نه دی روا جنګ د مکې والو سره هیڅ چا ته. او ماته جنګ لپاره د فتح نه دی روا سوی مګر یو ساعت د ورځې فهو حرام بحرمة الله الى يوم القيامة الى اخير الحديث.

پوه سه: چې ابن عساکر په سند د عامر بن سعید عن ابیه داسې روایت کړی دی چې ساره رضی الله عنها چې د ابراهیم علیه السلام ماینه وه چې ډېره زمانه یې عیال نه کېدی یعنې وچه وه، نو ددې پر ابراهیم علیه السلام زړه وسو چې عیال نه لري، نو د ساره مینځه چې هاجره یې نوم وُ او په قوم قبطیه وه و ابراهیم علیه السلام ته وبخښله.

(دروېش وایي: چې دغه مینځه هاجره ساره ته له کومې پیدا سوې وه؟ دا قصه ډېره وږده ده چې په خپل ځای کې به راسي ان شاء الله تعالى) نو دې هاجرې ته خدای ﷻ له ابراهیم علیه السلام څخه زوی ورکړی چې نوم یې اسماعیل پر کښېښو چې په نسب کې د آنحضرت ﷺ نیکه هم راځي، ساره ته په زړه کې غیرت غلبه وکړه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او په دې نه وه راضي چې هاجره زما سره يو ځای وي، نو ابراهيم عليه السلام ته يې وويل چې هاجره به سره له زويه داسې ځای ته بيايې چې هلته نه اوبه او نه انسان وي (دروښ وايي: چې له دې قصې څخه دې خلګ بغض او عداوت د بنو وفهموي) ابراهيم عليه السلام ته په دې خبره کې ډېر درد ورغلی بيا هم په قرار د روايت د بخاري او بغوي له ابن عباس رضي الله عنهما څخه په امر د خدای ﷻ ابراهيم هاجره او ددې زوی اسماعيل راوستل په شپله کې د مکې چې هاجرې و زوی ته خپل تی ورکاوه عند البيت ای الکعبة تر يوې غرنۍ درختې چې تر زمزم لورې خوا ته وه پياده کړل.

پوښتنه: په دغه وخت کې خو کعبه نه وه بلکې صرف د کعبې ځای يو لوړ ځای ؤ چې وروسته ابراهيم[۴] په په مرسته د اسماعيل[۴] هورې کعبه بنا کړه کما سيئاتي ان شآ الله تعالى او نه په دغه وخت کې د زمزم څاه ؤ کما سيئاتي فکيف يصح قوله عند البيت فوق زمزم؟

ځواب: دا تسميه په اعتبار د مايؤل اليه ده يعني چې په وروسته کې به کعبه او زمزم دلته پيدا کېږي کما سيئاتي من قبيل قوله تعالى اني رئيت اعصر خمراً کما سيئاتي، راوي وايي چې په دغه وخت کې چې ابراهيم[۴] هاجره او اسماعيل[۴] د مکې په شپله کې پياده کړل په دې شپله کې د ابو يو غرپ هم نه ؤ او نه هيڅ انسان ؤ، ابراهيم عليه السلام يوه کڅونه يا يوه توبره خورما او يو ژی (گودی) د اوبو ورته کښېښنو او ابراهيم عليه السلام ځني راهي سو د شام پر خوا، نو د اسماعيل عليه السلام مور په پسې سوه او داسې يې ورته وويل يا ابراهيم اين تذهب؟ يعني ته چېرې ځې وتترکنا بهذا الوادي التي ليس بها انس ولا شيئ، او مور پرېږدې په دې شپله کې چې په هغه کې هيڅ انسان نسته او نه يو شی يعني اوبه وغيره، ابراهيم عليه السلام چې زړه يې له غمه ډک ؤ هيڅ يې په ځواب کې ورته وه نه ويل او د اسماعيل عليه السلام مور ځو واړه مکرره دا خبره ابراهيم عليه السلام ته وکړه د ابراهيم عليه السلام سترګې د اوښکو ډکې او زړه يې له غمه ډک ؤ نه يې ورته وکتل او نه يې ځواب ورکاوه، اخير ام اسماعيل عليه السلام ورته وويل آلله امرک بهذا؟ آيا ته خدای پاک امر کړی يې په دغه سره؟ ابراهيم عليه السلام ورته وويل نعم! د اسماعيل عليه السلام مور وويل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اذاً لایضیعنا، چې خدای پاک درته ویلي دي نو خدای پاک موږ نه ضائع کوي، نو ځني راوګرځېدله، نو ابراهیم علیه السلام داسي ځای ودرېدی چې ام اسماعیل نه لیدی، نو مخ یې د کعبې د جهت پر خوا کړی، نو لاسونه یې پورته کړه (کما هو من اداب الدعاً) او دعاً یې وکړه "رب انی اسکنت من ذریتي بواد غیر ذي زرع الی بیتک رون" ام اسماعیل خپل زوی ته تی ورکاوه او خورما یې په خوړله او د مشکولا اوبه یې څښنلې حتی چې د ژي اوبه ختمې سوې دا تږې سول او اسماعیل علیه السلام هم تږی سو، ولي چې ددې شیدې قطع سوې او مور ورته کتل چې دی له تندي لغښتی او پر له پېچل کېدی، نو هاجره رضی الله عنها د خپل زوی اسماعیل[۴] ځخه رهي سوه، ولي چې دې طاقت د کتلو و زوی ته په داسي سخت حالت کې نه درلودی، نو نژدې غره صفا ته وختل نو پر غره یې شاوخوا وکتل چې ګوندې یو انسان وویني خو په شپله کې یې هیڅ انسان نه ولیدی، نو له صفا ځخه راکښته سوه لاندې تر صفا چې ژوره شپله وه قمیص یې راپورته کړی حتی چې په ځغاسته تر دې شپلې تېره سوه که څه هم اوس دا شپله نسته لکن د سعودي حکومت د ځغاستې ابتدا او انتها په دوه میله زرغونه سره معلومه کړې ده، بیا ام اسماعیل مروه ته ورغله پر هغه ودرېدل او شاوخوا یې وکتل هیڅ انسان یې ونه لیدی، حاصل دا چې اووه واړه ام اسماعیل د ځغاستې وکړې. قال ابن عباس رضی الله عنهما قال النبي صلی الله علیه وسلم فلذالک سعی الناس بینهما (یعني سعي الحج والعمرة) اخیر وار چې ام اسماعیل پر مروه ودرېدله یو اواز یې واورېدی خپل ځان ته یې وویل "صه" چې سه بیا یې غوږ ونیوی بیا یې اواز واورېدی، نو دې وویل اواز دې ما واورېدی ان کان عندک غواث، که ستا سره کومک وي فاذا هي بالملک عند موضع زمزم (ای بصورة انسان) نو هغه پنده کښېکښل اوبه را وغورځېدلې، نو ام اسماعیل را میدان کړه چابک چابک یې پر اوبو خاوري راجمع کولې چې ونه بهېږي او په دېر تلوار یې خپل د اوبو ژی ځني ډک کړی اوبه سم له لاسه راوتلې، قال ابن عباس رضی الله عنهما قال النبي صلی الله علیه وسلم رحم الله ام اسماعیل لو ترکت او قال لو لم تغرف من الماً لکان زمزم عیناً معیناً (یعني چینه به وای جاري په شپله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کي د مکې) نو ام اسماعیل اوبه وڅیښلې او چې په تیو کي یې شپدې پیدا سوې زوی یې په شیدو مور کړی، نو هغې ملکي چې په صورت د انسان ودې ته وویل چې ته مه ببرېږه پر هلاک او ضائع والي، ولي چې پر هغه لور ځای بیت الله چې دغه ستا زوی او پلار یې یعني ابراهیم علیه السلام به یې بنا وکړي او خدای پاک نه ضائع کوي اهل ددې بیت الله تر ابده پوري یعني حتی یأتي امر الله تعالی نو هاجره او زوی یې د شپې او د ورځي دلته اوسېدله (خورک د هاجرې د بعض درختو بلګونه وه)

تبصره: دروېش وایي چې انسانان باید د خدای جل سلطانه په عظمت او قدرت کې فکر ووهي چې سره ددې چې هاجره ښځه وه او یو کوچنی زوی اسماعیل ؑ ورسره په شپله کي د مکې چې شا وخوا غرونه پر راګرځېدلي وه او هیڅ انسان هوري نه وه دېري شپې ډېري شپې او ورځي یې په دغه شپله کي تېري کړې خدای پاک یې په زړه کي دا قوت اینبیی وچې نه د شپې او نه یې د ورځي د هیڅ خطره ببرېدله حتی چې زمونږ یو نر چې قوي هم وي په داسي شپله کي چې یې پرېږدې له بېرې به یې زهره وچوي وهذا الذي اعطاه الله لهاجر من قوة القلب وعدم الخوف في وادي مكة انموزج من قدرته تعالى، تبصره پای ته ورسېدله.

بقية القصة: راوي د بخاري وایي چې هاجره سره د زوی پر خپل ځاه د زمزم د خوشالۍ شپې او ورځي تېرولې، حتی چې یوه قافله د جرهم د قبیلې د کدا د لارې را روانه وه نو د کدا په کښته برخه کي یې اړولي وه، نو دوی مرغان ولیدل چې د زمزم د اوبو پر شاوخوا ګرځېدله، نو دوی په خپلو کي سره وویل چې دا مرغان خو حتماً پر اوبو ګرځي او مونږ خو لږ وخت دمخه پر دې شپلې د مکې نېر سوي وو چې په دې شپلې کي هیڅ اوبه نه وې، نو یو یا دوه کسه یې ورواستول چې تاسي وګورئ چې په شپله کي د مکې یوه چینه پیدا سوې ده او که څرنګه خلګ راغله د زمزم چینه یې ولیدله چې یوه ښځه سره د خپل کوچني شیر خور زوی هوري ناسته وه، دې کسانو قافلې والو ته د اوبو خبر وروړی، نو قافلې وال راغله ام اسماعیل ته یې وویل چې مونږ ته اجازه راکوې چې مونږ ستا سره واړوو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او خپلي کډي او ښځي دلته راولو؟ ام اسماعيل ورته وويل چي نعم لکن د اوبو د ملکيت دعوي به نه کوئ هغو ورته وويل نعم. قال ابن عباس رضي الله عنه قال النبي ﷺ چي ام اسماعيل د دوی د کډو راتګ غنيمت وباله وهي تحب الانس، نو قافلي وال هلته پاته سوه او خلګ يې واستول چي کډي راولي نو کډي يې راوستلې او هورې يې وارول حتی چي څو کوره پر حوالي د زمزم جوړ سوه يعني بعضي خلګو خيمې و دروله او بعضو له غرني درختو څخه لرګي راوړل کودلې يې جوړي کړې او ام اسماعيل ته يې هم يوه خيمه ورکړه تر څو چي اسماعيل عليه السلام ځوان سو او عربي ژبه يې له هغو څخه زده کړه ولي چي دده ژبه عبراني وه، او د اسماعيل عليه السلام ښه رنګ قد او قامت وۀ. نو چي بلوغ ته ورسېدی جرهميانو يوه ښځه په نکاح ورکړه او څه زمانه وروسته ام اسماعيل وفات سوه.

دروښ وايي: چي پاته قصه يعني راتګ د ابراهيم عليه السلام او بنا د بيت الله شريفي د سورت بقره په تفسير کي تېره سوې ده.

رَبَّنَا لِيُقِيمُوا الصَّلٰوةَ

يوه سه: چي کلمه د لام په "ليقيموا" کي متعلق په "اسکنت" پورې ده يعني ما چي خپل اهل په دې خالي شپلې کي واوړل چي هيڅ شی د رزق او نفع نسته يکښي ددې لپاره چي دوی اقامة الصلوة وکړی عند بيتک المحرم والمقصود من الدعا المفهوم من ربنا خو است دی د توفيق ددې د اقامة الصلوة.

فَاجْعَلْ اَفْئِدَةً مِّنَ النَّاسِ

ته وګرځوه زړونه د بعضي خلګو

فائده: "افئدة" جمع د فواد ده وهو القلب او کلمه د من لپاره د تبعيض ده، مجاهد رحمه الله لو قال افئدة الناس يعني کلمه د تبعيض يې نه وای راوړې ستاسي سره به مزاحمت کولای پر بيت الله باندي فارس، روم، ترک او هند. او سعيد بن جبير رضي الله عنه وايي چي حج به کولای اليهود والنصاری والمجوس لکن ده چي کلمه د تبعيض وړيل فهم المسلمون في کل زمان.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تَهْوِيٓ إِلَيْهِمْ وَٱرْزُقْهُم مِّنَ ٱلثَّمَرَٰتِ لَعَلَّهُمْ يَشْكُرُونَ ﴿٣٧﴾

چې ميل کوي په محبت تامه و اهل ته د مکې او دوی ته په رزق ورکړي مېوې سره ددې چې دوی په وادي غير ذي زرع کې دي يعنې داسې مېوې لکه د هغو خلګو چې په قرى ذوات الماً کې استوګنه لري، لپاره ددې چې دوی يعنې اهل مکه شکر وايي د دغه نعمت د مېوو فاجاب الله دعائه فجعله حرماً آمناً يجى اليه ثمرات كل شيئ كمامر عنقريب.

دروښ وايي: چې په اثر د دعاً د ابراهيم عليه السلام هر وخت د اطرافو او اکنافو ځخه مېوې په کثرت په ځلور سره فصله کې د پسرلي، دوبي، منې او ژمي په مکه کې موجودي وي،

دروښ وايي: چې له ابن عباس رضي الله عنه ځخه روايت دی چې طائف چې درې مزله له مکې ځخه لېرې واقع دی او هره مېوه پکښې سته او جاري اوبه هم لري اصلاً يوه قريه د فلسطين وه څه وخت چې ابراهيم عليه السلام دا خواست وکړی "وارزقهم من الثمرات" خداى پاک په خپل قدرت سره هغه قريه راوړل پر موجوده ځاى يې کښېښول رزقاً لاهل مكة او په بعضې روايتو کې راغلي دي چې جبرائيل عليه السلام په امر د خداى جل جلاله دا قريه راوړل او اووه واره يې طواف د بيت الله شريفي په وکړی او پر موجوده ځاى يې کښېښو ولذالک يسمى بالطائف، والله اعلم، حضرت مولى جامي قدس سره وايي:

رو بحرم نه که دران خوش حريم ..... هشت سيه پوش نگاری مقيم
قبله خوبان عرب روی او ..... سجده شوخان عجم سوی او

رَبَّنَآ إِنَّكَ تَعْلَمُ مَا نُخْفِى وَمَا نُعْلِنُ ۗ

اې ربه زمونږ! په تحقيق ته خبر يې په احوال او مصالح زمونږ چې مونږ يې پټ ساتو او که يې ښکاره کوو، مطلب له دې جملې ځخه دادی چې مونږ چې ستا ځخه سوالونه کوو او خپل حاجتونه درځخه غواړو ددې سبب نه دی چې زمونږ هر حاجت تاته نه دی معلوم بلکې په دعاً کې زمونږ غرض اظهار د عبوديت او او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اظهار د احتياج دی ستا و رحمت ته او تعجيل دی لپاره د ميل ما عندک که څه هم موږ پوهږو چې ته يا الله ارحم بنا من انفسنا يې، نو طلب ته بايد ضرورت نه وای لکن پر بناً د هغه آيت ادعوني استجب لکم موږ لاسونه د ضراعت او عاجزۍ تاته پورته کړي دي، سعدي شيرازي قدس سره وايي.

تانگريد ابر کی خندد چمن ..... تا نگريد طفل کی جوشد لبن

وَمَا يَخْفَىٰ عَلَى اللَّهِ مِنْ شَيْءٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاءِ ﴿٣٨﴾

او نه پټيږي پر خدای (ﷻ) باندې يو شی په مځکه او نه په اسمان کې.

پوه سه: چې مراد د مافي الارض نباتات، حيوانات، معدنيات وغيرها دي او مراد له مافي السماً څخه ملائکه کرام، لمر، سپوږمی، ستوري وغيرها دي.

الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي وَهَبَ لِي عَلَى الْكِبَرِ إِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ ۚ

حمد او ثنا دي وي الله (ﷻ) لره هغه الله چې ماته يې هبه يعني راکړه سره له کبر سن او چې نا اميده وم له اولاد څخه نه ستا د قدرت پر بناً بلکې د خپل سن په تقاضا او په دې آيت کې لفظ "وهب" اظهار دی د عظيم قدرت د خدای ﷻ ورنه د عالم اسباب په لحاظ ولادت زما له کبر السن څخه ډير لېرې وۥ.

پوه سه: چې ابن عباس رضي الله عنهما وايي چې ابراهيم ؑ د اسماعيل ؑ د ولادت په وخت کې د نهه نيوي (۹۹) کالو وۥ، او د اسحاق ؑ د ولادت په وخت کې د يو سل او دوولس (۱۱۲) کالو وۥ، او سعيد بن جبير ؒ وايي چې ابراهيم ؑ د اسحاق ؑ د تولد په وخت کې د يوسل او اوولس (۱۱۷) کالو وۥ كذا اخرج ابن جرير ؒ.

إِنَّ رَبِّي لَسَمِيعُ الدُّعَاءِ ﴿٣٩﴾

په تحقيق زما خدای اورېدونکی د دعا دی.

پوه سه: چې مراد له اورېدلو څخه اجابت دی في محاورة العرب كما يقال سمع الملک کلامي يعني زما حاجت يې له سره کړی.

فائده: چې سيبويه ؒ وايي چې "سميع" صيغه د مبالغې ده چې عمل کوي لکه فعل مضاف ده په آيت کې و مفعول ته.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې له دې آيت څخه دا معلومه سوه چې ابراهيم ؑ له خدای ﷻ څخه طلب د ولد کړی وُ لکن خدای پاک اجابت لپاره اظهار د عظيم قدرت په حال کې نا اميدي د ابراهيم ؑ وکړی لان النعمة بعد اليأس الذ. جامي ؒ مېګويد:

چه خوش باشد که بعد از انتظاری ..... با اُميد رسد اميدواری

رَبِّ اجْعَلْنِي مُقِيمَ الصَّلٰوةِ وَمِنْ ذُرِّيَّتِي

اې ربه زما وګرځوې ما اداً کونکی د لمانځه په تعديل د ارکانو او واجباتو او آدابو او مداوم او محافظ د لمانځه.

پوه سه: چې اقامت د لمانځه ماقلنا ته وايي او قيام د لمانځه د مطلق کولو ته د لمانځه وايي، ولهذا په وصف کې د مؤمنانو يا د فعل په صيغه د باب د افعال په قرآن کې رائې مثل "ويقيمون الصلوة" يا په صيغه د اسم فاعل رائې مثل "ماهذا مقيم الصلوة" ځکه علماً وايي چې مقيمين الصلوة لږ دي او کونکي د لمانځه ډېر دي.

پوه سه: چې "ومن ذريتي" جار ومجرور عطف دی پر مفعول د "اجعلني آه" او کلمه د "من" تبعيضيه ده. والمعنى وګرځوې يا رب بعض له اولادو ځخه زما هم مقيمي الصلوة.

سوال: ابراهيم ؑ د بعض ذريت لپاره خواست وکړی؟

ځواب: خدای پاک دی خبر کړی وُ چې ستا په اولاد کې به کافران هم وي کما يدل عليه قوله تعالى لابراهيم ؑ "لاينال عهدي الظالمين"

رَبَّنَا وَتَقَبَّلْ دُعَآءِ

او خدايه زما ته قبوله کړې دعاً زما.

پوه سه: چې کسره د همزه دال پر يای محذوفه ده، او يعقوب ؒ چې له قرأ سبعه وو ځخه دی په اثبات د ياً يې وايي په حال د وصل او د وقف.

دروښ وايي: چې وروى في الحديث الصحيح الذي رواه البخاري و أصحاب السنن الاربعة بعضهم عن انس ؓ وبعضهم عن البرأ بن عازب ؓ قال رسول

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ﷺ الدعاء مخ العبادة" چې دعا او سوال د خدای ﷻ د عبادت مغز دی لان المقصود من العبادة اظهار التذلل الى الله ﷻ، والدعا اصرح في ذالک الاظهار.

رَبَّنَا اغْفِرْ لِي وَلِوَالِدَيَّ

پوه سه: چې مظهري رحمه الله وايي چې له دې آیت څخه دا معلومه سوه چې والدين د ابراهيم عليه السلام مسلمانان وه "لان دعا المغفرة لايجوز للكافر" او دی وايي چې آذر د ابراهيم عليه السلام پلار نه ؤ بلکې اکا يې ؤ او د ابراهيم عليه السلام پلار تارخ نومېدی يعني پلار يې مسلمان ؤ او اکا يې کافر ؤ، مظهري ؒ دا دليل ويلی دی چې دلته يې "والدي" ويلی دی چې معنا يې داده چې دوی حقيقةً زه زېږولی يم ابوی يې نه ووايه لان الاب يطلق مجازاً على العم آه.

دروېش وايي: چې روح البيان وايي چې وهذا الاستغفار انما كان قبل تبين الامر له عليه السلام يعني قبل از نهي ؤ، او په تفسير کواشي کې وايي استغفار لوالديه وهما حيان طمعاً في هدايتهما نو معنی داده چې ته خدای دوی مسلمانان کې او بخښنه د کفر ورته وکړې، او بعض مفسرين وايي چې د ابراهيم عليه السلام مور مسلمانانه وه فاراد اسلام ابيه، وفي روح المعاني اى لامي وابي وكانت امه مؤمنة فلا اشكال في الاستغفار لها واما استغفاره لابيه فقد قيل في الاعتذار عنه انه كان قبل ان يتبين له انه عدو لله سبحانه، وفي تفسير الخازن انه عليه الصلوة نوی شرطية الاسلام التوبة يعني دوی ژوندي وه، نو د ابراهيم ؑ غرض دا ؤ چې که دوی اسلام راوړي او له شرکه توبه وکاږي ته بخښنه ورته وکړې ومثل هذا الاستغفار جائز للكافر كما لا يخفى، او امام دميري په حيوة الحيوان کې وايي چې په حديث شريف کې راغلي دي چې ابراهيم ؑ د خپل پلار آذر سره ملاقي سي په ورځ د قيامت او پر مخ د آذر تورواليو او ګرځ وي، نو ابراهيم عليه السلام ورته ووايي "الم اقل لک لاتعصيني" ما تاته نه وه ويلي يعني په دنيا کې چې ته زما څخه عصيان مه کوه يعني ايمان راوړه، نو پلار يې ورته ووايي چې نن ورځ دي عصيان نه کوم، نو ابراهيم عليه السلام خدای پاک ته وايي "يارب انک وعدتني ان لاتحزني يوم يبعثون فاى خزى من ابى ان يكون في النار فيقول الله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تعالى اني حرمت الجنة على الكافرين الى اخير الحديث.

ژباړه: اې خدايه زما تا زما سره وعده کړې وه چې تا نه رسوا کوم او نه دې ذليل کوم په هغه ورځ چې خلګ بعث کېږي يعني بعد الموت، نو تر دې لويه رسوايي او ذلت به چېرې وي زما تر پلار چې په اور کې وي، خداى پاک ورته ووايي چې ما حرام ګرځولى دى جنت پر کافرانو ، يعني ستا پلار کافر دۍ او جنت ما حرام کړى دى پر کافرانو.

دروښ وايي: چې دا ډ تحقيق ددې آيت بحسب الوسع والطاقة ونقل اقوال المفسرين رحمهم الله والعلم عند الله العزيز العلام. او دا آيت چې په سورة توبه کې راغلى دى "وَمَا كَانَ ٱسْتِغْفَارُ إِبْرَٰهِيمَ لِأَبِيهِ إِلَّا عَن مَّوْعِدَةٍ وَعَدَهَآ إِيَّاهُ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُۥٓ أَنَّهُۥ عَدُوٌّ لِّلَّهِ تَبَرَّأَ مِنْهُ ۚ إِنَّ إِبْرَٰهِيمَ لَأَوَّٰهٌ حَلِيمٌ ﴿١١٤﴾ نبه په غور سره مطالعه کړئ حتى يتبين لكم الحال.

وَلِلْمُؤْمِنِينَ يَوْمَ يَقُومُ الْحِسَابُ ﴿٤١﴾

او بخښنه وکړي ټولو مؤمنانو ته هغه ورځ چې شروع کېږي حساب يا ښکاره کېږي چې ورځ د قيامت ده بالاجماع.

دروښ وايي: چې د مؤمناتو بخښنه يې نه وغوښتل ولې چې ښځې تبع دي د نرانو في اكثر آيات القرآن كما لايخفى على قاري القرآن العزيز.

وَلَا تَحْسَبَنَّ اللَّهَ غَٰفِلًا عَمَّا يَعْمَلُ الظَّٰلِمُونَ ﴿٤٢﴾

ته ګمان مه کوه پر خداى (ﷻ) باندې چې غافله دى له هغه عمل څخه چې ظالمان يې کوي يعني په سبب د امهال د خداى ﷻ و ظالمانو ته چې دا منشأ د توهم د غفلت ده.

پوه سه: چې غفلت عدم العلم دى پر حقيقت د کارو.

تنبيه: خطاب په "تحسبن" کې يا عليه الصلوة والسلام ته دى.

سوال: آنحضرت ﷺ خو دا حسبان هرګز نه کاوه، نو د نهي څه فائده ده؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: هو! خو مقصود ټينګول دي د عليه الصلوة والسلام پر دې باندې چې خداى پاک مطلع پر احوالو او افعالو د ظالمانو دى لانه لايخفى عليه تعالى خافية. عذاب ورکوي پر قليل او کثير لامحالة. او يا مخاطب هغه کسان دي يعنې هر هغه سړى چې توهم د غفلت د خداى ﷻ کوي په سبب د جهل په صفاتو د خداى ﷻ من انه لايخفى عليه ذرة في السموات والارض. او يا په امهال د خداى غولېدلي وي چې دا ګمان کوي او په حقيقت کې دا آيت تسلي ده و عليه الصلوة والسلام ته او تهديد دى و ظالمانو ته.

إِنَّمَا يُؤَخِّرُهُمْ لِيَوْمٍ تَشْخَصُ فِيهِ الْأَبْصَارُ ﴿٤٢﴾

پوه سه: چې دا جمله استيناف بياني يعني ځواب د سوال مقدر دى چې خداى غافله نه دى، نو ولې عذاب نه پر نازلوي، حاصل د ځواب دادى چې خداى ﷻ ددوى عذاب و لويه ورځ ته ځنډولى دى چې ورځ د قيامت ده چې په هغه ورځ کې به دهول او بېرې ځخه سترګې د ظالمانو ړې پاته وي يعني رپولاى به يې نه سي او بعض مفسرين وايي چې سترګې ددوى به له خپله غالبه ځخه د باندې راوتلې وي.

مُهْطِعِينَ مُقْنِعِي رُءُوسِهِمْ لَا يَرْتَدُّ إِلَيْهِمْ طَرْفُهُمْ ۖ وَأَفْئِدَتُهُمْ هَوَاءٌ ﴿٤٣﴾

"مهطعين" قتاده رح وايي چې معناه مسرعين الى الداعي، او مجاهد وايي کتل به يې يو شي ته همېشه وي لايرتد اليهم طرفهم كما في آية اخرى، او بعض وايي مسرعين لايلتفتون يمنياً وشمالاً ولا يعرفون مواطن اقدامهم مثال يې نته ورځ د ګادوى اسان دى فافهم، او قاموس والا وايي چې "هطع" هطوعاً اسرع مقبلاً خائفاً او اقبل ببصره على الشيئ لايقلع عنه، پورته يې نيولې وي سرونه، او حسن بصري رحمه الله وايي چې مخان د خلګو به په په ورځ د قيامت د آسمان و خوا ته وي لا ينظر احد الى احد په سبب د ډېر خوف، نه سي کتلاى و خپلو ځانو ته بلکې سترګې به يې شخې ولاړې وي رپولاى يې هم نسي، او زړونه ددوى به خالي د عقل او فهم ځخه په سبب د ډېر دهشت او حيرت، محاوره عربيه، و بې عقل او احمق ته دوى وايي قلبه هواً لاىٔ فيه ولا قوة. او قتاده رحمه الله يې داسې تفسير

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کړی دی چې زړونه به يې له ځيګر ځخه راپورته سي وکرنکي ته نه به تر خوله راوځي او نه به خپلو ځايو ته تلای سي وقيل غير ذالک.

وَأَنْذِرِ النَّاسَ يَوْمَ يَأْتِيهِمُ الْعَذَابُ

وبېروه ته يا محمد (عليه السلام) خلګ په ورځ يعني د قيامت چې رابسي ودوی ته عذاب او يا له ورځ ځخه د مرګ چې دا ورځ اول ورځ د شروع د عذاب ددوی لان القبر اول منازل الآخرة او يا له عذاب عاجل ځخه د دنيا.

فَيَقُولُ الَّذِينَ ظَلَمُوا رَبَّنَا أَخِّرْنَا إِلَىٰ أَجَلٍ قَرِيبٍ

نو وبه وايي هغه کسان چې ظلم يې کړی بالکفر والمعاصي ای زمونږ ربه مونږ ته مهلت راکړه په دنيا کې او يا معنی دا چې وځنډوه عذاب او مونږ دنيا ته رد کړه تر لږ زمانې پورې يعني دومره مقدار چې مونږ ايمان راوړو او ستا د نبي دعوت قبول کړو.

نُّجِبْ دَعْوَتَكَ وَنَتَّبِعِ الرُّسُلَ

دا ځواب د امر دی يعني اخرنا چې مونږ قبول کړو دعوت ستا او مونږ متابعت وکړو د رسولانو، ورته آيت کريمه په بل ځای کې د قرآن عزيز داسې راغلی دی لَوْلَا أَخَّرْتَنِي إِلَىٰ أَجَلٍ قَرِيبٍ فَأَصَّدَّقَ وَأَكُن مِّنَ الصَّالِحِينَ ﴿١٠﴾ په ځواب کې ددوی خدای پاک وايي.

أَوَلَمْ تَكُونُوا أَقْسَمْتُم مِّن قَبْلُ مَا لَكُم مِّن زَوَالٍ ﴿٤٤﴾

آيا نه واست تاسي چې قسم مو اخستی ؤ يعني په دنيا کې چې نسته تاسي لره زوال.

بوه سه: چې "مالکم آه" جواب د قسم ددوی دی جا بلفظ الخطاب للمطابقة لقوله تعالى تكونوا واقسمتم لالحكاية قولهم لان قولهم مالنا من زوال.

دروبش وايي: چې د "مالکم من زوال" مظهري رح دا ترجمه کړې ده چې مونږ به باقي په دنيا کې يو مرو به نه آه، او روح البيان يې ورته ترجمه کړې ده مما انتم عليه من التمتع بالحفوظ الدنياوية آه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې دا ټولې ترجمې پر دې دلالت چې دوی په خوله دا خبره کوله وهذا بعيد لان الموت كان معلوماً بداهةً لهم من موت آبائهم واجدادهم فكيف ينكرون موت الدنيا، وما قال المظهري ؒ لعلهم قالوا ذالک بطراً وغروراً لا يجدي نفعاً في دفع السؤال، د فقير په نېز هغه ترجمه اولى او اقرب الى الصواب ده چې نامورو مفسرينو رحمهم الله وروسته کړې ده چې دا قسم ددوی مالهم من زوال من الدنيا په زبان حال او په دلالة الافعال ددوی ده چې دوی به ګڼ کړي کوټې جوړولې او په ډبرو به يې دهوالونه پورته کوله، يا په سيخ او کانګرېټو به يې بنګلې جوړولې، نو ګويا دوی په زبان حال دا ويل او قسم يې اخستی چې موږ به په دنيا کې باقي يو او مرو به نه. او بل هغه معنی چې بيا نامورو مفسرينو ټولو کړېده چې دوی قسم اخستی چې موږ له دار دنيا څخه و بل دار ته چې قيامت دی نقل کېږو چې معنی يې انکار د بعث بعد الموت دی وهم كانوا على ذالک المذهب المذكور ډېره زېباده كما قال الله تعالى "واقسموا بالله جهد ايمانهم لا يبعث الله من يموت" وروی هذا الجواب عن مجاهد رحمه الله.

دروښ وايي: چې پر هر تقدير لفظ د من زائد لپاره د تاکيد د نفي دی كما صرح به المفسرون بالاجماع.

پوښتنه: اوله معنی چې نامورو مفسرينو کړې ده آيا بې ځايه اوغلطه معنی ده؟

ځواب: د اولې معنا تصحيح په دې دول کېدای سي چې انبيا عليهم السلام دوی ته په کراتو مراتو دا ويل چې دا ژوند د دنيا بې بقا دی او دوی به يې ډېر سوځته کړل او وينه د غضب به ددوی پر جوش راغله، نو به يې قسم واخستی مالهم من زوال من هذه الحيوة الدنيا.

تجربه: حالت د غضب چې انتهاً ته ورسېږي هر رنګه که خبرې که څه هم له عقل څخه لېرې وي د سړي تر خوله يې باسي كما يدل عليه التجربة چې له مسلمان څخه په حال کې د سخت غضب کلمه د کفر تر خوله وځي.

دروښ وايي: چې دا نهايته توجيه وه د تصحيح د معنی اولى والعلم عند الله.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَسَكَنتُمْ فِي مَسَاكِنِ الَّذِينَ ظَلَمُوا أَنفُسَهُمْ وَتَبَيَّنَ لَكُمْ

او تاسي اوسېدل کړي وه (من السكنى بمعنى الاقامة) په وطنو او په ځايو کي د اوسېدلو د هغو کسانو چې ظلم يې کړی ؤ پر ځپلو ځانو بالكفر والمعاصي ممن كان قبلكم قوم نوح وعاد و ثمود وغيرهم الذين اهلكهم الله بالاستيصال.

پوه سه: چې مفعول د "تبين" محذوف دی بدلالة الكلام والتقدير تبين لكم حالهم يعني په ليدلو د آثارو د منازلو ددوی او د تاريخ په پاڼو کي ثبت سوي احوال ددوی.

كَيْفَ فَعَلْنَا بِهِمْ وَضَرَبْنَا لَكُمُ الْأَمْثَالَ ﴿٤٥﴾

چې مونږ څه کار وکړی په دوی سره يعني لم ينزجروا من الكفر والمعاصي فاهلكناهم بالمرة، يعني بايد تاسي موجودين کافران د هغو له کړو ورونړ څخه پند واخلئ، او مونږ بيان کړي دي تاسي لره احوال د هغو کافرانو پر ژبه د رسولانو چې د هغو تائيد د رسالت په معجزاتو سره کړل سوی ؤ.

سعدي شيرازي قدس سره وايي:

پند گير از مصائب ديگران ..... تا نه گيرند ديگران زتو پند
نرود مرغ سوی دانه فراز ..... چو ديگر مرغ بيند اندر بند

پوه سه: چې و احوالو ته د کفر ماضيين امثال ووايه لان احوالهم في الغرابة كالامثال المضروبة في الامور الغريبة النادرة.

وَقَدْ مَكَرُوا مَكْرَهُمْ

بعض مفسرين چې د "مكروا" ضمير راجع و کفارو ته د مکې دی چې دوی مکر وسنجاوه په شان کي د نبي عليه السلام په دار الندوة کي چې بعضو وويل چې بندي به يې کړو بعضو وويل چې له مکې څخه به يې فرار کړو، بعضو وويل چې قتل به يې کړو، نو پر دې تقدير ضمير مجرور د "مكرهم" راجع دی و هغه چا ته چې ضمير مرفوع په مكروا کي راجع دی يعني کفار د مکې وح ء فالمعنى انهم مكروا مكرهم البليغ چې دوی خپل تمام کوشش پکښې مبذول کړی ؤ لپاره د ابطال د حق چې دين

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د اسلام ؤ او اثبات د باطل چې شرک د مکې والو ؤ، ويرد على ذالک التفسير ان كفار مكة وان فعلوا ومكروا بالنبي ﷺ ودين الاسلام ذالک المكر المذكور لكن لاتعلق له بهذا المقام كما لايخفى، ولي چې ماقبل كلام په كفارو كې د امم سابقه ؤ او بل دا ده چې د مكروا او مكرهم په ضمير كې اضمار قبل ذكر المرجع لازمېږي لان كفار مكه لم يذكرو فيما قبل القريب، فالاولى ماقال صاحب روح البيان حيث قال اى فعلنا بالذين ظلموا ما فعلنا والحال انهم قد مكروا في ابطال الحق وتقدير الباطل مكرهم العظيم الذي استفرغوا في عمله المجهود وجاوزوا فيه كل حد معهود آه، او صاحب د روح المعاني دغه احتمال او معنى مختاره كړې ده چې دى وايي د قد مكروا مكرهم په تفسير كې حال من الضمير الاول في فعلنا بهم او من الثاني او منهما وبين معنى الآية والحال انهم قد مكروا في ابطال الحق الى اخير ما قال صاحب روح البيان چې نژدې تېر سو، او مظهري نسبت و ځان ته كړى دى حيث قال وعندي ان الجملة معطوفة على قوله وسكنتم، والضمير المجرور راجع الى الموصول يعني الذين ظلموا، والمراد الكفار السابقون آه، لكن روح البيان يوه لويه قصه راوړى په تفسير كې ددې آيت او نسبت يې و علي رضي الله عنه ته كړى دى چې دا آيت په قصه كې د نمرود جبار نازل سوى دى بيا يې هغه قصه په ډېر بسط سره راوړې ده لكن صاحب د روح المعاني ص ۲۵۲ كې وايي وما روى من قصة نمرود بن كوش بن كنعان چې د ځلورو بانبو مرغانو په مرسته ځان و قرب ته د اسمان ورساوه آه، دى وايي چې دا داسې قول دى چې ظاهر د لفظ القرآن ابا ځنى كوي وبعيد جداً، وقال ان الخطر في ذالک عظيم ولايكاد العاقل يقدم عليه. او په هيڅ حديث معتمد صحيح كې نه دى راغلى ولاحاجة في تاويل الآية اليه. روح المعاني وايي چې ددې خبري نسبت كه څه هم و حضرت علي رضي الله عنه ته كړل سوى دى يا نورو رواتو ته لكن اسانيد د هغو ضعيف دي الى اخير ما قال من رد القول المذكور ثم قال في اخيره والله تعالى اعلم.

دروبش وايي: چې ما اقوال د تفاسير مذكوره وو را نقل كړل، نو زه هم وايم چې والله اعلم بالصواب واليه المرجع والمآب.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَعِنْدَ اللّٰهِ مَكْرُهُمْ

یعني مکتوب دی په نېز د خدای (ﷻ) مکر ددوی، نو خدای (ﷻ) به جزا ورکړي د دوی او یا معنی داده چې په نېز د خدای ﷻ مکر سته چې جزاً د مکر ددوی به په مکر سره ورکړي. وقد مر ان اطلاق المکر علی فعله تعالی مشاکلة.

وَإِنْ كَانَ مَكْرُهُمْ لِتَزُولَ مِنْهُ الْجِبَالُ ﴿٤٦﴾

که څه هم دی مکر ددوی یعني الشرک عظیماً شدیداً بحیث تزول منه الجبال.

پوه سه: چې تزول منه الجبال کنایة له عظمت څخه د شرک ددوی کما في قوله جل ذکره تخر الجبال هداً ان دعوا للرحمن ولداً.

دروښ وایي: چې هغه قصه طویله چې روح البیان راوړې ده، او روح المعاني په شدت سره رد کړې ده مظهري په نقل له بغوي څخه هم راوړې ده لکن په اخیر کې یې ویلي دي وهذه القصة یأبی عنها العقل ولم یثب بنقل یعتمد علیه.

دروښ وایي: چې ولنعم ما قال صاحب روح المعاني في امثال هذه القصة وقد شاع تلک من اخبار القصاص وخبرهم مدفوع عن القبول وان طاروا الی النسر الطائر انتهی په اوسنی زمانه کې هم بعض بېعلمه امامان یا خطیبان ورته د درواغو قصې عوامو ته کوي، او ده پر ستر گو توري عینکي اینبي وي چې خلګ مې ستر گي ونه وینې او د ژړا په لهجه دغه د درواغو قصې کوي د عوامو د اخبال وي چې خطیب صاحب ژاړي نو دوی پر ژړا متار اینبی وي والی الله المشتکی من صنیع هؤلاء الخطباء الجامعین للنقود بالکذب علی الله وعلی الرسول.

فائده: کسائي او ابن جریج رح کلمه د "لتزول" په فتح د لام لپاره د تاکید او تزول په رفع سره وایي او لفظ د ان مخففه له مثقله څخه بولي، او ضمیر شان ورسره محذوف بولي، والتقدیر انه ای الشان کان مکرهم ای شرکهم عظیماً شدیداً بحیث تزول منه الجبال. او جمهور قراء لام د "لتزول" په کسره وایي او تزول منصوب وایي په ان مقدره سره وروسته د حرف جر ده لتزول کما هو القانون النحوي من ان الحروف الجارة لاتدخل علی الافعال فلابد من تقدیر ان او یا ان مخففه د مثقل دی او لفظ د کان تامه دی او لام په معنی د کی دی فافهم، والمراد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بالجبال شرائع الانبياً وايات الله التي هي كالجبال في الثبات والدوام حسن بصري وايي چي مكر ددوى اضعف من ان تزول منه الجبال بل هو محال.

فَلَا تَحْسَبَنَّ اللَّهَ مُخْلِفَ وَعْدِهِ رُسُلَهُ

ته مه كوه گمان اى مخاطبه غير معينه پر خداى (ﷻ) چي خلاف دي وكړي د خپلي وعدې چي د رسولانو دده سره يې كړې ده بالنصر لرسله وهلاك اعدائه. كريمه "انا لننصر رسلنا" كريمه "كتب الله لاغلبن انا ورسلي" كريمه "لنهلكن الظالمين ولنسكننكم الارض من بعدهم.

پوه سه: چي "مخلف وعده" مفعول ثاني د "تحسبن" او "رسله" يې مفعول اول دى. مفعول ثاني چي يې تر اول دمخه كړى دى لپاره د تنبيه پر دې چي خداى ﷻ د هيڅ چا سره خلاف الوعد نه كوي فضلاً مع الرسل.

إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ ذُو انْتِقَامٍ

په تحقيق خداى (ﷻ) دى د چا مكر پر ده نه چلېږي. خاوند د كسات د دوستانو لپاره له دښمنانو څخه.

يَوْمَ تُبَدَّلُ الْأَرْضُ غَيْرَ الْأَرْضِ وَالسَّمَاوَاتُ

هغه ورځ چي بدل كړل سي مځكي په بله مځكه او اسمانونه.

پوه سه: چي "يوم" منصوب دى محلاً په "اذكر" مقدر سره كما هو التفسير الشائع في امثاله من القرآن. "والسموات" عطف دى پر "ارض" باندې والتقدير والسموات غير السموات ولم يذكره لدلالة ماقبله عليه.

پوه سه: چي تبديل گاهي په ذات كي وي لكه په دې قول كي بدلت دارهم بالدنانير، والمراد في قوله تعالى في حال الجهنميين بدلناهم جلوداً غيرها او گاهي په صفت كي وي نحو بدلت الحلقة خاتماً.

فائده: په تبديل كي د مځكي او اسمانو احاديث راغلي دي چي بعض يې پر تبديل د ذات دلالت او بعض يې پر تبديل د صفاتو دلالت كوي، والآية ليست بنص في احد الوجهين وفي حديث ابن عباس ﷺ چي د مځكي تبديل دادى چي بعض

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

څايونه زياتوب پكښې وسي او بعض څايونه كمښت، يعني غرونه، غونډۍ، شپلې او درختي ټولي د مځكې ولاړې سي او مځكه سره كش سي لكه يو څوك چې څرمن كشوي چې فراخه سي، نو ټوله مځكه يو رنګ سي نه لوړه او نه جوړه پكښې وي. لكه اميان چې وايي چې مځكه يوه هګۍ سي او تبدل د اسمانو دادی چې لمر او ستوري او سپوږمۍ ورک سي والحاصل بغير كل واحد عما عليه في الدنيا.

دروېش وايي: چې دا تفسير تفسير د فهم د متعلمينو دپاره زيبا دی، والاحاديث الدالة على تغيير الذات او تغيير الصفات قد اورد المظهري في نحو ثلث صفحات وفي نقلها بالعربية وترجمتها باللغة الافغانية تطويل كثير لا يليق بشان متعلمي هذا التفسير.

دروېش وايي: چې امام همام فخر الدين الرازي رحمه الله په تفسير كبير كې وايي چې دا بعيد نه ده چې له تبديل څخه د مځكې دي مراد دا وي چې جهنم په ځني جوړ سي او د تبديل د سماواتو څخه دي مراد دا وي چې جنتونه به ځني جوړ سي. او ټولو اهل التفسير د امام دا خبره تر تنقيد لاندې نيولې ده چې له دې څخه خو دا لازميږي چې جنت او دوزخ اوس مخلوق نه دي كما يقوله المعتزلة والثابت في علم الكلام والاحاديث خلافه. علامه آلوسي په روح المعاني كې كه څه هم په دفع كې ددې سوال له كلام څخه د امام ډېره سعي كړې ده لكن په سر يې نه ده رسولې والله اعلم بمراد عباده.

وَبَرَزُوا لِلّٰهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ ﴿۴۸﴾

ښكاره به سي ټوله بندګان يعني له قبرو وغيرها څخه به را ووځي، دروېش "غيرها" ووايه لان الانسان قد ياكله الحوت في البحر او بل هندوان د دې زمانې خپل مړي سوځوي قبرونه نه لري وكذا قد ياكل الانسان سباع البر الى غير ذالك "لله الواحد القهار" يعني لمحاسبته ومجازاته بالجنة او النار.

فائده: ددې دوو صفاتو جمع كول دلالت پر دې دی چې ورځ د قيامت ډېره سخته ده، ولې چې آمر يو وي او هغه هم غالب وي چې څوك يې مقابله نه سي كولای، نو ځای د استغاثې او د پناه بل نسته.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَتَرَى الْمُجْرِمِينَ يَوْمَئِذٍ مُقَرَّنِينَ فِي الْأَصْفَادِ ﴿٤٩﴾

او ته به ويني يا محمد (ﷺ) يا مخاطب غير معين، كافران په دغه ورځ كي تړلي يو له بل سره په سبب د اشتراک في العقائد والاعمال كالمشركين في الشرک وهكذا اليهود والنصارى والزانين منهم مثلاً په قيود او اغلالو كي د اصفاد مفرد صفد دی لكن صفد سخت تړلو ته وايي او قريناً مع شياطينهم.

ابو سعيد الخدري ﷺ له عمر بن خطاب ﷺ څخه روايت كړی دی قال يقرن الصالح مع الصالح في الجنة ويقرن الرجل السوء بالسوء في النار.

سَرَابِيلُهُم مِّن قَطِرَانٍ وَتَغْشَىٰ وُجُوهَهُمُ النَّارُ ﴿٥٠﴾

جمع سربال وهو القميص، په غياث اللغات ص ٥٣٦ كي وايي قطران بالكسر نام شاعري ونام شهر ونام روغنی باشد سياه وبد بوه كه از درخت عرعر كه سركوه می باشد ميگيرند وآنرا بر اشتران خارش يعني الجربی چي په پښتو يې گرگ بولي چي گرگ يې ورسوځي په سبب د تېزی رنگ يې تور دی بدبويه چي اور ژر اخلي، نو په قطران بدن د اهل النار ورلړي، نو دوی لره لكه قميص گرځي، نو پر دوی سوي او كا د قطران او وحشته د رنگ يې او بد بوی تولـه سره جمع سي مع اسراع النار في جلودهم وفي روح المعاني هو مايحلب من شجرة الابهل وتهنأ به الابل الاجرب فيحرق الجرب بما فيه من الحدة وقد تصل حرارته الى الجوف وهو اسود منتن يسرع فيه اشتعال النار حتى قيل انه اسرع الاشيا اشتعالاً وهو حار يابس في الثالثة او الثانية انتهى "وتغشى وجوههم النار" او پټ كړی وي او پر سربيره وي پر مخانو ددوی اور.

پوه سه: چي د "وجه" تخصيص يې له دې جهته وكړی چي مخ په انسان كي هغه عزت مند ځای په ظاهر كي د بدن دی لكه زړه په باطن كي د بدن، ولهذا قال الله تعالى "تطلع على الافئدة" او بل سبب يې دادی چي دوی په دنيا كي د خدای ﷻ وخوا ته توجه نه وكړي، او خواس د مخ يې لكه سمع او بصر يې د حق او معجزاتو وليدو ته او سمع د حق و اورېدلو ته نه وه سپارلي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لِيَجْزِيَ اللّٰهُ كُلَّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ

پوه سه: چي کلمه د لام متعلق ده په محذوف پوري، تقديره يفعل ذالک ليجزي اليه او بقوله مقرنين، او بقوله تغشى والمعنى تا چي جزاً ورکړي خداى پاک و هر نفس ته که مطيع وي او که عاصي په ما کسبت سره لانه اذا بين الله ان المجرمين يعاقبون باجرامهم كما في الآيات السابقة علم ان المطيعين يثابون بطاعاتهم. نو د لام کلمه متعلق ده په برزوا پوري فافهم.

اِنَّ اللّٰهَ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ﴿٥١﴾

په تحقيق خداى ﷻ ژر دى حساب دده لانه لا يشغله حساب عن حساب، امام سيوطي رحمه الله په جلالين کي وايي چي خداى پاک حساب کوي د ټولو خلګو سره په قدر د نيمي ورځي د دنيا لحديث بذالک.

دروښ وايي: چي ورته قول ابن المبارک رحمه الله او ابو نعيم عن النخعي رح قال كانوا يرون انه ليفرغ من حساب الناس في مقدار نصف يوم وروسته به قيلوله کوي هؤلاء في الجنة وهؤلاء في النار، ومثل هذا الحديث اخرجه ابن ابي حاتم عن ابن عباس رضي الله عنهما.

هٰذَا بَلٰغٌ لِّلنَّاسِ وَلِيُنْذَرُوْا بِهٖ وَلِيَعْلَمُوْٓا اَنَّمَا هُوَ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ

اى القرآن او السورة يا ما في السورة من الوعظ من قوله تعالى ولا تحسبن الله الآية. بلاغ کفايت دى دوى لره په نصيحت کي.

پوه سه: چي "ولينذروا به" عطف دى پر محذوف باندي اى لينصحوا ولينذروا چي وبهرول سي په دغه بلاغ سره، وقيل معنى الآية هذا القرآن انزل لتبليغ الناس احكام الله ولينذروا به او چي دوى پوه سي، په دې چي نه دى مستحق د عبادت بالحق مګر يو الله.

وَلِيَذَّكَّرَ اُولُوا الْاَلْبَابِ ﴿٥٢﴾

او چي پند واخلي په مواعظو د قرآن خاوندان د عقولو يعني العقول السليمة عن الهوى وعن تقليد الآباء.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي اصل د يذكروا يتذكروا وُ تا يې په ذال کي مدغم کړه او لفظ د "الوا" جمع د "ذو" ده من خلاف لفظه.

فائده: الباب په اصل کي جمع د لب ده چي مغز ته وايي يا د بادام يا د جوز مثلاً دلته مراد ځني عقل دی مجازاً. علماً وايي چي مغز د انسان عقل دی او بدن يې قشر دی يعني پوست او کالي يې قشر القشر دي نو انسان لره لازم ده چي د عقل په تصفيه کي کوشش وکړي بالايمان والطاعة واجتناب المنهيات والتفكر في الآء الله وشكرها وقطع الطمع عن غيره تعالى في الرزق، كمال خجندي وايي:

نيست مارا غم طوبى وتمناى بهشت ..... شيوه مردم نااهل بود همت پست

مولانا جامي قدس سره وايي:

يا من ملكوت كل شيئ بيده ..... طوبى لمن ارتضاك ذخراً لغده

اين بس كه دلم جزء تو ندارد كامى ..... تو خواه بده كام دلم خواه مده

دروبش وايي: چي په توفيق د خداى ﷻ له تفسير څخه د ديارلسمي پاري د قرآن عزيز په ساعت کي د لسو بجو په ورځ د پنجشنبې اووه ويشت شعبان المبارک سنه (۱۴۲۹ هـ ق) فارغ سوم ولله الحمد والمنة والصلوة والسلام على خير البرية وآله وصحبه الكملة ويليه تفسير الجزء ۱۴ ان شاء الله العزيز.

التجاً وتضرع بدرگاه رب العزة القادر المطلق جل سلطانه:

اللهم وفق عبدك العاصي بانواع المعاصي محمد عبيد الله الايوبي السليمانخيلي غفرله الباري ذنبه الجلي والخفي لتفسير القرآن الكريم الى اخيره بالخير والعافية والصحة والسلامة واجعله خيراً باقياً وعملاً جارياً الى يوم القيامة انك على كل شيئ قدير وبالاجابة جدير، ... بيت:

غرض نقشيست كزما ياد ماند .... كه هستى را نمى بينم بقائى

مگر صاحب دلى روزى ز رحمت .... كند درحق اين مسكين دعائى

روز محشر هر كه آيد تصوير جانان دربغل

من نيز حاضر ميشوم تفسير قرآن دربغل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سُوْرَةُ الْحِجْرِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ تِسْعٌ وَّ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ تِسْعُوْنَ اٰيَةً وَّسِتُّ رُكُوْعَاتٍ

ونعوذ بوجهک الکریم من الشیطان الرجیم

الٓرٰ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ وَقُرْاٰنٍ مُّبِيْنٍ ①

دروښ وايي: چې "الٓمر" له متشابهاتو څخه د قرآن کریم دی و قد مر اختلاف اهل التفسیر والفقهاء في اول سورة البقرة.

او "تلک" اشاره ده و آیاتو ته ددې سورت، او اضافت و کتاب ته یې په معنی د "من" ده.

پوه سه: چې مراد له کتاب او قرآن څخه یو دی بالتغایر الاعتباري بالکتابة في المصاحف والقرائة بالالسنة.

او تنکیر د قرآن لپاره د تعظیم دی ای آیات ما هو جامع لکونه کتاباً کاملاً وقرآناً بین الرشد والهدایة والفرق بین الحلال والحرام بیاناً عربیاً.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الجزء الرابع عشر

رُبَمَا

شرح اردو

حضرت مولانا محمد عبد الله الايوبي

الكندهاري الحنفي النقشبندي

مكتبة القرآن والتجويد

كاسي روڈ كوئٹه بلوچستان

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

رُبَمَا يَوَدُّ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْ كَانُوا مُسْلِمِينَ ۝

پوه سه: چي "رب" نافع او عاصم او ابو جعفر رحمهم الله په تخفيف د باً وايي، او نور قاريان په تشديد د باً وايي. او "رب" پر هر تقدير حرف جر دی او کلمه د ما منع کونکي د "رب" د عمل نو له دې سببه يې دخول پر فعل روا دی.

سوال: د "رب" دخول پر ماضي بايد وي كما تقرر في النحو، نو دلته پر مضارع چي يو څرنگه داخل سو؟

ځواب: مستقبل په اخبار کي د خدای ﷻ لکه ماضي دی لتحققه حتماً.

فائده: معنی حقيقي د "رب" تقليل دی بعض مفسرين يې پر حقيقت حمل کوي ووجه التقليل ان الكفرة يدهشم اهوال القيامة يو وخت نادر که له دوی څخه دهشت پورته سي تمنوا الاسلام في الدنيا، او بعض مفسران وايي چي "رب" دلته لپاره د تكثير دی مجازاً له جهته د قيام د تضاد په ځای کي د مناسبت كما تقرر في علم البيان من ان التضاد يقوم مقام المناسبة "يود الذين كفروا لو كانوا مسلمين" خوښ دي يعني په ورځ د قيامت عند معاينة، کلمه د لو په معنی د ان ده يعني ان كانوا مسلمين في الدنيا.

فائده: تعبير له وداد څخه د دوی په لفظ د غيبت يعني كانوا انما هو في الحكاية لا في المحكي عنه لان المحكي عنه لو كنا مسلمين بصيغة التكلم فافهم كما في قول القائل حلف فلان ليقتلن كذا مكان قوله لافعلن كذا فافهم.

پوه سه: چي ابن المبارک او ابن جرير، او بيهقي رحمهم الله له ابن عباس او انس رضي الله عنهما څخه روايت کړی دی چي دوی دوو ددې آيت مبارک په متعلق کي وويل چي دا يعني و داد د الذين لو كانوا مسلمين هغه وخت دی چي گناه کاران د مسلمانانو او مشرکينو په اور کي سره يو ځای وي، نو مشرکان و مسلمانانو ته پېغور ورکړي چي تاسي ته څه فائده وکړه ستاسي ايمان او طاعت، نو خدای پاک له دې پېغور څخه په غضب سي، نو مسلمانان ټولـه لـه دوزخ څخه وباسي بفضل رحمته، نو په دې وخت کي "يود الذين كفروا لو كانوا مسلمين" يعني

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

موږ به هم له دوزخه ایستل سوي وای که مسلمانان وای، او هناد او سعید بن منصور د ابن عباس رضي الله عنهما څخه داسي روایت کړی دی چي پرله پسي خدای ﷻ شفاعت د شفاعت کونکو د عصات المؤمنین قبلوي او عصات په شفاعت سره جنت ته داخلوي او شفاعت قبلوي، او رحم کوي پر عصات د اهل ایمان حتی چي خدای ﷻ حکم عمومي صادر کړی من کان مسلماً فلیدخل الجنة فحء "یود الذین کفروا لو کانوا مسلمین" یعني موږ به هم په دې حکم عام کي د ارحم الراحمین داخل سوي وای او جنت ته به تللي وای.

او طبراني رحمه الله په خپل کتاب اوسط کي په سند صحیح د جابر بن عبد الله رضي الله عنهما څخه داسي روایت کړی دی چي رسول الله ﷺ وویل چي بعض کسان زما د امت به عذاب ورکړل سي په سبب د ګنهو ددوی نو دوی به په دوزخ کي وي ماشاء الله ان یکونوا وروسته اهل الشرک دوی ته پېغور ورکړي او وه به وایي دوی ته ما نری من تصدیکم یعني الرسول چي تاسي نفع وکړه یعني چي تاسي هم لکه موږ په اور کي یاست فلا یبقی موحد الا اخرجه الله یعني من النار ثم قرأ رسول الله ﷺ "ربما یود الذین کفروا لو کانوا مسلمین"

دروښ وایي: چي قریب المعني د حدیث مذکوره وو ته نور هم ډېر حدیث په روایتو مختلفه سره په تفسیر کي د آیت مذکوره راغلي دي وفیما ذکرناه کفایة.

ذَرْهُمْ يَأْكُلُوا وَيَتَمَتَّعُوا وَيُلْهِهِمُ الْأَمَلُ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ۝

پرېږده یا محمد (ﷺ) یعني الکفار، چي خورک کوي او تمتع یعني نفع اخلي په شهوات نفسانیه وو سره یعني دا اکل او تمتع متناهي دي، او دوی مشغول کړي وي د کار سازی د اخرت لپاره بالایمان والطاعة امید د ډېرو عمرو ژر دی چي خبر به سي په خپل سوء یعني عذاب د خدای ﷻ به په وخ د قیامت رسي، وفائدة هذه الآیة نا امیده کول دي د علیه الصلوة والسلام د ایمان او اقیاد څخه ددوی بانهم من اهل الشقاوة في علم الله تعالی او نصیحت ستا وروسته تر دې فائده نه لري، ولي چي حجت پر دوی قائم سو او وی ویږول سول

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د ایثار د تنعیم د دنیا پر تنعیم د آخرت بالجنة بسبب طول الامل، په تفسیر بحر العلوم کي راغلي دي چي طول الامل رحمت دی ددې امت لپاره که طول امل نه وای دې بر امور شرعیه به معطل سوي وای مثلاً که طول امل نه وای علماؤ د تفسیر به په علم تفسیر کي مجلدات کثیره تفسیرونه نه جوړلای. او فقهاؤ به په فقه کي شروح طویله او فتاوی وي په جلدو جلدو نه تصنیفولای مثلاً، که طول امل نه وای فقیر به په تفسیر قرآن پیل هم نه وای کړی لکن طول امل تر دې حده تفسیر راورساوه چي تقریباً لس جلده ته ورسېدی او نور هم طول امل باقي دی چي په توفیق د خدای ﷻ به دا تفسیر تر پایه پوري ورسېږي ان شاء الله تعالی او سره ددې چي عمر د فقیر د نیوې (۹۰) کالو په شاوخوا کي دی، وهذا الاتمام لیس بعجیب في جنب قدرة الله العزیز العلام او که طول امل نه وای دې بر اسباب د عیش او ژوند به معطله سوی وای، په حدیث شریف کي راغلي دي چي روایت یې انس ﷺ کړی دی قال رسول الله ﷺ انما الامل رحمة لامتي لو لا الامل لما رضعت ام ولدها ولا غرس غارس شجراً" په تحقیق امل رحمت دی زما د امت لپاره، که امل نه وای، نو نه به وای ورکړي شیدې مور د هغې زوی ته، او نه به وای شنه کړې یو سړي درخته، علماً وایي چي حکمت الهي ددې تقاضا نه کوي چي د ټولو انسانانو دي اقبال من کل الوجوه و خدای پاک ته مبذول کړي فان ذالک یخل بامور المعاش ولهذا قیل لولا الحمقی لخربت الدنیا.

پوښتنه: نو د طول امل چي په قرآن عزیز کي ذم راغلی دی کما في الآیة المذکورة او په احادیث شریفه وو کي هم بد بللی دی څه شی دی؟

خواب: امل مذموم توقع ده لطول الاعمار وبلوغ الاوطار چي زما حاجتونه به ټوله تر سره سي واستقامة الاحوال یعني حالات د ژوند بې خلله پایه تکمیل نه رسېږي وان لا یلقوا في العاقبة الاخیراً. قال الصائب:

درسر این غافلان طول امل دانی که چیست
اشیان کرد است ماری در کبوتر خانه

دروښ وایي: چي علماً وایي چي د مذکوره طول امل چي په شرع کي بې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ذم جداً دی مهلکات یې څلور دي (۱) کسل په طاعت و تاخیرها (۲) تاخیر دی په توبه کي له گناه څخه بل ترکها (۳) قسوة القلب بعدم ذکر الموت قلباً (۴)حرص دی پر جمع د دنیا من الحرام والحلال والاشتغال بها من ذکر الآخرة واهوالها، ولاشک في کونه مذموماً، واما طول الامل للامور الاخرویة کما ذکرنا امثلتها فهو محمود قطعاً فافهم هداک الله.

وَمَآ اَهْلَكْنَا مِنْ قَرْيَةٍ

او نه ده هلاک کړې موږ یوه قریه یعني اهل د قریې، ومن زائد لاستغراق النفي.

پوه سه: چې په اصطلاح کي د قرآن مبارک قریه عام دی بلد وغیره دواړو ته شامل دی دا شروع ده په بیان کي د سِر په عدم نزول کي د عذاب پر مشرکینو د مکې عاجلاً لکه پر نورو امتو چې په دنیا کي عذاب نازل سوی ؤ لکه قری د قوم لوط او عذاب د مکې والو یې و اخرت ته وځنداوه.

اِلَّا وَلَهَا كِتَابٌ مَّعْلُوْمٌ ۝

مگر نه هغه هلاک لره یې وخت سته مکتوب في اللوح المحفوظ "معلوم" ای عند الله تعالی لا یتقدم ولا یتاخر.

سوال: په قانون نحوي کي خو په منځ کي د صفت واو نه راځي کما في قوله تعالی "الا لها منذرون"؟

ځواب: واو یې په دې سبب پر داخل کړی چې صورةً دا جمله لکه حال ده، نو واو یې پر داخل کړئ تاکیداً للصوقها بالموصوف کذا قال المظهري، او روح البیان وایي چې "کتاب" مبتدأ ده او "لها" یې خبر دی، خبر چې یې مقدم کړی لان المبتدأ نکرة کما هو القانون النحوي چې مبتدأ چې نکره وي تقدیم د خبر یې پر واجب دی او دا جمله حال ده له "من قریة" څخه

پوښتنه: دا جمله صفت ده د قریه چې استثناً یې د عموم د صفاتو وسوه، قریه خو نکره ده، نو ذو الحال څرنګه کېدای سي؟

ځواب: نکره چې په سیاق کي د نفي راسي خصوصاً سره د "من" لپاره د استغراق ده. نو په حکم د نکره موصوفي فیصح کونها ذو الحال بدون تقدیم الحال کما هو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

القانون والمعنى اهلكنا قريةً من القرى في حال من الاحوال الا لها كتاب معلوم.

مَا تَسْبِقُ مِنْ أُمَّةٍ أَجَلَهَا وَمَا يَسْتَأْخِرُونَ ۝

نه وړاندي کېږي يو امت (کلمه د من زائده ده لاستغراق النفي) يو امت و اجل ته يعني لايهلک قبل الاجل المقدر في علم الله. او نه ځنډېږي هلاک ددې قريې بعد بلوغ الاجل الموعود.

پوښتنه: چې ضمير د "يستأخرون" څو راجع و امت ته دی او امت مونث دی نو مذکر ضمير به څرنګه ورته راجع سي؟

ځواب: تذکير يې بناً پر معنى دی، ولي چې له قريه ځخه څو مراد اهل قريه دي وتانيث القرية باعتبار اللفظ فقط.

وَقَالُوا يَا أَيُّهَا الَّذِي نُزِّلَ عَلَيْهِ الذِّكْرُ إِنَّكَ لَمَجْنُونٌ ۝

وويل مشرکانو د مکې و نبي عليه السلام له پسخنده اې هغه سړی يې چې وحي نازل سوی دی تاته يعني قرآن په تحقيق ته لېونی يې. يعني د لېونيانو خبرې کوې چې ته وايي ماته قرآن نازل سوی دی.

پوه سه: چې دا وروسته آيت تفسير دی "لوما" په معنى د هل لا دی، ولي ته راتګ نه کوې مونږ ته په ملکو سره چې ستا لپاره شاهدي د رسالت يې زمونږ د مخه ادا کړې واى. او يا معنى داده چې زمونږ د عذاب لپاره چې مونږ ستا تکذيب وکړی لکه د عذاب د امم سابقه لپاره چې به ملکې راتلې. او يا معنى داده چې ملکو به ستاسره مرسته کولای په تبليغ کې کما في قوله تعالى "لولا انزل اليه ملک فيکون معه نذيراً"

لَوْ مَا تَأْتِينَا بِالْمَلَائِكَةِ إِنْ كُنْتَ مِنَ الصَّادِقِينَ ۝

که ته يې له رښتيا ويونکو ځخه په دعوه کې د نبوت.

مَا نُنَزِّلُ الْمَلَائِكَةَ إِلَّا بِالْحَقِّ وَمَا كَانُوا إِذًا مُنْظَرِينَ ۝

مونږ نه نازل وو ملکې مګر نه په حق سره يعني بالعذاب المتحقق عند الله لقوم، او نه دي دا کفار په دغه وخت کې چې ملکې د عذاب راسي مؤخرين يعني

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي ملکي په عذاب سره راتګ وکړي، نو له کفارو څخه بالا مهلت ورکول مسلوب سي ونزل عليهم العذاب في الحال.

فائده: د "اذا" جزاً ده د شرط مقدر، وهذا اللفظ مرکب من اذ بمعنى الحين وروسته پر بالا کی ان شرطي فصار اذ ان وروسته نحاتو ثقيل وکاڼه همزه د ان، نو يې حذف کړی نو اذن پاته سو، قانون د ان شرطي لفظ دلالت پر فعل مقدر بعده والتقدير وماکانوا اذان کان ای وجد ماطلبوه منظرين يعني بعد ازان مهلت داده ميشود بلکه همواره عذاب می آيد.

إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ ۝

پوه سه: چي ضمير د متکلم مع الغير لپاره د تعظيم د رب العزة دی او "نحن" ضمير فصل نه دی لانه يکون بين الاسمين وهنا بعده فعل، بلکي مبتدأ ده کذا في تفسير الکواشي:

پوه سه: چي دا آيت رد دی د انکار د کفارو د مکي او استهزأ ده ددوی په قرآن سره ولهذا اکده بوجوه من التاکيد.

ترجمه: په تحقيق موږ نازل کړی دی و تاته يا محمد (ﷺ) ذکر يعني القرآن العظيم الشان، او په تحقيق موږ ساتونکي يو د قرآن د تحريف او د زيادت او نقصان څخه کما فعل اليهود بکتابهم التوراة ولا يتطرق اليه الخلل ابداً، وهذا دليل لکونه منزل من الله ﷻ اذ لو کان من عند غيره تعالى، نو به د کفارو د طعن لار پکښې خلاصه وای له جهته څخه د قبول د زيادت او نقصان.

فائده: خوارج وايي چي عثمان ﷺ او نورو ددې همکارانو له قرآن څخه لس جزء يعني پاره غورځولي دي خزلهم الله کيف انکروا الاحاديث الصحاح في باب جمع عثمان ﷺ القرآن وکيف انکروا اجماع الامة على ان الموجود في ايدى الناس هو القرآن المنزل.

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ فِي شِيَعِ الْأَوَّلِينَ ۝

او په تحقيق موږ استولي وه ستا دمخه رسولان، "شيع" جمع د شيعي ده والشيعة قوم مجتمعون کلهم على دين وعقائد، لام موطئه د قسم محذوف دی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمَا يَأْتِيهِم مِّن رَّسُولٍ إِلَّا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِئُونَ ﴿١١﴾

او نه دی ورغلی دغو شیعو ته (مضارع لپاره د حکایت د حال ماضیه ده) یو رسول له رسولانو (من زائد دی لپاره د استغراق د نفي) مګر نه دوی به پسخند واهه یعني په هغه رسول فیه تسلیة للنبي علیه السلام، ولي چې کفارو د مکې هم په ده پسخند واهه.

كَذَٰلِكَ نَسْلُكُهُ فِي قُلُوبِ الْمُجْرِمِينَ ﴿١٢﴾ لَا

ای کما سلک الاستهزاً والکفر في قلوب الشیع الاولین، مورِ داخله وو استهزاً په زړو کې د مجرمینو یعني مشرکی مکة، والسلک ادخال الشیئ في الشیئ کالخیط في المخیط والرمح في المطعون.

لَا يُؤْمِنُونَ بِهِ وَقَدْ خَلَتْ سُنَّةُ الْأَوَّلِينَ ﴿١٣﴾

ایمان نه راوړي پر هغه رسول جمله حال ده له مجرمینو څخه. او تېر سوی دی سنت او عادت د خدای جل جلاله په اولینو کفارو کې باهلاک من کذب الرسل.

دروښ وایي: چې په دې آیت کې وعده خفي ده د علیه الصلوة والسلام سزه بالفتح والظفر علی اعدائه من اهل مکة وغیرهم.

وَلَوْ فَتَحْنَا عَلَيْهِم بَابًا مِّنَ السَّمَاءِ فَظَلُّوا فِيهِ يَعْرُجُونَ ﴿١٤﴾ لَ

که مورِ خلاص کړو پر دغو کسانو چې ستاسې ببځایه سوالونه کول بقولهم لو ماتاتینا بالملائکة، یوه دروازه د اسمان، نو ګرځي ملکي چې اسمان ته خېژي پر دغه دروازه او تاسې هم ورته ګورئ، او حسن بصري رحمه الله علیه وایي چې دغه کفار و خېژي و اسمانو ته او عجائب د اسمانو هم ووینې طول نهارهم.

لَقَالُوا إِنَّمَا سُكِّرَتْ أَبْصَارُنَا

چې بند کړل سوي دي زمورِ سترګي یعني تا اې محمده رابندي کړي دي زمورِ سترګي په سحر سره چې حقیقت حال نه په وینو.

دروښ وایي: چې ترجمه پر تقدیر د قرائت "سکرت" بالتشدید کما هو قرائة عامة القراً او پر قرائت د ابن کثیر رح چې سکرت په تخفیف د کاف او په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فتح د تأيي وايي، نو پر دې قرائت "ابصارنا" مفعول د سكرت بالنصب يعني بصيغة المخاطب فالخطاب لرسول الله ﷺ والمآل واحد، په قاموس كي وايي چي سكر سد النهر يعني بند دى د ويالې له جريان څخه. او كلبي يې په عميت ترجمه كړې ده، او قاموس والا د سكرت پر تقدير د تخفيف دا ترجمه كړې ده اى حبست ابصارنا عن النظر وغطيت وغشيت وحيرت.

بَلْ نَحْنُ قَوْمٌ مَّسْحُورُونَ ﴿١٥﴾

بلكې موږ داسي قوم يو چي په موږ سحر كړل سوى دى يعني قد سحرنا محمد ﷺ بذالك، كما قالوا عند رؤية سائر معجزاته ﷺ، دوى كلمه د بل او د انما وويل ددې لپاره چي زموږ يقين دى چي دا موږ چي وينو دا هيڅ حقيقت نه لري بل هو باطل خيل اليهم بنوع من السحر من جانب محمد (ﷺ).

فائده: كفار اولا كلمه د انما چي پر حصر دلالت كوي پر ابصار داخله كړه غرض يې دا وو چي زموږ سترگي فقط بندي سوي دي له رؤيت څخه د حقيقت الحال عقول پر ځاى دى په دې پوهېږو چي دا امور صرف چشم بندي ده وروسته يې له هغه څخه اضراب وكړى و قالوا بل نحن آه يعني جاوز ذالك السحر من الابصار الى العقول لنا بسحر محمد ﷺ، صاحب د روح البيان وايي چي سحر من خرق العادة او خرق العادة گاهي له اولياؤ څخه صادريږي نو هغه ته كرامت وايي او گاهي له نفس شرير څخه صادر سي هغه ته سحر وايي او سحر لره بقا نسته بلكې يو كړى وي بخلاف بعض المعجزات كالقرآن العزيز فانه معجزة باقية كر الازمان ومر الدهور والسحر يمكن معارضته يعني الاتيان بمثله كما لسحرة فرعون والمعجزة لايمكن معارضته كعصى موسى عليه السلام ولا يظهر السحر الا على يد فاسق فاجر.

مسئله: د سحر زدكړه حرامه ده بالاجماع من الائمة الاربعة رحمهم الله.

مسئله: له سعيد بن مسيب رضي الله عنه څخه چا پوښتنه وكړه چي كه يو سړى په سحر سره چا د ماينې له جماع څخه بندي وُ (دروېش! كما يفعل ذالك قوم هزاره من الشيعة) او هغه بند كړل سوي له يو عالم څخه خلاص والى ددې بند يز وغوښى ده ته روا ده چي د بند يز د حل لپاره يو تعويذ يا څانبت وروكړي،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سعید بن مسیب رحمه الله ورته وویل انما انهی الله عما یضر ولم ینه عما ینفع فان استطعت ان تنصر اخاک فافعل انتهی.

وَلَقَدْ جَعَلْنَا فِي السَّمَاءِ بُرُوجًا وَزَيَّنَّاهَا لِلنَّاظِرِينَ ﴿١٦﴾

په تحقیق موږ پیدا کړي دي په اسمانو کي بروج، او ښائسته کړي موږ سما یعني په لمر او سپوږمۍ او ستورو و کتونکو ته د اسمان.

پوه سه: چي جعل په معنا د خلق دی چي بروجاً یې مفعول دی او څوک چې په معنی د تصیر بولي تکلف ته د حذف د بل مفعول مجبور دی، ولي چي جعل په معنی د تصیر دوه مفعوله غواړي.

فائده مهمه: مظهري وایي البروج هو النجم یعني لوی ستوري ماخوذ من التبرج وهو الظهور او غټ ستوري هم ظاهر وي، وروسته مظهري وایي ولیس المراد بالآیة مصطلح اهل الهیئة ای الریاضي ثم اورد المظهري علی ذالک ای علی عدم ارادة البروج المصطلحة دلیلاً چي حاصل یې دادی چي ارادة د بروج مصطلحه وو د احادیثو نبویه څخه خلاف دی او شرعیت اباً څندي کوي او صاحب د روح البیان تفسیر د بروجو په قصورو سره کړی لکه عطیه چي هم تفسیر په قصورو سره کړی دی، وروسته ده په تفسیر کي د څورلسمې پاري ص۴۴۸ داسي ویلي دي وهي البروج الاثنی عشر المختلفة الهیئات والخواص اسمائها الحمل والثور والجوزا والسرطان والاسد والسنبلة والمیزان والعقرب والقوس والجدي والدلو والحوت، او بیا روح البیان د مزید تفصیل و تفسیر ته خپل د اوائلو د سورت یونس حواله کړې ده انتهی، او صاحب روح المعاني په تفسیر کي د څورلسمې پاري ص۲۲ وایي چي له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چي تفسیر ددې آیت یې په دوولسو برجو مشهوره وو سره کړی دی چي شپږ برجه یې په شمال د منطقة البروج دي چي درې په هغو کي ربیعي دي یعني چي لمر په هغو بروجو کي وي نو پسرلی وي په معظم معموره مځکي کي. او درې صیفي دي چي دوبی د حلول د لمر و دغو بروجو ته پیدا کېږي اول ددې شپږو حمل دی، او شپږ جنوبیه د منطقة البروج څخه چي درې د هغو خریفي بولي چي زمانه د منې ته وایي او درې شتوي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دي چي ژمی څنې پيدا کېږي اول ددغو درو برجانو ميزان دی، او طول د هر برج په نهز ددوی دېرش درجې دي او عرض يې يوسل او اتيا درجې دی من قطب الی قطب، روح المعاني وايي وكانها انما سميت بذالک لانها كالحصن او القصر للكواكب الحال فيها، روح المعاني وايي وهي في الحقيقة اجزاً الفلک الاعظم وهو المحدد للجهات الست المسمى بلسانهم الفلک الاطلس وفلک الافلاک ثم فصل الكلام فيها صاحب الروح المعاني وفي بعض المواضع نقل عن الشيخ الاكبر قدس سره وعن الشيخ ابو علي بن سينا.

دروښ وايي: چې د تولو عباراتو نقل به و متعلم ته د تفسير ايوبي درد سر وي او په پوهېږي هم نه. لكن علماً وايي ما لايدرک كله لايترک كله والله اعلم بالصواب في كل باب.

وَحَفِظْنٰهَا مِنْ كُلِّ شَيْطٰنٍ رَّجِيْمٍ ﴿١٧﴾

او مونږ ساتلی دی اسمان له هر شيطان څخه چې ترتلی دی له دربار څخه د خدای ﷻ يعني شيطان قدرت نه لري چې اسمانو ته دي وخېژي او اهل سموات ته دي وسوسې ور واچوي ويطلع على احوال اهل السماً. بغوي رح وايي قال ابن عباس رضی الله عنهما كانت الشياطين لايحجبون عن السموات وكانوا يدخلونها ويأتون باخبارها فيلقون على الكهنة فلما ولد عيسى عليه السلام منعوا من ثلث سموات ولما ولد محمد عليه السلام منعوا من السموات كلها، نو هر شيطان چې وروسته تر نبوت د عليه الصلوة والسلام چې اراده د اوربدلو د ملكو د اسمان به وكړه دستي به په شهاب ووشتل سو كما سياتي في الآية الآتية، نو شيطانانو و ابليس اعظم ته شكايت ددې منع وكړی، نو ابليس خپل اتباعو ته وويل چې په مځكه كې يو نوی كار پېښ سوی دی فاضربوا مشارق الارض ومغاربها، نو هغه شيطانان چې تهامه يعني ارض عرب ته ورغله، نو رسول الله ﷺ په بطن نخلة كې د سهار په لمانځه كې قرائت وايه چې ددوی تر غوږ سو، نو غوږ يې ورته ونيوی فقالوا هذا والله لقد حدث في الارض (كذا في البخاري) وبعض هذه الواقعة قد بين في القرآن الكريم في موضع آخر كما لايخفى على من تتبع القرآن العزيز.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِلَّا مَنِ اسْتَرَقَ السَّمْعَ فَأَتْبَعَهُ شِهَابٌ مُّبِينٌ ﴿۱۸﴾

ای لکن من استرق چي غلا کوي مسموعات د اسمانو په هغه پسي ملحق کېږي يوه شعله د اور چي له سترو څخه پيدا کېږي ښکاره وکتونکو ته، بغوي ؒ وايي چي شيطانان يو د بل پر وړو سره سپاره سي تر اول اسمانه پوري، نو دوی غلا کوي مسموعات د ملکو يعني د حوادثو د دنيا تاچي خپلو همکارانو کهنه ته يې القا وکړي، نو په شهبو به ويشتل کېږي چي يو شهاب نه خطا کېږي، نو بعض بعض شيطانان ووژل سي او د بعضو مخان يا بغلونه يا لاسونه او حيث يشأ الله وسوځل سي، او بعض ژوبل سي چي غَول يې بولي چي خلګو ته په صحراؤ کي ځان په يوه او په بل شکل ښکاره کوي او خلګ بېروي چي په پښتو يې غول بېباني بولي.

فائده: ستوري له خپل ځای څخه نه راغورځول کېږي په شيطانانو پسي لانها قارة ثابتة في الفلک على حالها بلکې له ستوري څخه يوه نری لمبه جلاسي او شيطانان په وولي مثال يې دادی لکه اور چي يو ځای بل وي يو څوک يو لرګی وغيره په ولګوي او بل ځای اور په بل کړي، نو اور په خپل ځای کي خو ثابت وي کذالک الکوکب والشهاب فافهم.

فائده: مفسرين وايي چي ابليس اعظم چي د ټولو جد اعظم دی خپل جنود استوي لپاره د غوا او ګمراه کولو د مسلمانانو چناچه د هر مسلمان سره شيطان د اغوا او ګمراه کولو لپاره موجود دی او په خپله ابليس د ډېر لوی ولي د اغوا لپاره خي لکه برصيصا او بلعم باعور چي لوړ شخصيتونه وه ګمراه يې کړل او سره ددې چي کار د عليه الصلوة والسلام ډېر مهم ؤ يعني اغوا لکن ابليس له ده څخه نا اميده ؤ، ولي که شيطان و عليه الصلوة والسلام ته نژدې سوی وای په نور د عليه الصلوة والسلام سوځل کېدی.

سوال: عليه الصلوة والسلام نو ولي اعوذ بالله من الشيطان الرجيم وايه؟

ځواب: هغه صرف له جهته څخه د امتثال د امر الهي لاغيره کريمه "واذا قرائت القرآن فاستعز بالله من الشيطان الرجيم"

سوال: په قرآن کريم کي راغلي دي "واما ينزغنک من الشيطان الرجيم نزغ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فاستعذ بالله الآية" له دې آیت څخه خو دا معلومېږي چې علیه الصلوة والسلام ته هم لار د نزغ او وسوسې د شیطان خلاصه ده؟

ځواب: دا آیت پر تقدیر د فرض او احتمال وارد دی، ولې چې اصل د "اما" ان ماؤ، نو نون د ان شرطیه یې مدغم کړی، او نحات وایي چې "ان" پر ډېر بعید فعل بلکې پر محالاتو داخلېږي نحو ان کان زید حماراً فهو ناهق.

دروېش وایي: چې اوس بیا د "السمع آه" تفصیل: بخاري له ابي هریره ﷺ څخه داسې روایت کړی دی چې نبي کریم ﷺ وویل اذا قضی الله الامر في السماً" یعني خدای پاک یو امر په اسمان کې صادر کړي ضربت الملائکة باجنحتها خضعاناً یعني ملکي خپل وزرونه وهي له جهته د عجز و قول ته د خدای ﷻ کانه سلسلة علی صفوان لکه ځنځیر پر ښویه ډبره ووهي حتی اذا فزع عن قلوبهم یعني حتی چې بیره زائل سي ددوی له زړونو ځخه قالوا ما قال ربکم دوی یو له بله سره ووایي څه ویل رب ستاسي؟ هغه نوري ملکي ورته ووایي هغه څه چې خدای پاک ویلي دي حق دي، قال علیه الصلوة والسلام نو هغه خبري د ملکو مسترقوا السمع واوري یعني هغه شیطانان چې د ملکو غلا کوي بیا علیه الصلوة والسلام خپلي ګوتي مبارکي خلاصي ونیولې او وه یې ویل چې مسترقوا السمع هکذا یو پر بل سربیره ولاړ وي، نو هغه لوړ شیطان چې هغه خبره واورېدله هغه یې و هغه بل لاندي ته وکړي ټم وشم که یې پای ته ورسول نو هغه یې و کاهن او ساحر ته ورسوي، او ګاهي د مخه تر القاً و اخیر ته شهاب پر نازل سي الی اخیر الحدیث.

وَالْأَرْضَ مَدَدْنٰهَا وَأَلْقَيْنَا فِيهَا رَوَاسِيَ وَأَنۢبَتْنَا فِيهَا مِن كُلِّ شَيْءٍ مَّوْزُونٍ ﴿١٩﴾

او مځکه موږ وغوړول یعني پر اوبو موږ اچولي دي په مځکه کې، کلمه د "في" په معنی د علی یعني پر مځکه باندې یعني چې هغه ښوړېدله غړونه ثابت پر خپلو ځایو دي، او شنه کړي موږ په مځکه کې یا په غړونو کې بلکې په دواړو کې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

له هر شي څخه من النباتات والاشجار المثمرة وغير المثمرة موزون يعني پر مقدار معين چي حكمت يې تقاضى درلودله. او يا معنى دا چي متناسب. مظهري رح د موزون دا ترجمه هم كړې ده چي هغه شيان چي په وزن يعني په تللو سره يې راكړه وركړه كېږي كالذهب والفضة والحديد والنحاس وغيرها حتى الزرنخ والكهل وفي الجبال كالياقوت والزبرجد والفيروزج وغيرها من الجواهرات.

فائده: په مځكه كي متفرقه ځايونه لكه مكه والمدينة وبيت المقدس والمساجد والاماكن للعبادة خصوصاً بين قبر النبي ﷺ ومنبره فانه روضة من رياض الجنان كما ورد في الحديث الصحيح فمن دخله وزاره بالاعتقاد الخالص والنية الصادقة كان آمناً من المكاره في الدنيا والآخرة.

پوه سه: چي عدد د غرونو ماسوى د كوچنيو غرونو (٦٦٧٣) دى.

فائده: اول غر پر مځكه چي پر مخ د مځكي خداى پاك پيدا كړى دى جبل ابو قبيس دى وهو جبل قريب الكعبة المباركة. و افضل الجبال په قول د جلال الدين السيوطي رح احد دى وهو جبل بالمدينة لقوله عليه الصلوة والسلام "احد جبل يحبنا و نحبه. او دېر لوړ تر ټولو غرونو په معموره مځكه كي جبل نهاوند دى په منځ كي د رې او طبرستان چي سياحان د دنيا په پينځه شبانه روزه ددې غره وسر ته ختلي دي او پر سر ددې غره سره سل جريب مځكه ده چي همېشه لنده وي كذا في شرح الچغميني وحواشيه. او مهبط د آدم عليه السلام سراندیب غر دى په مځكه كي د هند دى دا هم دېر لوړ غر دى. او په دې غره كي اثر د قدمينو مبارکينو د آدم عليه السلام موجود دى او ددې غره پر سر همېشه پېلبو مانده شى بربښي ببله وريځي.

وَجَعَلْنَا لَكُمْ فِيهَا مَعَايِشَ وَمَنْ لَّسْتُمْ لَهُ بِرٰزِقِيْنَ ﴿٢٠﴾

او پيدا كړي دي موږ ستاسي د نفع لپاره معايش چي جمع د معيشة ده يعني چي تاسي ژوند كوئ په هغو سره په دنيا كي من المطعومات والمشروبات والادوية چي هر يو له دغو دوو څخه انواع مختلفه في اللون والطعم والمقدار دى كما هو معلوم بغير تفصيل في التفسير "ومن لستم له برازقين" عطف دى پر معايش باندې اى جعلنا يعني موږ در كړي دي تاسي لره داسي شيان چي تاسي رازق د هغو نه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یاست یعني رازق یې زه یم من الدواب والانعام علی اختلاف انواعهما.

سوال: کلمه د "من" په اتفاق موضوع لپاره د ذوی العقول دی فکیف یصح استعمالها في الدواب والانعام؟

ځواب: "من" دلته په معنی د "ما" دی مجازاً کما في قوله تعالی "فمنهم من یمشي علی بطنه آه" والاولی ان یفسر من لستم آه بالعیال والخدم والمماليک والانعام والدواب چې د خلګو دا ظن باطل دی چې ددې شیانو رازق زه یم مع ان الله یرزقکم وایاهم، نو پر دې تقدیر ذوی العقول ته یې تغلیب ورکړی دی پر غیر ذوی العقول او کلمه د من یې پکښې مستعمله کړه والتغلیب باب شائع من استعمال من في موضع ما مجازاً کما في الجواب الاول.

دروښ وایي: چې حاصل ددې آیت دلیل ویل په مذکوره شیانو سره پر وجود د صانع او پر کمال قدرت دده او پر عظیم حکمت دده او پر یووالي دده په معبودیت کې او وجوب الوجود کې، کریمه "لوکان فیهما الهة الا الله لفسدتا" او بل احسان پر بندګانو دی په ما انعم علیهم بما ذکر في هذه الآیة لیوحدوه ویعبدوه ویشکروه ولا یکفروه.

وَإِنْ مِّنْ شَيْءٍ إِلَّا عِنْدَنَا خَزَائِنُهُ وَمَا نُنَزِّلُهُ إِلَّا بِقَدَرٍ مَّعْلُومٍ ﴿۲۱﴾

نسته یو شی یعني چې موږ هغه پیدا کړی وي مګر نه د هغه شي زمونږ سره خزانې ستنه.

پوه سه: چې مقصود په دې کې چې عندنا خزائنه بیان د کمال قدرت دی پر ایجاد د امثالو د هغه شي، نو ګویا دا عبارت ضرب مثل دی د دې چې د یو سړي مثلاً خزانې د دراهمو او دنانیرو وي نو هغه سړی په رائستلو کې د هغو دراهمو وغیره تکلیف ته حاجت نه لري، داغه رنګه خدای پاک په ایجاد کې د امثالو د مخلوقاتو اضعافاً مضاعفةً قادر بالقدرة التامة.

وَأَرْسَلْنَا الرِّيَاحَ لَوَاقِحَ

بیان للنعمة العظمی دالة علی قدرته العلیا را استوو موږ بادونه حمل ورکونکي و وریځي ته د باران.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي "لواقح" حال مقدره دی یقال ریح لاقح اذا جاً بسحاب ماطر، عرب وایي لمقحت الناقة چي بر البسه سوه والقحها الفحل چي منده به نطفه پکښي توی کړه او دا میندواره کړه.

په حدیث کي د محمد بن علي ﷺ راغلي دي چي باد به نه الوتلای لیلاً ونهاراً مګر په داسي حال کي چي علیه الصلوة والسلام کښېنستی او ولاړ بدی او داسي دعاً به یې کوله ان کان یک الیوم سخط علی احد من خلقک بعثتها تعذیباً له فلا تهلکنا في الهالکین وان کنت بعثها رحمة فبارک فیها، علیه الصلوة والسلام له خوف څخه د خدای پاک داغسي مضطرب او دعاً کونکی به ؤ حتی چي د باران څاڅکي راشوه سوه قال رب لک الحمد ذهب السخط ونزلت الرحمة، بیضاوي وایي شبه الریح التي جائت بخیر من انشاً السحاب الماطر بالحامل کما شبه مالایکون کذالک بالعقیم یعني وچ باد.

دروښ وایي: چي ما ترجمه د "لواقح" (چي جمع د لاقح ده او ترجمه اصلي یې حامل ده، ولي چي لاقح اسم فاعل له بابه د مجرد دی) داسي وکړه بادونه حمل ورکونکي وریځي ته د باران آه بناً پر دې ده چي اسم فاعل د باب د مجرد ګاهي په معنی د اسم فاعل د باب د مزید رائي یعني ملقح د باب د افعال چي معنی یې حمل ورکونکی ده، او که یې پر اصل معنی د مجرد پرېږدي، نو معنی یې داسي ده چي دا بادونه حوامل دي تحمل السحاب الماطرة. نو لواقح جمع مؤنث د لاقحة ده، ولي چي ریح مؤنث سماعي دی یقال ناقة لاقحة اذا حملت الولد، ابوبکر بن عیاش ؒ وایي چي یو څاڅکی باران مځکي ته نه رائي چي څلور باده عمل پکښي ونه کړي باد صبا یعني له پاسه باد توته وریځ پیدا کوي او باد شمال یې توته د وریځي سره جمع کوي او جنوبي باد اوبه ځني اوروي.

تنبیه: ته دا ګمان مه کوه چي دا بادونه مؤثر حقیقي دي بلکي دا بادونه او دا کارونه مربوط په اراده پوري د خالق کل شیئ دي، او عبید بن عمیر ؒ وایي چي خدای پاک اولاً ریح مبشره پیدا کړې مځکه تولې جارو کړي وروسته متغیره باد پیدا کړي چي وریځ توته راپورته کړي ثم یبعث المؤلفة چي توته د وریځي سره جمع کړي چي په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عربي رکام ورته وايي، وروسته لواقح بادونه پيدا کړي، نو هغه درختو حمل ورکوي اه.

دروبش وايي: چي له دې عبارت څخه دا صراحةً فهمېږي چي لواقح په معنی حمل ورکونکو دی يعني جمع د لاقح په معنی د ملقح لکه چي دروبش ترجمه هم پر دغه مبنا وه کما ذکرناه سابقاً آنفاً.

فَأَنزَلْنَا مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَسْقَيْنَاكُمُوهُ ۚ

نو نازل کړه موږ له اسمان څخه يا له وريځي څخه اوبه، تنکير د "ما" لپاره د تکثير دی ای ماءً کثيراً، نو موږ په اوبو ددغو باران تاسي اوبه کړو.

پوه سه: چي دا اوبه لکه سقيا د انسانانو چي دی داغه رنګه سقيا د ټولو حيوانانو کوي که جبلي وي او که شجري وي او که اهلي وي او هم داغه اوبه د باران سقيا د کښتو او درختو که په مځکه کي وي او که په جبال کي وي.

دروبش وايي: چي مظهري ؒ د مجرد يعني سقيت فلاناً او د مزيد يعني اسقيت فرق کړی دی، لکن روح البيان وايي سقيت و اسقيت واحد، وفي روح المعاني جعلناه لکم سقيا تسقون به مزارعکم ومواشيکم انتهى.

وَمَا أَنتُمْ لَهُ بِخَازِنِينَ ﴿٢٢﴾

او نه ياست تاسي اوبو لره د باران خزانه کونکي يعني ساتونکي بلکې اوبه د بارانو په خزانو کي زموږ محفوظ دي، او بعض مفسرين يې دا ترجمه کوي چي تاسي دا اوبه د باران په چينو او په څاهانو کي او په ويالو کي او په رودو کي او غير ذالک نسئ محفوظ کولای وهذا يدل على تدبير الحکيم العليم.

وَإِنَّا لَنَحْنُ نُحْيِي وَنُمِيتُ وَنَحْنُ الْوَارِثُونَ ﴿٢٣﴾

موږ ژوندي کوو بعض اجسام چي قابل د حيوٰة وي په ايجاد سره حيوٰة په دوی کي لکه تولو حيوانات او موږ وژنو بعض ژوندي اجسام په ازالة الحيوة عنها، او بعض مفسرين احياً او اماتة په معنی عام سره اخلي او داغه رنګه حيوٰة او موت معنوي ته هم شاملوئ، خو نباتات هم تر لاندي کېږي، والله يحي الارض بالمطر ايام الربيع، ويمتها ايام الخريف، او بعض انسانانو ته حيوٰة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

معنوي ورکوي بالایمان والمعرفة، او بعض وژني بالکفر.

دروښ وايي: چي اوله معنا متبادر ده والمعاني الآخر محتمل.

فائده: تقدیم د ضمیر انا لپاره د حصر دی او دوهم یې تاکید دی.

پوه سه: چي وارث په عرف کي هغه چا ته وایي چي مورث مړ سي او دی باقي وي میراث یې خپل کړي، نو معنی د آیت داده ونحن الباقون بعد فنا الخلق جمیعاً او موږ مالکان د ملک یو بعد انقضاً زمن المالک المجازي.

فائده: د ضمیر متکلم مع الغیر راوړل یعني نحن او ایراده د صیغې د جمع یعني الوارثون لپاره د تعظیم د رب العزة دی.

وَلَقَدْ عَلِمْنَا الْمُسْتَقْدِمِيْنَ مِنْكُمْ وَلَقَدْ عَلِمْنَا الْمُسْتَاْخِرِيْنَ ﴿۲۴﴾

حاصل الآیة انه لایخفی علینا شیئ من احوالکم، نو په دې آیت دی د کمال علم د خدای ﷻ وروسته تر دلیل پر کمال قدرت د خدای ﷻ په آیات سابقه وو کي. بغوي ؒ وایي قال ابن عباس ؓ اراد بالمستقدمین الاموات ای النطف والبیض والمستاخرین الاحیاً من النطف والبیض، او شعبي ؒ وایي الاولین والآخرین، او مجاهد ؒ وایي المستقدمون الامم السابقة والمستاخرون امة محمد ﷺ، وقال الحسن ؒ المستقدمون في الطاعة والخیر والمستاخرون هغه کسان دي چي په طاعت او د خیر په کار کي تاخیر کوي کتاخیر صلوة العصر الی تغیر شعاع الشمس مثلاً وقس علیها غیرها. وقیل المراد المستقدمون في صفوف الصلوة والمستاخرون فیها.

دروښ وايي: چي دا اخیر احتمال بعید دی، مظهري ؒ صرف لپاره د نقل د یو حدیث طویل واسطه ګرځولی دی. اوزاعي ؒ وایي اراد المصلین للصلوة (ای اول الوقت المندوب لا للاول الحقیقي) والمؤخرین الی اخیر الوقت (ای الوقت المکروه) او مقاتل ؒ وایي اراد المستقدمین في صف القتال والمستاخرین فیه وقیل غیر ذالک.

دروښ وايي: چي روح البیان یوه په زړه پوري عامه ترجمه د آیت کړې ده: دی وایي من تقدم منکم ولادة وموتاً ای من زمن آدم الی هذا الوقت (ای زمن نزول القرآن) او من منکم ولادةً وموتاً من هذا الوقت الی یوم القیامة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَإِنَّ رَبَّكَ هُوَ يَحْشُرُهُمْ ۖ إِنَّهُ حَكِيمٌ عَلِيمٌ ﴿٢٥﴾

په تحقیق ستا رب دی ژوندي کوي دوی یعني مستقدمین او مستأخرین په ورځ د قیامت وفي هذه الآیة رد علی منکري الحشر. دا ژوند لپاره د جزا پر عملو ددوی ان کان خیراً فخیر وان کان شراً فشر. له جابر بن عبد الله ﷺ څخه احمد، حاکم او بغوي رحمه الله روایت کړی دی چې رسول الله ﷺ وویل "من مات علی شیئ" (من اسلام وکفر وطاعة وعصیان) بعثه الله علیه.

فائده: د "هو" ضمیر چې په منځ کې یې راوړی لپاره ددې چې دلالت وکړي پر دې چې خدای جل جلاله فقط قادر او متولي د امورو د دوی دی او د حشر ددوی، او د جملې په اول کې چې یې "ان" راوړی لپاره د تحقیق د حشر لا محالة، په تحقیق خدای پاک په هر کار کې حکمت لري او پر هر شي دانا او خبر دی.

وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ مِن صَلْصَالٍ مِّنْ حَمَإٍ مَّسْنُونٍ ﴿٢٦﴾

او والله په تحقیق پیدا کړی موږ انسان، نو لام موطئه د قسم محذوف دی.

فائده: مراد له انسان څخه جنس د انسان دی نو الف و لام لپاره د جنس دی یعني پلار د جنس بشر چې آدم علیه السلام دی، او انسان ته چې انسان وایي یا له جهته څخه د ظهور دده چې په ستر ګو لیدل کېږي او یا له جهته څخه د الفت ددوی یو د بل سره، او بعض علماء وایي چې په سبب د نسیان یې انسان بولي لانه قد عهد الیه نسي "من صلصال" یعني طین یابس (یعني بهله مس د اور ولي په اور پوخ شی هغه فخار بولي) چې شرنګې کوي چې څوک یې په ګوته یا په لرګي ووهي.

بوه سه: چې "حمأ" هغه ختي بولي چې تغیر وکړي او توري سي په سبب د ډېر مجاورت د اوبو چې په پښتو یې لوڼي بولي وهو صفة لصلصال.

بوه سه: چې د "مسنون" ترجمه بعض مفسرانو په مصور سره کړې ده، دوی وایي چې په اول کې خاوري وې چې په اوبو سره یې خیښتې کړې، نو طین یعني ختي سوې، یو څه زمانه چې یې پرېښولې، نو حمأ وګرځېدلې هغه چې یې صاني کړې، نو سلاله سوې بیا چې یې صورت بشري ورکړی، نو مسنون سو،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وروسته چي وچ سو، نو صلصال سو چي روح پکښي داخل سو نو بشر سو، او مجاهد او قتاده ؒ د مسنون په متغير منتن سره کړې ده يعني بدبويه.

وَالْجَآنَّ

يعني جنس د پېرې كما في الانسان، نو لام دلته هم لپاره د جنس دی.

فائده: يو شخص چي له يوې مادې څخه پيدا سي افراد د جنس د هغه ټوله له هغې مادې څخه بللل کېږي، ابن عباس ؓ وايي چي جان نوم د پيرانانو د پلار دی لکه آدم چي نوم د انسانانو د پلار دی، او قتاده ؒ وايي چي جان هو ابليس لکن مشهوره داده چي جان د پيرانانو پلار دی او ابليس د شيطانانو پلار دی، والفرق بين الاجنة والشياطين چي په جنياتو کي مسلمانان او کافران سته كما جاء في القرآن الكريم في سورة الجن او جنيات ژوند او مرګ لري او په شيطانانو کي مسلمانان نسته او دوی هغه وخت مري چي ابليس مړ سي، او وهب بن منبه ؒ وايي چي په پيرانانو کي يو داسي قسم دی چي خوراک او څيښاک کوي او تولد يې کېږي لکه انسانان، او بعض لکه باد داسي دی چي نه خوراک او نه څيښاک کوي او نه تولد لري والله اعلم بحقيقة الحال، روح البيان وايي چي په منځ کي د خلق د جن او د خلق د آدم عليه السلام شپېته زره کاله فاصله ده.

دروښ وايي: چي په اتفاق د اهل علم عالم ملائکه مقدم دی تر خلق د عالم جان، او عالم جن مقدم دی تر عالم انسان، نو اخيري خلافت د محکي و ابو البشر آدم عليه السلام ته وسپارل سو تاچي دی د حال جنياتو عبرت واخلي او په اجماع له خاورو څخه بېله آدمه بل مخلوق خدای پاک نه دی پيدا کړی.

خَلَقْنٰهُ مِنْ قَبْلُ مِنْ نَّارِ السَّمُوْمِ ﴿۲۷﴾

مورږ پيدا کړی من قبل "ای من قبل خلق آدم" بغوي ؒ وايي چي "سموم" باد دی د ډېر ګرم چي په سريو د وېښتيانو د انسان د بدن کې څه هم بېخي کوچني ننوځي وژني يې، ويقال السموم بالنهار والحرور بالليل انتهى.

سوال: په قرآن کريم کي لفظ د اور راغلی دی، نو د ډېر ګرم باد اراده څرنګه صحيح ده؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: دا معنا لغوي د سموم ده لکن اراده يې صحيح ده، ولي باد چې دومره ګرم وي چې سړی وژني په هغه باد کې خامخا شديد اوروي. او کلبي له ابو صالح ؒ څخه روايت کړی دی چې سموم اور دی چې دود نه وي ورسره، او تکي له دغه اور څخه پيدا کيږي آه، بعض وايي چې سموم لمبو ته د اور وايي، او بعض وايي من نار السموم من نار جهنم. نو ددې قيل والا په نېز سموم د جهنم نوم دی ولم يقل به احد، او ضحاک ؒ له ابن عباس ؓ څخه روايت کړی دی چې ابليس له يوې قبيلې څخه د ملکو دی چې جن يې بولي خلقوا من نار السموم او په قرآن کريم چې جن راغلی دی هغه پيدا سوی من مارج من نار او ملکي له نور الهي څخه پيدا دي انتهى.

دروبش وايي: چې په دې روايت د ابن عباس ؓ توجيه او معنا د هغه آيت چې په شان کې د ابليس راغلې د: معلومه سوه. کريمه "کان من الجن ففسق عن امر ربه"

دروبش وايي: چې پر دې روايت ملائکه ټولي معصومې له ګناه څخه نه دي بل المعصوم منهم ماخلقوا من نور، ولعل الهاروت والماروت من هذا القبيل من الملائکة الذي يقال له الجن والى هذا ذهب البيضاوي.

وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَٰٓئِكَةِ إِنِّي خَٰلِقٌۢ بَشَرًا مِّن صَلْصَٰلٍ مِّنْ حَمَإٍ مَّسْنُونٍ ﴿٢٨﴾

"اني خالق" يعني په وروسته زمانه کې (ددې الفاظو ترجمه قريباً تېره سوه)

فَإِذَا سَوَّيْتُهُۥ وَنَفَخْتُ فِيهِ مِن رُّوحِى فَقَعُوا۟ لَهُۥ سَٰجِدِينَ ﴿٢٩﴾

چې ما يې صورت برابر کړی، اضافت د روح چې خدای پاک وځان ته وکړی لپاره د تشريف د مضاف لکونه مخلوقاً بامره من غير مادةٍ. او يا له دې سببه چې روح د انسان قابل د علومو او مستعد د تجلياتو د خدای پاک دی چې غير د انسان دا قابليت نه لري "فقعوا له ساجدين" نو تاسي ملکې واقع سئ له ساجدينو څخه.

بوه سه: چې لام په معنى د الى دی يعني اليه و آدم ته سجده کونکي، نو پر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دې تقدیر آدم علیه السلام خدای پاک قبله وګرځول د سجدې د ملکو و خدای ﷻ ته، نو پر دې تقدیر مراد له سجدې څخه متعارفه ده یعني وضع الجبهة على الارض.

پوه سه: چې مسجود له موږ خدای پاک وباله له دې جهتنه چې سجده متعارفه وغیر ته د خدای پاک په هیڅ دین کې نه ده روا، نو آدم علیه السلام ته داسې سجده کول لکه موږ چې کعبة الله ته سجده کوو، او بعض مفسرین لام پر خپله معنا بولي یعني آدم علیه السلام مسجود له بولي لکن مراد له سجدې څخه صرف انحنا یعني کږ والی بولي کتحیة اخوة یوسف له وکانت تحیة الامم السابقة تلک السجدة وقد نسخ الله تعالى تلک السجدة للتعظیم في دیننا ووضع مکانها السلام علیکم.

فائده: آدم علیه السلام چې خدای ﷻ د مخکې د خلافت لپاره پیدا کاوه، نو د خدای پاک حکمت په مشوره کې د ملکو سره جلا کول دي د خبیث چې ابلیس و له طیب څخه چې ملکي وې فهلک الخبیث بالانکار عن السجود وسلم الطیب ای الملک بامتثال امره تعالى.

فائده: نفخ په لغت کې پوه کولو ته په یو اجوف شي کې وایي لکه سړی چې زک یا ژی (ګوډی) پوه کړي، شیخ عز الدین ؒ وایي چې دا معنا په خدای پاک کې محاله ده، نو مراد ایجاد د روح انساني دی په آدم علیه السلام کې.

دروښ وایي: چې مزید بحث او سوال او بیان له روح انساني څخه کول نه ښایي قال الله ﷻ "ویسئلونک (ای الیهود) عن الروح قل الروح من امر ربي (ای مخلوق من مخلوقاته العجیبة) و ما اوتیتم من العلم الا قلیلاً. ای علماً اجمالیاً بانه مخلوق قابل للعلم وغیره من الکمالات متعلق ببدن الانسان تعلق التدبیر والتصرف.

دروښ وایي: چې مظهري ؒ چې ځان لوی صوفي بولي په تفسیر کې د دې آیت په نقل له مکتوبات څخه د امام رباني قدس سره یو طویل بیان کړی دی چې د متعلمانو د دې تفسیر ایوبي له فهمه دېر لوړ دی فلا فائدة في نقله وتشریحه لانه کالتکلم بالعربیة مع العوام.

دروښ وایي: چې روح المعاني د روح انساني په بیان او تحقیق کې نهه (۹) صفحې بیان کړی دی او مختلف مذاهب یې بیان کړي دي او د مذاهبو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دلائل او بیا یې نقض او ابرام کړی دی لکن و نتیجې ته نه دی رسېدلی فصدق الله تعالی یسئلونک عن الروح الی ان قال وما اوتیتم من علم الا قلیلا.

فائده: د روح البیان په صفحه (۴۶۰) یوه ډله د اهل سنت والجماعة چې یو امام غزالي او بل امام کبیر رازي ؒ دی په موافقت د صوفیه کرامو رحمهم الله او په موافقت د حکماؤ وایي چې روح یو مخلوق دی مجرد له جسمیت څخه دی او حال په بدن کې هم نه دی صرف تعلق په بدن پورې لري تعلق التدبیر والتصرف وتعلق العاشق بالمعشوق علی وجه لا یعلمه الا الله، او دا روح نه فناء کېږي بخراب دده د بدن، بلکې تصرف دده په اعضاؤ کې د بدن قطع کېږي ویقال له المفارق ایضاً لمفارقته عن البدن، وقالوا روح الاعظم هو الروح الانساني چې مظهر د صفات د خدای ﷻ دی او روح سلطاني یې هم بولي او ځای د تعینه دده قلب صنوبري وي ولهذا یفارق هذا الروح حین یسکن القلب الصنوبري عن الحرکة آه.

دروښ وایي: چې یو روح حیواني دی چې جریان یې په جریان د وینې په بدن کې ولهذا یموت الحیوان بخروج دمه بالذبح مثلاً ..... بیت:

تا طبع نازکت نه پزیرد ملامتی ..... آن به که نامه را بدعا مختصر کنم

فَسَجَدَ الْمَلٰٓئِكَةُ كُلُّهُمْ اَجْمَعُوْنَ ۝

نو سجده وکړه ملکو امتثالاً لامر الله.

بوه سه: چې اکثره مفسرین وایي چې "کلهم" او "اجمعون" دواړه لپاره د تاکید دي لپاره د مبالغې په سجده کې د ټولو ملکو ومنع تخصیص البعض. او له مبرد څخه روایت دی چې تاکید بلفظ الکل لاحاطة جمیع افراد الملائکة او تاکید په "اجمعون" سره تاکید لپاره د دلالت پر دې دی چې ملائکه وو ټولو په جمعواري دفعةً واحدةً سجده وکړه، مظهري ؒ وایي چې وهذا لیس بشیئ لانه لو کان کذالک لکان الثاني حالاً منصوباً لا تاکیداً مرفوعاً.

دروښ وایي: چې ورته بیان ته د مبرد روح المعاني هم اشاره کړې ده حیث قال سجدوا مجتمعین آه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بوه سه: چي نحات د بصري وايي چي اجمعون تاکيد آخر دی لکه کلهم ځکه يې عطف نه دی سره روا يعني داسي نه ويل کېږي جائني القوم کلهم واجمعون.

إِلَّآ إِبۡلِيسَۖ

مګر نه وکړه سجده ابليس، ولي چي په دې کي يې فکر نه وواهه چي امر دی د حکيم رب ﷻ له حکمت څخه خالي نه دی بلکې تناو د کبر يې غاړي ته واچاوه کما تدل عليه کلامه الآتي في جوابه تعالى، مظهري ؒ وايي چي بعض کسان چي وايي دا استثناً منقطع ده لان ابليس لم يکن من الملائکة کما يدل عليه قوله تعالى کان من الجن ففسق عن امر ربه، او بعض علماً وايي چي دا استثنا متصل ده، ولي چي ابليس له هغه صنف څخه د ملکو ؤ چي د جن په نامه يادېدلې لاستتارهم عن اعين الناس کما هو معنى الجن ولهذا يقال للولد في الرحم جنين ولدار الثواب الجنة.

دروښ وايي: چي پر دې تقدير د ابليس مزيد خباثت معلوم سو، ولي چي دده قوم ملکو سجده وکړه او ده نه وکړه.

فائده: روح البيان وايي چي پر هغه تقدير چي ابليس حقيقةً جن سي او د ملکو له جنسه نه وي هم استثناً متصل ده، ولي چي دی يو جني ؤ مغمور په منځ کي د ملکو ؤ، نو دی هم مأمور په سجده سره ؤ فغلبوا عليه في قوله تعالى فسجد الملائکة، لکه تغليب د نر پر ښځه کما في قولهم رئيت القوم الا هنداً وروسته يې استثناً دده ځني وکړه استثناء متصلاً لکه چي ابليس ګويا يو له ملکو څخه ؤ بالتغليب.

أَبَىٰٓ أَن يَكُونَ مَعَ ٱلسَّٰجِدِينَ ٣١

يعني ابليس منع وکړه چي د ساجدينو سره چي ملکي وي ملګرى سي په سجده کي و آدم عليه السلام ته.

قَالَ يَٰٓإِبۡلِيسُ مَا لَكَ أَلَّا تَكُونَ مَعَ ٱلسَّٰجِدِينَ ٣٢

"قال" ای الله سبحانه وتعالى وويل يعني و ابليس ته که څه هم خدای پاک د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ابليس په سبب د نه کولو د سجدې خبر ؤ لکن پوښتنه يې ددې لپاره ځني وکړه چې دی په خپل خباثت او انکار اقرار وکړي. اې ابليسه څه علت او سبب تاته پېښ سو چې تا معيت نه وکړی د سجده کونکو ملکو سره په سجده کې د آدم او سره ددې چې پر تا دا سجده فرض وه، ولې چې دا سجده په حکم سره د حاکم علی الاطلاق وه او ظهور د فضل د آدم په اخبار د عليم صادق وه؟.

قَالَ لَمْ أَكُنْ لِّأَسْجُدَ لِبَشَرٍ خَلَقْتَهُ مِنْ صَلْصَالٍ مِّنْ حَمَإٍ مَّسْنُونٍ ﴿٣٣﴾

ابليس وويل د خدای پاک په ځواب کې په ډېره بې حيائي او خرګرۍ سره چې زه نه يم چې زه دې سجده وکړم (کلمه د لام لپاره د تاکيد د نفي ده) و يو بشر کثيف ته چې تا پيدا کړی دی (له صلصال من حمأ مسنون معنی په تفصيل سره ورانديې تېره سوه) يعنې چې آدم پيدا کړل سو د هغه خواره څخه د عناصرو چې مځکه ده. په بل آيت کې راغلي دي چې ابليس دا هم وويل وخلقتني من نار" يعنې الطف او اشرف او مضئ د عناصرو دی نو زه تر ده افضل يم.

پوه سه: چې ابليس يوازې انکار له سجدې څخه د آدم عليه السلام نه وکړی بلکې ده خبيث چې علت بيان د نه سجدې او ځان يې تر آدم عليه السلام افضل وبالله تقبيح د امر الهي يې وکړه چې څرنګه خدای پاک فاضل په سجده سره و مفضول امر کوي، نو هم دا سبب د کفر د ابليس و ګرځېدی لا مطلق عدم السجدة لان كثيراً من المؤمنين لا يصلون... بيت:

تکبر عزازيل را خوار کرد ..... بزندان لعنت گرفتار کرد
تکبر مکن زينهار اى پسر ..... که روزی زدستش برآيی به سر

قَالَ فَاخْرُجْ مِنْهَا فَإِنَّكَ رَجِيمٌ ﴿٣٤﴾

خدای پاک ورته ووېل چې تا چې زما د امر تقبيح وکړه او عصيان مې وکړی نو ووځه "منها" يا له اسمانه يا له جنته څخه يا له زمرة الملائكة څخه على اختلاف المفسرين په تحقيق چې ته مردود يې او هيڅ خير کرامت په تا کې نسته چې په پښتو يې ترتلی بولي. او مظهري ؒ يې دا ترجمه هم کړې ده انک

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ترجم بالشهب سره کـه تـه اسمان تـه نژدې سوې يعني لکـه زانـي چې پـه ډبرو سنګسار ېږي وهذا وعيد شديد.

دروښ وايي: چې بعض ماينا سب هذا المقام په تفسير کې د سورة الاعراف تېر سوه.

وَّاِنَّ عَلَيْكَ اللَّعْنَةَ اِلٰى يَوْمِ الدِّيْنِ ۝

او پر تا دي لعنت وي يعني لېرې والى لـه رحمت څخـه د خداى ﷻ تر ورځې پورې د جزا يعني قيامت.

پوښتنه: پاى د لعنت يې ولې د قيامت ورځ وتاكل مع ان ابليس ملعون في يوم القيامة وبعد ذالک ايضاً؟

ځواب: اولاً چې پـه عرف کې د خلګو ورځ د قيامت هغـه لرې غايـه ده چې دوى يو شى اوږدوي مثلاً يو سړى و يو چاتـه مكرر وايي چې فلانى كار وكړه هغه ورتـه وايي چې تر قيامتـه راتـه ووايـه كـه يې وكړم، وثانيًا وروستـه تر ورځ د قيامت خو ابليس پـه داسې عذاب اختـه كېږي چې د هغـه عذاب سره لعنت ويل كان نسيًا منسيًا، وثالثًا: لعنت پاى تـه رسېږي پـه ورځ كې د قيامت و بعد ذالک وقت الجزا المرتب على تلک اللعنة، بغوي ؒ وايي چې چا ويلي دي چې اهل د اسمانو يعني ملائكه لعنت وايي پر ابليس لكه اهل ارض چې يې پر وايي فهو ملعون في السما والارض اقتداءً بلعنة الله عليـه كما في هذه الآية. تنبيـه في حال البغوي محي السنة.

پوه سه: چې بغوي ؒ پـه علم حديث كې خپل اسانيد مرفوعـه و عليـه الصلوة والسـلام تـه لـرې لكـه دده لـه كتـاب څخـه چې پرهـامش د تفسـير خازن نوشـته معلومېږي او دې تولو علماوو پـه محي السنة سره منلى دى، او پـه فروعو د دين دى شافعي المذهب دى او دده د تفسير نوم معالم التنزيل دى، پـه تاريخ كې د كشف الظنون وايي: معالم التنزيل في التفسير للامام محي السنة ابى محمد الحسين بن مسعود الفرا البغوي الشافعي المتوفي سنه (٥١٦) او امام مظهري كـه څـه هم حنيفي المذهب دى پـه بعض فروعي مسـائلو كې مذهب د بغوي ؒ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مختاره کوي کما يظهر من مطالعة تفسيره (دروښ ميگويد ما نه اين کار ميکنم ونه انکار ميکنم)

قَالَ رَبِّ فَأَنظِرْنِي إِلَىٰ يَوْمِ يُبْعَثُونَ ﴿٣٦﴾

پوه سه: چي فاء د "فانظروني" جزاء د شرط محظوف ده يعني ابليس وويل چې اى رب ان اخرجتني من الجنة ولعنتني فانظرني "نو ماته مهلت راکړه يعني ورځنه مي مه تر هغه ورځي پورې چې انسانان اولاد آدم بعث کېږي.

پوه سه: چي دده خبيث اراده داوه چي فرصت د اغواء د بني آدم پيدا کړي او له مرګه هم نجات لاس ته راوړي اذ لاموت بعد البعث. نو خداى ﷻ يې فرصت د اغوا منظور کړى تاچې دده شقاوت لا زيات سي لا اکراماً له مګر دويم سوال دده يې نه ومانه.

قَالَ فَإِنَّكَ مِنَ الْمُنظَرِينَ ﴿٣٧﴾ إِلَىٰ يَوْمِ الْوَقْتِ الْمَعْلُومِ ﴿٣٨﴾

خداى پاک ورته وويل چې ته له منظرينو څخه يې تر ورځي د وخت معلوم اى عند الله اى الوقت الذي يموت فيه الناس وهو النفخة الاولى يعني لا كما قلت الى يوم يبعثون.

فائده: د ابليس د مرګ تر وله نېټه څلويښت کاله ده يعني مابين النفختين.

پوښتنه: چې ابليس په دې معتد ژوند کې ولې نه زړېږي او له خپل کار څخه د اغواء نه لوېږي؟

خواب: له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دى چې پر ابليس چې دهره زمانه تېره سي او هرم ته ورسېږي عاد ابن ثلاثين سنة. او د حضرت خضر عليه السلام په باره کې هم په اخبار صحيحه وو کې راغلي دي چې دى يوسل اوشل (۱۲۰) کاله ته ورسېږي فيعود شابًا فهو من المنظرين.

فائده: دا سوال او خواب د خداى ﷻ او د لعين ابليس تر منځ شفاهًا وو مواجهةً نه وو بلکې د خداى ﷻ له خوا د ملکې په واسطه خبري وې لان کلام الله لعن کلمه رحمت دى او رضى ده او اجلال دى او دا سبب دى چې شفاهًا خبر دى د خداى ﷻ د چا سره اجلال د هغه دى تفضيل ورکړل سوى دى موسى کليم الله په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نامه پر تولو انبیاؤ غیر له ابراهیم خلیل الله او د محمد رسول الله ﷺ ولي چې ناموړو دوو نبیانو هم شفاهاً و مواجهةً د خدای پاک سره خبرې کړې دي.

دروښ وایي: چې هغه خبره چې وهب بن منبه ؒ وایي چې یوم معلوم چې خدای پاک و ابلیس ته مهلت ورکړی ؤ هغه ورځ د بدر ده، په ورځ د بدر ملکو دی وواژه انتهی لیس بشیئ وخالف جمیع المفسرین والمحدثین، ولي که دده قول صحیح وای خو علیه الصلوة والسلام به زېری ورکړی وای صحابه کرامو ﷺ ته بلکې په خلاف دده د قول په حدیث کې راغلي دي چې ابلیس په رنګ د سړي ابوجهل یې تر لاس نیولی ؤ چې ملکې د بدر په غزا کې راغلې ابلیس له ابوجهل څخه لاس کش کړی او دا یې ورته وویل انې اری ما لاترون آه.

قَالَ رَبِّ بِمَآ أَغْوَيْتَنِي لَأُزَيِّنَنَّ لَهُمْ فِي الْأَرْضِ وَلَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٣٩﴾

پوه سه: چې کلمه د ما لپاره د قسم ده او کلمه د ما مصدریه ده والمعنی باغوائک واضلالک ایای قسمی، زه به ښائسته کوم اولاد ته د آدم یعني معاصي او کبائر ګنهونه الی غیر ذالک به د دوی په نظر کې د هر زېبا او ښائسته ورکوم په دنیا کې، او زه به دوی باعثه کوم پر ګنهو او د ګمراهی پر کارو تولو.

پوه سه: چې کلمه د با لپاره د قسم او کلمه د ما مصدریه ده.

إِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ الْمُخْلَصِينَ ﴿٤٠﴾

مګر نه ستا بندګان په دوی کې چې خالص یې ګرځولی دی خپل دین په توحید او عبادت سره او ځانونه یې لپاره د رضی ستا وقف کړي دي.

دروښ وایي: چې دا وه ترجمه د آیت پر تقدیر د کسر اللام یعني پر صیغه د اسم فاعل لکه قرائت د ابن کثیر او ابو عمرو او ابن عامر رحمهم الله چې دی په قرآن مجید او باقي قرا یې په فتح د لام پر صیغه د اسم مفعول وایي، نو یې معنا داده نه هغه کسان چې تا خالص ګرځولي لپاره د ځان یعني ستا عبادت کوي نه د بتانو، او تا د ځان لپاره غوره کړي او خپل محبت دي په زړو کې ور اچولی وي بحیث لا یلتفتون الی سواک یعني پر هغو زما د اضلال دروازه بنده ده اللهم اجعلني منهم بقدرتک العظیم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چي په لباب التاوٸيل في معاني التنزيل المشهور بالخازن چي تصنيف دی د امام علامة قدوة الامة ناصر الشريعة ومحي السنة علاؤ الدين علي بن محمد بن ابراهيم البغدادي الصوفي چي ده تصنيف پر څلهرويشت د شهر رمضان سنه (۷۲۵) هجري قمري کي فارغ سوی دی تغمده بغفرانه داسي وايي په تفسير کي د آيت مذکوره چي حقيقت فعل د شي دی خالصًا لله عن شائبة الغير، نو څوک چي يو عمل له طاعاتو څخه وکړي نو به يا مراد د ده په هغه طاعت سره وجه الله وي فقط او يا غير الله وي فقط او يا بې دواړه غرضه وي اما ماکان لله تعالى فقط فهو الخالص المقبول واما کماکان لغير الله فقط لکه عمل د طاعات د ريا کار په نوافلو کي او يا په هيئت کي د فرائضو فهو الباطل المردود او کي مجموع الامرين مقصود وه، نو که ترجيح جانب د خدای ﷻ درلوده کان من المخلصين الناجين وان ترجح جانب غير الله کان من الهالکين انتهى بزيادة التوضيح.

قَالَ هٰذَا صِرَاطٌ عَلَيَّ مُسْتَقِيْمٌ ﴿۴۱﴾

خدای (ﷻ) وويل چي دغه عمل بالاخلاص لار د وصل کېدلو ماته بېله ګمراهي. (نو علی په معنی د الي دی) او سمه لار ده بې کږوالي، او يا "علی" پر خپله معنی دی لکن مشار اليه د هذا خلاص والی د مخلصينو ستا له اغواؤ څخه.

ترجمه: تخلص د مخلصانو ستا له اغواؤ څخه لار ده چي پر ما رعايت د هغې لاري سته کالحق الذي يجب مراعاته، او اخفش ﷺ وايي چي ترجمه يې داده چي پر ما دلالت و صراط مستقيم ته لازم دی بمراعات الحکمة والفضل.

پوه سه: چي ابن سرين، يعقوب او قتاده ﷺ لفظ د "علی" "عَلِي" وايي په تشديد د يا او مرفوع او په تنوين يې وايي هذا ای الاخلاص طريق لار ده "علي" يعني پورته مستقيم لايمال چي کږوالی پکښې نسته.

إِنَّ عِبَادِيْ لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطٰنٌ إِلَّا مَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْغٰوِيْنَ ﴿۴۲﴾

پوه سه: چي اضافت د "عبادي" لپاره د استغراق ده يعني مؤمن او کافر دواړو ته شامل سي تاچي استثناء متصل د الا من تبعک څنې صحيح سي،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ومعنى الآية چي سلطان او غلبه په اراده د خدای ﷻ نسته مګر پر غاوين او هرچه مؤمنان دي فلا سلطان لک عليهم. نو دا آيت تصديق د قول د ابليس چې په دمخه آيت کي تهر سو لاغوينهم اجمعين الا عبادک آه، نو ددې نظير هغه آيت دی انه ليس له (ای لابليس) سلطان على الذين آمنوا وعلى ربهم يتوكلون انما سلطانه على الذين يتولونه" نو مقصود په دې آيت کي بيان د عصمت د مخلصين له اغوا څخه د شيطان رجيم.

دروښ وايي: چي روح البيان د آيت معنى داسي کړې ده ان عبادي وهم المشار اليهم بالمخلصين يعني اضافت لپاره د تشريف د مضاف ده آه، نو دده په نېز استثناً منقطع ده په معنى ده لکن لان الغاوين ليسوا داخلون في عبادي عنده فافهم. او خازن هم استثناً متصل بولي کمامر لکن مظهري که څه هم استثناً متصل بللې ده او بيان د هغه يې په بله وجه سره کړی دی لکن وروسته يې احتمال د انقطاع د استثناً په بعيده وجه راوړی دی فارجع الى تفسيره.

وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمَوْعِدُهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٤٣﴾

په تحقيق جهنم ځای دی د غاوينو يا د متبعينو د شيطان ټوله.

لَهَا سَبْعَةُ أَبْوَابٍ ۖ

جهنم لره اووه دروازې دي يعني منازل.

پوه سه: چي جهنم مؤنث سماعي دی ځکه يې مؤنث ضمير ورته راجع کړی.

پوه سه: چي دا دي نومان د جهنم (۱) جهنم (۲) لظى (۳) الحطمة (۴) السعير (۵) السقر (۶) الجحيم (۷) الهاوية.

دروښ وايي: چي بغوي ؒ ويلي دي ان الله وضع الجنان على العرض ووضع النيران بعضها فوق بعض انتهى. وفيه ان الجنان لها درجات عاليات بعضها من بعض كما ورد في الاحاديث الصحيحة فتامل. مظهري ؒ وايي چي هناد، ابن المبارک، احمد، ابن جرير، ابن ابی الدنيا او بيهقي ؒ له علي بن ابی طالب ؓ څخه روايت کړی دی قال ابواب جهنم هكذا، نو ده يو لاس پر بل لاس

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کښېښو او ګوتي يې سره خلاصې کړې يعني باب فوق باب، نو يو وار اوله طبقه ډکه کړل سي ثم الثاني ثم الثالث ثم الرابع ثم الخامس ثم السادس ثم السابع.

لِكُلِّ بَابٍ مِّنْهُمْ جُزْءٌ مَّقْسُومٌ ﴿٤٤﴾

هري طبقې لره د غاوين جزء معين سته، بغوي له ضحاک رح څخه په روايت وايي چې په اوله طبقه کې يې اهل توحيد من المؤمنين المذنبين دي چې دوی به په قدر د ګنهو پکښې وي او اخيراً دا طبقه يکلخته خالي پاتېږي.

دروېش وايي: چې د دغې درجې له خالي والي څخه مراد دی د شيخ اکبر محي الدين ابن العربي قدس سره چې وايي ياتي على جهنم زمان ليس فيها احد، او په دويمه طبقه کې نصاری دي او په دريمه طبقه کې يهودان دي، او په څلورمه طبقه کې صائبين دي او په پينځمه کې مجوسيان دي يعني آتش پرستان، او په شپږمه کې مشرکان دي او په اوومه طبقه کې چې ډېره سخته ده تر ټولو منافقان دي کما قال الله تعالى ان المنافقين في الدرک الاسفل من النار، امام قرطبي رح وايي الباب الاول جهنم وهو اهون عذاباً من غيره وهو مختص لعصات هذه الامة انتهى.

دروېش وايي: چې اولی دا وه چې تخصيص يې د عصاتو د امت محمديه نه وای کړی لان في المؤمنين للامم السابقة ايضاً وفيهم عصات لان العصمة من الذنوب مختص بالانبيا عليهم السلام، نو د نورو امتو ګناه کاران چې شفاعت يې ونه کړل سي چېرې او په کومه طبقه کې به وي؟ ولې نوري شپږ طبقې خو د کفارو دي او دوی يعني عصات د امم سابقه خو مؤمنان دي.

پوښتنه: عصات د اهل توحيد په ګنهو کې فرق سره لري، مثلاً د مؤمن د قاتل عمداً په باره کې خدای پاک وايي "ومن قتل مؤمناً متعمداً فجزائه جهنم خالداً فيها الآية" که څه هم د اهل سنة والجماعة په نېز له خلود څخه مکث طويل مراد دی. او ترمذي رح له ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت کړی دی قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم لجهنم سبعة ابواب اشدها غماً وكرباً وحزناً (وانتنها) للزنات الذين ركبوا الزنى بعد العلم يعني بحرمته، نو د پوښتنې غرض دادی چې عصات المؤمنين چې په يوه طبقه کې د اور وي، نو خو عذاب د قاتل عمداً او د زاني د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نورو ګناه کارانو مثلاً غيبت کونکي يا بهتان ويونکي الى غير ذالک سره برابر سو، ولي چي د يوې طبقې اور به څو رنګه وي؟

ځواب: په دغه يوه طبقه کي مختلف ځايونه سته في شدة العذاب وخصته في الجملة کمايدل عليه الحديث المذکور آنفًا في باب الزناة.

سوال: په دې حديث کي خو داسي راغلې چي جهنم لره چي عصات المؤمنين پکښې دي اووه دروازې دي الحديث، او په قرآن کريم کي خو داسي چي لوی جهنم لره اووه دروازې دي فکيف التوفيق؟

ځواب: جهنم لفظ مشترک دی په منځ کي د ځای د اوسېدلو او د عذاب د کفارو او د مؤمنانو د اهل التوحيد فلا منافات بين القرآن الکريم والحديث الشريف، ولي چي په قرآن کريم کي معنی اول مراد ده او په حديث شريف کي معنا ثاني مراد ده، و حاصل الجواب ان لکل واحد من المعنيين سبعة ابواب فافهم فان سانح عزيز فلما بنه عليه المفسرون.

پوه سه: چي ثعلبي رح روايت کړی دی چي سلمان فارسي رضی الله عنه چي دا آيت "وان جهنم لموعدهم اجمعين" واورېدی، درې ورځي وتښتېدی چي له ډېره خوفه څخه په ځان نه پوهېدی، نو يو بل صحابي و عليه الصلوة والسلام ته راوستی عليه الصلوة والسلام پوښتنه ځني وکړه چي څه دروسوه، سلمان فارسي رضی الله عنه ورته وويل يا رسول الله دا آيت چي نازل سو وان جهنم الآية، فوالذي بعثک بالحق لقد تقطعت قلبي دې آيت زما زړه راتوک توک کړی، نو خدای پاک دا آيت نازل کړی،

إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ ﴿٤٥﴾

په تحقيق هغه کسان چي ډېر ډېروي له خدای ﷻ څخه او متابعت د شيطان يې نه وي کړی په شرک کي په جنتو کي به وي او په ښو چينو کي د جنتو، يا معنا داده چي هر يوه لره به يو جنت او يو عين وي چي مقابله د جمع په جمع سره لپاره د توزيع د آحاد پر آحاد وګرځي کما في قوله ركبوا دوابهم ولبسوا ثيابهم او يا معنی داده چي هر يوه لره به جنات متعدد و عيون متعدده وي، نحو قول القائل اعطوا دراهم فافهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اُدْخُلُوهَا بِسَلٰمٍ اٰمِنِيْنَ ﴿۴۶﴾

داخل سئ خپلو جنتونو ته.

پوه سه: چي تولـه مفسرين وايي چي دلتـه قول مقدر دی يعني يقال لهم ادخلوا الجنات ووجه التقدير الربط بما قبله "بسلام" يعني په سلامتيا سره او يا تاسي ته به سلام ويل کيږي د ملکو له خوا څخه پر هر تقدير بسلام حال دی له ضمير څخه د فاعل په "ادخلوا" کي والباً للملابسة ای متلبسين بسلام "آمنين" من الموت والآفات والخروج من الجنات. دا لفظ هم حال دی.

وَنَزَعْنَا مَا فِيْ صُدُوْرِهِمْ مِّنْ غِلٍّ اِخْوَانًا

وه به باسو مونږ هغه چي په سينو کي د جنتيانو يعني په زړو کي يو د بل سره په دنيا کي پټ بغض او عداوت ددوی له سينو څخه "اخوانًا" يعني تولـه جنتيان لکه حقيقي وروڼه به وي.

سوال: دا نزع خو په آخرت کي کيږي چي مستقبل دی، نو په "نزعنا" ماضي سره يې څرنګه تعبير وکړی؟

ځواب: د قرآن کريم قانون دی چي يو امر او کار چي متيقن الوقوع وي که څه په مستقبل کي وي تعبير په ماضي ځني کوي دلالةً على تيقن الوقوع.

دروېش وايي: چي سعيد بن منصور او ابو نعيم او ابن ابی شيبة او طبراني او ابن مردوية رحمهم الله له حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت کړی دی چي زما اميد دی چي زه، عثمان طلحة بن الزبير او زبير رضي الله عنهم به هم له دلي د "نزعنا" يو.

دروېش وايي: چي علي رضي الله عنه هغو فتنو ته اشاره وکړه يعني د عثمان رضي الله عنه شهادت چي په خپل سر ای کي شهيد کړل سو. او او نورو واقعاتو ته چي د صحابه مذکورينو تر منځ منځ ته راغلي دي، دا حديث مظهري رح او روح البيان، او روح المعاني او خازن تولو راوړی دی، په بل حديث کي راغلي دي چي جنتيان چي د جنت دروازې ته ورسيږي د اور پر خوا د سترګو په کنجانو ګوري لکن چي په جنت ننوځي نزع الله ما في صدورهم من غل.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي بعض مفسران وايي چي مراد په دې آيت کي اخراج د حسد دی د جنتيانو تر منځ په درجاتو کي د جنت يعني اعلی او اسفل او په درجاتو د قرب الی الله.

دروښ وايي: چي ددې تفسير دا معنی نه ده چي جنتيان به تر دخول د جنت وروسته حسد سره کوي لکن خدای پاک به يې هغه حسد له زړو څخه و باسي کيف والجنة دار السرور الی الابد فکيف يکون فيها حسد بلکې مراد د مفسر دادی لکه چي په دنيا کي په د سافل حسد د عالي سره جاري وي لکن پر درجاتو د جنت او د قرب و خدای ﷻ د جنتيانو زړونه به خدای پاک ځني ګرځولي وي فتأمل.

فائده: "اخوانًا" يا حال دی له ضمير څخه د "في جنتات"

پوښتنه: في جنات کي ضمير کله سته، جنات نه فعل او نه مشتق دی؟

ځواب: نحات وايي چي دا صرف اعتبار نحوي دی يعني ضمير ځو په متعلق کي د في جنات وای کائنين في جنات متعلق چي حذف سو ضمير يې په في جنات کي مستتر فرض کړی ليقل الحذف فافهم، او يا حال دی له فاعل څخه د "ادخلوها" او يا حال دی من الضمير في امنين.

عَلٰى سُرُرٍ مُّتَقٰبِلِيْنَ ﴿٤٧﴾

"علی سرر" جمع د سرير ده، نقل الخازن ؒ چي بعض اهل معاني وايي چي سرير مجلس رفيع عال چي لپاره د خوشالی جوړ سوی وي، نو ګويا سرير له سرور څخه ماخوذ دی، بيا خازن له ابن عباس ؓ حديث راوړی دی چي دا تخت د سرو زرو جوړ دی او زبرجد او ياقوت او ملغلري پوري ځړېدلي "متقابلين" يعني سره مخامخ.

پوه سه: چي "علی سرر" په اعتبار د متعلق محذوف او "متقابلين" دواړه صفت د "اخوانًا" دی، هناد له مجاهد ؒ څخه نقل کوي په تفسير کي د متقابلين لايری بعضهم قفا بعض، ولي يو جنتي که وغواړي چي پر بغل څنګ ووهي، نو هغه بل جنتي څټ ور وګرځوي، نو د هغه بل سرير پر راوګرځي بيرته سره مخامخ سي.

دروښ وايي: چي مظهري په نقل د بغوي ؒ څخه او خازن وايي چي په بعضو اخبارو کي راغلي دي چي يو مسلمان په جنت کي چي اراده د ملاقات د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يو قريب يا دوست وكړي. نو دواړي سرير سره مخامخ را روانې سي. نو د سرير ناست سره ملاقي سي او خبري سره وكړي او چې خبري پاى ته ورسېږي هر سرير د شا پر خوا روانه سي انتهى مع زيادة.

لَا يَمَسُّهُمْ فِيهَا نَصَبٌ وَّمَا هُمْ مِّنْهَا بِمُخْرَجِيْنَ ﴿۴۸﴾

نه رسېږي و جنتيانو ته په جنت كې ادنى تكليف (لكه چې له مس څخه فهمېږي) او نه هم دوى له جنت څخه ايستل كېږي.

پوه سه: چې لوى نعمت د جنت خلود دى.

فائده: لا يمسهم آه سره د معطوف عليها استيناف دى يا حال بعد الحال له ضمير څخه د متقابلين دى. مظهري ؒ په نقل د بغوي ؒ وايي چې طبراني د عبد الله بن الزبير ؓ څخه روايت كړى دى چې عليه الصلوة والسلام يوه ورځ پر بعضو اصحابو تېرېدى هغو سره خندل. عليه الصلوة والسلام ورته وويل تاسي خاندئ وبين ايديكم النار فنزل جبرئيل وقال يقول لك ربك لِمَ تقنط عبادي ولي نا اميده كوې ته زما بندگان زما له رحمت څخه ونزل.

نَبِّئْ عِبَادِيْٓ اَنِّيْٓ اَنَا الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ﴿۴۹﴾ وَاَنَّ عَذَابِيْ هُوَ الْعَذَابُ الْاَلِيْمُ ﴿۵۰﴾

خبره كړه اې محمده (ﷺ) بندگان زما په دې سره چې په تحقيق زه بخښونكى د گنهو يم (بالتوبة وقد يغفر بلا توبة اذا شاء) او مهربان يم، او په تحقيق عذاب زما عذاب دى دردناكه.

دروبش وايي: چې په قرار د شان نزول مذكور جمله د وان عذابي آه ددې لپاره ذكر سوه چې مؤمنان پر مغفرت او رحمت الهي اعتماد كلي ونه كړي او عمل صالح پرېښودي او پر گناه دلاوره نسي وذالك لان الايمان بين الخوف والرجاء فلا ينبغي للمؤمن القنوط والاعتماد.

فائده: ايت د "نبئ عبادي" تر پايه پورې خلاصه د وعد او وعيد د آيتو د هغه تقرير دى. اما آية الوعد فقوله تعالى شانه ان المتقين تر پايه پورې واما آية الوعيد فمن قوله تعالى وان جهنم لموعدهم الى اخيرها او له دې آيت څخه دا هم معلومه سوه چې مراد له متقينو څخه په دمخه آيت كې متقين عن الشرك دي لا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

من يتقى الذنوب كلها صغيرها وكبيرها لان المغفرة فرع المعصية. ترمذي له ابو هريره ﷺ څخه روايت كړى دى چې رسول الله ﷺ وويل لو يعلم المؤمن ما عند الله من العقوبة ماطمع في الجنة ولو يعلم الكافر ما عند الله من الرحمة ما قنط من الجنة" قتاده وايي چې ما ته رسېدلې ده چې نبي الله ﷺ وويل لو يعلم العبد قدر عفو الله ما تورع عن حرام كه خبر سي بنده په اندازه د عفوي د خداى هيڅ پرهېز به يې نه كولاى له حرام څخه ولو يعلم قدر عذابه لتخرج نفسه، او كه خبر سي بنده په اندازه د عذاب د خداى ﷻ هر آئينه ختلى به واى روح دده.

دروښ وايي: چې بخاري او مسلم له ابي هريره ﷺ څخه داسي روايت كړى دى سمعت رسول الله ﷺ چې ده مبارک وويل چې خداى پاک چې پيدا كړى رحمت (يوم خلقها) سل رحمته، او نهه نيوي حصې يې له څان سره وساتلې يعني د قيامت د ورځې لپاره او يوه حصه يې په ټوله مخلوق ووېشله يعني حتى الحيوانات كما جاء صراحةً في حديث فلو يعلم الكافر، كه كافر خبر سي په ټولو رحمتو د خداى يعني نهه نيوي له جنت څخه به نا اميده نسي او كه كافر خبر سي په عذاب د خداى ﷻ يعني في يوم القيامة نه به سي په امن كې له اور څخه.

فائده: خداى پاک په دې آيت توصيف د ذات خپل په غفور رحيم سره وكړى په معذب وغيره سره نه وكړى ترجيح يې ورکړه و جانب ته د وعد پر وعيد باندې فافهم، يو محقق شاعر وايي:

گرچه جرم من ارعدد بيش است ..... سبقت رحمتى ازان پيش است[1]
چه عجب گر عذاب نه نمايد ..... بر گنه پيشگان ببخشايد

حافظ شيرازي ؒ وايي:

هرچند غرق بحر گناهم زشش جهت ..... گر اشناى عشق شوم غرق رحمتم

وَنَبِّئْهُمْ عَنْ ضَيْفِ إِبْرٰهِيمَ ﴿٥١﴾

او خبر كړه ته يا محمد (ﷺ) دوى يعني كفار خصوصاً كفار مكه له حاله د مېلمنو د ابراهيم عليه السلام.

---

[1] اشاره ده و هغه حديث قدسي ته ده "سبقت رحمتي غلى غضبي"

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي دا جمله عطف ده پر هغه جملې "نبئ عبادي" تناسب د معطوفینو یې په دې کې دی چې معطوف علیها جمله لپاره د تفاوت د مسلمانانو او کافرانو ؤ په آخرت کې او دا جملې معطوفه د تفاوت د معطوفینو دی په وعد او وعید سره په دنیا کې هم.

فائده: "ضیف" اسم جنس دی پر یوه او دوو او جمع یې په اطلاق روا دي، او مذکر او مؤنث یکښې برابر دي، مراد دلته ملکې دي چې خدای پاک را استولي وې چې پر ابراهیم علیه السلام زېری وکړي د زوی او د اهلاک د قوم لوط.

إِذْ دَخَلُوا عَلَيْهِ فَقَالُوا سَلَامًا

چې دوی ورغلې د ابراهیم علیه السلام کور ته او وه یې ویل په تحیه کې د دخول لفظ د سلامًا ای نسلم سلامًا یا سلمنا سلامًا په هر صورت سلام د ملکو په جمله فعلیه سره ؤ.

قَالَ إِنَّا مِنْكُمْ وَجِلُونَ ﴿٥٢﴾

وویل ابراهیم (علیه السلام) چې موږ له تاسي څخه ببرېږو، ابراهیم علیه السلام په دې پوه سو چې ملکي خو دي، ولي یو ډېله اذن راغلې او بل ډوډۍ یې نه وه راوړې نو ځکه یې وویل چې موږ له تاسي څخه ببرېږو. ورته راوړه هغو نه خوړل، او "وجل" اضطراب د نفس دی په سبب د مکروه متوقع.

سوال: ابراهیم علیه السلام له څه شي څخه ببرېدی؟

ځواب: له دې څخه ببرېدی چې ملائکه د عذاب به وي لان الانبیاء علیهم السلام اشد خوفًا من عذابه تعالی تر عوام الناس.

قَالُوا لَا تَوْجَلْ إِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلَامٍ عَلِيمٍ ﴿٥٣﴾

ملکو ورته وویل چې ببرېږه مه موږ راغلي یو چې تاته زېری وکړو د زوی یعني اسحاق علیه السلام لقوله تعالی في موضع آخر فبشرناها باسحق چې دا غلام به علم بلیغ وي، نو ابراهیم علیه السلام په تعجب کې سو په دې سبب چې دی د هر کلان ساله او ساره ډډه کور ودانه ډېره سپینې سرې وه، نو ځکه یې د تعجب په استفهام له ملکو څخه یې سوال وکړی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قَالَ أَبَشَّرْتُمُونِي عَلَىٰ أَن مَّسَّنِيَ الْكِبَرُ فَبِمَ تُبَشِّرُونَ ﴿٥٤﴾

ابراهیم علیه السلام ورته وویل تاسي ماته زېرى د غلام راکوئ سره ددې چې زه کړى یم یعنې ماته رسېدلې ده کلا ن سالي في الغاية (نو کلمه د علی په معنی دمع ده والاستفهام للانکار بالنظر الی عالم الاسباب لابالنظر الی قدرة الله تعالی حاشا لله) نو په څرنګه تعجب او زېرې سره ماته زېرى کوئ، ولې چې زېرى خو د هغه شي کېږي چې تصور د وقوع یې عادةً ممکن وي.

قَالُوا بَشَّرْنَاكَ بِالْحَقِّ فَلَا تَكُن مِّنَ الْقَانِطِينَ ﴿٥٥﴾

ملکو ورته وویل چې موږ زېرى په حق سره درته وکړى یعنې په امر د خدای پاک چې څوک قضاً دده نسي ردولای، نو ته مه ګرځه له ناامیده کونکو څخه ولې چې خدای پاک بشر ببله ابو ینو لکه آدم علیه السلام پیدا کړى، نو د شیخ او عجوز عقیم څخه یې نسي پیدا کولای؟

قَالَ وَمَن يَقْنَطُ مِن رَّحْمَةِ رَبِّهِ إِلَّا الضَّالُّونَ ﴿٥٦﴾

ابراهیم علیه السلام په استفهام انکاري ورته وویل چې څوک نه ناامیده کېږي له رحمت څخه د رب دده مګر هغه کسان چې خطاوتلي وي او پراخه رحمت د خدای او کمال علم او کامل قدرت د خدای عزوجل نه پېژني، ولې چې قنوط یعنې نا امیدي له رحمت څخه د خدای عزوجل ګناه کبیره ده لکه امن له عذاب څخه د خدای پاک.

دروښ وایي: چې په شرح الحکم کې وایي که څوک په دریاب کې د ګنهو ډوب وي او دا غریبه ورته معلومېږي چې ما به خدای پاک ددې شهواتو او معاصیو څخه څرنګه خلاص کړي، نو دې سړي په صحیح معنی ددې آیت "وکان الله علی کل شیئ مقتدراً" نه ده فهمولې، ولې په دې آیت کې خدای پاک ځان پر هر شي قادر بللی دی نو ستا خلاصون له ګناه څخه خو هم یو شی دی.

قَالَ فَمَا خَطْبُكُمْ أَيُّهَا الْمُرْسَلُونَ ﴿٥٧﴾

ابراهیم (علیه السلام) ورته وویل څه کار او شان سوی له بشارته اې رسولانو؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: ابراهیم علیه السلام څه وپوهېدی چې د ملکو سوی له بشارت څخه بل کار هم لري چې پوښتنه یې ځني وکړه؟

ځواب: دی په دې پوه سو چې د ټولو ددوی څو بشارت یوازې کار نه دی، ولي د زېري لپاره یوه ملکه هم کافي ده. لکه زکریا علیه السلام ته چې په یحیی علیه السلام سره یوازې جبرئیل علیه السلام زېری وروړی، یا مریم ته د عیسی علیه السلام زیری هم یوازی جبرئیل علیه السلام وروړی.

قَالُوٓا إِنَّآ أُرۡسِلۡنَآ إِلَىٰ قَوۡمٖ مُّجۡرِمِينَ ۝ إِلَّآ ءَالَ لُوطٍۖ

ملکو ورته وویل چې موږ را استول سوي یو لپاره د اهلاک د قوم چې کافران دي او علاوه تر کفر یې لواطت عادت ګرځولی دی مګر نه آل د لوط علیه السلام یعني اتباع دده او اهل دین دده، دا ترجمه پر دې تقدیر ده چې استثناً له قوم څخه یعني منقطع وي، ولي چې قوم خو مقید په مجرمین سره او آل لوط خو مجرمین نه وه، او که استثناً سي له ضمیر څخه چې په مجرمین کې دی راجع وه قوم ته یوازې سي، نو استثناً متصل ده، والقول والارسال شامل للمجرمین و اتباع لوط علیه السلام والمعنی انا ارسلنا الی قوم اجرموا کلهم الا آل لوط منهم یعني چې موږ هلاک کړو مجرمین او نجات ورکړو آل لوط ته کما قال الله جل جلاله.

إِنَّا لَمُنَجُّوهُمۡ أَجۡمَعِينَ ۝

موږ نجات ورکوو آل لوط ټولو ته، یعني له عذاب څخه چې مسلط پر قوم مجرمین ګرځي، نو که استثناً متصله سي نو دا جمله مستأنفه ده په استیناف بیاني او که استثناً منقطع سي، نو دا جمله په ځای کې د خبر ده لکن د ده چې معنی د الا وه وه فتدبر.

إِلَّا ٱمۡرَأَتَهُۥ قَدَّرۡنَآ إِنَّهَا لَمِنَ ٱلۡغَٰبِرِينَ ۝

استثناً د آل لوط څخه یعني مګر مایښه د لوط علیه السلام، ولي چې موږ فیصله کړې ده یعني په امر د خدای جل جلاله چې دا به پاتېږي په عذاب کې سره د کفارو په سبب د کفر ددې.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: کفر د قوم لوط خو شرک وٗ نو لوط څرنګه دا مشرکه په نکاح کول؟

ځواب: نکاح د مشرکانو د لوط علیه السلام په دین کي روا وه، هوا زمونږ په دین کي ناروا ده، ویحتمل چي دې مانې به یې ځپل شرک له لوط علیه السلام څخه پټ ساتی.

فائده: لوط بن هاران بن تارخ د ابراهیم علیه السلام د ورور زوی وٗ، ابراهیم علیه السلام چي د نمرود له اوره نجات پیدا کړی، نو وشام ته یې هجرت وکړی لوط علیه السلام ورسره وٗ او ابراهیم او لوط علیهما السلام یو ځای ځانونه سنت کړل چي لوط علیه السلام د دروپینځوسو کالو وٗ او ابراهیم علیه السلام د اتیا کالو وٗ، نو ابراهیم علیه السلام په فلسطین کي واړول چي په منځ کي د شام او مصر واقع دی، چي په فلسطین کي رمله او غزه او عسقلان او نور ځایونه هم داخل دي، او لوط علیه السلام په اردن کي واړول چي شام ته نژدې د یو ځای نوم دی، نو لوط علیه السلام خدی پاک رسول وګرځاوه په څلورو ښارو کي چي لوی ښار یې سدوم وٗ او دده قوم علاوه پر شرک عمل د خبائثو یعني لواطت کاوه فارسل الله تعالی الیهم ملائکة الاهلاک کما سیأتي في القرآن العزیز.

فَلَمَّا جَآءَ اٰلَ لُوْطِ ِۨ الْمُرْسَلُوْنَ ﴿۶۱﴾ قَالَ اِنَّكُمْ قَوْمٌ مُّنْكَرُوْنَ ﴿۶۲﴾
قَالُوْا بَلْ جِئْنٰكَ بِمَا كَانُوْا فِيْهِ يَمْتَرُوْنَ ﴿۶۳﴾

پس چي ورغلې آل لوط ته یعني کور ته د لوط علیه السلام، نو لوط (علیه السلام) وویل چي په تحقیق تاسي نابلده د قوم واست یعني زما زړه انکار درځخه کوي، ولي چي پر تاسي د سفر نښې یعني سپېرې پښې مثلاً نه معلومېږي او له اهل څخه ددې وطن هم نه یاست، نو زه ببرېږم چي ستاسي له خوا ماته یو غم پېښ نسي، ملګو ورته وویل اضراباً عن قوله "انکم آه" بلکې موږ راتګ کړی دی په هغه څه سره چي ستا قوم په هغه کي شک درلودی یعني عذاب الهي، ستا پر دښمنانو، نو دا ستا د خوشالی شي دی او ستا به په دښمنانو زړه سوړ سي.

وَاَتَيْنٰكَ بِالْحَقِّ وَاِنَّا لَصٰدِقُوْنَ ﴿۶۴﴾

او موږ راتګ کړی دی تاته په حق سره یعني په یقیني شي سره چي عذاب الهي دی او موږ رشتیا ویونکي یو في ما اخبرناک.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَأَسْرِ بِأَهْلِكَ بِقِطْعٍ مِّنَ الَّيْلِ وَاتَّبِعْ أَدْبَارَهُمْ وَلَا يَلْتَفِتْ مِنكُمْ أَحَدٌ

نو بوزه ته د شپې (لکه چې معنی د اسرا ده) اهل ستا په يوه حصه کې د شپې وقيل في اخيره.

سوال: اسرا خو د شپې تگ ته وايي فما فائدة بقطع من الليل؟

ځواب: فائده يې داده چې ټوله شپه اسری ته حاجت نسته او ته تابع او وروسته سه تر دوی ددې لپاره چې په چابک چابک تگ يې امر کوي او حالات ددوی به هم درمعلومېږي او نه دي گوري ترشا له تاسي څخه هيڅ څوک، ولي چې ډېر هولناک عذاب پر دوی راځي شايد چې ستاسي زړونه به يې تحمل ونه لري، او يا له دې سببه دي ترشا نه گوري چې د قوم عذاب ووينې زړه به يې پر وسوځل سي. نو هغه عذاب به دوی ته هم ورسېږي، او بعض مفسرين رحمهم الله وايي چې ترشا دي له دې سببه نه گوري چې هغه خپل سرايونه او ځايونه چې ووينې هجرت علی الوطن المالوف به گران ورته تمام سي والله اعلم بمراده في کتابه.

وَامْضُوا حَيْثُ تُؤْمَرُونَ

او ولاړ سئ تاسي هغه ځای ته چې تاسي امر کړل سوي ياست يعني د خدای پاک له خوا، ابن عباس رضي الله عنهما وايي چې شام، او قتاده رح وايي غزه او بعض وايي اردن.

وَقَضَيْنَا إِلَيْهِ ذَٰلِكَ الْأَمْرَ أَنَّ دَابِرَ هَٰؤُلَاءِ مَقْطُوعٌ مُّصْبِحِينَ

"وقضينا اليه" ای اوحينا الی لوط عليه السلام چونکه قضا دلته په معنی د وحي ده نو يې له دې سببه متعدي په الی وگرځاوه چې صله د وحي ده.

بوه سه: چې ذالک الامر مبهم دی او "ان دابر آه" يې خبر دی، والمعنی چې دا خبره يعني اصل او بېخ ددغو کسانو چې کافران دي پرې کېږي حاصل دادی چې تولـه به هلاکېږي يو نفر به يې هم نه پاتېږي چې دې ته په عربي ژبه استيصال وايي، او په پښتو بېخ کښنه وايي چې په فارسي بيخ کندن ورته وايي حال کونهم داخلين في الصبح وهو حال من هؤلاء.

فائده: په نيز د نزول عذاب في الدنيا وكذا في يوم القيامة قرابت او نسب او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سبب هيڅ په ښه نه دی. ته فکر ووهه چې د لوط علیه السلام ماڼنه سره ددې چې د زوجیت سبب یې د لوط علیه السلام سره درلودی څرنګه خدای پاک د آل لوط څخه مستثنی کړه په نیز د نزول د عذاب حیث قال "الا امرئته الآیة" بیت:

بابدان یارگشت همسر لوط ..... خاندان نبوتش گم شد

بلکې تر زوجیت اقرب قرابت مثل قرابت نوح مع ابنه کنعان هم سره د کفر فائده نه کوي نه په دنیا کې او نه په اخرت کې. بیت:

پسر نوح بابدان بنشست ..... خاندان نبوتش گم شد

ومثل ابراهیم الخلیل علیه السلام وآبیه آذر علی مانص به القرآن حاصل دا چې نسب یا سبب هلته فائده کوي چې ایمان او عمل صالح څه ناڅه ورسره ملګري وي.

وَجَآءَ أَهْلُ الْمَدِينَةِ يَسْتَبْشِرُونَ ﴿٦٧﴾

او راغله اهل د ښار چې سدوم یې نوم وُ په داسې حال کې چې خوشاله وه په مېلمنو د لوط علیه السلام او دوی به یوه و بل ته ناري وهلې چې راځئ د لوط په کور کې ښائسته هلکان راغلي دي چې لواطت ورسره وکړو، ولي چې ملکي په صورت کې د غلمانو چې ډېر ښائسته وه د لوط کره ورغلي وي.

قَالَ إِنَّ هَٰؤُلَآءِ ضَيْفِى فَلَا تَفْضَحُونِ ﴿٦٨﴾

لوط (علیه السلام) قوم ته وویل چې دده کور ته د ښائسته وو مېلمنو په طلب پسې راغلي وه چې دا کسان زما مېلمانه دي، نو ما مه رسوا کوئ یعني په نورو ځایو کې چې خلګ به وایي چې د لوط د مېلمنو سره ددده قوم لواطت وکړی.

وَاتَّقُوا اللَّهَ وَلَا تُخْزُونِ ﴿٦٩﴾

او له خدایه وېرېږئ په کولو کې د لواطت. او ما مه ذلیل کوئ او مه مې خجالت کوئ په مخ کې د مېلمنو.

قَالُوٓا أَوَلَمْ نَنْهَكَ عَنِ الْعَٰلَمِينَ ﴿٧٠﴾

قوم ورته وویل چې آیا موږ ته نه وې نهي کړی د عالم له خلګو څخه یعني چې ته به پناه نه ورکوې او موږ او خلګ په سره پرېږدې چې موږ لواطت ورسره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کوو. او لوط علیه السلام په قدر د طاقت دوی منع کول له دغه فعل څخه.

فائده: استفهام لپاره د انکار داخل دی پر حرف نهي په قرار د قانون مشهور نفي د نفي اثبات دی یعني منع کړی مو وې د خلګو له پناه ورکولو څخه یا له مهمان نوازی څخه.

فائده: وروسته تر همزه د استفهام واو عاطفه پر محذوف عطف دی والتقدیر "انترک هؤلاء ولم نیهک آه.

دروښ وایي: چې دا قانون نحوي ما په دې تفسیر کې څو ځایه ذکر کړی دی لپاره د آسانی پر طالبانو چې طلب ته یې په دې تفسیر کې د ورقو اړولو ته ضرورت نسي پاته.

قَالَ هَؤُلَاءِ بَنَاتِي إِنْ كُنْتُمْ فَاعِلِينَ ﴿٧١﴾

لوط (علیه السلام) ورته وویل چې دا زمانو لونې دي، یعني په نکاح به یې درکړم یعني که تاسي قضاً د شهوت پر کوئ.

پوښتنه: د لوط علیه السلام خو دوې لونې وې ایتا او زعورا. او رغلي خلګ خو به پر وه؟

ځواب: ددې قوم دوه مشران وه چې هغو د لوط علیه السلام لونې په نکاح ځني غوښتلې لوط علیه السلام په سبب د خباثت ددوی او د عدم کفائت نه ورکولې له دې سببه نه چې په نکاح نه ورکول د مسلماني ښځي و کافر ته په شریعت کې د لوط علیه السلام نا روا وه بلکې روا وه. لکن اوس لوط علیه السلام لپاره د ساتنې د مېلمنو په نکاح د لونو راضي سو.

فائده: له دې څخه دا معلومه سوه چې اکرام د مېلمنو او مراعات د مسافرانو له اخلاق څخه د انبیاؤ او اولیاؤ دی او دا سبب د ذکر جمیل هم دی.

حافظ شیرازي رحمه الله وایي:

تیمار غریبان سبب ذکر جمیلست ... جانا مګر این قاعده درشهر شمانیست

سعدي رحمه الله وایي:

غریب آشنا باش وسیاح دوست ..... که سیاح جلاب نام نکوست

وفي الحدیث من اقام الصلوة وآتی الزکوة وصام رمضان وقری الضیف

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

(مېلمه پالنه) دخل الجنة الحديث" په دليل ددې چې لوط عليه السلام چې لاره خلاصون د مسافرو مېلمنو هيڅ ونه ليدله خپلې لونې يې دې خبيثانو ته پر طريقه د نکاح پېش کړې که يې څه هم کفوه نه وه، او هغه خبره چې خازن رح دلته کړې ده چې لوط عليه السلام چې نکاح د لونو ودوی ته پېش کړه بشرط الاسلام بې ځايه خبره ده، ولي چې د لوط عليه السلام په شريعت کې د مؤمنه ښځې نکاح و کافر ته روا وه وهكذا نكاح الكافرة مع المؤمن، نو له دې څخه دا معلومه سوه چې پر هر مؤمن متقي لازمه ده چې دروازه د شر او فساد په هر ممکن صورت چې وي بندوي دې.

فائده: له دې آيت څخه دا معلومه سوه چې محل د تمتع او قضاً الشهوة ښځې دي نه نر، لهذا علماً وايي چې محبت د ښائسته هلک اشد ضراراً دی تر محبت د پېغلې نجلۍ سره، ولي چې نجلۍ ته رسېده په شرع کې ممکن دی يعني بالنكاح بخلاف الامرد فانه لايجوز الاستمتاع به ابداً، سعدي رح ميګويد :

خرابت کند شاهد خانه کن ..... برو خانه آباد گردان بزن

چرا طفل يک روزه هوشش نبرد ..... که درصنع ديدن چه بالغ چه خورد

يعني د يوې ورځې زوکړې هلک باندې تا ولي زړه نه بايلو او عاشق نه سوې که ستا عشق پر صنع د خدای جل جلاله چې دا هلک ته يې څومره ښائست ورکړی دی نو په هغه کې لوی او کوچنی څه فرق لري؟ نو دا معلومه سوه چې د لوی هلک په محبت کې ستا د لواطت عشق دی.

دروېش وايي: چې دا ؤ يو تفسير د آيت مبارک، او بعض مفسرين وايي چې په قرآن کې مضاف محذوف دی ای بنات قومي چې مراد له قوم څخه اتباع د لوط عليه السلام دي يعني زه به هغه په نکاح دروغوارم.

پوښتنه: لوط عليه السلام ولې بنات د قوم خپل بنات وبللې؟

ځواب: لان كل نبي پلار د امت دی من حيث الشفقة والتربية بدين الاسلام فرجال الامة بنوه ونسائهم بناته.

لَعَمْرُكَ إِنَّهُمْ لَفِي سَكْرَتِهِمْ يَعْمَهُونَ ﴿٧٢﴾

ستا په حيات مې دي قسم وي، يعني کفار د قوم لوط په خپل غواية او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ګمراهي او په سخت غفلت کي دی چې عقول يې زائل سوي او تميز د صواب او خطا نسي کولای او دوی حيران دي نو څرنګه به نصيحت واوري.

سوال: حيات ته عمر بضم العين وايي والواقع ههنا عمر بفتح العين؟

خواب: هو! لکن چونکه قسم په عمر سره کثير الدوران دی په عربي ژبه کي نو هغه مقتضی د تخفيف دی نو ددې کبله په قرآن کي بفتح العين راغلی والمخاطب هو رسول الله ﷺ. بغوي له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت کړی دی په والسطه د ابی الجوزا دی وايي ما خلق الله نفساً اکرم عليه من محمد ﷺ او خدای پاک د هيڅ چا په حيوة قسم نه دی اخستی بهله محمد ﷺ.

پوه سه: چې عمه ړوند والی د بصيرت قلبي ده لکه عمي چې ړوند والی د سترګو ته وايي.

پوه سه: چې مظهري ؒ په يوه روايت نا تائيد شده د ابن عباس رضي الله عنهما وايي چې ضمير د "انهم" راجع و کفارو ته د قريشو دی، او ابن عطيه او نور مفسرين ؒ دا ډېره بعيده خبره بولي، ولي چې د سياق او سباق دواړو سره منافي ده بلکې صحيح داده چې ضمائر ټوله و اهل ته د بلد لوط عليه السلام راجع دی او "يعمهون" يې په صيغه د مضارع راوړی لپاره د حکايت د حالت ماضيه. او بعض مفسران وايي چې لعمرک قسم دی د ملکو له خوا څخه او مخاطب په عمرک لوط عليه السلام دی لکن روح المعاني وايي چې دا تفسير که څه هم د سوق سره د قصې برابر دی لکن مخالف دی د قول ماثور او مقبول سره د ابن عباس رضي الله عنهما چې بغوي ؒ يې روايت کړی دی وهو مامر آنفاً ما خلق الله نفساً الحديث، او بل دا خبره ده چې قول ددې مفسر محتاج و تقدير ته يعني قالت الملائكة للوط لعمرک. والتقدير خلاف الاصل وقال صاحب الفرائد انه تقدير بلا ضرورة ومثله لايجوز او صاحب الفرائد دا خبره ډېره وړده کړې ده.

فَأَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ مُشْرِقِينَ ﴿٧٣﴾

نو ونيول قوم لوط يو خوف ناکه آواز د اسمان له خوا څخه. او بعض وايي چې صيحة د جبرئيل وه ولا منافات بينهما په داسي حال کي چې دوی داخلېدل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په لمر ختو کي، بغوي ؒ وايي چي ابتداً د عذاب له سپېدو څخه شروع سوه او ختم يې پر راختلو د لمر وسوه فلا منافات بين هذه الآية چي مشرقين پکښې راغلي دي وبين قوله تعالى في موضع آخر من القرآن في قوم لوط ان موعدهم الصبح الآية" وفي موضع آخر ان دابر هؤلاً مقطوع مصبحين.

فَجَعَلْنَا عَالِيَهَا سَافِلَهَا وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ حِجَارَةً مِّن سِجِّيلٍ ﴿٧٤﴾

نو موږ وګرځول يعني جبرئيل په امر زموږ لوږ طرف تهٔ د قرٰی لوط يعني خلګ پر اوسېدله کښته چي جبرئيل قرٰی لوط پورته کړی د اسمان پر خوا بيا يې چپه را وارولې، نو موږ اورولې يعني د اسمان له خوا څخه ډبرې (سجيل معرب دی له سنګ ګل څخه د څټو په اور پخې دانې)

پوښتنه: مځکه چي پر دوی چپه سوه، نو بيا د ډبرو باران څه عذاب دی د اهل القرٰی لپاره، ولي چي دوی خو په چپه کولو کي د مځکې مړه او ختم سوه؟

خواب: په روح المعاني کي وايي چي د ډبرو باران دمخه تر تمام د انقلاب وَ وهم احياً في الوقت المذكور فيكون الرمي بالحجارة عذاباً لهم. وعبارته هكذا في تضاعيف الانقلاب قبل تمام الانقلاب. وفي روح المعاني ايضاً في تضاعيف الانقلاب يعني انقلاب پای ته نه وَرسېدلی چي د ډبرو باران شروع سو.

دروښ وايي: چي مزيد بيان ددې قصې په تفسير کي د سورة هود ټپر سو،

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّلْمُتَوَسِّمِينَ ﴿٧٥﴾

په تحقيق دی په قصه کي د عذاب د قوم لوط هر آئينه دلائل دي د خدای ﷻ د قدرت، ابن عباس ﷺ د "متوسمين" ترجمه په ناظرين سره کړې ده، او قتاده ؒ وايي للمعتبرين او مقاتل ؒ وايي للمتفكرين (دا ټولې ترجمې يو ويل ته راجع دي)

وَإِنَّهَا لَبِسَبِيلٍ مُّقِيمٍ ﴿٧٦﴾

او دا قرى لوط په لار کي د مسافرينو د شام ثابتي دي يعني آثار يې باقي دي. والمقيم مالم يندرس اثارها.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَاٰیَةً لِّلْمُؤْمِنِیْنَ ﴿۷۷﴾

په تحقیق په دې بیان کې د قصه قوم لوط دلیل دی د قدرت عظیمه د خدای او د حقیقت د توحید لپاره د هغو کسانو چې ایمان پر خدای او رسول لري یعنې چې دا یې عقیده وي چې دا بیان من عند الله دی بخلاف مشرکی مکة لانهم یرونه من المفتریات.

وَاِنْ كَانَ اَصْحٰبُ الْاَیْكَةِ لَظٰلِمِیْنَ ﴿۷۸﴾

پوه سه: چې کلمه د "ان" مخفف د مثقل ده او اسم یې ضمیر شان محذوف دی ای انه شان دادی او "لظالمین" یې خبر دی او لام فرق دی په منځ کې د ان نافیه او ان مخففه. والایکة الاشجار المتکاثفة چې په پښتو یې ځنګل بولي، یعنې شان دادی چې اصحاب د ځنګله ظالمان وه یعنې مشرکان چې پر خپلو ځانو یې ظلم کاوه او ځانونه یې و اور ته پښې کړل او دا کسان قوم د شعیب علیه السلام وه چې په دغو ځنګلو کې اوسېدله. او خدای پاک شعیب علیه السلام دوی ته په نبوت را استولی وُ او دوی یې تکذیب وکړی.

فَانْتَقَمْنَا مِنْهُمْ وَاِنَّهُمَا لَبِاِمَامٍ مُّبِیْنٍ ﴿۷۹﴾

نو کسات د کفر مړو واخستې له دوی څخه، یعنې سدوم چې لویه قریه د لوط علیه السلام د قوم وه والایکة چې مسکن د قوم شعیب وُ په لار کې، ښکاره دی حکمت په دې قصو کې دادی چې چې کفار مکه چې خرابی د مذکوره قومو کافرانو هم په خپلو کې وینې او عبرت نه ځنې اخلي چې ایمان راوړي بلکې پر هغه شرک د پلرو ډاډه دي... بیت:

پند گیر از مصائب دیگران ..... تا نه گیرند دیگران زتو پند

دروښ وایي: چې قصه د عذاب ددوی دا وه چې خدای ﷻ سخته ګرمي پر دوی مسلطه کړه حتی چې دوی له کورو څخه د ګرمی له لاسه نسوای راوتلای وروسته خدای پاک بنه ګنډه وریځ سره د خنک باد پیدا کړه دوی تولې نرې وښځې ډګر ته د وریځي را ووتله او خوشالی یې کولې او دا یې ویله هذا عارض فمطرنا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دا وریځ ده چې پر موږ به باران وه اوروي. خدای ﷻ له وریځي څخه پر دوی ورښت د اور شروع کړی فاحرقتهم عن آخرهم او دې ته عذاب د یوم الظلة وایي.

فائده: شعیب علیه السلام و اصحاب الایکة او د مدین ښار ګوتي دواړو ته نبي مبعوث وٴ.

سوال: مدین یې ولي نه کړی ذکر؟

خواب: مظهري ؒ وایي چې ذکر د یوه منبه پر هغه بل دی والاوضح ماقال بعضهم ان الایکة کانت عند مدین فکانهما واحد.

فائده: امام په اصل کې ما یوٴتم به ته وایي کریمه "انی جاعلک للناس اماماً" ای یوٴتم ویقتدی بک. او کتاب ته هم امام وایي ولي هرڅه چې په یو کتاب کې وي په هغه پسې اقتدا کړل کېږي، کریمه "یوم ندعوا کل اناس بکتابهم" یعني کتاب الاعمال، او لوح محفوظ ته هم امام وایي کریمه "وکل شیئ احصیناه في امام مبین" یعني اللوح المحفوظ، او لاري ته هم امام وایي کما في هذه الآیة لان المسافر یوٴتم به، او امام الصلوة ته په دې امام وایي چې مقتدیان دده په افعالو پسې اقتدا کوي، اوزیږ چې یو تار دی چې د بنایانو سره ورسره وي چې په پښتو یې رجه بولي هم امام وایي او په عربي یې مطمر بولي.

وَلَقَدْ كَذَّبَ أَصْحَابُ الْحِجْرِ الْمُرْسَلِينَ ﴿٨٠﴾

پوه شه: چې لام موطئه د قسم محذوف دی یعني والله په تحقیق تکذیب وکړی خلګو او ساکنانو د حجر (چې د یوې شپلې نوم دی. په منځ کې د مدینې منورې او د شام چې دا قوم په نامه د ثمود یاد پدل) د رسلانو.

فائده: و دوی ته خو رسول صالح علیه السلام را استول سوی وٴ او په قرآن کریم کې یې صیغه د جمع راوړه لان تکذیب رسول واحد تکذیب جمیعهم، ولي چې انبیاً علی نبینا وعلیهم السلام په اصولو کې د دین لکه توحید د خدای ﷻ او ایمان پر ټولو صفاتو جمالیه او جلالیه د خدای پاک او بعث بعد الموت وغیرها چې د امنت بالله وملائکته آه مضمون دی سره یو دی البته په بعض فروعو کې یې فرق وي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَاٰتَيْنٰهُمْ اٰيٰتِنَا فَكَانُوْا عَنْهَا مُعْرِضِيْنَ ﴿۸۱﴾

او ورکړی ؤ موږ دوی ته یعني اصحاب الحجر ته آیات د کتاب منزل علی نبیهم صالح علیه السلام، او یا مراد له آیاتو معجزات د صالح علیه السلام دي لکه ناقه او ددې ولد کما سیئاتي في القرآن العزیز عنقریب ان شاء الله تعالی، نو دوی سوه له هغو آیاتو څخه مخ ګرځونکي ایمان یې رانوړی.

وَكَانُوْا يَنْحِتُوْنَ مِنَ الْجِبَالِ بُيُوْتًا اٰمِنِيْنَ ﴿۸۲﴾

او دوی وه چې تراشلې یې او جوړول یې په غرو کې کورونه چې په هغو کورو کې یې بېغه ژوند تېراوه:

پوه سه: چې له دې څخه یا مراد دا دی چې دوی ددغه کورو له نړېدلو څخه او یا د غلو له سورې کولو او یا د دښمنانو له تخریب څخه بېغمه وه لاستحکامها غایة الاستحکام، او یا مراد دادی چې دوی له عذاب څخه د خدای ﷻ بېغمه وه، ولې چې ددوی دا زعم فاسد ؤ چې ددې غرو کورونه به موږ له عذابه د خدای ﷻ وساتي.

فَاَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ مُصْبِحِيْنَ ﴿۸۳﴾

نو دوی ونیول یعني هلاک کړل چغې او نارې د جبرئیل علیه السلام چې په یوه ناره سره دوی ټول له هلاک سوه، او بعض مفسرین وایي چې د آسمان له خوا داسې یوا اواز پیدا سو چې په هغه کې دهرې ټکې او د ټولو حیواناتو د مځکې اواز پکښې ؤ، او په سورت اعراف کې وایي "فاخذتهم الرجفة" یعني الزلزلة ولا منافات لان الزلزلة حدثت من الصیحة فافهم.

تاریخ خبرې کوي وایي چې صالح علیه السلام وروسته تر هلاک سره د مسلمانانو شام ته ولاړل او په رمله فلسطین کې مقیم سوه، بیا څو زمانه وروسته مکې مکرمې ته ولاړې او هورې وفات سو عمر یې (۵۸) کاله ؤ.

حکایت: ذو النون المصري قدس سره وایي بزبان فارسي روزی در اثنای سفر بدر شهر رسیدم خواستم که در اندرون شهر روم بر در آن شهر کوشکی دیدم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وجوی روان بنزدیک جوی رفتم طهارت کردم چون چشم من بربام کوشک افتاد زنی دیدم استاده درغایت حسن وجمال چون نظر او بمن افتاد گفت ای ذوالنون چون ترا از دور دیدم پنداشتم که مجنونی (ای چابک چابک یوه او بله خواته مائل روان لکه لهونی) وچون طهارت کردی تصور کردم که عالمی (یعني ستا اودس د شریعت د قانون سره برابر ؤ) وچون از طهارت فارغ شدی وپیش آمدی پنداشتم که عارفی (یعني هیئت او جمال دی د عارف ؤ) اکنون محقق شدم که نه مجنونی ونه عالمي ونه عارفي گفتم چرا؟ گفت اگر دیوانه بودی طهارت نمیکردی واگر عالم بودی نظر بخانه بیگانه نمیکردی و اگر عارفی بودی دل تو مائل بما سوی الله نمی شدی آه.

دروبش وایي: چي علامه بغدادی رحمه الله وایي چي قوم د صالح علیه السلام په وخت کي د ځانښت هلاک سوه او په دې آیت "مصبحین" راغلی؟

ځواب: علامه روم شیخ محمد اسماعیل البرسوي رح ددې سوال و جواب ته په دې الفاظو اشاره کړې ده والصبح یطلق علی الزمان الممتد الی الضحوة في العرف آه.

دروبش وایي: چي مفصله قصه د صالح علیه السلام او د اوښې او د جونګي په سورت هود کي سره د تفسیره تېره سوې ده یعني په قرآني آیتو کي لکن چونکه د صالح علیه السلام اوښې په مشرۍ د قذار بن سالف قوم صالح ووژل او جونګی یې ولاړی د هغې ډبرې سره چي دده مور ځني راوتلې وه درې ناري یې وکړې او په ډبره ننوتلې، نو صالح علیه السلام قوم ته وویل چي ستاسي درې ورځي ژوند پاته دی، اوله ورځ به مو مخان ژړسي او په دوهمه ورځ به مو موخان سره سي او په درېیمه ورځ به مو مخان تور سي خلورمه ورځ چي د یکشنبې ورځ ده بالاستیصال به هلاک سئ وکان کذالک بقدرة الله الملک المعبود، دا وو اجمال د قصې د صالح علیه السلام.

فَمَآ أَغۡنَىٰ عَنۡهُم مَّا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ٨٤

نو فائده ونه کړه دوی ته یعني په دفع کي د عذاب د خدای عزوجل هغه چي دوی یې کسب کړی ؤ یعني په غرو کي یې خونې جوړي کړي وې د خپل اولاد سره او داغه رنګه ډېر اموال یې جمع کول.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: په حدیث شریف کي راغلي دي چي علیه الصلوة والسلام چي د تبوک غزا ته روان وُسره د اصحاب کرامو ﷺ پر وطن د حجر چي ورغلی، نو اصحابو ﷺ ته یې وویل چي مه ورځئ کنډوالو ته د هغو کسانو چي پر خپلو ځانو یې ظلم کړی وُ یعني بالکفر وانکار الرسول مگر نه په داسي حالت کي تاسي به ژاړی له بهري ددې چي تاسي ته ورته عذاب ونه رسېږي، بیا علیه الصلوة والسلام پتو پر سر واچاوه او دابه چي دی پر سپور وُ چابک یې کړی او د حجر تر شپلې تېر سو.

وَمَا خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَآ اِلَّا بِالْحَقِّ ؕ

او نه دي پیدا کړي موږ اسمانونه او مځکه او چي په منځ کي د اسمانو او مځکي دي من السحاب والصواعق وغیرهما مگر نه متلبس په حق سره یعني لیکون دلیلاً علی وجود الصانع وتوحیده وقدرته وغیر ذالک من صفاته الجمیلة والجلیلة تاچي د شرک جهالت د خلگو له دماغو ځخه وباسي.

وَاِنَّ السَّاعَةَ لَاٰتِيَةٌ فَاصْفَحِ الصَّفْحَ الْجَمِيْلَ ۝

او په تحقیق قیامت راتلونکی دی یعني خدای ﷻ به انتقام واخلي د هغو کسانو چي خدای ﷻ ته یې شریکان ویله او تکذیب د رسولانو یې کاوه، نو ته اې محمد ﷺ روی گرداني او اعراض وکړه له دوی ځخه په ښه صفح سره یعني تلوار د انتقام له دوی ځخه مه کوه.

اِنَّ رَبَّكَ هُوَ الْخَلّٰقُ الْعَلِيْمُ ۝

په تحقیق ستا رب ډېر پیدا کونکی دی د دوستانو لکه ته یا رسول الله ﷺ واتباعک من المؤمنین او ستاسي دښمنان من انواع الکفرة بیده الامر والیه مرجع الامر، او ښه خبر دی په حال د هر چا فیجازي کل واحد منهم علی حسب عمله من الخیر والشر، او یا مراد دادی چي چونکه خدای ﷻ ستا او ستاد دښمنانو په حال ښه خبر دی، نو باید داده چي ته توکل علی الله وکړې.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروبش وايي: چي په دې آيت کي دليل دی ددې چي سړی يعنې مؤمن بايد ګذاره او چار چلند وکړي د خلګو سره که مؤمن او که کافر وي په ښه اخلاقو. علم، جود او کرم سره، وفي الحديث الشريف وفي السيرة النبوية كان رسول الله ﷺ احسن الناس خلقاً كريمه "وانک لعلى خلق عظيم، وارجح الناس علماً واعظم الناس عفواً و اسخى الناس يداً، كريمه "خذ العفو وامر بالعرف واعرض عن الجاهلين، وقال العرب الحلم ملح الاخلاق.

تاريخ اسلامي وايي: چي جعفر بن سليمان العباسي د مدينې والي امام مالک رحمه الله سخت وواهه حتى چې له مجلس څخه يې بېهوشه يووړی، نو کور ته چې په هوش کې راغلی داسې يې وويل چې زه بېربېږم چې له وهلو څخه د والي به مرسم او ماته حياً رائي له عليه الصلوة والسلام څخه چې صبا په ورځ د قيامت يو سړی دده له آل څخه يعنې اقرباؤ څخه چې عباسي والي ؤ زما د وهلو په سبب اورته ورځي، نو ځکه ده عفوه کړې ده.

دروبش وايي: چي وهذا هو الادب العظيم مع رسوله الكريم ﷺ. بيت:

از خدا خواهم توفيق ادب ..... بې ادب محروم ماند از فضل رب

دروبش ميګويد که در تفسير آورده که هفت کاروان قريش دريکروز بمکه درآمدند بامطاعم بسيار وملابس بېشمار درخاطر مبارک حضرت فکر آمد که کاش اين کاروانها برای ما و مسلمانان که درحالت گشنګی زندګی بسر ميبرم پس اين آيت از حضرت رب العزت جبرئيل آورد.

وَلَقَدْ اٰتَيْنٰكَ سَبْعًا مِّنَ الْمَثَانِيْ وَالْقُرْاٰنَ الْعَظِيْمَ ﴿٨٧﴾

يعني که څه هم قريش هفت کاروان بمکه يکجا آورده اند لکن ترا ازان هفت کاروان بهتر چيز داده ايم که سورة فاتحه مبارکه که هفت آيت است.

دروبش ميګويد: که اين شان نزول مناسبت ما بعد آيت است که حضور مبارک درآن مخاطب نموده "ولاتمدن الآية" او هغه څه چې واحدي په شان نزول کې ددې آيت راوړي دي چې اووه قافلې وې د بني قريضه و بني النضير من يهود المدينة: بصرې او اذرعات په يوه ورځ مکې مکرمې ته واردي سوې چې په کاروان کې ډېر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خوراکي مواد وه او ملبوسات وغیره هم وه نو مسلمانانو چي په مکه مکرمه کي د فاقي شپې او ورځي تېرولې، دوی ووېل چي کاشکي دا قافلې زموږ وای، نو به موږ پر خپلو ځانو نفقه کړي وای او نور زائد به مو في سبیل الله خیرات کړي وای، فانزل الله تعالی هذه الآیة، پر هغه شان نزول دا سوال وارد ېږي چي مخاطب یې وروسته یوازي علیه الصلوة والسلام ولي ګرځاوه ولاتمدن الآیة"

والجواب عنه چي په دېرو آیتو کي قرآن کریم مخاطب یوازي علیه الصلوة والسلام وي لکن مراد ځني امت دی کما لایخفی علی من تفحص القرآن الکریم تفسیر الآیة: والله په تحقیق موږ درکړی دی تاته یو سورت چي اووه آیته دی.

پوه سه: چي مراد په نېز د جمهورو مفسرینو په دې آیت کي سورت فاتحه ده.

فائده: سورت مذکوره یو سل او درویشت (۱۲۳) حرف دي او (۲۵) کلمې دي او اووه (۷) ایت دي بالاتفاق لکن احناف بسم الله الرحمن الرحیم جزأ د سورت نه بولي او انعمت علیهم پوره آیت بولي، او شافعیان بسم الله جزأ د سورت بولي او انعمت علیهم آیت نه بولي بلکې تر پایه پورې یو آیت بولي کذا قال البیضاوي وروح البیان.

پوه سه: چي مثاني بیان د سبع دی په نېز د روح المعاني، دی وایي په حواله د کشاف چي مثاني جمع د مثنی ده په معنی د مکرر، نو وجه تسمیه د مثاني داده چي دا سورت مبارک په هر لمانځه کي مکرر ویل کېږي وهذا الوجه روی عن الحسن و ابی عبدالله او بیضاوي رحمهم الله چي دا سورت دوه واره نازل سوی دی مرةً بمکة ومرةً بمدینة حین تحول القبلة، لکن روح المعاني دا وجه رد کړې ده ولي دا سورت خو اتفاقًا مکي دی او سبع مثاني یې نوم ؤ دمخه تر نزول ثاني بعد الهجرة، او له ابن عباس رضي الله عنهما او مجاهد رحمه الله څخه روایت دی چي مثاني یې په دې سبب بولي چي دا سورت خدای جل جلاله استثنا کړی ؤ یعني ذخیره کړی یې ؤ ددې امت لپاره بل امت ته یې نه دی ورکړی.

پوه سه: چي روح البیان له مثاني څخه قرآن مجید مراد کړی دی او کلمه د "من" یې لپاره د تبعیض بللې ده یعني سورت فاتحه جزأ د قرآن دی او دا آیت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يې پر هغه آيت چې په سورت زمر کې راغلي دي حمل کړی دی يعني "الله نزل احسن الحديث كتابًا متشابهًا مثاني الآية" او د قرآن وجه د تسميه په مثاني سره يې دا ويلي ده مثاني جمع مثنى لان القرآن ثنى اى كرر فيه الوعد والعيد والامر والنهي والثواب والعقاب والقصص كما في الكواشي.

پوه سه: چې روح البيان وايي چې "والقرآن العظيم" عطف دی پر "سبعًا" او عطف د کل پر جزأ دی، د حسين كاشفي ؒ عبارت هم پر دې دلالت کوي چې "والقرآن العظيم" عطف ذی پر "سبعًا" دی وايي (ودیگر دادیم ترا قرآن که نزد ماقدر او بزرگ است و ثواب او بسیار انتهی.

دروښ وايي: چې بخاري ؒ له ابو هريره ﷺ څخه روايت کړی دی قال قال رسول الله ﷺ ام القرآن هي السبع المثاني والقرآن العظيم انتهى، له دې حديث څخه دا فهميږي چې قرآن عظيم عين سبع مثاني ده والفرق بالاعتبار، نو نوم د سبع مثاني په سبب د اوو آيتو او د تکرار په لمانځه کې کمامر، او نوم د قرآن عظيم په اعتبار د قرائت او عظمت دی.

فائده: که څه هم مفسرين وايي چې د قرآن لفظ په منځ کې د کل او د جزء سره برابر دی، نو اطلاق پر سورت فاتحه روا دی بل على كل سورة منه، لكن بعض مفسرين وايي چې صرف په مامر آنفًا چې قرآن لفظ مشترک دی سورت فاتحه يې قرآن عزيز په دې آيت کې نه ده بللې، بلکې ددې سببه تولې معاني د قرآن عظيم په سورت فاتحه کې مجملاً درج دي. بيان د اندراج واورئ لان القرآن العظيم يشتمل على الثنأ على الله تعالى بصفاته الجلالية والجمالية وقد اشير اليه بقوله الحمد لله وعلى الشكر على نعمائه الدنيوية والاخروية وقد اشير اليه بقوله رب العالمين اذ التربيته من اعظم النعم الالهية وعلى الامر بعبادته وحده لاشريک له وقد اشير اليه بقوله اياک نعبد بتقديم المفعول الدال على الحصر كما في كتب النحو والمعاني، وعلى التوكل على الله في كل حال بلاشركة وقد اشير اليه بقوله واياک نستعين بتكرار اياک، وعلى سوال الهداية والرشد والوصول الى المقصد الاقصى اى الرضى الالهي، وقد اشير اليه بقوله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تعالى "اهدنا الصراط المستقيم" وعلى ان اديان الانبياء عليهم السلام من لدن آدم عليه السلام الى دين نبينا ﷺ متحدة وقد اشير اليه بقوله تعالى "صراط الذين انعمت عليهم" وعلى التجاء من الله ان يحفظنا من الغضب والضلال وعلى تعدد تلك الفرق وقد اشير اليه بقوله "غير المغضوب عليهم ولا الضالين"

پوښتنه: تا دا اندراج تولە په عربي بيان کړی آيا پښتانه به په وپوهېږي کما هو مرام التفسير الايوبي او که څرنګه؟

ځواب: ښځي امي بحث که په دې اندراج نه وپوهېږي لکن ادنى فکر والا به ان شاء الله ښه پوره په وپوهېږي ولله الحمد.

دروښ وايي: چې د سورت فتحة الكتاب مزيد تفصيل او بيان او خواص په تفسير ايوبي کي ددې سورت په تفسير کي مطالعه کړه.

لَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ إِلَىٰ مَا مَتَّعْنَا بِهِ أَزْوَاجًا مِّنْهُمْ

او مه پورته کوه يا محمد (عليه السلام) سترګي د طمع او د خوښۍ و هغه شي ته چې ورکړی دی موږ هغه شی يعني له منافع او شهواتو څخه د دنيا و اقسامو ته د کفار ومن المشرکين واليهود والنصارى، ولي نعمتونه د کافرانو حقير او لږ او رذيل دي نسبت ستا و نعمت ته من السبع المثاني والقرآن العظيم. اسحقا بن راهويه په خپل مسند کي د عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه څخه روايت کړی دی ده وويل چې چاته خداى ﷻ قرآن ورکړی دی يعني يا حافظ د قرآن او يا عالم د قرآن، نو دده په زړه کي که فکر پيدا سو چې يو چاته به په دنيا کي افضل زما د نعمت ورکړی وي خداى ﷻ، نو ده لوی نعمت حقير کړی يعني قرآن چې ده ته ورکړل سوی دۍ او لوی يې وګانه حقير شی چې نورو ته خداى ورکړی دۍ.

پوه سه: چې محي السنة بغوي رحمه الله روايت کړی دی چې سفيان بن عيينة رحمه الله تأويل د هغه حديث د رسول الله ﷺ ليس منا من لم يتغن بالقرآن" داسي کړی دی اى لم يستغن به.

دروښ وايي: چې ددې حديث روايت بخاري، احمد، ابو داؤد، ابن حبان او حاکم رحمهم الله کړی دی لکن د اوسنۍ زمانې مدرسان ملايان چې خداى ﷻ علم د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قرآن ورکړی وٴ او نور حافظان د قرآن کریم د روژې په میاشت کې د اغنیاوٴ او بې عزته پېدا الانو پر کورو ګرځي د زکوة په طمع که څه هم په واقع کې دی په خپله غني وي افسوس د داسي ملایانو او حافظانو پر حال.

نادره: که یو عالم حافظ د یو غني د مسجد ملا امام وي، نو فقط دا عالم لکه ګل آفتاب ګردان چې همېشه د لمر پر طرف یې سر کوږ وي، ددې عالم حافظ هم تر هر شي رضی ددغه مقتدي خوښه وي حتی دروېش ته په تجربه دا ثابته ده چې په یوه محله کې یو حافظ عالم د یو پېدا ل په مسجد کې ملا امام وٴ او په دغه محله کې دده استاذ هم وٴ چې کلان سال مدرس وٴ او صاحب د تصانیفو معتبره هم وٴ او خپل په روپو یې یو ښه زیبا جامع مسجد جوړ کړی وٴ، لکن ددې مدرس عالم او دده شاګرد د پېدا ل مقتدي تر منځ خوابدتیا وه معمولي. نو هغه ددې د مسجد د ملا چې به یا استاذ له حجره راغلی یا د اختر و په مناسبت دا استاذ ته نه ورتلی افسوس ددغه ملا پر حال ..... ع

چو کفر از کعبه برخیزد کجا ماند مسلمانی

او بیهقي رح له ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت کړی دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل "لاتغبطن (ته کښت مه کوه او تمنی د حال ددغه جاهل جابر مه کوه) فاجراً بنعمة ان له عند الله قاتلاً لایموت" وهب بن منبه رح وایي چې ما چې پوښتنه د "قاتل لا یموت" وکړه چې دا څه شی دی؟ عبدالله بن مریم رح وویل النار. او احمد، مسلم، ترمذي، ابن ماجه او بغوي رحمهم الله له ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت کړی دی قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم انظروا الی من هو اسفل منکم (یعني في الامور الدنیویة ونعیم الدنیا) ولا تنظروا الی من هو فوقکم فهو اجدر ان لا تزدروا نعمت الله علیکم (نو دغه چې تحت ته وګوري لوړ ته نه وګوري ښه تر لائق ده چې تاسي د خدای درکړی خوار نه معلومېږي مثلاً په اوسنی زمانه کې یو سړی دی چې هغه په خپل شخصي موټر کې ګرځي او راګرځي، او ته بیا موټر سائیکل لرې پر هغه سپور آمد او رفت کوې بل سړی بیا پر سائیکل یا پر پښو بازار ته تګ وراتګ کوي، نو ته باید موټر شخصي والا ته ونه ګورې چې خپل خدای درکړی موټر سائیکل خوار ورته معلوم نسي بلکې سائیکل یا پښو والا ته وګوره تاچې پر موټر سائیکل شکر ووایه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې پر دې نور شيان قياس کړه يعني اعلى، اوسط او ادنى في الدور والملبوسات والمطعومات وغير ذالک.

وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ لِلْمُؤْمِنِينَ ﴿٨٨﴾

ته غم مه کوه پر کفارو چې ايمان ولي نه راوړي، يا پر دې غم مه کوه چې د دنيا په نعمتو کې ولي زه رنګه نه يم.

پوه سه: چې "واخفض آه" کنايه ده له دې څخه چې د مؤمنانو سره ښه په نرمي او رفق او رحم ژوند کوه، اصل يې دادی چې مرغه چې له هوا څخه کښته راځي ځپل دواړه وزرونه کښته ايله کړي ..... بيت:

تواضع کند هوشمندی گزين ..... نهد شاخ پرمېوه سر برزمين

وَقُلْ إِنِّي أَنَا النَّذِيرُ الْمُبِينُ ﴿٨٩﴾

او ووايه کافرانو ته چې زه بېرونکی يم ستاسي بنکاره يعني دلائل او معجزات د خدای ﷻ هم راسره دي، مقصد دادی چې عذاب د خدای ﷻ به پر تاسي نازل سي که تاسي ايمان نه راوړئ وکان کک کما في بدر وفتح مکة وغير ذالک.

كَمَا أَنْزَلْنَا عَلَى الْمُقْتَسِمِينَ ﴿٩٠﴾

لکه چې موږ نازل کړی دی عذاب پر مقتسمينو.

پوه سه: چې نزول د عذاب که څه هم دمخه نه دی ذکر سوی چې دا نزول ورسره مشابه کړي لکن عذاب د نذير چې ورانديّ آنفاً ذکر سو مفعول مقدر دی ورسره مشابه کړي لکن عذاب د نذير چې ورانديّ آنفاً ذکر سو مفعول مقدر دی لان معناه انا النذير المبين بالعذاب كما ذكرنا في تفسيره فصح التشبه. بغوي

واي چې مقتسمين يهود او نصارى دي.

الَّذِينَ جَعَلُوا الْقُرْآنَ عِضِينَ ﴿٩١﴾

هغه کسان چې قرآن يې ټوټه ټوټه يعني پر بعض د قرآن يې ايمان راوړی دی كالقصص المذكورة في القرآن كقصة عاد و ثمود وقصة يوسف، او په بعض سره کفر کړی دی كبقية احكام القرآن، طبراني ؒ له ابن عباس ﷺ څخه روايت کړی دی، ابن عباس ﷺ وويل چې يو سړي سوال وکړی له عليه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الصلوة والسلام څخه ددې آیت په باره کې یعنې چې له مقتسمینو څخه څوک مراد دي، قال علیه السلام الیهود والنصاری، قال ما عضین؟ هغه سړي وویل چې د عضین معنا څه ده، قال علیه السلام آمنوا ببعض وکفروا ببعض کمامر عنقریب.

فائده: عضین جمع د عذة ده لکه عدة الفرقة والقطعة کذا في القاموس. نو یهودانو او نصاری وو بعض حصې د قرآن حق بللې چې دا مخالف د تورات او انجیل سره دي.

پوه سه: چې اصل د عضة عضوة ورِ علی وزن فعلة عرب وایي عضی الشاة اذا جعلها وقطعها عضواً عضواً کذا في روح المعاني والمظهري وروح البیان والقرطبي والبیضاوي، او بعض مفسرین وایي چې دوی استهزاء ویلله یوه به ویل چې سورت بقره زما دی بل به ویل چې سورت آل عمران زما دی وهکذا. او مجاهد رح وایي چې مراد یهود او نصاری دي چې دوی خپل کتابونه تورات او انجیل ټوټه کړي وه فآمنوا ببعض و کفروا ببعض، او بعض مفسرین وایي چې مراد له مقتسمینو څخه هغه کسان دي چې پر قرآن یې قسم قسم نومان اینبوول بعضو به ویل سحر دی بعضو به ویل شعر دی بعضو به ویل کهانت دی بعضو به ویل اساطیر الاولین دی، او یا یې پر علیه الصلوة والسلام قسم قسم نومان اینبوول بعضو به ویل ساحر دی بعضو به ویل شاعر دی بعضو به ویل کاهن دی او په روح البیان کې وایي او مظهري په نقل د مقاتل رح وایي چې په مکه مکرمه کې شپارس کسان د مشرکانو د مکې وه د ولید بن مغیره په مشری چې ده به په وخت کې د حج استول او پر هغو لارو چې حاجیان به مکې ته داخلیدل څو څو کسان به یې کښېنولي وه، نو پر هره لار چې به حاجیان مکې ته دخلیدل دوی به ورته ویل لاتغتروا بهذا الخارج عن دینه الذي یدعی النبوة منا (تاسي خطانه وځئ یعنې په مکه کې ددغه سړي په قول چې د پلار او نیکه له دینه وتلی دی او دعوه د نبوت یې کړې ده په موږ کې. بعضو به حاجیانو ته ویل چې دا سړی لیونی دی بعضو به ویل کاهن دی بعضو به ویل شاعر دی وهکذا. او دې د لارې خلګو به حاجیانو ته ویل چې که زموږ خبره منئ د ولید بن مغیره چې د مکې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي د مکې نامداره مشر دی او په حرم کي موجود دی پوښتنه وکړئ. نو ولید چي په حرم مکي کي به د حج په ورځو کي همېشه ناست وُ چي حاجي به پوښتنه ځني وکړه یعني په باره کي د علیه الصلوة والسلام ولید به ورته وویل صدقوا.

تفریع: که چېرې مراد له مقتسمینو څخه یهودانو وي. نو عذاب نازل پر دوی قتل د بني قریضه وُ او جلا وطن کول د بني نضیر دي. او که مراد د ولید به مغیره ډله وي. نو عذاب نازل پر هغو قتل ددوی دی په ورځ د بدر.

دروېش وایي: چي مظهري رح نور قولونه ډېر راوړي دي چي هیڅ مفسر اشاره نه ده ورته کړې والله اعلم بالصواب.

دروېش وایي: چي روح المعاني دغه نومانه د مقتسمینو ذکر کړي دي (۱)ولید بن المغیرة (۲) حنظله بن ابی سفیان (۳) عتبة بن ربیعة (۴) شیبة بن ربیعة (۵) ابوجهل (٦) العاص بن هشام (۷) ابو قیس بن الولید (۸) قیس بن الفاکة (۹) زهیر بن امیة (۱۰) هلال بن الاسود (۱۱) السائب بن صیفي (۱۲)النضر بن الحارث (۱۳) ابو البختري بن هشام (۱۴) زمعة بن الحجاج (۱۵) زمعة بن الخلف (۱٦) اوس بن المغیرة. ددوی ټولو مشر ولید بن مغیره وُ.

فَوَرَبِّكَ لَنَسْـَٔلَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٩٢﴾ عَمَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿٩٣﴾

قسم دی په خدای ستا یا محمد (ﷺ) هر آئینه به مو پرسوال کوو له دوی ټولو څخه د هغه اعمالو چي دوی په دنیا کي کړي وه (کلمه د ما موصوله ده عائد یې محذوف دی ای یعملونه) مراد له اعمالو څخه کفر او معاصي او نسبت د سحر او کذب و قرآن ته کول الی غیر ذالک یعني فنجازیهم علیها.

دروېش وایي: چي بغوي، خازن، مظهري، روح المعاني، قرطبي، بحر العلوم وغیرهم رحمهم الله وایي چي څرنګه به جمع او توفیق ددې آیت چي پکښې اثبات د سوال دی د ټولو خلګو څخه د اعمالو د دنیا او د هغه آیت "فیومئذ لایسأل عن ذنبه انس ولاجان؟

ځواب: ابن عباس رضي الله عنهما وایي لایسئلهم هل عملتم لانه تعالی اعلم به منهم ولکن یقول لم عملتم، یعني داسي پوښتنه نه ځني کوي چي تاسي دا کارونه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کړي دي که نه، ولي چې خدای پاک ښه خبر دی په عملو ددوی تر دوی بلکې دا پوښتنه او سوال ځنې کوي چې ولي مو کوله، پر دې ځواب قطرب ؒ اعتماد کړی دی او زیاته کړې یې ده چې سوال دوه قسمه دی یو سوال استعلام دی یعنې د ځان د خبرولو لپاره او بل سوال د توبیخ او سرزنش دی، نو هغه آیت فیومئذ لا یسأل آه. محمول دی پر سوال د استعلام لپاره وهو محال علی الله تعالی کمامر او دا آیت "ولنسئلنهم آه" محمول دی پر سوال د توبیخ، او بل ځواب عکرمه ؒ له ابن عباس ؓ څخه نقل کړی دی چې بغوي او خازن او نامورو مفسرینو ؒ هم راوړی دی چې جمع ددغو دوو آیتو یې په دې ډول کړې ده چې ورځ د قیامت ډېره طویله ورځ ده، او په دې ورځ کې ډېر مواقف ستونزمن دي په بعضې مواقفو کې سوال ځنې کېږي او په بعضې مواقفو کې سوال نه ځنې کېږي لکه په دې دوو آیتو کې هم ورته توفیق مفسرینو کړی دی یعنې قوله تعالی "هذا یوم لا ینطقون (ای الکفار) وقوله تعالی ثم انکم یوم القیامة عند ربکم تختصمون" یعنې دا دوه آیته هم پر اختلاف د مواقفو د اخرت محمول دي.

دروښ وایي: چې بغوي په خپل سند له امام بخاري ؒ څخه روایت کړی دی قال عدة اهل العلم یعني عن قول لا اله الا الله، روح البیان وایي چې ډېر اهل العلم پر دغه قول دي چې مراد کلمه توحید ده چې کلمه د نجات یې هم بولي. او کلمة الله العلیا هم ده او په صحیح حدیث کې راغلي دي چې که دا کملة التوحید په ورځ د قیامت په یوه پله کې د ترازو کښېښول سي او اووه اسمانونه او مځکې په بله پله کې د ترازو وضع سي کلمة التوحید به پر درنه وي، نو ځکه علما وایي چې په میزان د قیامت کلمة التوحید نه تلل کېږي الا لمن ارد الله مغفرته کما مروي في بعض الاخبار علامه مغربي وایي:

اگرچه آئینه داری از برای رخت ... ولی چه سود کند که داری همیشه آئینه تار
بیا بصیقل توحید زآئینه بردار ... غبار شریک که تا پاک گردد از زنگار

دروښ وایي: چې معتمد قول هم همدغه قول دی، ولي چې مثلاً د اوویا کالو مشرک چې دا کلمه توحید لسانًا وقلبًا وواصي او مثلاً یوه یا دوې ورځې ژوندی وي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بيا وفات سي دا شخص له اهل الجنة څخه دی مع انه لم يعمل كثير من عمل الخير.

دروښ وايي: چي روح المعاني وايي اخرج ابن جرير وغيره عن ابی العالية انه قال يعني في تفسير هذه الآية انه يسأل العباد كلهم (يعني مسلمانان او كافران) يوم القيامة عن خلتين (يعني له دوو خويونو څخه) عما كانوا يعبدون وعما اجابوا المرسلين" يعني د چا عبادت مو كاوه او رسولانو ته مو څه ځواب وركړی وَ. وايضًا في روح المعاني اخرج الترمذي وجماعة عن انس ﷺ عن النبي ﷺ قال يسئلون عن قول لا اله الا الله" او دا حديث بخاري په خپل تاريخ كي راوړی دی او ترمذي په بل سند له انس ﷺ څخه موقوف راوړی دی وروی هذا ايضًا عن ابن عمر ﷺ و مجاهد رح.

پوه سه: چي تفسير بحر العلوم د سوال د لا اله الا الله معنی داسي كړې ده يسئلون عن الوفاء بلا اله الا الله والتصديق لمقالها بالاعمال (يعني تصديق د ويلو ددې كلمه طيبه په عملو سره چي امتثال د اوامرو د خدای دي او انتها له منهياتو څخه.

دروښ وايي: چي پر دې تقدير سوال ته د ټولو اعمالو دا آيت شامل سو يعني "ولنسئلنهم الآية".

فائده: په وصف كي ربوبيت مضافًا الى الضمير الراجع الى النبي ﷺ اظهار د لطف دی په ده مبارک سره، او اعلام د خلگو دی په مرتبه عاليه سره دد مبارک عند الله ﷻ كما لا يخفى.

دروښ وايي: چي مظهري په تفصيل سره هغه حديثونه راوړي دي چي په هغو كي سوال د بعضو عملو د خير په ورځ د قيامت راغلی دی.

دروښ وايي: چي نقل د هغو حديثو په عربي او بيا يې ترجمه په پښتو كول دهر طويل دی لهذا ما صرف نظر كړه لپاره د مراعات د حال د خوانندگانو د تفسير ايوبي كه څوک اطلاع پر هغهو حديثو غواړي تفسير مظهري دي مطالعه كړي.

فائده مهمه: په كشف الظنون كي چي يو په زړه پوري معتبر او معتمد تاريخ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دی داسي يې ليکلي دي معالم التنزيل في التفسير للامام محي السنة ابی محمد حسين بن مسعود الفراً البغوي الشافعي المذهب المتوفي في سنة (٥١٦ھ)

پوه سه: چې ددې تاريخ له بيان څخه زما مقصد دادی چې که په مذهبي احکامو بغوي ؒ د حنيفيانو پر خلاف حديث روايت کړي د هغه حديث ځواب دي په کتابو کي د احنافو لکه فتح القدير د ابن الهمام او کتاب شرح معاني الآثار للفقيه ابو جعفر الطحاوي چې اعلم الناس په مذهب د ابو حنيفه رحمه الله علماؤ منلی دی، او يا په کتاب د بدر الدين العيني وغيرها کي دې ولټوي داسي دي نه کوي لکه مظهري رحمه الله چې په بعضې فقهي احکامو د بغوي رحمه الله په متابعت ميل و مذهب ته د شافعي رحمه الله وکړي کما شرحنا ذالک في بعض المواضع لان العلماً قالوا ان التلفيق بين المذاهب يعني متابعة بعض المذاهب في بعض الاحکام ومتابعة بعض آخر في بعض آخر لايجوز ومکروه اشد الکراهة.

فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ

ابن عباس رضي الله عنهما وايي چې دا امر دی و نبي عليه السلام ته. والمعنى اظهر ماتؤمر باظهار دعوة المشرکين الى الدين المبين. له عبدالله بن عبيده څخه مظهري ؒ روايت کړی دی چې عليه الصلوة والسلام ځان پټ ساته په دعوت کي يعني احتياط يې کاوه تر څو چې دا آيت نازلېدی "فاعلن هو و اصحابه الدعوة" بغوي وايي چې اخفش ؒ وايي چې د آيت معنا داده "افرق بين الحق والباطل" وقال السيبوية ؒ اقض بما تؤمر واصل الصدع الفرق. روح البيان وايي چې کلمه د ما موصوله ده عائد يې محذوف دی. والتقدير والمعنى فاجهر بما تؤمر به من الشرائع اى تکلم به جهاراً واظهره وبالفارسية پس اشکارا کن وبظاهر قيام نماى بآنچه به تو فرستاده اند از اوامر ونواهى يقال صدع بالحجة اذا تکلم جهاراً ماخوذ من الصديع وهو الفجر اى الصبح يعني لکه سپېدې چې راوچوي او روز روشن سي ستا دعوت دي ظاهر او روښانه وي. او په قاموس کي وايي الصدع الشق في شيئ صلب کالزجاجة وهذا المعنى ايضًا مناسب في هذا المقام فافهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَأَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِينَ ﴿٩٤﴾

او روی گرداني وکړه له مشرکانو څخه يعني باک مه کوه په ازار ددوی کما يدل عليه مابعده من الآية فلا معنى لماقيل انه منسوخ بآية القتال قاله البغوي ورده صاحب تفسير لباب التأويل چې تصنيف دی د امام علامه قدوة الامة وعلم الائمة ناصر الشريعة علاء الدين علي بن محمد بن ابراهيم البغدادي الصوفي چې په سنه (۷۲۵هـ) کې له تصنيف څخه فارغه سوی دی په دې الفاظو قال بعضهم ما للنسخ وجه لان معنى الاعراض ترک المبالات بهم والالتفات اليهم فلا يكون منسوخاً ص ٦٣.

إِنَّا كَفَيْنَاكَ الْمُسْتَهْزِئِينَ ﴿٩٥﴾

ما چاره وکړل ستا د پسخند وهونکو يعني دوی مي هلاک کړل او ته مي څنې خلاص کړې، نو دا آيت گويا دليل دی لقوله فاصدع بما تؤمر آه، والمعنى چې ته اظهار کوه د دين د اسلام او په اوامرو د خدای ﷻ او ته مه ببر ډره له هيڅ چا څخه غير ه تعالى، ولي خدای پاک ستا کافي دی له من عداک څخه کما کفاک المستهزئين قاله البغوي رح.

دروښ وايي: چې مستهزئين د عليه الصلوة والسلام او د مسلمانانو ېخې ډېر وه بلکې که څوک ووايي چې ټوله مشرکان د مکې وه دروغجن به نه وي لکن په قلت او کثرت کې د استهزا به يې البته فرق سره وي، په انسان العيون کې وايي چې اسود بن المطلب چې د عليه الصلوة والسلام د مامازوی هم وٴ چې مسلمانان د مکې به يې وليدل د پسخنده به يې ملګرو ته وويل دادي بادشاهان د مخکې او ميراث خواره د کسرىٰ او قيصر راغله، ولي مسلمانانو به زاړه ځيږه کالي اغوستي وه، لکن په دې آيت پينځه کسان مخور ډېر متکبرين ډېر په عليه الصلوة والسلام پسخند وهونکي مراد دي، دا په پينځه کې حصر نه دي، ولي ابوجهل، ابو لهب، عقبه، حکم بن العاص وغيرهم په دغو کې نسته، ددغو پينځو رئيسانو د قريشو ټومان دادي (۱) وليد بن المغيرة المخزومي دا ددغو پينځو کسانو مشر وٴ (۲)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

العاص بن وائل السهمي (۳) الاسود بن المطلب بن اسد بن عبد العزى (۴) الاسود بن عبد يغوث بن وهب بن عبد مناف بن زهره (۵) حارث بن قيس بن الضلالة.

دروښ وايي: چي توله مفسرين پر دغو نومورو متفق دي په سر کي محي السنة بغوي ؒ. لکن زه به د ټولو تفاسيرو خلاصه په لنډ ډول بيان کړم. راوي وايي چي دغو پينځو کسانو طواف کاوه جبرئيل علیه السلام راغلی خارج المطاف د عليه الصلوة والسلام څنګ ته ودرېدی او عليه الصلوة والسلام ته يې وويل چي د دغو پينځو کسانو د هلاک خبر په تفصيل تاته درو ښيم. (۱) نو جبرئيل علیه السلام اشاره وکړه و پنډی ته د وليد. نو هغه وُ چي وليد پر پو سري چي د خزاعه د قبيلې وُ چي هغه غشي جوړول تېرېدی او د وليد برد يماني پر وږوو وه او لنګ پسي څکېدی يو غشي د وليد په لنګ پوري بند سو. او ده هم وليدی له ډېره کبره او خياله ورته راکښته نسو چي غشی له لنګه ايسته کړي کرار کرار يې غشی له پنډی څخه مښتلی چي يو رګ يې زخمي سو وينه تر ايله سوه او وينه په هيڅ علاج نه درېدله چي ځني مړ سو (۲) عاص بن وائل السهمي چي تېرېدی جبرئيل علیه السلام اشاره وکړه د پښې لاندي ډب ځای ته راوي وايي چي عاص مذکوره پر اوښ سپور سو او دوه زامن يې ورسره وه صحرا ته راووتی د طبعيت ارائي لپاره، نو له اوښه چي کښته سو پر يوه ځوز (ازغي) وختی. ځوز يې د لاندي د خوا په پښه جګ سو. ده زامنو ته وويل ده زامنو ته وويل چي يو شي وخورم يعني لږم وغيره. زامنو چي يې وکتل ورته وه يې ويل چي هيڅ شی خوړنده نسته او پښه يې وږږسېدل حتی چي لکه اوښ غاړه يې دومره سوه. نو ځای پر ځای مړ سو. (۳) اسود بن المطلب چي تېرېدی جبرئيل علیه السلام اشاره وسترګو ته وکړل په دواړو سترګو ږوند سو، ابن عباس رضی الله عنهما وايي چي جبرئيل علیه السلام په يوه شنه بلګ پر سترګو وويشتی سترګي خو يې ورږندې کړې لکن دومره درد يې کاوه چي سر به يې له دېوالې وواهه له ډېره درده اخير مړ سو. او کلبي ؒ وايي چي د اسرې د يوې درختي په بېخ کي ناست وُ او دده مريی هم ورسره وُ، نو جبرئيل علیه السلام دده سر له درختي وواهه او مخ يې له ځوزانو سره. نو ده پر مريي ږغ وکړی چي د اځوک دی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې زما سر له درختي سره او مخ مې له ځوزانو سره جنګوي مریي ورته وویل چې هیڅ ځوک نسته ته یې په خپله جنګوې، نو ده ناري کړې قتلني رب محمد فمات (۴) اسود بن عبد یغوث چې تېرېدی جبرئیل علیه السلام د نبي کریم صلی الله علیه وسلم ځخه پوښتنه وکړه چې دا ځرنګه سړی دی؟ علیه الصلوة والسلام ورته وویل که څه هم دی زما ماما دی لکن ډېر بد سړی دی، نو جبرئیل علیه السلام یې اشاره و نس ته وکړه نو د استسقاً مرض ورپېښ سو او مړ سو (۵) بیا حارث بن قیس تېرېدی جبرئیل علیه السلام یې اشاره و سر ته وکړه، نو تر پنډه یې نوونه رابهېدل حتی مات. دا ؤ بیان او تفصیل او تفسیر ددې قول د خدای عزوجل "انا کفیناک المستهزئین".

دروېش وایي: چې دغه بیان د دغو تفاسیرو حاصل ما رانقل کړی، روح المعاني، تفسیر بغوي، تفسیر خازن، تفسیر قرطبي، تفسیر مظهري، تفسیر رازي او تفسیر روح البیان، لکن روح البیان دا خبره کړې ده چې نومورې کسان په یوه ورځ مړه سوه بل مفسر دا خبره نه ده کړې.

شکایت: د دروېش حاسدان صرف په نامه ملایان دا وایي چې عبید الله له کتابو ځخه خبري غلا کوي. فقیر وایي که دا نقل له کتابو ځخه تاسي غلا بولئ نو دا نقل خو له عصر نبوي او له صحابه وو او تابعینو او تبع تابعینو وهلم جرا را شروع دی الی یومنا. فقیر و حاسد ته وایي چې ته هم مېړه سه ورته غلاوي وکړه چې خلګ آفرین درته ووایي ..... بیت:

چشم بد اندیش که برکنده باد ..... عیب نماید هنرش درنظر

الَّذِينَ يَجْعَلُونَ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ ۚ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ﴿٩٦﴾

هغه مستهزئین چې ګرځوي د خدای سره بل معبود "یعني خدای علیه السلام ته شریک بلکې شریکان وایي یعني الاصنام" ژر دی چې دوی به خبر سي په عاقبة الامر خپل یعني في الدنیا والآخرة.

وَلَقَدْ نَعْلَمُ أَنَّكَ يَضِيقُ صَدْرُكَ بِمَا يَقُولُونَ ﴿٩٧﴾

لام موطئه د قسم محذوف دی یعني والله په تحقیق موږ خبر یو چې ستا سینه تنګېږي په هغو خبرو چې مشرکان یې کوي من الشرک والطعن في القرآن وبما

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یقولون لک شاعره او کاهن او مجنون او مفتر إلی غیر اقوال الاستهزاً بک وبالمؤمنین.

فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ

نو ته په تسبیح سره د حمد ځان مشغول کړه چي ددې په برکت سره به دې د زړه غیظ او غصه کمه سي او خدای پاک به ستا د دښمنانو کفایت وکړي حتی ستا زړه به په دوی سوړ سي. او ابن عباس ﷺ وایي چي مراد له سبح بحمد ربک ځخه لمونځ دي تعبیراً عن الکل بالجزء. ولي چي لمونځ مشتمل دی پر الحمدلله او پر تسبیحاتو د رکوع او سجدې.

دروښ وایي: چي دا قول د ابن عباس ﷺ موافق دی د هغه حدیث سره چي بخاري او نورو محدثینو یې روایت کړی دی چي آنحضرت ﷺ چي به یو کار غمجن کړی افتزع الی الصلوة، پناه به یې لمانځه ته وروړه یعني نفلي لمونځ به یې وکړی او هغه غم به یې له زړه ځخه لېرې سو.

وَكُنْ مِّنَ السّٰجِدِيْنَ ۙ

او وګرځه له ساجدینو ځخه، مظهري رح وایي من المتواضعین. او ضحاک رح وایي کن من المصلین بذکر الجزء واراد الکل، روح المعاني په نقل له بل ځخه وایي چي دا جزء د لمانځه یعني سجده افضله د اجزاؤ د لمانځه دي، ولي چي په صحیح حدیث کي راغلي دي اقرب ما یکون العبد من ربه اذا کان ساجداً، یعني هغه ډېر ښه وخت د قرب د بنده و خدای ﷻ ته دادی چي بنده پر سجده وي، چي مراد لمونځ سي، نو له دې سببه علیه الصلوة والسلام وایي "وجعلت قرة عیني في الصلوة" ګرځول سوې ده خنکتیا (سوړ والی) د سترګو زما په لمانځه کي، د سترګو له خنکتیا ځخه ډېره خوشالي مراد ده، وهذا محاورة عربیة شائعة او دا حدیث صحیح دی بخاري او مسلم او نورو یې روایت کړی دی لکن فقیر مختصر کړی د مقام په مناسبت.

وَاعْبُدْ رَبَّكَ حَتّٰى يَاْتِيَكَ الْيَقِيْنُ ۝

دوام پر عبادت وکړه تر څو چي تا ته راځي یقین یعني امر متیقن چي موت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دی وهذا التفسير هو المروي عن ابن عمر والحسن وقتادة وابن زيد ﷺ. مرګ ته يقين په دې وايي په هر ژوندي پوري لحوق دده متيقن دی. او ابن بحر وايي چې مراد د يقين څخه نصرت دی پر کافرانو چې خدای ﷻ يې د عليه الصلوة والسلام سره وعده کړې وه، بغوي رح په خپل سند له جبير بن نضر ﷺ څخه روايت کړی دی چې عليه الصلوة والسلام وويل چې ماته داسې وحي نه دي کړل سوي چې زه مال جمع کړم "واكون من التاجرين بل اوحي الي فسبح بحمد ربک وكن من الساجدين واعبد ربک حتى ياتيک اليقين".

فائده: بعض علماً وايي چې "وكن من الساجدين" د سجدې آيت دی لکن جمهور اهل المذاهب الاربعة والقراً السبعة رحمهم الله وايي چې دا آيت د سجده تلاوت نه دی. په روح المعاني (ص۸۷) کې ددې آيت په تفسير کې وايي چې بعض ملحدين يعني بې دينه کسان چې ځانونه صوفيان بولي وايي چې مراد له "حتى ياتيک اليقين" څخه کشف او شهود دی د خدای پاک، دوی وايي چې بنده چې و درجې ته د کشف او شهود ورسېږي تکليف الهي يعني په هيڅ عبادت مکلف نه دی، ولي چې عبادت خو د اهل حجاب والاوو لپاره دی يعني چې د خدای او ددوی تر منځ حجاب وي. روح المعاني وايي چې په دې خبره دوی له دين اسلام څخه وتلي دي او د دين محمدي ﷺ خلګ نه دي.

دروېش وايي: چې روح المعاني ددې مذهب په رد کې ډېرې وړې خبرې کړې دي ان شئت فطالعه.

فائده: حب د خدای او د رسول د خدای چې غالب سي پر چا باندې هغه تر هر نعمت چې په وخت د کفر يې درلودی تر هغه تېرېږي د مثال په توګه، له حضرت عمر ﷺ څخه روايت دی چې رسول کريم ﷺ و مصعب بن عمير ﷺ ته وکتل چې دی راروان ؤ او د نر پسه پوست يعني وروسته تر پخهدلو د قميص پر ځای يې اغوستی ؤ او هغه پر تنګ ؤ، نو رسول الله ﷺ وويل "انظروا الى هذا" و ګورئ د مصعب ته "الذي قد نور الله قلبه" چې خدای پاک يې زړه روښانه کړی دی يعني بنور الايمان وحب الله ورسوله لقد رئيته بين ابويه" ما دی ليدلی ؤ د مور او پلار

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سره يعني په وخت کي د کفر چي هغو به ده ته غذا او نفقه ورکوله باطيب الطعام والشراب ولقد رئيت عليه حلة شراها سأتي درهم" او ما ليدلي وه پر ده حله يعني قميص او پر توګ چي مور او پلار ده ته رانيولي وه په دوه سوه درهمه "فدعاه حب الله وحب رسوله الى ماترونه" نو محبت د خداى پاک او حب د رسول الله يعني چي مسلمان سو، ودغه حال چي تاسي يې وينئ فرضى الله تعالى عنه.

دروښ وايي: چي تفسير د سورة الحجر په توفيق د خداى ﷻ لهذا العبد الجهول العاصي پر پينځه بجې د ورځي د پنجشنبې د مبارکې مياشتي د روژې پر پينځه ويشتمه نېټه (١٤٢٩ هـ ق) وپاى ته ورسېدى. اوس تفسير د سورة النحل شروع کېږي ان شاء الله تعالى.

اللهم وفقني لتفسير سورة النحل بملئ طريق الا سداد بالصحة والسلامة والعافية واجعله خيراً باقياً الى يوم القيامة ..... بيت:

الهى يا الهى ..... ندارم جز اميدت تكيه گاهى



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سُوْرَةُ النَّحْلِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ مِائَةٌ وَثَمَانٍ وَعِشْرُوْنَ وَمِائَتَانِ وَسَبْعَ عَشْرَةَ رُكُوْعًا

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَتٰۤى اَمْرُ اللّٰهِ فَلَا تَسْتَعْجِلُوْهُ ؕ

راغلی یعني نژدې سو، نو "اتیان" مجاز دی له قرب څخه، ابن عرفطه وایي چې عرب وایي اتاک الامر فلانی کار راغلی او هغه کار متوقع وي هنوز راغلی نه وي.

دروښ وایي: چې په پښتو کې هم ورته مجاز سته، ولي پښتانه وایي چې د برات میاشت را نوې سي دوی وایي چې روژه مبارکه راغله او سره ددې چې تر روژې پورې ډېرې ورځې پاتې وي، نو مراد ددوی دادی چې رانژدې سوه، او یا "آتی" مجاز دی د وجوب الوقوع څخه. ولي هغه شی چې واجب الوقوع وي که څه هم په مستقبل کې بمنزلة الواقع في الماضي لکونه متیقن وجوده.

پوه سه: چې مراد له امر الله څخه قیام د قیامت چې موعود ده، قاله الکلبي رح، نو مراد داده چې د قیامت په راتلو سره یقین وکړي او شک نه پکښې وکړي او ځانونه ورته جمتو کړي بالایمان والاعمال الصالحة او په راتلو کې تلوار مه کوئ چې صبا وبل صبا به وي، ولي په تلوار ستاسي د کفارو فائده نسته، بغوي وایي چې ابن عباس رضی الله عنهما وایي چې دا آیت چې نازل سو "اقتربت الساعة" مشرکانو د مکې یو وبل ته سره وویل چې دا سړی یعني محمد وایي چې قیامت نژدې سو نو تاسي له خپلو بدو کارو څخه صبر وکړئ چې وګورو چې څه پېښېږي نو چې قیامت نه راغلي نو دوی سره وویل مانری مما تخوفنا به بیرته یې خپلو کارو ته دوام ورکړی، بیا دا آیت نازل سو "اقترب للناس حسابهم" نژدې سو و خلګو ته وخت د حساب چې بیا مراد ځني قیامت دی بیا کفارو وپرېدل، بیا چې ډېرې ورځې تېرې سوې قیامت نه سو قائم، نو دوی و علیه الصلوة والسلام ته وویل یا محمد ما نری شیئًا مما تخوفنا به بیا چې دا آیت نازل سو "اتی امر الله" علیه الصلوة والسلام ځني ولاړ سو او خلګو یعني مشرکانو سرونه پورته کړه او ددوی دا خیال سو چې قیامت حقیقةً راغلی، نو دا کلمه نازله سوه "فلا تستعجلوه" دومره تلوار مه کوئ، نو خلګ مطمئن سوه چې هیڅ نسته.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي استعجال طلب د شي دی دمخه تر وخت. بغوي رح وايي چي ابن عباس رضي الله عنهما چي رسالت د نبي عليه السلام يو له علاماتو څخه د قرب القيامة دی په حديث شريف کي راغلي دي چي جبرئيل عليه السلام چي ملکو ته د اسمانو وويل چي محمد صلى الله عليه وسلم مبعوث سو، ملکو وويل الله اکبر قامت الساعة ولهذا ورد في الحديث الصحيح الذي رواه المستور بن شداد عن النبي صلى الله عليه وسلم قال بعثت في نفس الساعة فسبقتها كما سبقت هذه هذه واشار باصبعيه السبابة والوسطى. زه خدای پاک را واستولم په ساه کښوکي د قيامت زه تر دمخه سوم لکه سبابه گوته چي د منځ تر گوته دمخه ده.

دروښ وايي: چي بعض اقوام وايي چي مراد په دې آيت عقوبت د مکذبين دی په دې دنيا بالسيف ولي چي نضر بن الحارث به ويله اللهم ان كان هذا هو الحق اى الدعوة الى التوحيد فامطر علينا حجارة من السماء. ولي مورږ توحيد د خدای نه منو او دين د اسلام هم نه منو، نو که دا حق وي مورږ ته عذاب د رجم الحجارة راکړې فنزلت هذه الآية وقتل النضر يوم بدر صبراً (يعني نه په جنګ کي بلکې ژوندی يې ونيوی مړ يې کړی وهذا هو معنى قتل الصبر)

فقير وايي چي دا شان نزول ضعيف دی او د جمهورو محدثينو خلاف دی لکه دمخه چي تېره سوه البته تفسير بحر العلوم يې شان نزول عام بولي يعني عذاب الدنيا بالسيف وقيام الساعة.

سوال: دا سورت خو اکثره مکي دی والعذاب بالسيف كان في بدر وهو بعد الهجرة؟

خواب: لما كان نصر النبي صلى الله عليه وسلم عن اعدائه سواً كان في بدر او في غيره من المغازي موعوداً كان آتياً فصح اتى امر الله بمعنى قرب فافهم.

سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ۝

پاک دی خدای جل جلاله له شريک څخه او له عجز څخه او له تولو هغو اوصافو څخه چي منافي د الوهيت سره وي اولوړ دی په اوصافو جليله وو سره تر هغه چي مشرکان يې خدای ته نسبت کوي من ان اصنامهم شركائه تعالى في العبادة قاتلهم الله انى يؤفكون.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې ټوله اهل نقل او عقل پر دې متفق دي چې اصل د "سبحنه اسبح الله سبحانًا" وو والمعنى زه تنزيه او پاکي د ټولو عيوبو او نقائصو وايم خدای ﷻ لره يعني قلبًا ولسانًا، وروسته چونکه تسبيح د خدای ﷻ کثير الاستعمال وه نو د تخفيف مقتضی وه، نو فعل او فاعل يعني اسبح يې حذف کړی او مفعول مطلق يعني سبحانًا يې مضاف کړی و مفعول ته چې ضمير راجع دی و خدای ﷻ ته او په معنی کې د ټولې جملې يې ودراوه، وروسته تر اضافت د "سبحانه" ضمير ته اظهار د فعل روا نه دی يعني داسې نه ده روا اسبح سبحانه علی في الرضی شرح الكافية وغيره من كتب النحو ودليل عدم جواز الاظهار مذكور هنالک.

يُنَزِّلُ الْمَلٰٓئِكَةَ بِالرُّوْحِ مِنْ اَمْرِهٖ عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖٓ

نازلوي يعنې را استوي له اسمان څخه ملکي (يعنې جبرئيل، فالجمع للتعظيم) په وحي يا په قرآن سره، وقرآن ته يې روح ووېل په دې سبب چې قرآن روح دی ژوندي کوي هغه مړه زړونه په کفر او جهل سره له امر څخه د خدای ﷻ (نو من اجلي دی يعني من اجل امره) و هغه چا ته چې د خدای ورته اراده سې له بنده ګانو څخه دده، ولې چې استعداد او تحمل د اثقالو د نبوت خدای ﷻ ته معلوم دی.

دروښ وايي: چې قريشو به ويل لولا انزل القرآن على رجل من القريتين عظيم يعنې وليد بن مغيره په مکه کې او مسعود بن عمرو الثقفي په طائف کې، نو خدای پاک په دې آيت کې پر دوی رد وکړی يعنې چې نبوت او وحي الهي په جاه وجلال پورې د دنيا اړه نه لري بلکې په جاه وجلال سره د زړه اړه لري.

اَنْ اَنْذِرُوْٓا اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا فَاتَّقُوْنِ ۝۲

چې خلګ يعنې مشرکان وبېروي له عذاب څخه د خدای پاک (نو مفعول د "انذروا" محذوف دی او دمخه تر "ان" باجاره مقدر دی ای بان) شان دادی چې نسته مستحق د عبادت بېله ما نو له ما څخه وبېرېږئ چې ماته شريک وا ياست.

پوښتنه: انذروا خو امر دی رسولانو ته او "انه لا اله الخ" خو قول د خدای ﷻ دی او مخاطبه د خدای په څېله ده فکيف الربط بينهما؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خواب: بعض مفسرانو په دې الفاظو اشاره وجواب ته د مذکوره سوال رجوع الی مخاطبتهم، والحاصل چې خدای ﷻ دمخه په اسم ظاهر یا ضمیر غائب سره خبري کولې اوس یې کفار په خپله تر خطاب لاندې راوستل فافهم.

او بعض مفسرینو تر "انه" دمخه "واعلموا" مقدر بولي ای واعلموا ان لا اله الا انا فاتقون ..... بیت:

مرا بندگی کن که دارا منم.... تو از بندگانی و مولا منم
قهار بی منازع و غفار بی ملال.... دیان بی معادل وسلطان بی سپاه
باغیر او اضافت شاهی بود چنانکه .... بریک دوچوب پاره زشطرنج نام شاه

خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ تَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ۝

پیدا کړي دي خدای (ﷻ) اسمانونه او مځکه متلبس په حق سره یعني الدلالة علی وجود الصانع وقدرته کمال القدرة و حکمته، خدای پاک لوړ دی په رتبه کې چې متصف په وجوب الوجود او قدرت تامه او علم کامل وغیرها من الصفات الجلالیة والجمالیة سره دی تر هغو شیانو چې دوی یې د خدای سره شریک کوي په عبادت کې چې بتان دي لانها في ادنی درجة من الامکان الخاص وهي الجمادیة

خَلَقَ الْاِنْسَانَ مِنْ نُّطْفَةٍ

خدای پیدا کړي دي انسانان یعني عمومي انسانان له نطفې څخه یعني د پلار او مور چې په رحم کې د مور سره یو ځای سي، او نطفه ذاتًا جماد شی دی لاحس ولا حرکة ارادي لها حتی چې سیال ده، او خپل شکل او وضع هم نسي سنبالولای خیر رفته رفته ذي روح وګرځي دی او د رحم له تنګتیا څخه عالم الارض ته راغلی سره د کمال ضعف او ناوسی ثم وثم.

فَاِذَا هُوَ خَصِيْمٌ مُّبِيْنٌ ۝

نو ناګاه دغه انسان مخلوق من النطفة چې قوي سو، والمراد الکافر منه خصومت کوي د رسولانو سره په وحدت او قدرت کې د خدای ﷻ علی البعث بعد الموت بنکاره او بر ملا خصومت حتی چې وایي "من یحی العظام وهي رمیم" او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خلق اول ته خپل نه ګوري چي من ماء النطفة پيدا سوي دي، بغوي ؒ چي تفسير يې پر هامش د تفسير خازن موجود دی وايي چي دا آيت په ابی بن خلف الجمعي کي نازل سوی دی چي هغه د بعث بعد الموت څخه لکه نور مشرکان منکروؤ، نو ده يو خت زور او وروسته هډوکی پيدا کړی. نو عليه الصلوة والسلام ته يې وويل اتقول ان الله يحی هذا بعد مارم، ونزل فيه ايضاً وضرب لنا مثلاً ونسي خلقه، والحاصل چي دغه منکر جاهل په دې نه پوهيږي چي دی خدای ﷻ عالم الوجود ته د نطفې له نازک حالت څخه راوستلی دی. نو بيا دی ولي بعيده بولي خلقت مرةٍ اخری او سره ددې چي دی خاوري سي بيا هم خاوري خو تر نطفې په استحکام کي بالا دي.

فائده: دا آيت که څه هم مورد يې خاص دی يعني ابی بن خلف لکن حکم يې عام دی، ولي چي تولې ډلې د مشرکانو د ابی بن خلف همنوا دي.

وَالْأَنْعَامَ خَلَقَهَا ۗ لَكُمْ فِيهَا دِفْءٌ وَمَنَافِعُ وَمِنْهَا تَأْكُلُونَ ۝

پوه سه: چي مراد له "انعام" څخه اوښان، غوايي، پسونه او بزې دي. دا معنا نه ده چي مطلق پر څلورو پښو ګرځي لکه بعض امامان چي وايي چهارپايان. ولي چي تولې مردار خواره خو چارپايان دي که څه هم خالق د هغو خدای ﷻ دی لکن دا مقام د امتنان دی والامتنان بهؤلاء.

پوه سه: چي انعام منصوب دی علی شريطة التفسير يعني په وروسته خلقها سره. "خلقها" پيدا کړي يې دي ستاسي د فائدې لپاره چي تفصيل د فوائدو يې دادی، تاسي لره په دغو انعامو کي "دفء" ستة، په قاموس کي وايي چي "دفء" د تېز يخ ضد ته وايي يعني تاسي ځانونه په تودوئ يعني په اوبارو سره د بعضو (اوبار د اوښانو وړيو ته وايي چي مفرد يې وبر دی) او په اصوافو سره د بعضو چي مفرد يې صوف دی د پسو وړيو ته وايي، او په اشعارو سره د بعضو چي مفرد يې شعر دی د بزو وجغونو ته وايي، يعني خپمې کپړې څني جوړوئ او داغه رنګه تلتکان نيالی بلکې د اغوستلو کالي وغير ذالک "ومنافع" او نوري فائدې لکه سپرتيا پر اوښانو او پر غويو کوئ او غوبل کول او شيدې او نسل، او پر اوښانو سپرتيا د دوو درو کسانو او بارونه پر وړل او خرڅول نقود لاس ته راوړل الی غير

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ذالک "ومنها تاکلون" او د دغو انعامو څخه تاسي خورک کوئ یعني د هغو اجزاو ددوی چي خوړل کېږي لکه غوښي د تولو او وازګي د تولو او شیدې د تولو.

فائده: "منها" چي متعلق په "یاکلون" پوري دی تر مقدم یې کړی لپاره د موافقت د اواخرو د آیتو چي قرأ یې رؤس الآی بولي، او یا لپاره د حصر یعني عادةً چي غوښي خوړل کېږي د دغو انعامو او د چرګ غوښي یا د کوتري غوښي یا د نورو مرغانو غوښي به یا د دوا په توګه وي او یا د مېلې لپاره.

مسئله: ددغو انعامو جامې یا پوستینان یا چپنې څو بالاجماع روا دي، او د ګیدړو یا د بل حیوان چي غوښي یې مردار وي وروسته تر دباغت یې هم پوستین او هم د لمانځه مصلی څنې جوړل روا دی، او د امام شافعي رح په نېږد درندګانو له پوسته چپنه یا مصلی جوړل مکروه دی لکه لېوه، پرانګ، زمری وغیره، په حدیث مبارک کي راغلي دي چي علیه الصلوة والسلام یوه چپنه درلودل د "فنک" د پوست چي په اختر و کي به یې اغوستل، په قاموس کي وایي چي "فنک" بالتحریک اسم دابة وفروتها اطیب انواع الفر واشرفها واعدلها صالح لجمیع الامزجة المعتدلة انتهی.

مسئله: په خوراکي حیواناتو کي ذیل الذکر شیان حرام دي (۱) قبل (۲) دبر (۳) ذکر (۴) خټتین (۵) مرارة (۶) مثانه (۷) عظم (۸) دم مسفوح (۹) غدة مراره تریخی، مثانه سپو څخه، مسفوح جاري وینه بخلاف ما في اللحم فانه غیر حرام، غدة مرغۍ.

وَلَكُمْ فِيهَا جَمَالٌ حِينَ تُرِيحُونَ وَحِينَ تَسْرَحُونَ ۝

او تاسي لره په انعامو کي ښائست او زینت دی په هغه وخت چي تاسي د غه انعام راولئ له څرۍ ځایو څخه و کورو ته خپل او په هغه وخت کي چي تاسي یې باسئ له کورو څخه د څرۍ ځایو پر خوا.

تجربه: مالدارانو ته په تجربه دا ثابته ده چي د اوښانو ګله یا د غویو ګورم یا د مېږو او بزو رمه چي راځي یا له کوره وځي او دوی یې وینې نهایته لویه خوشالي او فرحت ددوی په زړو کي پیدا کېږي او کور دوی ته په دغه دوه وخته کي د هر زېبا او قشنګ برېښي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نکته: "اراحة" یې تر "سرح" دمخه کړی که څه هم په وجود کې "اراحة" تر "سرح" وروسته دی کما هو التجربة له دې سببه چې جمال په اراحة کې دهر دی تر سرح ولي انعام چې مابنام کورته راځي نسونه یې ښه ډک وي پوښتنې یې پورته وي غلانځي یې له شیدو ډکې وي.

وَتَحْمِلُ أَثْقَالَكُمْ إِلَىٰ بَلَدٍ لَّمْ تَكُونُوا بَالِغِيهِ إِلَّا بِشِقِّ الْأَنفُسِ ۚ إِنَّ رَبَّكُمْ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿٧﴾

او وړي دغه انعام (یعني انعام چې صالح د حمل وي) درانه بارونه ستاسي ویو لېرې بنار او وطن ته چې تاسي په خپله یعني پر پښو نسوای رسېدلای و هغه بلد ته مګر چې دېر مشقت او تکلیف دي پر ځان تېر کړی نه وای فضل تر دې چې اثقال به دي په شا هغه بلد ته رسولای. په تحقیق ستاسي رب مهربان دی چې تاسي ته یې وسائل د حمل و نقل انعام درکړي دي.

وَالْخَيْلَ وَالْبِغَالَ وَالْحَمِيرَ لِتَرْكَبُوهَا وَزِينَةً ۚ

عطف دی پر انعام یعني خداک پیدا کړی دی اسان او غاطري او خره ددې فائدې لپاره چې تاسي پر سپرېږئ یو خوا ته چې ځئ، او بل لپاره د زینت خصوصاً الخیل.

دروښ وایي: چې د زمان نزول القرآن زینت هم دغه حیوانات وه څم وڅم حتی چې د زینت نور شیان پیدا کېدله لکه سائیکل، موټر سائیکل. قسم قسم موټران د سپرتیا کم قیمته او درمیانه او د ډېري بیې، او داغه رنګه د حمل او نقل لپاره نوي وسائل پیدا سوه لکه باروړونکي لوی او کوچني موټران لکه چې موږ یې وینو.

فائده: "ترکبوا" یې په صیغه د فعل راوړی او "زینت" یې په اسم، حکمت دادی چې رکوب فعل اختیاري د بندګانو دی او زینت فعل د خالق دی.

فصل: په دغه آیت سره دلیل وایي هغه آئمه چې د استنانو غوښې حرامي بولي او د بغال او حمیر غوښې حرامي بالاتفاق دي او هغه روایت چې بغوي راوړی دی له خالد بن ولید څخه روایت دی چې علیه الصلوة والسلام د آس، غاطرې او خره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

غوښي خوړلي دي، بغوي ؒ فقط دغه ويلي دي و اسناده ضعيف.

دروښ وايي: چي اسناد يې ښځي هيڅ شی نه دی ولي چي د صحيح احاديثو د بخاري وغيره مخالف دی چي په هغو کي راغلي دي کانوا ياکلون لحوم الخيل علی عهد رسول الله ﷺ ونهی عن لحوم البغال والحمير. او دا حديث بغوي هم په خپل سند سره راوړی دی.

پوه سه: چي تحريم د غوښو د آسانو قول د ابن عباس ؓ دی او ده په استدلال کي دغه آيت راوړی دی او ابن عباس ؓ ويلي دي هذه للرکوب. واليه ذهب الحکم، ومالک وابو حنيفه ؒ دوی وايي چي منفعت د خورک اعظم دی تر منفت د سپرتيا لان الاحتياج الی الاکل اکثر من الاحتياج الی الرکوب کما لايخفی، نو چي خدای پاک منفعت د رکوب ذکر کړی او منفت د اکل يې نه کړی ذکر، نو دا معلومه سوه چي خوراک يې حرام دی، ولي که يې اکل روا وای نو هغه اولی بالذکر وؤ، ولي خدای پاک په انعامو کي وويل ومنها تاکلون" او اسان يې په رکوب سره خاص کړل، نو موږ په دې پوه سوو چي آسان درکوب لپاره دي نه د خورک لپاره، او يو جماعت د اهل علم ودې ته تللی دی چي غوښي دآسانو مباح دي وهو قول الحسن البصري وشريح و عطاً وسعيد بن جبير واليه ذهب الامام الشافعي و احمد واسحق ؒ دوی پر اباحت د لحوم الخيل هغه حديث ذکر کوي چي د اسماً بنت ابی بکر ؓ څخه روايت دی "قال نحرنا علی عهد رسول الله ﷺ فرسًا فاکلناه" او په بل روايت "قالت ذبحنا علی عهد رسول الله ﷺ فرسًا ونحن بالمدينة فاکلناه اخرجه البخاري ومسلم.

او له حضرت جابر ؓ څخه روايت دی "نهی رسول الله ﷺ عن لحوم الحمر الاهلية (د اهليه په قيد سره هغه د غرو پسونه چي پر شکل د خرو دي چي په فارسي يې گور خر بولي وه ايستل) واذن في الخيل، وفي رواية قال اکلنا زمن خيبر لحوم الخيل وحمر الوحش" موږ وخوړلي په وخت کي د خيبر د غزا غوښي د اسانو او د وحشي خرو چي دمخه ذکر سوه "ونهی رسول الله ﷺ عن الحمار الاهلي" هذه رواية بخاري ومسلم، وفي رواية ابی داؤد قال يعني جابر ؓ ذبحنا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یوم خیبر الخیل والبغال والحمیر وکنا اصابتنا مخمصة یعني حالت د ډېرې لوږې ؤچې میتة اکل پکښې روا دی. جابر ﷺ وایي چې وروسته بیا علیه الصلوة والسلام موږ د غاطرو او خرو د غوښو خوړلو څخه نهي کړو "ولم ینهنا عن لحوم الخیل" او هغه کسان چې د آسانو غوښې حلالې بولي د دغه آیت چې پکښې رکوب او زینت ذکر سوی دی او اکل نه دی ذکر سوی ځواب داسي ورکوي بان ذکر الرکوب والزینة پر دې دلالت نه کوي چې د اسانو منفعت حصر په دغو دوو کې دی بلکې ددې لپاره دی چې لوی مقصود په آسانو کې سپرتیا ده کمالا یخفی، دوی وایي چې له دې سببه چې مقصود آه منفعت د حمل الاثقال یې په اسانو کې نه دی ذکر کړی او سره ددې چې اسان خو هم د حمل الاثقال قابل دي. او په انعام کې یې وتحمل اثقالکم ذکر کړی، او بغوي ؒ وایي چې په دې آیت کې مراد تحلیل او تحریم نه دی بلکې په دې آیت کې مقصود بنوونه د خدای ﷻ ده بندګانو ته خپل نعمتونه خپل پر دوی او تنبیه ده پر کمال قدرت او حکمت خپل.

دروښ وایي: چې دا ؤ تفصیل او بیان د تحلیل او تحریم د غوښو د آسانو.

فائده: په هر ځای کې چې پښتانه اوسیږي د آس غوښې نه خوړل کیږي، په کوټه کې بلکې په ټول بلوچستان کې او په جنوبي افغانستان کې د آس د غوښو د خوړلو هیڅ اثر نسته. البته په شمالي افغانستان کې بعض ځایونه د آس غوښې خوري.

فوائد شتی: (۱) خدای ﷻ احسان اچولی دی په څلورو حیواناتو "اوښ، غویی، پسه او بزه، او علیه الصلوة والسلام پر دغو اوښانو سپور سوی دی "الناقة القصوی" چې د غوږ یو طرف یې پرې ؤ "الجدعاء" چې یو غوږ یې یکلخته پرې ؤ "والعضباء" چې یو غوږ یې چاک ؤ، په دې اوښانو کې یو عضباء اوښه ده چې هیڅ اوښ نسوای پر دمخه کېدلای، یو اعرابي پر یوه اوښه باندې راغلی چې تر عضباء پر څغاسته کې دمخه سو، پر مسلمانانو دا دمخه والی سخت واقع سو: نو علیه الصلوة والسلام ورته وویل "ان حقًا علی الله ان لا یرفع شیئًا من الدنیا الا وضعه" په تحقیق حق دی پر خدای ﷻ چې یو شی له دنیا څخه نه پورته کوي مګر ښکته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يې کښته کوي، او دا هغه اوښه ده چې د علیه الصلوة والسلام تر وفات وروسته يې نه شی خوړی او نه يې اوبه څيښلې حتی ماتت.

دروښ وايي: چې دا تاثیر وُد فراق د علیه الصلوة والسلام پر يو حيوان چې دی مبارک به پر سپرېدی فماکان احوال الصحابة ﷺ الله اعلم بذالک، په حيوة الحيوان کې وايي چې د اوښ وړې وسوځي او پر هغه ټپ يې واچوي چې وينه يې نه درېږي. نو وينه به يې ودرېږي، او د اوښ د غوښو خوړل قوت د جماع زياتوي.

(۲) بقر په حدیث کې نه دی ذکر سوی چې د ساتنې لپاره دې علیه الصلوة والسلام مالک سوی وي، البته په حدیث کې د بخاري راغلي دي چې آن حضرت ﷺ اضحیه وکړل د ازواجو مطهراتو ﷺ له خوا په بقر سره او په حدیث صحیح کې راغلي دي "علیکم بالبان البقر واسمانها وایاکم ولحومها کان البانها واسمانها دواء ولحومخا داء (تاسي لازم وګرځوئ شدې د غوا او غوړي د غوا او ځان ساتئ له غوښو څخه يې. ولي چې شیدې او غوړي دوا ده او غوښې يې ناجوړي دي.

پوښتنه: که د غوايي غوښه مرض وي نو ولي علیه الصلوة والسلام له ازواجو مطهراتو ﷺ له خوا اضحیه په کول؟

ځواب: حلیمي ؒ وايي چې دا حدیث مبني دی پر دې چې د حجاز هوا يابس ده او د بقر غوښې هم يابسې دي، نو ځکه په حجاز کې د غوښو خوړل دا ده او شیدې او غوړي يې رطب دي فيناسب هوا الحجاز لانه يدفع يبس هوا الحجاز برطوبة البان البقرة واسمانها انتهى.

دروښ وايي: چې اعتبار د غوښو د بقر دا او مرض او په اضحیه کې خو يې هر چاته په يوه کتو ور رسېدلي وي

(۳) له ابو هریره ﷺ څخه روایت دی چې علیه الصلوة والسلام شتمنو خلګو ته امر وکړی چې پسونه او مېږي رانسي يعني د شیدو او غوړو او وړيو لپاره او د نس لپاره، او فقراؤ ته يې وويله چې تاسي چرګانې رانسئ د نسل او هګيو لپاره وقال الدجاج غنم الفقرا من امتي والجمعة حج لها، وفي حدیث آخر اتخذوا الغنم فانها برکة.

تنبیه: برکت د غنم دادی چې مېږه يا بزه په کال کې يو وار لنګېږي او هغه هم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

غالباً يو بچی راوړي او په قصابو کي د ورځي په زرهاو ذبح کېږي او هيڅ کمی نه پکښي راځي بخلاف السباع مثلاً پشي هغه درې څلور پينځه بچيان راوړي که څه هم څوک يې خوري نه ډېر نه ليدل کېږي په يوه کور کي يوه يا دوې پشياني وي.

(۴) عليه الصلوة والسلام سل پسونه او اووه بزې درلودې چې ام ايمن به ورپېولې.

(۵) خيل يعني آس، تاريخ وايي چې اول چې پر آس سپور سوی اسماعيل عليه السلام دی، د اسماعيل عليه السلام دمخه آسان وحشي وه خدای جل جلاله و اسماعيل عليه السلام ته مسخر کړل، وقصة تسخيرها لاسماعيل عليه السلام د سورت بقره په تفسير کي تېره سوه، وفي الحديث "اركبوا الخيل فانها ميراث ابيكم اسماعيل" او له انس خادم رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روايت دی "لم يكن شيئ احب اليه بعد النسآ من الخيل" او عليه الصلوة والسلام پر اوو آسانو سپور سوی دی.

(٦) البغال جمع بغل وهو مركب من الفرس والحمار، په يوه روايت کي راغلي دي چې د بغل ترکيب د فرس او حمار څخه اول قارون کړی وهذا مردود ولي د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دی چې د غاطرو تناسل ؤ لکن دوی اسرع د دواب وي چې لرگي او بوتې يې د نمرود اورته وړل چې د ابراهيم عليه السلام د سوځولو لپاره بلاوه، نو ابراهيم عليه السلام بنېرا ورته وکړه خدای جل جلاله يې نسل قطع کړی او دا خو يقيني خبره ده چې ابراهيم عليه السلام خو تر قارون موسی دمخه ؤ، د بغل په نوع کي صبر د حمار موجود دی او قوت د آس، تاريخ وايي چې بغال مراكب الملوک في اسفارهم او کښتی د مسکنانو په قطعاً کي د حاجاتو.

(٧) آنحضرت صلى الله عليه وسلم شپږ غاطري په ټوله عمر کي درولي دي (١) غاطره بغله شهباً يې بلل چې دلدل يې هم باله چې مقوقس د مصر والي په هديه کي ورته را استولې وه يعني چې دمخه تر هرقل يې والي ؤ، عليه الصلوة والسلام پر دغه بغل په مدينه منوره کي او په سفرو کي پر سپرېدی، نو چې د ډېر عمر سول غابنونه يې ورژېدل، نو به يې وربشې گرگره کړې خورلې به يې وعاشت بعد النبي صلى الله عليه وسلم حتی چې حضرت عثمان رضي الله عنه هم پر دغه غاطره سپور سوی دی او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

علي رضي الله عنه له خوارجو سره پر دغه قچر جنګ کړی دی. او وروسته تر علي رضي الله عنه دده زوی حسن رضي الله عنه وروسته حسین رضي الله عنه پر سپرېدی، وروسته بیا محمد بن الحنیفیة چې د علي رضي الله عنه زوی ؤ وروسته تر وفات د فاطمې رضي الله عنها له حنیفیه ځخه.

پوښتنه: په کتب کې د ادابو د اهل الله راغلي دي چې تابع لکه شاګرد یا مرید د متبوع کالي نه اغوندي مګر صریح امر متبوع ورکړي ولا یرکب دابته الا باذنه ولا یجلس في مکانه الخاص، نو پوښتنه داده چې دغه اصحاب کرام رضي الله عنهم څرنګه د علیه الصلوة والسلام د سپرتیا پر غاطره سپرېدل بدون اجازة رسول الله صلى الله عليه وسلم لانه علیه السلام توفی قبل ذالک؟

ځواب: ددوی سپرتیا لپاره د تبرک وه یعني پر دښمن فتح او ظفر پیدا کولو په توسط د قچر د علیه الصلوة والسلام ددې معنا داده چې دوی ببله غزوا تو او وقائع نه پر سپرېدل.

(۲) بله غاطره د علیه الصلوة والسلام فضه یې بلل یعني لکه سپین زر داسي برېښېدل (۳) بله قچره یې ایلیه بلل (۴) بله قچره کسرٰی ملک فارس ورته را استولې وه (۵) بله قچره د دومة الجندل ځخه ورته راغلې وه (٦) بله قچره نجاشي ملک الحبشة ورته را استولې وه.

(۸) والحمیر: جمع حمار تاریخ وایي چې علیه الصلوة والسلام دوه خره درلودل، یو یې یعفور باله بل عفیر، علیه الصلوة والسلام وایي چې یعفور و علیه الصلوة والسلام ته د خیبر په غزا کې لاس ته ورغلی ؤ، راوي وایي چې علیه الصلوة والسلام چې وفات سو او خبر یې شائع سو، یعفور لکه لهونی ځان یې وڅاه ته واچاوه جزعاً علی فراق رسول الله صلى الله عليه وسلم. او بلغاً وایي چې حمار ذلیل ترین د ومخلوق د خدای ﷻ دی کما قال الشاعر:

و لا یقیم علی ضیم یرا د به ..... الا الاذلان عیر الحی والوتد
هذا علی الخسف مربوط برمته ..... و ذا یشج فلا یرثی له احد

والمعنی صبر نه کوي پر ظلم چې مراد ددوی مګر نه دوه ذلیله شیان چې یو د کلي والاوو خر دی، او بل موږی دی د خر ذلت دادی چې دی یې ترلی وي په ذلت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سره په یو زاړه تناؤ سره، دی بېچاره ولاړ وي که چا وانښه وغیره ورواچول که نه او موږ ې چي خلګ یې یو ځای تګوهي پر داسر سر یې وهي او د چا زړه نه پر سوځي.

دروښ وایي: چي وهذا من بلاغات البلغاً، په صحیح حدیث کي راغلي دي من لبس الصوف" که د وړیو ځیږه کالي چا واغوستل او مېږه یې ولوشل او پر خړې سپور سو "فلیس في جوفه یعني في قلبه شیئ من الکبر" نو په دې سړي سره هیڅ کبر نسته.

وَيَخْلُقُ مَا لَا تَعْلَمُونَ ۝

او خدای (ﷻ) پیدا کوي هغه شیان چي تاسي علم نه پر لرئ، یعني په اسمانو او ځمکو کي د هر مخلوق سته چي تاسي علم نه پر لرئ، ومنها ما اعد للمؤمنین في الجنة وللکافرین في النار مالاعین رئت ولا اذن سمعت ولاخطر علی قلب بشر.

وَعَلَى اللَّهِ قَصْدُ السَّبِيلِ وَمِنْهَا جَائِرٌ

پر خدای (ﷻ) لازمه ده یعني ازروی تفضل والاحسان لا بالوجوب العقلي، ولي چي پر خدای ﷻ عقلاً هیڅ شی لازم نه دی خلافًا للمعتزلة دوی وایي چي اصلح للعبد پر خدای ﷻ واجب دی عقلاً والدلائل والجوابات لدلائل المعتزلة په شرح عقائد او شرح مقاصد للعلامة التفتازاني رحمه الله وګورئ ولا بالوجوب الشرعي لانه مختص بالمکلفین بیان د صراط مستقیم نو اضافت د قصد وسبیل ته اضافت د صفت و موصوف ته دی ای السبیل القصد یعني بالقصد متوسط بین الافراط والتفریط وهو الصراط المستقیم الموصل للحق.

پوه سه: چي په ترجمه کي فقیر بیان لفظ راوړی اشاره ودې ته ده چي تر قصد دمخه مضاف محذوف دی وهو لفظ البیان، او مظهري رح وایي چي مراد له سبیل څخه جنس دی واضافة القصد الیه بمعنی من ای المستقیم من السبیل "ومنها جائر" او بعض له لارو څخه کږه وي د حق او استقامت.

فائده: قصد السبیل یوازي او یوازي دین د اسلام دی، او جائر ټولې لارې د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کفر دي على اختلاف انواعها من الشرک والمجوسية والدهرية وغيرها وقصد السبيل في فرق من اهل اسلام چي درې اوويا (٧٣) طريقه د اهل السنة والجماعة چي د ناجيه په مبارک نامه له مبارکې خولې څخه د مبارک ذات ﷺ راوتلې ده بخلاف فرق اهل الاهوآ من المعتزلة والکرامية والخوارج وغيرها، او د تصوف په باب کي قصد السبيل دادی چي نه عقل صرف وي لکه د حکماؤ او نه عشق صرف وي لکه د منصور.

وَلَوْشَآءَ لَهَدٰىكُمْ اَجْمَعِيْنَ ۝

که د خدای (ﷻ) اراده وای هدايت بې کړی وای يعني و قصد السبيل ته ستاسي د ټولو.

پوه سه: چي مفعول د "شآ" محذوف دی لدلالة الجواب للشرط عليه، او مراد له هدايت څخه دلتة دلالت موصله الی المطلوب مراد دی او له بيان څخه د قصد دلالت دی علی ما يوصل الی المطلوب يعني ارائة الطريق وبالفارسية "راه نمائی" او په افغاني لارښوونه، وبالاردوية "سيدها راسته بتانا" لکن دا مشيت خدای پاک نه دی کړی لان مشيت الله تابعة للحکمة ولا حکمة في تلک المشية ولي چي مدار د تکليف او د ثواب او عقاب اختيار جزي د بندګانو دی کما في کتب العقائد والاصول والتفسير، حافظ شيرازي قدس سره وايي:

مکن بچشم حقارت ملامت من مست
که نيست معصية وزهد بی مشيت او

دروښ وايي: چي لار د اختيار د مکلف تر وېښته باريکه ده، نو وپر بحث نه دی پکښې په کار.

هُوَ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً لَّكُمْ مِّنْهُ شَرَابٌ

خدای (ﷻ) هغه ذات دی چي نازلي کړي يې دي له اسمان څخه يا له وريځي څخه اوبه چي تاسي لره له هغو اوبو څخه اوبه دي چي تاسي يې څښئ (نو شراب په معنی د مشروب دی)

اعراب: پوه سه! چي "لکم" متعلق دی په "انزل" پوري او يا خبر د شراب دی،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او کلمه د "من" تبعیضي ده او متعلق په "انزل" پوري ده، د تبعیض وجه یې داده چې ټولې اوبه د اسمان څو خلګ نه سي څیښلای بعض حیوانات څیښي.

سوال: "منه" یې تر شراب دمخه کړی دا څو حصر پیدا کوي او سره ددې چې موږ څو ګاهي د څاهانو ګاهي د چینو اوبه څیښو؟

ځواب: د څاهانو او د چینو اوبه څو هم د اسمان د باران اوبه دي لقوله تعالی "فسلک ینابیع في الارض" قوله تعالی "فاسکناه في الارض"

وَّمِنْهُ شَجَرٌ فِيْهِ تُسِيْمُوْنَ ﴿١٠﴾

او له هغو څخه د اسمان اوبه دي د درختو او ژوند دی د نباتاتو چې په هغه شجر کي تاسي څروئ او پیاياست مواشي خپل.

دروبش وایي: چې ما په تفسیر کي د ژوند د نباتاتو زیات کړی بدلالة الشجر علیه، نو دا سوال نه پیدا کیږي چې اوښان که څه هم له درختو څخه خوراک کولای سي لکن میږي او بزې څو درختو ته نه رسیږي چې خورک ځني وکړي بناً علی ان الشجر ماله ساق وجه الدفع ظاهر.

يُنْۢبِتُ لَكُمْ بِهِ الزَّرْعَ وَالزَّيْتُوْنَ وَالنَّخِيْلَ وَالْاَعْنَابَ وَمِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ ؕ

خدای پاک شنه کوي ستاسي د نفع لپاره په هغو اوبو د اسمان کښت که د غنمو وي که د شالیو وي او که د جوارو الی غیر ذالک، او د زیتون درختي او د خورما درختي (نخیل جمع د نخلة ده) او انګور (یعني درختي د انګورو چې تاکان یې بولي) وجه التفسیر ان الاعناب جمع عنب میوې ته د انګور وایي درختي ته یې کرم وایي.

نکته: نخیل او اعناب یې جمع راوړه لکثرة اقسامها غایة الکثرة کما لایخفی علی المتبع، او د ټولو میوو څخه لکه انار، اینځر، سیب، شفتالو، کهلې، بهري، ثلیل الی غیر ذالک من الثمرات.

فائده: من تبعیضي یې راوړی، ولي چې ټولې میوې څو په جنت کي دي او په دنیا کي بعض دي علی طریقة مشت نمونه خروار، وورد في الحدیث چې په جنت کي ما لاعین رئت ولا اذن سمعت ولاخطر علی قلب بشر.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴿١١﴾

په تحقيق په مذکوره اشياؤ کي دليل واضح دی پر وجود د صانع او پر قدرت او علم او حکمت دده، چونکه مراد له آيت څخه جنس دی چي قليل او کثير ته شامل دی، نو دا سوال نه پيدا کيږي چي په مذکوره شيانو کي خو ډير حجج او دلائل سته، نو آيات ولي وه نه ويل سو؟ لکن دا دلائل د هغه چا لپاره چي په مصنوعاتو کي د خدای پاک فکر ووهي.... سعدي ؒ وايي:

برگ درختان در نظر هوشيار ..... هر ورقی دفتريست معرفت کردگار

فائده: يو څوک چي فکر ووهي چي يو تخم دانه چي په لنده مځکه کي واقع سي او لنډوالی د مځکي دې ته ورسيږي، نو دا تخم لوړي خوا ته چاک پيدا کړي او تر هغه چاک د درختي يا د نبات تنه پيدا سي او کښته هم دا تخم وچوي او له هغه څخه ريښې د درختي يا د نبات پيدا سي بيا يې نما شروع سي، نو بلګونه او ګلان او مېوې په بعضې زمانو کي دون بعض، او د هرې درختي خپل شکل سته له بلې درختي څخه جلا او د هرې درختي مېوه خپل شکل او خوند او بوی وي، او سره ددې چي ماده او اصل د ټولو مځکه او اوبه دي ليس الا، او بسبت د اسباب علويه لکه لمر او سپوږمی، او ستوري وه ټولو سفلياتو ته برابر دی، فمن اين جائت الاختلاف المذکورة آنفًا فليس تلک الاختلافات الا من صانع خالق قادر يفعل مايشاً ويخلق مايريد بقدرته واختياره وعلمه وحکمته لاشريک له ولا منازع في خلقه،

دروښ وايي! وهذا نبذ قليل في تفسير قوله تعالى "ان في ذالک الآية"

فوائد شتی: (١) شجرة په عرف عام کي هغه نبات ته وايي چي ساق لري او پر ساق ولاړ وي. نو بناً پر دې د مځکي وانبه او يا نبات د هندوانو، څټکيانو، بادرنګو وغير ذالک ته شجر نه وای. نو ځکه ما د منه شجر سره نباتات زيات کړه او تفسير خازن په ص (٦٨) له ابو اسحاق ؒ څخه روايت کړی دی "کل ما ينبت على وجه الارض فهو شجر" او دا شعر يې شاهد گرځولی دی:

تطعمها اللبن اذا عز الشجر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

"موږ شيدې ورکوو آسانو ته چې مځکه له نباتاتو څخه خالي سي" نو په دغه شعر کې اطلاق د شجر پر ټولو نباتاتو وسو، ولې که له شجر څخه ماله ساق مراد وای، نو ددې په خالي والي فقط اسانو ته د شیدو د ورکړې ضرورت نسته لوجود النباتات بدون الشجر فافهم.

دروښ وايي: چې پر تقدیر د خازن د منقول تفسیر د شجر و زیادت ته د ما قلنا ضرورت نسته کما لا یخفی.

(۲) پوه سه! چې خدای پاک په بیان کې د حیواناتو تفصیل او اجمال وکړی دغه رنګه په ذکر کې غذائي مواد او مېوو تفصیل او اجمال راوړی نو شروع یې له زرع څخه وکړه چې دانو ته د غنمو، اربشو، جوارو، ورجو الحاصل چې قوت او غذاً د انسانانو وي، ولې په دې غذائي شیانو قوام او ژوند د انسان مربوط دی، وروسته یې زیتون ذکر کړه، ولې چې د زیتون غوړې هم نان خورش دی او هم برکت دی د اعضاً لکه سر وغیره د زیتون په ټیلو غوړول فائده ورته کوي، درېیم وار یې نخیل ذکر کړی، ولې چې خورما هم لذیذه غذاً ده هم فاکهه ده، په بخاري شریف کې د سیدتنا ام المؤمنین عائشه ﷺ څخه روایت دی، دا وایي چې پر موږ د آنحضرت ﷺ په حیوة کې داسي وخت راغلی دی چې موږ به درې هلاله یعني د اول سر میاشت ولیدلې چې دوې میاشتي به پوره سوې د علیه الصلوة والسلام په یوه کور کې اور نه دی بل سوی، نو راوي پوښتنه څنې وکړه چې نو چې اور نه سي بل نو ټوله مطعومات من الخبز واللحم وغیر ذالک خو په اور پورې مربوط دي، نو داسي دا دوې میاشتي څه شي خوړل؟ دې مبارکې ورته ووېل زموږ غذاً "الاسودان، الماً والتمر او کما قال" او پر ذکر د اعنابو یې ختم کړی لانها متشابهة للنخلة في المنفعة من التفكهة والغذاً الجيد لبدن الانسان وروسته خدای ﷻ ذکر د ټولو مېوو وکړی اجمالاً بقوله ومن كل الثمرات تنبيهًا على عظيم قدرته وامتنانه على عباده.

وَسَخَّرَ لَكُمُ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ ۙ وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ؕ

او خدای (ﷻ) مسخر گرځولي دي ستاسي د نفع لپاره شپه او ورځ چې په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شپه کي ارام او راحت وکړئ او د ورځي کسب يا تجارت وغيره وکړئ، او لمر او سپوږمۍ يې مسخر کړځولي دي چې د لمر په رفتار سره څلور فصله پسرلی، دوبی، منی او ژمی پر تاسي راځي، او د سپوږمۍ په رفتار سره ستاسي بعض ديني امور مربوط دي لکه روژه، حج وغيرهما.

وَالنُّجُومُ مُسَخَّرٰتٌۢ بِأَمْرِهٖ ؕ

او ستوري مسخر دي ستاسي د نفع لپاره په اراده د خدای (ﷻ).

پوه سه: چې "نجوم" مبتدأ ده او "مسخرات" يې خبر دی.

دروښ وايي: چې د ستورو فائده داده چې په سفر کي بحر و بر و خلګو ته معلومېږي، او ستوري د مېوو په کار کي لويه ونډه لري، شيخ سعد رح وايي:

آبر وباد ومه وخورشيد و فلک د ر کارند
تاتو نانی بکف آری وبغفلت نخو ری
همه از بهر تو سر گشته و فرمان بردار
شرط انصاف نباشد که تو فرمان نه بری

إِنَّ فِي ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ۝١٢

په تحقيق په دغو مذکوره شيانو کي بالاجمال والتفصيل د هر دلائل دي د وجود د صانع او د توحيد او د قدرت کامله د هغه قوم لپاره چې له عقل سليم څخه کار اخلي، په صحيح حديث کي راغلي دي چې د عليه الصلوة والسلام څخه چا پوښتنه وکړه "من احسن الناس عقلاً؟ قال عليه الصلوة والسلام المسارع لمرضات الله والمجتنب عن محارم الله" هغه څوک ښه عقل لرونکی دی چې تلوار کونکی وي و هغو کارو ته چې خدای ﷻ په راضي کېږي، او پرهېز کونکی وي د هغو عملو څخه چې خدای ﷻ حرام کړي دي.

پوه سه: چې اهل علم له حکماؤ څخه د اسلام وايي چې عقل يو جوهر مضئ دی خلقه الله في الدماغ وجعل نوره في القلب، چې ادراک د غائبو شيانو په وسائطو سره کالحدس وترتيب المقدمات او د محسوساتو المشاهدة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چي په دې آيت کي رد دی پر فلاسفه وو چي دوی وايي چي موثر په تکوين کي د نباتاتو حرکات د ستورو دي، وجه ذالک چي که مورِ دا هم ومنو مګر تحقيق دادی چي تاثيرات د امورو د افلاکو او د عناصرو مبني پر عادت الهي چي بعض اشياً وروسته تر بعض اشياؤ پيدا کوي کالشبع بعد اکل الغذاً والری بعد شرب الماً مثلاً. لکن نسبت د ايجاد او خلق و دغو شيانو ته نه دی صحيح ولي چي ممکنات ټوله معدوم في ذاتها تحتاج الی الموجد فکيف تقتضی وجود غيره کما لا يخفی.

وَمَا ذَرَأَ لَكُمْ فِي الْأَرْضِ مُخْتَلِفًا أَلْوَانُهُ ۚ

هغه چي خدای (ﷻ) پيدا کړي دي ستاسي لپاره په مځکه کي يعني حيوانات يا د خورک لپاره فقط لکه پسونه وغيره او يا د بار لپاره فقط لکه غاطره، خر وغير ذالک، او يا د بار او خوراک دواړو لپاره لکه اوښ او غويی، او نباتات يا ستاسي د خورک لپاره يا ستاسي د حيواناتو لپاره. او معدنيات د زېوراتو او نورو فائدو لپاره.

پوه سه: چي کلمه د "ما" عطف ده پر "ليل" باندي ای سخر لکم ما ذرء او "مختلفاً" حال دی له ضمير مستتر څخه په "ذرء" کي.

دروښ وايي: چي چونکه تفاوت د رنګو ظاهر دی، نو ځکه يې په "الوانه" وويله، که څه هم ما ذرء في الارض نوري خواصي هم سره مختلفي لري کالطعم والصغر والکبر الی غيرها من التفاوت، ولهذا فسر الوانه باضافه، وفي بحر العلوم مختلفاً الوانه ای هيئاته من خضرة وبياض وحمرة وسواد وغير ذالک.

حکمت: د خدای ﷻ حکمت په دې اختلاف کي دادی چي له هره صنفه چي د سړي زړه وغواړي خورک وکړي.

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لِّقَوْمٍ يَذَّكَّرُونَ ﴿١٣﴾

په تحقيق په دغه اختلاف الالوان کي حتماً يو دليل او حجت سته پر صنع د صانع حکيم د هغه قوم لپاره چي پند اخلي والاصل يتذکرون.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَهُوَ الَّذِيْ سَخَّرَ الْبَحْرَ لِتَأْكُلُوْا مِنْهُ لَحْمًا طَرِيًّا

او خدای ﷻ هغه ذات دی چې مسخر یې ګرځولی دی دریاب چې خلګ نفع پر اخلي په سپرتیا سره د کښتیو او په غوته خوړلو کې لپاره د اخراج د لوءلوء والمرجان وغیر ذالک کالتجارة. چې تاسي وخورئ له دریاب څخه غوښي تازه چې هراد څنې غوښيَ د ماهیانو دي، بغض مفسرین وایي چې د طراوة مقصد دادی چې چونکه ارطب د ټولو انواعو څخه د غوښو غوښي د ماهي دي، نو باید سړی یې ژر وخوري تاچې فاسدې نه سي لان الرطب یتسارع الیه الفساد باتفاق الاطبا.

پوښتنه: د ماهي د غوښو تر خوړلو وروسته ولي سړی ژر تږ کېږي؟

ځواب: اطباً وایي چې طبع د ماهي د غوښو داده چې په کولمو پوري منبلي، نو طبعیت انساني لپاره د دفع د هغه الصاق تطلب الماً.

حکمت: د خدای ﷻ حکمت او قدرت دی چې شیرینې غوښي د ماهي سره ددې چې ماهیان علی الاغلب پر ترخو غلیظو اوبو کې پیدا کېږي، او بعض مفسرین وایي چې د طراوة مقصد دادی چې د ماهي غوښي به وچوي نه. ولي چې طبیبان پر دې متفق دي چې اضر د غوښو قدید د ماهي د غوښو دي، ودلت علیه التجربة ایضاً. په حیوة الحیوان کې وایي المذهب المفتي به حل جمیع الحیوانات التي في البحر الا السرطان والضفدع والتمساح یعني چنګابۍ او چونګوښه او واګو علی ای صورة کان. وفي الحدیث اکل السمک یذهب بالحسد.

وَتَسْتَخْرِجُوْا مِنْهُ حِلْيَةً تَلْبَسُوْنَهَا

او تاسي راوباسئ له دریاب څخه زیور لکه ملغلرې او مرجان چې تاسي واغوندئ یعني په ځان پوري یې وځړوئ.

سوال: مخاطب خو نر دي! او نران خو په ځان پوري زیور نه ځړوي؟

ځواب: مراد دادی لتلبسوا انسائکم یا په حذف د مضاف یا په اسناد د مجازي لان النسا من جملة الرجال، او بل دا سبب دی چې ښځي چې په ځان پوري زیور ځړوي مړو ته ځان ښائسته کوي فاسند فعلهن الیهم مجازاً.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَتَرَى الْفُلْكَ

او ته وينې (ای مخاطب غير معينه) کښتيانې.

پوه سه: چې لفظ د "فلک" هم جمع راځي هم مفرد فرق يې اعتباري دی که مفرد وي ضمه د فا يې لکه ضمه د "قفل" چې مفرد دی. او که جمع وي ضمه د فا يې لکه ضمه د "اسد" چې جمع د اسد دی، والقرينة على الافراد والجمعية په مسند يا صفت سره لکه دلته مواخر ورته مسند کړی چې صيغه د جمع ده.

فائده: "وترى" عطف دی پر "لتاكلوا" عطفاً بالمعنى لان المعنى ه ولتركبوا الفلک.

مَوَاخِرَ فِيهِ وَلِتَبْتَغُوا مِن فَضْلِهِ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿١٤﴾

يعني جاري په درياب کې وقال قتاده ؒ مقبلة ومدبرة تجري بريح واحدة. وقال الحسن ؒ مملوة وقال الاخفش والفراء ؒ تشق الماء والمخر شق الماء "ولتبتغوا آه" معطوف على قوله لتاكلوا" او چې تاسي طلب وکړئ د رزق د خدای ﷻ په واسطه د سفر په کښتيو کې لپاره د تجارت، او شايد تاسي به شکر د خدای ﷻ ووایاست چې تاسي ته يې درياب مسخر کړی دی چې تاسي په رکوب في البحر د کښتيو په ذريعه طلب د رزق د خدای ﷻ وکړی بالتجارة.

علماء وايي چې تجارت د بحر ګټور دی تر تجارت د بر، او دې ته اشاره کړې ده شيخ سعدي قدس سره په دې قول سره:

سود دريا خوش بودی گر نبودی بيم موج
صحبت گل نيک بودی گر نيستی تشويش خار

مسئله: فقهاء رحمهم الله وايي رکوب د بحر روا دی بشرط علم السباحة (يعني آب بازي يعني که چېرې کښتی ته خطره پېښه سي راکب به په ذريعه د آب بازۍ ځان ته نجات ورکړي) وعدم دوران الرأس "او چې سر يې نه پرله ګرځي "والا فقد القى نفسه الى التهلكة" يعني که دا دوه شرطه نه وي. نو ځان يې د هلاک ته پېښ کړی، کريمه "ولاتلقوا بايديكم الى التهلكة" وكره ركوب النساء لان مبني حالهن على الستر وهذا متعسر في السفينة، وهذا مذهب الجمهور انتهى.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې دا شرطونه په پخوانيو کښتيو کې وُ، اوس هغه کښتۍ په دریابو کې شاذ او نادر دي اوس آب کوټ په دریابو کې چلېږي چې په هغو کې د ښځو ځای جلا دی له نرو څخه او دوران الرأس يې غالباً نسته او نه په ادا کې د فرائضو لکه لمونځ نقصان راځي بلکې لمونځ په ولاړې په رکوع او سجده سره کېدای سي او خطر يې هم کم دی الا ماشاً الله تعالی.

دروښ وايي: چې په لعلکم تشکرون کې اشاره ودې ته ده چې شکر اقوی عبادت دی وروسته تر انعام د خدای ﷻ کریمه "ولئن شکرتم لازیدنکم" او شکر لکه چې سبب د زیادت د نعمت دی سبب د ثواب جزیل په اخرت کې هم دی، نو مؤمن باید همېشه شاکر وي، ولي چې بنده مسلمان په هیڅ حال د نعم الهیه متکاثره څخه د خدای ﷻ خالي نه دی واعلی نعم الله تعالی الاسلام ثم القرآن، کریمه "ولئن تعدوا نعمت الله لاتحصوها"

وَاَلْقٰى فِي الْاَرْضِ رَوَاسِيَ اَنْ تَمِيْدَ بِكُمْ

او اچولي دي خدای پاک پر مځکه، نو کلمه د "في" په معنی د "علی" ده غرونه محکمه پر ځای ثابت "رواسي" جمع د راسية ده په معنی د ثابتة.

پوه سه: چې مید اضطراب ته وايي ټوله مفسرین په اتفاق دا وايي چې عبارت قرآني یا په حذف د مضاف دی ای کراهة ان تمید وتتحرک بهم او یا په حذف د لام جاره او لانافیه ده والتقدیر لئلا تمید بهم، والحاصل چې مځکه کانت کرویة تتحرک بادنی سبب للتحریک، نو چې خدای ﷻ ددې پر مخ غرونه پیدا کړه غرونه په سبب د ثقل خپل مائل و مرکز عالم ته سنول او مځکه پر ځای ودرېدله، کذا قال المظهري رحمه الله في تفسیره، نو غرونه په مثال د موږیو د مځکې دي.

فائده: حکماً وايي چې لوی لوی غرونه پر ربع مسکون کې د مځکې (۶۶۷۳) غرونه دي، او کوچنۍ غرونه چې په عربي يې تلول بولي په دې کې نه دي حساب والله اعلم بالصواب.

وَاَنْهٰرًا وَّسُبُلًا لَّعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ ۙ

او خدای ﷻ پیدا کړي دي په مځکه کې رودونه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې د پښتنو په عرف کې "انهاراً" ویالو ته وایي چې د وطن اوبه خوره ځندي کوي، لکن په عرف کې د عربو او د قرآن کریم دا کوچنۍ ویالو ته جدا اول وایي او "انهار" لویو رودو ته وایي لکه رود نیل د مصر، فرات، دجله د هلمند رود وغیرها "وسبلاً" او لاري یې پیدا کړي دي په دښتو کې او په غرو کې چې ددې لارو په سبب خلګ و خپلو مقاصدو ته د تجارت وطلب الرزق ورسېږي.

پوه سه: چې "لعل" په معنی د لام دی یعني ددې لپاره چې د دغو قدرتي شیانو چې ذکر سول و معرفت د خالق مقتدر لار پیدا کړي یعني دغه شیان به دلائل د وجود د صانع او د قدرت دده او د علم او حکمت دده وګرځوي.

وَعَلٰمٰتٍ ؕ

او خدای (ﷻ) پیدا کړي دي علامې د لارو لکه غرونه، درختي، ستوري یا بناوي چې په هغو سره قافله وال دلاري درک معلومولای سي.

پوه سه: چې له دې قسمه ځخه د اسبابو د امور شرعیه وو کالاوقات الخمسة للصلوة الخمس وشهر رمضان لوجوب الصوم والمال النامي مع حولان الحول لوجوب الزكوٰة وغير ذالك والسكر في الخمر لحرمة الخمر الى غير ذالك ومثل ذالك العالم على الصانع، والمعجزة على النبوة وسرعة النبض على الحمى وامثال ذالك كثيرة معلومة.

وَبِالنَّجْمِ هُمْ يَهْتَدُوْنَ ﴿١٦﴾

او په ستورو سره (نو مراد له ستوري ځخه معنا جنس ده چې دېرو ته هم شامل ده وهو المراد ه) یعني په ستورو سره خلګ لار پیدا کوي د شپې، او بعض مفسرین وایي چې غرونه علامات النهار دی او ستوري علامات الليل دی، مظهري وایي چې ضمیر د "يهتدون" راجع دی و قریشو ته لانهم كثيراً ماكانوا يسافرون للتجارة بالليل للتجارة، ولي چې بلاد ددوی دېر ګرم دي او د ورځې سفر یې سخت دی او قریش مشهور وه په لار پیدا کېدلو کې په ستورو سره په خپلو سفرو کې.

دروښ وايي: چې ضمیر راجع کول و قریشو ته بېله ذکر ددوی قبلاً اضمار قبل الذکر دی بلکې سیاق د آیاتو سابقه وو عام دی، نو تعمیم د انسب دی،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عمربن الخطاب رضي الله عنه وايي تعلموا من النجوم ماتهتدون به في طرقكم وقبلتكم ثم كفوا يعني نور تعمق مه پكښي كوه لكه نجوم گران چي د مغيباتو خبرونه له ستورو څخه معلوموي "وتعلموا من الانساب ما تصلون به ارحامكم" بعض سلف وايي چي علوم څلور دي (۱) الفقة للاديان.

دروښ وايي: چي مراد له فقهي څخه معنى عامه ده چي متعارف فقه او عقائدو دواړو ته شامل ده لان تخصيص الفقه بالمتعارف مستحدث وفي الزمان القديم يقال للفقه المتعارف الفقه الاصغر وللعقائد الفقه الاكبر، او له هم دې جهته څخه امام اعظم رحمه الله عليه خپل كتاب چي په عقائدو كي يې تصنيف كړى دى په فقه اكبر مسمى كړى دى، نو دا سوال نه واردېږي چي فقه خو يوازې د اديانو لپاره كافي نه ده بل لابد من العقائد ايضاً فتأمل.

(۲) والطب للابدان يعني علم طب زدكړه غواړي لپاره د حفظ صحت موجوده او لپاره د بيرته راگرځولو د صحت زائله (۳) و علم النجوم للازمان يعني علم نجوم دومره قدر زدكړه غواړي چي سړى د مياشتو او د كلو حساب په وكړاى سي (۴) علم النحو للسان او علم نحو زدكړه غواړي چي سړى عربي ژبه په زده كړي او په اعراب او بناً او په احكامو د اسم او فعل او حرف وغير ذالك وپوهېږي حتى يكون وسيلة الى علم القرآن الكريم والاحاديث الشريفة.

أَفَمَن يَخْلُقُ كَمَن لَّا يَخْلُقُ ۗ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿١٧﴾

آيا كېداى سي هغه څوك چي خلق كولاى سي يعني د مخلوق وهو الله الخالق لكه هغه څوك چي خلق نسي كولاى چي بتان دي يعني په استحقاق كي د عبادت، نو دا آيت رد دى پر مشركينو چي دوى خپل بتان هم د عبادت مستحق گڼله، آيا تاسي ايها المشركون پند د توحيد د مستحق العبادة نه اخلئ چي شرك پرېږدئ او لا اله الا الله ته غاړه كښېږدئ وروسته تر دې چي دلائل او حجج او او بينات د توحيد مو واورېدل.

سوال: په نحو كي وايي چي كلمه د "من" د ذوى العلم لپاره ده، نو په دې قانون سره خو من يخلق صحيح دى، ولي خداى جل جلاله څنې مراد دى چي ذى العلم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دی لکن من لا یخلق څرنګه صحیح کېږي، ولي چې مراد ځنې بتان دي چې ذی علم نه دي؟

ځواب: دروېش وايي: چې ددې سوال څو ځوابه دي (۱) الو العلم ته يې تغليب ورکړی پر غير الو العلم نو په هغو کې يې کلمه د من استعمال کړې ده والتغليب باب واسع في العربي، کالابوين للاب والام، والقمرين للشمس والقمر وغير ذالک (۲) اطلاق د کلمه "من" پر بتانو بناً پر زعم ددوی ده چې دوی بتان آلهه بلل ولابد للمعبود من العلم بمن يعبده بل للعلم بکل شيئ (۳) اطلاق د کلمه "من" پر بتانو مشاکلة ده کما قالوا في قوله تعالى صبغة الله ومن احسن من الله صبغة (۴) او يا په دې کې مبالغه ده په رد کې د مشرکانو چې د بتانو عبادت يې کاوه چې نه يې خلق کولای سوای او نه يې علم پر شي درلودی، نو حاصل د معنی د آيت پر دې تقدير ده "افمن يخلق کمن لايخلق من اولى العلم فکيف حال من لا يخلق ولا يعلم وهو الاصنام.

پوه سه: چې همزه لپاره د انکار دی او کلمه د فا لپاره د تعقيب ده يعنې وروسته تردې چې تاسې دلائل واضحه تکاثره پر کمال د قدرت او د علم او د حکمت د خدای ﷻ واورېدل او دا مو هم واورېدل چې خدای ﷻ خالق متفرد بالخلق دی لا معنی للاشراک لمن لايقدر على خلق شيئ من الاشيا بل لا يقدر على منع الذباب عن وجهه کريمه "وان يسلبهم الذباب شيئًا لا يستنقذوه"

پوه سه: چې بت پرستانو به په خپلو خدايانو پورې ددوی په زعم خوشبوی عطر موښل، نو موچان چې به پر راتول سول هغه خوشبوی روغن به يې ځنې تولول فمعنى الکريمة که ددې بتانو چې مشرکان يې خدايان بولي حمله کړي مچ يو شی دوی يې نسې ځنې اخستلای بيرته.

وَإِنْ تَعُدُّوا نِعْمَةَ اللَّهِ لَا تُحْصُوهَا

که تاسې شمېرئ نعمت د خدای (ﷻ) تاسې يې توان د ضبط او حصر نه لرئ فضلاً تر دې چې تاسې يې شکر ادا کړئ، ولي چې نعمتونه د خدای ﷻ حصر نه دي په ماذکره تعالى بلکې غير متناهي دي في العدد للعبد.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: له دې آیت څخه مقصد دادی چې مطلوب د بنده ګانو شکر د تولو نعمتو د خدای نه دی لان هذا الشکر غیر مقدور لهم بلکې مقصود دادی چې په محبت او په تولو اعضاؤ متوجه و خدای ﷻ ته سئ او په خپل عجز اقرار وکړئ

إِنَّ اللَّهَ لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٨﴾

په تحقیق خدای ﷻ بخښونکی د تقصیر ستاسي دی او مهربان دی چې په سبب د تقصیر او معاصیو قطع د نعمت درڅخه ونه کړي او عذاب پر ناشکری في الحاله درنه کړي..... سعدي رح.

عطایست هر مو ازو برتنم ..... چه گونه به هر مویی شکر کنم

ولنعم ماقیل:

لو عشت الف عام في سجدة لربی .... شکراً لفضل یوم لم اقض استظهار

عاصیان از گناه توبه کنند .... عارفان از عبادت استغفار

ولذا ورد لا احصی ثناً علیک انت کما اثنیت علی نفسک. او سید د طائفه د عارفانو بایزید بسطامي قدس سره وایي:

چار چیز اورده ام شاها که در گنج تو نیست

عاجزی و مسکینی فقر و گناه اورده ام

وَاللَّهُ يَعْلَمُ مَا تُسِرُّونَ وَمَا تُعْلِنُونَ ﴿١٩﴾

خدای ﷻ خبر دی په هغو عملو او عقائدو ستاسي چې تاسي یې پټ ساتئ من القصور عن ادا الشکر والغفلة والکبر، او تاسي یې بنکاره کوئ من الاعمال الصالحة والفاسدة یعني فیجازیکم ان خیراً فخیر وان شراً فشر.

فائده: کلمه د ما په دواړه ځایه کې موصوله دی او عائد یې محذوف دی ای ماتسرونه وما تعلنونه.

وَالَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ لَا يَخْلُقُونَ شَيْئًا وَهُمْ يُخْلَقُونَ ﴿٢٠﴾

او هغه شیان چې مشرکان یې عبادت کوي او الهه یې بولي. ماسوی له خدای ﷻ څخه. نه سي پیدا کولای یو حقیر د شیانو لکه مچۍ او غوماشه فضلاً عن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الجواهر والاعراض، او چېرې ممکن دی شرکت ددوی د خدایانو په خلق کې د آسمانو او محکو فکیف یدعونها الهةً وشرکاً لله تعالی. او ددوی بتان مخلوق دي.

پوه سه: چې عاصم او یعقوب ؒ له قراً سبعه وو څخه "یدعون" په یاء د غیبت وایي. او باقي قراً یې په تاء د خطاب وایي.

اَمْوَاتٌ غَيْرُ اَحْيَآءٍ ۚ وَمَا يَشْعُرُوْنَ ۙ اَيَّانَ يُبْعَثُوْنَ ﴿۲۱﴾

"اموات آه" خبر د مبتدأ محذوفي دی ای هم اموات نو معنی د اموات داده چې دغه بتان جمادات دي او حیوة دوی ته ورغلی نه دی. نو دا معبودان بتان اخس منزلةً دی تر عابدانو ددوی فکیف یکونوا آلهة. او دا بتان نه دي خبر چې کله بعث کېږي دوی یعني جمع کېږي او ددوی عابدان. ولي چې دا بعث نه ددوی په اختیار کې دی او نه یې په دائره کې د علم ددوی دی بل هو في اختیار الخالق جل مجده في دائرة علمه المحیط بکل ذرةٍ من ذرات العالم.

اِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ

معبود بالحق ستاسي خدای ﷻ دی یو.

سوال: دا دعوه د وحدانیت د معبود بالحق خو دمخه هم تېره سوې ده فما الفائدة في الاعادة؟

ځواب: هو! دا تکریر د مدعی دی بعد اقامة الحجة وهو معمول لاهل المعقول لاینکره احد کقولهم العالم حادث لانه متغیر وکل متغیر حادث فالعالم حادث.

فَالَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ قُلُوْبُهُمْ مُّنْكِرَةٌ وَّهُمْ مُّسْتَكْبِرُوْنَ ﴿۲۲﴾

پس هغه کسان چې ایمان پر آخرت نه لري یعني بعث بعد الموت زړونه ددوی منکر دي له هغه نعمتو څخه د خدای ﷻ چې دوی ته یې ورکړی دی چې حساب یې نه کېږي او سره د ظهور د هغو نعمتو د خدای ﷻ بالبداهة والبرهان کمامر، ولي په زړو کې ددوی نور د مغفرت الهي نسته چې شکر ددې نعمتو وایي او ایمان راوړي "وهم مستکبرون" او دوی تکبر کوي له عبادت څخه د خدای ﷻ بالتوحید نه مني بلکې بتان هم ورسره شریک بولي په عبادت کې او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نعم الهیه د خدای ﷻ رحمت او فضل نه بولي بلکې خپل ځانونه مستحق بولي، او له اتباع څخه د رسول د خدای هم انکار کوي او د قرآن مبارک من عند الله بللو څخه هم انکار کوي او وایي "لو لا انزل هذا القرآن علی رجل من القریتین عظیم" او وایي لو نشاء لقلنا مثل هذا.

لَا جَرَمَ أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعْلِنُونَ

"لاجرم" دروېش وایي: چې په فارسي ددې لفظ ترجمه داده هر آئینه راست است او په عربي یې ترجمه داده لابد او لامحالة او حقًا او په پښتو یې ترجمه داده چې رښتیا ده دا وروسته خبره یعني چې په تحقیق خدای ﷻ خبر دی په هغو عملو ددوی چې دوی یې پټ ساتلي دي چې انکار د نعمتو د خدای ﷻ دي او استحقاق د عبادت دی بالتوحید او چې بنکاره او برملا وایي چې استکبار د عبادت دی او اتباع الرسول.

فائده: ابو البقاء الکفوي رح په اعراب القرآن کي وایي چې په لاجرم کي څلور قوله دي (۱) لانفي اورد د کلام ماضي دی ای لیس الامر کما زعم الکفار من ان محمدا ﷺ لیس برسول وان القرآن لیس بکتاب الله وامثال ذالک وجرم فعل ماض بمعنی کتب وفاعله مستتر فیه راجع الی الله ومابعده یعني ان الله الآیة في موضع النصب علی انه مفعول به لجرم، فالمعنی خبره داغه سي نه ده لکه مشرکان چې وایي خدای ﷻ دا لیکلي ده چې ان الله الآیة (۲) په لاجرم دوې کلمې سره مرکب سوی په ترکیب امتزاجي معنا یې حق حقًا ده او مابعد یې په محل کي رفع دی چې فاعل د حق دی (۳) معنا یې لامحالة ده او مابعد یې یا مرفوع یا منصوب دی یا مجرور فتفکر فیه (۴) د لاجرم معنی په لامنع وروسته په تقدیر د من مجرور محلاً دی والتقدیر لا منع من ان الله یعلم الآیة، او روح المعاني قریب و قول ته د ابو البقاء رح بیان کړی دی.

إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُسْتَكْبِرِينَ ﴿۲۳﴾

په تحقیق د خدای ﷻ نه دي خوښ متکبر کسان یعني مبغوض به دي، مسلم د ابن مسعود رضی الله عنه روایت کړی دی قال قال رسول الله ﷺ "لا یدخل الجنة من کان في قلبه مثقال ذرة من کبر ولا یدخل النار من کان في قلبه مثقال ذرة من ایمان"

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يعني اهل د مثال ذرة من "من ايمان" اى من اهل ايمان والمراد التابيد في النار لما ثبت في الاحاديث الصحيحة من دخول بعض عصات المؤمنين النار.

وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ

چې وه به ويل سول و دغو كسانو ته چې پر آخرت به يې ايمان نه درلودى او عليه الصلوة والسلام يې نبي نه باله او قرآن مبارک يې كتاب الله نه باله.

پوه سه: چې خبر د نبوت د محمد ﷺ چې په اقوامو كې د عربو چې له مكې څخه به خارج وه شائع سو، نو اقوامو مذكوره وو خپل يو وفد يعنې هيئت به يې په موسم كې د حج مكې مكرمې ته را استاوه چې معلومات ددې مدعي د نبوت او دده د قرآن حال راوړي، د مكې گمراهانو كافرانو قريشو به په موسم كې د حج پر تولو هغه لارو چې خلګ يعنې اطرافي به له هغو لارو څخه به مكې ته داخليدل څپل نفر يې كښېنولي وه، نو اطرافي خلګ چې به مكې ته لا نه وه داخل سوي، نو د لارې كښېنستو نفرو څخه به يې پوښتنه وكړه،

مَّاذَآ أَنزَلَ رَبُّكُمْ ۙ قَالُوٓا۟ أَسَٰطِيرُ ٱلْأَوَّلِينَ ۝

څه شى نازل كړى رب ستاسې يعنې پر دغه مدعى النبوة، پوه سه! چې "اساطير" جمع د "اسطر" اسطر جمع د "سطور" ده اخبار كاذبه ته وايي والمعنى د لارې مشركانو د مكې به ورته وويل چې دا د پخوانيو خلګو د دروغو قصې دي يعنې من عند الله شى نه دى، نو مقصد يې دا وو چې نه محمد ﷺ رسول من عند الله دى او نه يې قرآن صادق من عند الله دى تاچې روزانه د عليه الصلوة والسلام سره ملاقات ونه كړي او ايمان رانه وړي.

لِيَحْمِلُوٓا۟ أَوْزَارَهُمْ كَامِلَةً يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ۙ وَمِنْ أَوْزَارِ ٱلَّذِينَ يُضِلُّونَهُم

پوه سه: چې لام متعلق دى په "قالوا" پورې يعنې دا خبره ذوى ددې لپاره ورته كول چې دوى پر خان بار كړي گنهونه د ضلال د خپلو ځانو پوره او كامل په ورځ د قيامت، او بعض گنهونه د هغو كسانو چې دوى يعنې اهل مكه به يې گمراه كول هغه كسان.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: من تبعیضي یې راوړی له دې سببه چې بعض ګنهونه د هغو خپل شخصي ګنهونه وه چې په اهل مکه پورې یې کار نه درلودی د هغو ګنهو خو اهل مکه متحمل نه دي بلکې دوی متحمل د اضلال د هغو خلګو دي.

پوه سه: چې مسلم په خپل صحیح کې او اصحابو د سنن اربعه وو یعنې ترمذي ابن ماجه، ابو داؤد او نسائي په خپلو کتابونو کې له حضرت ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت کړی دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل "من دعی الی هدی کان له من الاجر مثل اجور من تبعه لا ینقص ذالک من اثامهم شیئًا.

بِغَيْرِ عِلْمٍ

یعنې بېله حجت او دلیله. نو دا حال دی له فاعل څخه د "یضلونهم" ای متلبسین هؤلاء المضلین بعدم العلم والحجة. نو جهل عذر د چا نسې کېدای.

أَلَا سَاءَ مَا يَزِرُونَ ﴿٢٥﴾

خبر اومه چې بد هغه شی (نو کلمه د ما موصوله ده په معنی د شیئ او عائد و ماته محذوف دی او مخصوص بالذم هم محذوف دی) والتقدیر بئس شیئًا یزرونه ای یحملونه فعلمهم وهذا هو المخصوص بالذم ای الاضلال.

قَدْ مَكَرَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ

په تحقیق سره مکر او حیله برابر کړې او سنجولې وه هغه کفارو چې تر کفار مکه دمخه وه و خپلو رسولانو ته چې دوی په دعوه کې د رسالت نا کامه کړي او یا یې هلاک کړي، لکه کفارو د مکې چې به په دار الندوة کې د علیه الصلوة والسلام لپاره مکر او حیله سنجولې وه. لکن ټوله مکرونه د کفارو سبب د هلاکت ددوی سره لا لغیرهم. مقوله مشهوره من حضر لاخیه جبًا وقع فیه منکبًا.

پوه سه: چې بغوي رحمه الله دا آیتونه پر تمثیل حمل کړي دي والحق ماقاله صاحب المدارک. و وهب بن منبه رحمه الله چې د "الذین من قبلهم" څخه مراد نمرود بن کنعان چې د ابراهیم رحمه الله د وخت فرعون وو دی لپاره د مقابلې د ابراهیم رحمه الله په بابل کې یو مناره جوړه کړه چې اسمان ته وخېژي او د ابراهیم علیه السلام د خدای سره جنګ وکړي،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د منارې جګ والی پینځه زره ګزه وٴ او عرض یې دوه فرسخه وٴ، نو خدای ﷻ باد پر راوالوزاوه له بیخه یې وکښل سر یې په دریاب کې و منبتی او بیخ او باقي نوره پر نمرود او قوم دده راولوېدی ټوله نر تر لاندې هلاک سوه.

فَأَتَى اللَّهُ بُنْيَانَهُمْ مِنَ الْقَوَاعِدِ فَخَرَّ عَلَيْهِمُ السَّقْفُ مِنْ فَوْقِهِمْ وَأَتَاهُمُ الْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ لَا يَشْعُرُونَ ۝

نو ورغلی امر د خدای (ﷻ) (لان الاتیان علی الله محال) لپاره د ابطال د حیلو ددوی، نو آبادي ددوی یې له بیخه وکښل او بام د ابادی پر دوی د لوړې خوا راولوېدی او دوی ته راغلی عذاب مهلک له داسي خوا څخه چې ددوی توقع نه وه فصارت تلک الحیل اسبابًا لاهلاکهم. د بغوي ؒ پر مذهب د آیت ترجمه داسي ده چې د مثال په توګه یو قوم وي چې آبادي لویه د ځانو د ساتنې لپاره جوړه کړي وي چې په دې آبادي کې موږ پر دښمنانو غالب سو، نو اخیر د بنیان دهوال ضعیف سو او ونړېدی بام سربیره پر دوی را ایله سو او ټوله یې هلاک کړل، په اخیر کې بغوي ؒ وایي فالکلام وارد علی التمثیل او د مدارک او وهب بن منبه پر تقدیر ترجمه داسي ده، په تحقیق مکر کړی وٴ هغه کسانو چې تر کفارو د مکې دمخه وه یعني نمرود و قومه چې مناره جوړه کړې وه، نو امر د خدای ﷻ یعني تند باد او بنیان د هغو چې مناره یې له بیخه څخه وکښل، نو د منارې بام یې یعني کښته حصه یې پر دوی راچپه کړل او دوی ټوله یې تر لاندې هلاک کړل او دوی ته هلاکت راغلی له داسي ځایه څخه چې ددوی هیڅ خیال نه وٴ.

ثُمَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يُخْزِيهِمْ

وروسته په ورځ د قیامت خدای ﷻ دوی ذلیل ګرځوي یعني عذاب د ذلت ورکوي ماسوی له هغه عذاب څخه چې په دنیا کې یې دوی ته ورکړی وٴ کریمه "ربنا انک من تدخل النار فقد اخزیته"

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَيَقُوْلُ اَيْنَ شُرَكَآءِيَ

او خدای (ﷻ) ووایه په ژبه د ملکو لپاره د توبیخ (لا بالذات لان کلام الله نعمةٌ وهم من اهل النقمة) چېري دي زما شریکان.

سوال: څرنګه يې شریکان و ځان ته مضاف کړل؟

ځواب: استهزا بهم، او حکایت د قول ددوی يې وکړی چې دوی شرکاء د خدای بلله لزیادة التوبیخ لهم.

الَّذِيْنَ كُنْتُمْ تُشَآقُّوْنَ فِيْهِمْ

هغه بتان چې تاسي به په دنیا کي اختلاف کاوه د رسول ﷺ او د مؤمنانو سره ددوی په معبودیت کي.

قَالَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ

وه به وايي هغه کسان چې علم يې پر وحدانیت د خدای (ﷻ) درلودی په دنیا کي چې انبیاء او ملائکه علیهم السلام او مؤمنان دي لپاره د سپکاوي د دغو کافرانو او لپاره د اظهار د خوشالی په حال ددوی او لپاره د شکر د نعمت د هدایت د خدای ﷻ دوی ته په دنیا کي چې کفارو غوندي موږ د خدای ﷻ پر ضلالت ونه ګرځولو.

اِنَّ الْخِزْيَ الْيَوْمَ وَالسُّوْٓءَ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ۙ﴿۲۷﴾

په تحقیق ذلت او سپکاوی ننه ورځ د قیامت او عذاب پر کافرانو دی.

الَّذِيْنَ تَتَوَفّٰىهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ ظَالِمِيْٓ اَنْفُسِهِمْ ۠

هغه کافران چې دوی ته ورغلي ملکي یعني ملک الموت و اعوانه لپاره د قبض د روحانو ددوی "ظالمي انفسهم" منصوب علی الحال چې دوی ظلم کاوه پر خپلو ځانو یعني چې ځانونه يې د عذاب مخلد ته د خدای ﷻ وړاندي کړل.

فَاَلْقَوُا السَّلَمَ مَا كُنَّا نَعْمَلُ مِنْ سُوْٓءٍ ؕ

نو دوی منقاد سي حکم ته د خدای ﷻ او داسي ووايي، موږ نه وو په دنیا کي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي مونږ دي عمل د بدو کړی وي يعني الكفر والمعاصي وعصيان الرسل، نو ملئكة الموت جواب ورکړی.

بَلَىٰٓ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌۢ بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٢٨﴾

"بلى" اثبات د نفي د كفر ددوی دی، په تحقيق خدای (ﷻ) ښه خبر دی (الصيغة للمبالغة) په هغه شي چي تاسي يې عمل کوئ من الكفر والمعاصي په دنيا کي.

فائده: كلمه د ما موصوله ده والعائد محذوف ای تعملونه او يا مصدريه ده ای بعملكم.

فَٱدْخُلُوٓا۟ أَبْوَٰبَ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَا ۖ فَلَبِئْسَ مَثْوَى ٱلْمُتَكَبِّرِينَ ﴿٢٩﴾

نو داخل سئ د دروازو ته د جهنم (يعني طبقاتو ته د دوزخ يعني هر صنف دي خپلې طبقې ته ولاړ سي) چي همېشه به ياست په جهنم کي، پر هر آئينه بد دی حال د اقامت د متكبرانو يعني الكافرين چي په دنيا کي يې كبر كاوه او ايمان ته يې سر نه كښته كاوه، والمعنى بالفارسية: پس هر آئينه بد مقامی وبد آرام گاهيست متكبران را جهنم.

پوه سه: چي جهنم مؤنث سماعي دی او "خالدين" حال مقدر دی ای مقدرين الخلود فيها لان الخلود لايكون وقت الدخول.

ښهانه فائده: شيخ علي سمرقندي رحمه الله په خپل تفسير کي چي نوم يې بحر العلوم دی وايي چي تكبر درې قسمه دی (١) تكبر دی پر خدای ﷻ چي تر خدای پاک ځان لوړ وبلي لكه فرعون، نمرود وغيرهما چي ځانونه يې ربكم الاعلى بلل، وهو اخبث انواع الكبر واقبحها او ددې تكبر منشأ الجهل بالله دی (٢) تكبر دی پر رسولانو د خدای ﷻ يعني زه متابعت څرنگه وكړم د بشر چي مثل د نورو خلگو دی او دا تكبر ډ مثل د تكبر على الله دی په ورځ د قيامت في الخلود السرمدي (٣) تكبر على العباد هغه دادی چي ځان لوړ وبلي تر نورو خلگو او نور خلگ حقير وبلي تر خپل ځان او نه د عالم او نه د واعظ نه د بل چا انقياد كوي، وهو ايضًا قبيح صاحبه جاهل كبير يساهل سخطًا عظيمًا د لوی غضب د خدای ﷻ لائق دی كه توبه ونه كاږي، البته تر اولو دوو كم دی او خالد في النار نه دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَقِيْلَ لِلَّذِيْنَ اتَّقَوْا مَاذَآ اَنْزَلَ رَبُّكُمْ ؕ

او وويل سول يعني له طرفه څخه د هيئت د قبيلو د عربو و هغو کسانو ته چي ځانونه يې ساتلي وي له ضلال او اضلال څخه چي څه شی نازل کړی دی خدای ستاسي يعني د قرآن عظيم الشان په باره کي چي کفارو دمکې د هغه په باره کي بعض وافدين ته وويل کمامر اساطير الاولين.

قَالُوْا خَيْرًا ؕ

مؤمنانو به ورته وويل چي نازل کړی دی خدای ﷻ زمونږ خير الکلام يعني ما فيه صلاح الدين والدنيا والآخرة.

پوه سه: چي "خيراً" منصوب دی په فعل مقدر سره ای انزل خيراً وانما حذف الفعل للتنبيه على ان المؤمنين لم يتوقفوا في الجواب بل قالوا على الفور خيراً

لِلَّذِيْنَ اَحْسَنُوْا فِيْ هٰذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةٌ ؕ

هغو کسانو لره د مؤمنانو چي ښه کړي عقائد او اعمال خپل يعني د شريعت غراء سره برابر په دې دنيا کي، جار او مجرور يعني في هذه الدنيا متعلق دی په "احسنوا" پورې خصلة حسنة ومثوبة حسنة قال ابن عباس ﷺ هي تضعيف الاجر الى العشر.

دروښ وايي: چي ابن عباس ﷺ ادنی درجه د تضعيف چي د عموم مسلمانانو لپاره ده ذکر کړه، که نه د ځينو خواصو لپاره اوويا (۷۰) ضعفه ثواب ستة. بلکې د بعضې خواصو لپاره اووه سوه (۷۰۰) ضعفه ثواب سته بل الى ماشاء الله تعالى. او ضحاک ؒ وايي هي النصر على الاعداء والفتح لقرى وبلاد الكفرة. او مجاهد ؒ الى هي الرزق الحسن. او مظهري ؒ وايي هي الحيوة الطيبة في الدنيا بحيث يرتضيه الخالق آه.

وَلَدَارُ الْاٰخِرَةِ خَيْرٌ ؕ

يعني حيوة د دار الآخرة چي قيامت بهتر دی تر ژوند د دنيا يعني متقينو لره. ولي چي په هغه دار الآخرة کي به دوي ثمرات د عملو د دار الدنيا وموهي في كرامةٍ وجنةٍ ابد الآبدين ورضى الرحمن بلا خوف ولا مصيبة ولا مرض ولا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تکلیف بعبادة من العبادات مثل الصوم والصلوة وغیر ذالک.

وَلَنِعْمَ دَارُ الْمُتَّقِيْنَ ۝

او ډه ډېر ښه دار د متقینو. حسن بصري ؒ وایي چې مراد له دار المتقین څخه دار الدنیا ده. ولي چې په دنیا کې دوی زاد الآخرة جمع کړي دي من العبادات الشاقة. لکن اکثره د مفسرینو وایي چې مراد له دار المتقین څخه دار الآخرة دی او مظهري ؒ وایي چې اضافت د دار و متقینو ته لپاره د جنس یعني نعم دار المتقین ای دار کانت الدنیا والآخرة.

جَنّٰتُ عَدْنٍ

جنتونه دي د اقامت.

الاعراب: جنات مرفوع دی خبر یې محذوف دی ای لهم جنت عدن او یا خبر د مبتدأ محذوفي دی ای هي جنت عدن او دار هم جنت عدن او یا مخصوص بالمدح دی د ولنعم.

يَدْخُلُوْنَهَا تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ لَهُمْ فِيْهَا مَا يَشَآءُوْنَ ؕ

دوی به داخلېږي ودې جنتو ته چې جاري به وي لاندې تر مانیو ددوی څلور ویالې من ماء غیر آسن، وعسل مصفی وخمر لافیها غول ولا هم عنها ینزعون، ولبن سائغ للشاربین، او دوی لره به وي هغه شی چې ددوی هوا او اشتها ورته کېږي.

فائده: "فیها" یې تر "مایشاؤن" دمخه کړی تنبیهًا علی ان الانسان لا یجد جمیع ما یشتهیه الا في الجنة رزقنا الله بفضله وکرمه تلک النعمة العظمی في تلک الدار.

كَذٰلِكَ يَجْزِي اللّٰهُ الْمُتَّقِيْنَ ۝

پر دغه ډول یعني لکه تاسي چې واورېدل په مخني آیت کې جزاً او ثواب ورکوي خدای ﷻ متقینو ته یعني چې ځانونه له شرک او ګناهو څخه وساتي.

دروښ وایي: چې اوس خدای ﷻ ببیر ته احوال د متقینو بیانوي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الَّذِينَ تَتَوَفّٰىهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ طَيِّبِينَ ۙ

هغه کسان دي متقين چي ملک الموت او اعوان د هغه د قبض روح لپاره وده ته راسي په داسي حال کي چي دوی پاک وي قال البغوي في تفسير "طيبين" مؤمنين طاهرين من الشرک، وقال مجاهد زاکية افعالهم و اقوالهم چي پاک وي افعال ددوی او اقوال ددوی يعني مما يخالف الشريعة الغراً، او بعض مفسرين وايي وفاتهم تقع طيبة سهلة په سبب د زهري د ملکو دوی ته د جنت قال المولوي المعنوي جلال الدين الرومي قدس سره في بيان هؤلاً المبشرين بالجنة.

هم چنين باد اجل با عارفان ..... نرم وخوش همچون نسيم يوسفان[1]
پس رجال از نقل عالم شادمان ..... و ز بقايش شاد مان اين کودکان

يَقُولُونَ سَلٰمٌ عَلَيْكُمُ ۙ ادْخُلُوا الْجَنَّةَ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ۝

ملکي ورته ووايي دوی ته سلام دی پر تاسي يا اخبار دی يا دعاً، داخل سئ وجنت ته په سبب د هغه چي تاسي يې عمل کاوه په دنيا کي.

فائده: کلمه د "ما" يا موصوله ده فالعائد محذوف ای تعملونه، او يا مصدريه ده ای بعملکم في الدنيا، والمراد حين تبعثون في الآخرة ولي چي جنت تاسي لره اراسته دی بالسبب المذکور في الآية، او بعض مفسرين وايي چي سلام عليکم په وخت کي د وفات ورته وايي، او د قيامت په ورځ ورته وايي "ادخل الجنة الآية"

فائده: روح المعاني وايي سلام عليکم لا يلحقونکم بعده مکروه آه، او قرطبي ؒ وايي چي بيهقي د محمد بن کعب القرظي ؒ روايت کړی دی "اذا استدعيت نفس المؤمن" چي وغوښتل سي نفس د مسلمان يعني د روح د قبض وخت يې راسي جائه ملک الموت عليه السلام فقال السلام عليک يا ولي الله ان الله يقرء عليک السلام وبشره بالجنة انتهى.

پوښتنه: په دې آيت کي يې اعمال صالحه سبب د دخول د جنت ګرځولي دي،

---

[1] اشارة الى ماقال يعقوب عليه السلام اني لاجد ريح يوسف آه والجمع للسجع فافهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او په حدیث صحیح کي چي روایت یې مسلم او بخاري کړی دی راغلي دي "لن یدخل احدکم الجنة بعمله الحدیث" فتعارض هذه الآیة والحدیث المذکور.

ځواب: دروښ وایي: چي محي الدین النووي ؒ په شرح کي د مسلم په یوه وړده بیان سره جواب ورکړی دی او سید محمد آلوسي ؒ په روح المعاني کي په لنډه وجه ځواب ورکړی دی، دی وایي چي کلمه د با په آیت مبارک کي لپاره د سببیت عادي ده یعني عادت د خدای پاک په دې سره جاري دی چي مؤمنان متقین وه جنت ته داخلوي په محض فضل او کرم سره، او په حدیث کي با لپاره د سبب حقیقي ده ولا یجب علی الله شیئ" فلا منافات. ولي سبب عادي موجود دی کما في الآیة، او سببیت حقیقي یعني الوجوب علی الله معدوم دی کما في الحدیث. او معتزله وایي خذلهم الله چي ثواب د مطیع او عقاب د عاصي پر خدای واجب دی، والتفصیل في کتب العقائد، نو دوی عمل په آیت کوي او حدیث مذکور یې کان لم یکن شیئًا مذکورًا ګرځولی دی، او بعض مفسرین په اخصر وجه د سوال مذکور ځواب داسي ورکوي چي مراد په آیت کي دخول د منازلو او مراتبو او قصورو د جنت دی د هغو سبب اعمال المتقین دی، او مراد په حدیث کي نفس دخول د جنت دی وذالک بمحض فضل الله وکرمه لادخل للعمل فیه.

دروښ وایي: چي دا هم جواب معقول موافق د احادیثو شریفه وو سره دی والله ﷻ اعلم بالصواب والیه المرجع والمآب وهذا في وسع الفقیر غفرله.

هَلْ يَنْظُرُونَ إِلَّا أَنْ تَأْتِيَهُمُ الْمَلَائِكَةُ أَوْ يَأْتِيَ أَمْرُ رَبِّكَ

الاستفهام للانکار ای ما ینتظرون هؤلاء الکفار والذین مر ذکرهم في الآیات السابقة شیئًا، نو استثناء مفرغ ده، مګر ودوی ته چي راسي ددوی ملکي یعني ملک الموت واعوانه لپاره د قبض د روحانو ددوی، او یا راځي امر د خدای ﷻ یعني ما امر به چي قیامت دی یا عذاب د استیصال دی في الدنیا.

كَذَٰلِكَ فَعَلَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ

"کذالک" یعني مثل ددغه فعل چي کفار موجودین یې کوي من الشرک وتکذیب الرسل" فعل کاوه هغه کافرانو چي تر دوی دمخه وه یعني هغو ته عذاب د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دنیا بالاستیصال ورسېدی یعني موجودینو ته به هم ورسېږي ... سعدي رح ميگويد

پند گیر از مصائب دیگران ..... تا نه گیرند دیگران زتو پند
نرود مرغ سوی دانه فراز ..... چو دیگر مرغ بینند اندر بند

وَمَا ظَلَمَهُمُ اللّٰهُ وَلٰكِنْ كَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿۳۳﴾

خدای ﷻ ظلم نه دی کړی پر هغو بعذاب الاستیصال، لکن وه دوی چې پر خپلو ځانو يې ظلم کاوه په سبب د کفر او معاصیو چې هغه ورسول دوی عذاب استیصال ته.

فَاَصَابَهُمْ سَيِّاٰتُ مَا عَمِلُوْا وَحَاقَ بِهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۳۴﴾

نو ورسېدله دوی ته جزاً د سیئات عملو ددوی (یامضال محذوف دی وهو لفظ الجزاً او یا یې جزاً د سیئاتو په نامه د سیئاتو مسمی کړی د تسمیة المسبب باسم السبب مجازاً مرسلاً) او احاطه وکړه پر دوی هغه شي چې دوی پرې ځنډ په واهه یعني العذاب چې رسولانو به دوی بهرول دوی به د پرې ځنډه وویل لولا یعذبنا الله بما تقول یعني ولې خدای پاک نه په عذابوي موږ په قول زموږ چې موږ وایو چې بتان د خدای شریکان دي.

وَقَالَ الَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا لَوْ شَآءَ اللّٰهُ مَا عَبَدْنَا مِنْ دُوْنِهٖ مِنْ شَيْءٍ نَّحْنُ وَلَآ اٰبَآؤُنَا

او وایي هغه کسان چې شرک کوي که چېرې د خدای ﷻ اراده وای موږ به عبادت نه کولای ماسوای له خدای ﷻ څخه د هیڅ شي نه موږ او نه زموږ پلرونه.

(پوه سه: چې راګرځول د "نحن" لپاره د تاکید د ضمیر "عبدنا" دی.

سوال: لپاره د تاکید د ضمیر متصل د عطف لپاره خو فصل هم کافي دی والفصل ههنا موجود بقوله من دونه من شیئ آه؟

ځواب: غرض ددوی مبالغه ده)

وَلَا حَرَّمْنَا مِنْ دُوْنِهٖ مِنْ شَيْءٍ ؕ

او نه به حرام ګڼلای بېله خدایه یعني بېله ارادې د خدای ﷻ یو شی لکه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سائبه، بحیره، حام وغیرها کمامر تفسیر هذه الاشیا.

پوه سه: چې دا قول ددوی یا استهزاً ده او یا یې غرض دادی چې ارسال الرسول ته حاجت نشته او نه و کتاب ته. په دې دلیل ان ماشاً الله کان ومالم یشالم یکن" نو څه فائده ده د رسول او د کتاب را استولو ته، نو ددوی د کلام حاصل دادی چې زمونږ شرک یا تحریم د نامونږو حیواناتو قبیح نه دی او خدای په راضي دی. ولي که راضي نه وای، زمونږ څخه به یې ددغو کارو مشیت نه کولای.

دروښ وایي: چې ددوی جاهلانو په فاسد ګمان مشیت د خدای ﷻ او رضی د خدای ﷻ سره لازم او ملزوم دي ولیس کذالک.

پوه سه: چې زمونږ بعض جاهلان مسلمانان چې په یوه ګناه اخته وي او یو عالم ودوی ته نصیحت کوي چې دا کار ګناه ده مه یې کوئ، هم داغه دلیل د مشرکانو وایي. نو پر عالم ناصح لازمه ده چې په ښه فصیح ژبه دوی ته د مشیت د خدای ﷻ او د رضی د خدای فرق بیان کړي لان الفرق بینهما دقیق لا یفهمه العوام بالسهولة مثلاً داسي دي ورته وایي چې د یو سړي زوی خپل پلار ته وایي چې ماته یو لوی مبلغ نقود راکړه زه د شمالي کوریا مثلاً تجارت په کومه د پلار یې رضی نه وي یا په سبب ددې چې زوی مي بې تجربې دی د لوی کار وبار قابل نه دی او یا ددې سببه چې ځوان دی د کافرانو په مملکت کي به په زنی مثلاً یا شراب خوري مثلاً اخته سي. لکن زوی ورته ټینګ سي چې خامخا زه دغه تجارت کوم نو پلار نقود ورکړي او تجارت ته د کوریا مثلاً ولاړسي، نو دغه ورکړه د روپو په اراده د پلار ده، لکن په راضي نه دی. وهذا المثال ینبغي ان یکتب بمداد الذهب علی قراطیس الاذهان او ددې فرق لپاره نور ډیر مثالونه هم سته لو لامخافة الطول الموجب لملال خواطر المتعلمین لاتیت بها.

كَذَٰلِكَ فَعَلَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ۚ فَهَلْ عَلَى
ٱلرُّسُلِ إِلَّا ٱلْبَلَٰغُ ٱلْمُبِينُ ۝

پوه سه: چې فعل په دې آیت کې په معنی د قول دی لان لفظ الفعل عام.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والمعنی په مثل د قول د دغو مشرکانو ویلي دي هغه کسانو چې تر دوی دمخه وه، نو نسته پر رسولانو (نو استفهام انکاري په معنی د نفي دی په دلیل د استثنا) مګر نه تبلیغ د اوامرو او نواهیو د خدای ﷻ په واضح او بنکاره ډول یعني پر رسولانو هدایت موصله نسته فانها بید الله تعالی ومشیته بلکې ددوی په ذمه کې هدایت په معنی د ارائة الطریق دی وبس فافهم الفرق بین الهدایتین.

وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولًا أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوتَ ۖ

ای والله په تحقیق مونږ استولی وُ هر امت ته یو رسول چې تاسي (بحذف الباء ای بان) به عبادت کوئ د خدای ﷻ یعني بالتوحید من الشرک، او ځان به ساتئ له متابعت څخه د طاغوت یعني الطغیان والمراد منه الشیطان.

فَمِنْهُم مَّنْ هَدَى اللَّهُ وَمِنْهُم مَّنْ حَقَّتْ عَلَيْهِ الضَّلَالَةُ ۚ

نو بعض له هغو کسانو څخه چې رسول ور استول سوی وُ هغه کسان وه هدایت ورته وکړی خدای ﷻ ای شأ هدایتهم او توفیق یې ورکړی د ایمان په ارشاد او لاربنوونه سره د رسول د هغه امت، او بعض له هغو کسانو څخه حق او ثابت پاته سوه پر دې ګمراهي او کفر نو دوی ته توفیق نه ورکړل سو د ایمان او اراده د خدای ﷻ ددوی د هدایت نه وه، یعني نو خدای پاک هغه ټوله هلاک کړل پر کفر او کورونه د هغو یې خالي پرېښوول. لکه د فرعونیانو کورونه ددوی په غرق سره خالي پاته سوه وبني اسرائیلو ته وهکذا نمرود وقومه.

فَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَانظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِينَ ﴿٣٦﴾

نو تاسي سفر وکړئ یا معشر قریش په مځکه کې او بیا وګورئ یعني په نظر د عبرت چې څرنګه وُ آخر کار د هغو کسانو چې تکذیب د رسولانو یې کړی وُ یعني کورونه د عادیانو او د ثمودیانو او د قوم لوط او اصحاب الایکة چې ستاسي د اسفارو په دوران کې دغه څو ځایونه په مخه درسي.

پند گیر از مصائب دیگران ..... تا نه گیرند دیگران زتو پند
نرود مرغ سوی دانه فراز ..... چو دیگر مرغ بیند اندر بند

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې په دې آیت کې اشاره ده ورد ته د هغه قول د مشرکانو چې مشیت الهي او رضی د خدای ﷻ سره لازم او ملزوم بولي کما في الآیة السابقة وقال الذین اشرکوا الآیة" په دې معنی که مشیت او رضا سره لازم او ملزوم وای لکه دوی چې ویل، نو دا کفایه ولي په عذاب هلاک کول او دا هلاک بالاتفاق په مشیت د خدای ﷻ وه.

تنبیه: په وروستني آیت کې خدای پاک و علیه الصلوة والسلام دا بیان کوي چې دا کفار قریش حقت علیهم الضلالة دي، نو ته حرص پر هدایت د دوی مه کوه او مه یې پر ځان ډېروه او مه غمجن کېږه په ایمان نه راوړلو سره ددوی.

إِنْ تَحْرِصْ عَلَىٰ هُدَىٰهُمْ فَإِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي مَنْ يُضِلُّ

که ته حرص وکړې پر هدایت د کفارو د قریشو.

دروېش وایي: چې اصل جزاً محذوفه ده یعني لافائدة في حرصک و اغتمامک بعدم قبول قولک فان الله آه دا دلیل دی د جزاً محذوفي.

ولي چې خدای ﷻ هدایت یې معنی د ایصال الی الحق نه کوي و هغه چاته چې خدای ﷻ گمراه کړي دي یعني په سبب د اختیار د هغه، الکفر والضلال علی الهدی والایمان هکذا ینبغي ان یفهم هذا المقام لیحصل الخلاص من مذهب الجبریة فتدبر.

وَمَا لَهُمْ مِنْ نَاصِرِينَ ﴿٥٣﴾

او نسته دوی لره مرسته کونکی چې دوی له عذاب څخه د خدای ﷻ خلاص کړي، او یا مشیت الهي دي له دوی څخه رد کړي.

دروېش وایي: چې صاحب د روح البیان یوه ډېره زړه پوري او د جبریه وو دندان شکنه ترجمه ددغه آیت "فان الله لا یهدی من یضل" کړې ده حیث قال فاعلم ان الله لا یخلق الهدایة جبراً وقهراً فیمن یخلق فیه الضلالة بسوء اختیاره، او دا ترجمه موافق ده د هغې ترجمې سره چې سابقاً فقیر وکړه فافهم.

شان نزول: ابن جریر او ابن ابی حاتم له ابو العالیة ؒ څخه روایت کړی دی کما في روح البیان وتفسیر المظهري، چې د یوه مسلمان پر یو مشرک پور

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

باندي ؤ مسلمان ورته راغلی او خپل پور يې غوښتی. نو مسلمان په دوران کي د خبرو ورته وويل چي زما دي قسم وي په هغه خدای ﷻ چي زه امید ورته لرم د بعث بعد الموت آه. مشرک ورته وويل چي ستا خيال دی چي وروسته تر مرګ ته بعث کهږي؟ مسلمان ورته وويل هوا، مشرک ډير سخت قسم واخستی لا يبعث الله من يموت فانزل الله ﷻ هذه الآية.

وَأَقْسَمُوا بِاللَّهِ جَهْدَ أَيْمَانِهِمْ لَا يَبْعَثُ اللَّهُ مَنْ يَمُوتُ

پوه سه: چي دا آيت عطف دی پر هغه آيت "وقال الذين اشركوا آه" لپاره د اعلام په دې سره چي مشرکين لکه د توحيد څخه چي منکر دي له بعث بعد الموت څخه هم منکر دي او دوی قسم اخلي په خدای ﷻ سره په سخت د قسمو سره ددوی چي نه ژوندي کوي خدای هغه کسان چي مړه سي يعني په قيامت، ثواب او عقاب هيڅ نسته. خدای ﷻ په ځواب کي ددوی وايي:

بَلَىٰ وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٣٨﴾

"بلى" يعني يبعث الله بعد الموت.

پوه سه: چي لفظ د "بلى" وروسته تر نفي اثبات د منفي دی كما تقرر في كتب النحاة "وعداً" مفعول مطلق دی د فعل محذوف ای وعد بذالک وعداً "عليه" ای ثابتاً عليه انجازه، ولي چي خلاف په وعده کي د خدای ﷻ محال دی كما ثبت في علم الكلام "حقاً" ای حق بصيغة المجهول حقاً، نو دا هم مفعول مطلق دی.

لِيُبَيِّنَ لَهُمُ الَّذِي يَخْتَلِفُونَ فِيهِ

("ليبين لهم" لام متعلق دی په يبعثون پورې چي "بلى" دلالت پر وکړی او ضمير د "هم" راجع دی "ومن يموت" ته په اعتبار د معنی که يې څه هم لفظ مفرد دی او دا ضمير شامل دی و مسلمانانو او کافرانو ته، ولي چي من يموت خو دواړو ډلو دي) هغه شی چي مسلمانان او کافران پکښې په اختلاف کي دي يعني البعث بعد الموت نو د "ليبين" معنی داده چي خدای ﷻ بنکاره کړي و مسلمانانو او کافرانو ته هغه اختلافي موضوع حتی چي دا واضح سي چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسلمانان حق په جانب دي.

وَلِيَعْلَمَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَنَّهُمْ كَانُوْا كٰذِبِيْنَ ﴿۳۹﴾

او چې معلومه سي و هغو کسانو ته چې کفر يې کاوه چې په تحقيق سره دروغ ويونکي وو في ان لابعث بعد الموت، په دې ايت کې اشاره وحکمت الهي ته ده په بعث بعد الموت يعني چې فرق راسي د محق او مبطل او د حق او د باطل او ثواب و عقاب موعودان معرض ته د ظهور راسي.

اِنَّمَا قَوْلُنَا لِشَيْءٍ اِذَآ اَرَدْنٰهُ اَنْ نَّقُوْلَ لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُ ﴿۴۰﴾

نه دی قول زمونږ مگر دادی چې يو شي ته زمونږ اراده يعني د وجود وسي، مونږ وايو هغه ته چې موجود سه، نو هغه موجود سي.

پوه سه: چې "قلنا" مبتدأ ده او خبر يې "ان نقول آه" دی او يكون په رفع سره په حذف د مبتدأ ای فهو يكون، او "شئ" عام دی که له امورو څخه د دنيا او که د آخرت وي.

سوال: له دې آيت څخه څو دا فهمېږي چې معدوم قبل الوجود هم شی دی لانه تعالى سماه قبل الوجود شيئًا؟

ځواب: "شئ" چې يې وبالله په اعتبار د ماسيكون شيئًا عند تعلق ارادته تعالى بايجاده كما في قوله تعالى في سورة يوسف "اني ارانې اعصر خمرًا" ای عنبًا يكون خمرًا باعتبار المآل، او يا شی دلته په معنی د موجود نه دی بلكې په معنی د مايمكن ان يعلم ويخبر عنه والشيئ بهذا المعنى يشمل للموجود والمعدوم بل المحال ايضًا لانه يصح ان يقال اجتماع النقيضين محال وتحقيق ذالك في كتاب سلم العلوم للمحقق البهاري رح وشرحه للمولوي حمد الله رح.

دروښ وايي: چې شيخ ابراهيم الكوراني رح وايي چې اطلاق د "شئ" پر معدوم روا دی لكه پر موجود چې روا دی يعني پر دواړو يې حقيقةً اطلاق روا دی، په دې مسئله كې ده يوه رساله جليله تصنيف كړې ده چې نوم يې جلاء الفهوم پر ايښې دی، ددې رسالې له تحقيق څخه دا معلومه سوه چې اطلاق د شي پر معدوم خاص په معتزله وو سره نه دی كما هو المشهور.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي بخاري له ابو هريره ﷺ څخه روايت کړی دی چي رسول الله ﷺ وويل چي خدای ﷻ وفرمايل چي زما تکذيب کوي زما بنده (چي مراد ځني مشرکان دي) او ده لره نه ؤ مناسب دا شی "وشتمني عبدي ولم يكن له ذالک" او ماته بنکنځل او بد نسبت کوي زما بنده او ده لره دا نه وه مناسب.

دروښ وايي: چي مراد له دې بنده څخه مشرکان دي چي ملائکه بنات الله بولي کريمه " الكم الذكر وله الانثى تلك اذاً قسمة ضيزي" او يهودان چي عزير ابن الله بولي او نصاری چي عيسى ابن الله بولي. فاما تكذيبه فقوله لن يعيدني كما بدؤني وليس اول الخلق باهون علي من اعادته هر چي تکذيب د بنده دی هغه دادی چي دی وايي ما بيرته خدای نسي ژوندی کولای لکه چي اول يې پيدا کړی يم او نه دی اول خلق اسانه پر ما تر اعاده بعد الموت، واما شتمه اياي فقوله اتخذ الله ولداً وانا الاحد الصمد الذي لم الد ولم اولد ولم يكن لي كفواً احد او بنکنځل د بنده ماته دا قول د بنده دی چي خدای ﷻ لره ولد سته كما يقول المشركون الملايكة بنات الله واليهود عزير ابن الله والنصارى عيسى ابن الله او سره ددې چي ژه يو يم. يعني شريک في الملک والعبادة نه لرم او صمد يعني بې نياز او بې احتياج يم و چاته. هغه رب يم چي له ما څخه څوک زيږېدلی نه دی او نه زه له چا څخه زيږېدلی يم او نه سته ما لره مثل او مقابل هيڅ څوک.

فائده: في تحقيق قوله تعالى كن فيكون" روح البيان وايي وهذا الكلام مجاز عن سرعة الايجاد وسهولته على الله تعالى وتمثيل الغائب وهو تاثير قدرته تعالى في المراد بالشاهد وهو امر المطاع للمطيع في حصول المامور به من غير امتناع وتوقف ولا افتقار الى مزاولة العمل واستعمال آلة وليس هناک قول ولا مقول له ولا آمر ولا مأمور حتى يقال انه يلزم احد الامرين اما خطاب المعدوم (ان كان المخلوق معدوماً) او تحصيل الحاصل ان كان موجود او المعنى ان ايجاد كل مقدور على الله تعالى بهذه السهولة فكيف يمتنع البعث بعد الموت الذي هو بعض المقدورات... قال الشاعر:

انکه پيش از وجود جان بخشد ..... هم تواند که بعد ازان بخشد
چون در آرد از عدم بوجود ..... چی عجب باز اگر کند موجود

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او مظهري ؒ دې ته نژدې تحقیق کړی دی یعنې تمثیل ته نژدې خبرې یې کړې دي. او روح المعاني وایي هذا تمثیل لسهولة تاتی المقدورات بعد تعلق مشیته تعالی وتصویر لسرعة حدوثها بما هو علم في ذالک من طاعة المأمور المطیع لامر الآمر المطاع انتهی.

دروښ وایي: چې وروسته روح المعاني دېرې وړدې خبرې کړې دي او فخر الاسلام او نور علما وایي چې حقیقة کلام د "کن فیکون" مراد دی او محمول پر عادت د خدای ﷻ دی آه. او روح المعاني دا قول د فخر الاسلام په قیل سره راوړی دی او تر سخت تنقید لاندې یې نیولی دی ان شئت فارجع الیه.

وَالَّذِيْنَ هَاجَرُوْا فِي اللّٰهِ مِنْۢ بَعْدِ مَا ظُلِمُوْا

او هغه کسان چې هجرت یې کړی وي له مکې څخه و مدینې ته "في الله" یعني في سبیل الله ولوجه الله ولرضائه" وروسته تر دې د کفار مکې لخوا پر دوی ظلمونه کړل سوي وه. ابن عباس ؓ وایي چې دا آیت په ابی جندل بن سهیل ؓ کې نازل سوی دی. او بغوي ؒ وایي چې دا آیت په بلال، صهیب، خباب بن الارت، عمار بن یاسر، عائش بن جبیر او ابو جندل بن سهیل ؓ یعني ددې ټولو مذکوره کسانو په باره کې نازل سوی دی چې مشرکانو د مکې دوی نیولي وه او قسم قسم سخت عذابونه یې ورکول، او ابن المنذر او ابن ابی حاتم او عبید بن حمید ؒ په روایت د قتاده ؒ وایي چې دا آیت په باره کې د ټولو صحابه کرامو ؓ چې په مکه کې وه نازل سوی دی چې د مکې د کفارو له خوا څخه د ظلمو له کبله دوی د خپل تاتوبي او کورونو څخه جبراً ووتل یعني حبشې ته مهاجر سوه. وروسته خدای پاک دوی ټوله په دار الهجرة المدینة المنورة کې سره جمع کړل، او انصار د مدینې ؓ ددې مهاجرینو د اکل او شرب او مسکن ذمه وار خدای ﷻ وګرځول. وفي الحدیث الصحیح من فر بدینه من ارض الی ارض وان کان شبراً استوجب له الجنة الحدیث"

ژباړه: که څوک فرار وکړي په سبب د دین خپل له یوې مځکې څخه بلې مځکې ته که څه هم یوه لوښت وي، واجب یې کړی د ځان لپاره جنت.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لَنُبَوِّئَنَّهُمْ فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً ۖ وَلَأَجْرُ الْآخِرَةِ أَكْبَرُ ۚ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ ﴿٤١﴾

هر آئينه موږ به دوی نازل کړو يعني ځای به ورکړو حسنه يعني ښه ځای، چې مدينه منوره ده، او هر آئينه ثواب د آخرت پر هجرت ډېر بالا دی يعني هر هغه څه چې موږ دنيا دوی ته ورکوو، بغوي رح وايي چې عمر بن الخطاب رضي الله عنه چې خليفه سو او د مهاجرينو تنخواه به يې ورکول، نو داسې به يې ورته وويل "خذوا بارک الله فيه هذا ماوعدک الله في الدنيا" او هغه چې ذخيره ګرځولي دي خدای ﷻ تاسي لره هغه تر دې افضله ده، نو بيا دا آيت د دليل په توګه د عمر رضي الله عنه تلاوت کړی.

بوه سه: چې ضمير د "لوکانوا" وکفارو ته د مکې راجع دی، يعني که کفار ځبر وای چې خدای ﷻ و مهاجرينو ته دوارې دار الدنيا والآخرة ورکوي نو به يې ظلم نه پر کولای او هجرت ته به يې نه مجبوره کولای. او يا ضمير و مهاجرينو ته راجع دی، يعني که مهاجرين خبر وای چې موږ ته ثواب د دارينو خدای ﷻ راکوي، نو د هر کوشش به يې کولای په هجرت کې او صبر به يې کولای پر جلا وطنۍ باندې "لان حب الوطن من الايمان"

الَّذِينَ صَبَرُوا وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ﴿٤٢﴾

هغه کسان دي چې صبر يې کړی وي پر ازار د کفارو، دوی لره او پر جلا وطنۍ او خاص پر خدای ﷻ يې توکل وي يعني تفويض د ټولو امورو و خدای ﷻ ته کوي.

الاعراب: نحات په ورته ځايو کې وايي چې د "الذين" لفظ مرفوع على المدح دی په حذف د مبتدأ اي هم الذين، يا منصوب على المدح دی په حذف د فعل او فاعل اي اعني، لکن رفع او نصب دوارې محلي دي فافهم، وتفصيل ذالک في شرح العلامة الجامي على الكافية.

فائده: جلا وطنۍ يو دومره لوی مصيبت دی چې حجاج بن يوسف هغه شخص ظالم سفاک چې دنياوال ټوله دده په ظلم اعظم ځبر دي، وايي چې که د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مهاجر دا امید نه وای چې صبا به ولاړ سم، یا میاشت وروسته یا کال وروسته خپل وطن ته، نو ما خلګ نه وژل بلکې له وطنه مي مهاجر کول، ولي چې د وژلو درد یو ګړی دی او د هجرت درد او غم دائمي دی.

تجربه: زه په خپله سره د اهل وعیاله د روسانو د تسلط په سبب پر افغانستان له وطن محبوب افغانستان خصوصاً له قندهار څخه و همسایه وطن پاکستان ته مهاجر سوم، اوس اته ویشت (۲۸) کاله کېږي چې تر اوسه مي غم د افغانستان له زړه څخه نه دی وتلی سره ددې چې د مالي ژوند انه چاري مي په پاکستان کې په کسب او تجارت د زامنو ډېري پر مخ تللي دي حتی چې په قندهار کې مي د بل امامت کاوه او د مقتدیانو زکوٰة ته په انتظار وم، او هم دا اوس شکر دي وي خدای ﷻ لره چې دوه چته پوخ په سیخ او ګانګرېټو سره ډېر زېبا جامع مسجد مي جوړ کړی دی په غالیو فرش، نه د چا زکوٰة ته اړیم او نه یې اخلم او زامن مي خپل د سپرتیا لپاره موټران لري، لکن ددې ټولو نعمتو سره سره مي محبت د افغانستان خصوصاً د قندهار له زړه څخه نه دی وتلی.

سوال: شورویان "روسان" خو د وخته له افغانستان څخه وتلي دي، نو ولې خپل وطن ته نه تلې؟

ځواب: تر هغه وروسته د حزبو د مشرانو تر منځ کشمکش او جنګ ؤ.

سوال: هغه خو بیا ختم سو او قدرت و مجاهدینو طالبانو ته نقل سو، نو ولې نه تلې؟

ځواب: چې موږ ځان سره بشوراوه لوی ښامار د دنیا یعني امریکا ځان جوړ کړی و قبضې ته د افغانستان، دا بیت واوره او له دې څخه یې قیاس کړه:

په سرینا کې د ډالرو باران اوري ..... پر افغان اولس د وینو څاڅکي اوري

هغه لږ وخت وروسته امریکایانو د طالبانو حکومت ړنګ کړی او د افغانستان حکومت یې په خپله قبضه کې واخستی، او برای نام یو رئیس جمهور تش په نامه یې مقرر کړی.

والله المستعان اللهم دمر الامریکین وزلزلهم زلزالاً شدیداً ومزقهم کل ممزق واخرجهم بقدرتک من بلاد افغانستان واعط زمام حکومة افغانستان بید رجل مؤمن قوي عدل لیجری قانون الاسلام في جمیع افغانستان.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي د قريشو كفارو له نبوت څخه د عليه الصلوة والسلام په دې سبب انكار كاوه دوى به ويل الله اعظم من ان يكون رسوله بشراً فهلا بعث الينا ملكًا فنزل هذه الآية.

وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ اِلَّا رِجَالًا

موږ نه دي استولي يعني په نبوت سره مګر نه رجال يعني دون الملائكة.

فائده: له دې آيت څخه دا معلوه سوه چي نبوت په نرو پوري خاص دى ښځه نبي نسي كېداى ولي چي نبي به په اعلان او په محافلو كي كافرنو ته تبليغ كوي. او بنآ د حال د ښځي پر ستر ده.

نُوْحِيْٓ اِلَيْهِمْ فَسْـَٔلُوْٓا اَهْلَ الذِّكْرِ اِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ۝

موږ وحي كوو پر ژبه د ملكو و دوى ته يعني كه تاسي په شك كي ياست چي خداى ﷻ نه دي را استولي الا الرجال دون الملائكة، نو تاسي پوښتنه وكړئ له اهل علم څخه بالكتب السابقة من اليهود والنصارى، يعني چي موسى او عيسى او نور له انبياؤ عليهم السلام څخه د بني اسرائيلو رجال وه او كه ملكي، وهكذا من قبلهم، ابراهيم و نوح الى آدم عليهم السلام. اهل كتاب به تاسي ته اطمنان وركړي چي دا ټوله رجال وه، كه تاسي ياست چي علم نه لرئ.

فائده: له دې آيت څخه دا معلومه سوه چي پر جاهلانو په مختلف فيه مسئلو كي واجب ده چي علماؤ ته به رجوع كوي. او دا هم معلومه سوه چي اخبار مفيد د علم دى كه چېري مخبر ثقه او معتمد عليه وي.

بِالْبَيِّنٰتِ وَالزُّبُرِ ؕ

دا متعلق دى بقوله "ارسلنا" والتقدير ما ارسلنا بالبينات اى المعجزات الظاهرات والزبر اى الكتب من الزبر وهو الكتابة الا رجالاً.

وَاَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ اِلَيْهِمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُوْنَ ۝

او نازل كړى دى موږ وتاته يا محمد ذكر يعني القرآن، چونكه قرآن مبارك موعظة دى، نو ځكه يې ذكر بولي چي ته بيان كړې و خلګو ته هغه څه چي نازل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوي دي و دوی ته په واسطه د قرآن من العقائد والاحكام من الحرام والحلال والوعد والوعيد والشرائع الي غير ذالک، شايد دوی به فکر ووهي او له ژور نظر څخه به کار واخلي، مطلب دادی چي بعض احکام د شرعي بهله بيانه د شارع سړي ته په فکر سليم هم ور معلومېږي، دمثال په توګه خدای ﷻ وايي "نسائکم حرث لکم فأتوا حرثکم انی شئتم" يعني ستاسي ماينې د کښت ځای دی چي تخم د نطفې پکښې وپاشئ حاصل د ولد به خدای ﷻ درکړي، له دې څخه دا معلومېږي چي په لږ فکر سره چي مراد اتيان و ماينې ته دی په فرج کي، ولي چي ددې له اتيان څخه ولد زېږي نه په دبره کي، ولي چي له اتيان څخه ولد نه پيدا کېږي، بلکې نطفه ضائع ګرځي، وهکذا قال الله تعالى "المطلقات يتربصن بانفسهن ثلثة قروء" طلاقي سوي ښځي به انتظار کوي يعني بل مېړه به کوي تر دريو قروء وروسته، که څه هم قروء مشترک دی په منځ کي د طهر او د حيض لکه چي سړی فکر ووهي په دې به وپوهېږي چي په آيت کي مراد حيض دی، ولي چي طلاق سني مشروع په طهر کي دی نو که مراد په آيت کي طهر وای نو په طهر کي سړی ماينې ته طلاق ورکړي، نو دغه طهر که په عدت کي شمار سي، نو خو عده ددې دوه طهره کامل او يو طهر ناقص سو، دريو طهره کامل پوره نه سوه، او که د طلاق طهر نسي حساب نور دريو طهره کامل غواړي، نو ددې عده دريو طهره ده، او بعض د طهر طلاق سوه، يعني تر دې طهر څه بالا سوه مع ان لفظ ثلاث نص دی په دروکي، يعني نه به بالا وي او نه کم، نو دا معلومه سوه چي له قروء څخه حيض مراد دی فتدبر.

أَفَأَمِنَ الَّذِينَ مَكَرُوا السَّيِّئَاتِ

آيا په امن کي دي يعني بېغمه دي هغه کسان چي مراد ځني کفار د مکې دي چي دوی چمونه کوي مکرات السيئات يعني بد مکرونه چي هغه کسان د قريشو وه چي په دار الندوة کي چي ددوی د قومي مشورې سرای وه چي د عليه الصلوة والسلام په باره کي يې په دې کي مشوره کول چي بعضو به ويل قتل به يې کړو او بعضو به ويل چي بندي به يې کړو او بعضو ويل له وطنه به يې وشړو وقد مر القصة بالتفصيل في هذا التفسير في موضعه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

أَنْ يَّخْسِفَ اللّٰهُ بِهِمُ الْأَرْضَ أَوْ يَأْتِيَهُمُ الْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۴۵﴾

چې کښته به بوزي محکه متلبس په دوی سره (یعني په محکه به یې ننباسي لکه قارون چې یې خسف کړی یعني بېغمه باید نسي) او یا دی عذاب نابیره پر دوی له داسي جهته څخه چې ددوی گمان نه کېدی لکه پر قوم لوط چې یې دډبرو باران وکړی، او پر نورو کفارو یې قسم قسم عذاب مسلط کړی چې ددوی به گمان نه وۍ.

أَوْ يَأْخُذَهُمْ فِيْ تَقَلُّبِهِمْ فَمَا هُمْ بِمُعْجِزِيْنَ ﴿۴۶﴾

او یا دوی ونسي په عذاب سره په گرځېدو راگرځېدو سره یعني په سفرو کي ددوی نو دوی نه سي عاجزه کولای خدای ﷻ له دغو عذابو څخه.

أَوْ يَأْخُذَهُمْ عَلٰى تَخَوُّفٍ ؕ

في القاموس تخوف الشيئ تنقصه ومنه قوله تعالى او يأخذهم على تخوف انتهى، نو معنى دلته داده چې دوی ته به خدای ﷻ کم والى ورکوي په انفس او اموالو کي شيئًا بعد شئ حتى يهلكوا جميعًا ولا يهلكوهم في حالة واحدة، نو مراد د "اويأتيهم العذاب الآية" عذاب د استيصال دی مرةً واحدةً.

فائده: دا درې حاله چې خدای پاک ذکر کړه مقصود پکښې دادی چې خدای قادر دی پر هر هلاک ددوی من الانواع الثلثة لا الحصر في هذه الثلثة.

فَإِنَّ رَبَّكُمْ لَرَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ﴿۴۷﴾

په تحقیق خدای ستاسي بخښونکی او مهربان دی چې تلوار په عقوبت کي ستاسي نه کوي مع استحقاقكم لها فهذا من الله امهال لا اهمال.

دروښ وايي: چې باید مؤمن په توالي د نعمتو د خدای ﷻ سره د معصیت ډډه غره نسي لان الله كما هو غفور رحيم كذالك هو ﷻ قهار منتقم فينبغي له ان يرعى الادب ظاهراً وباطناً مع الرب العزيز الجبار ..... بيت:

از خدا خواهيم توفيق ادب ..... بی ادب محروم ماند از فضل رب

روایت دی چې رویم رح و ابن الخفیف رح ته وویل "اجعل عملك ملحًا وادبك دقيقًا ..... بيت:

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بی ادب تنها نه خودرا داشت بد ..... بلکه آتش درهمه آفاق زد

أَوَلَمْ يَرَوْا

پوه سه: چي جمهور د قراؤ دا کلمه په یا د غیبت وایي. نو ضمیر راجع دی و "الذین مکروا السیئات" ته. نو دا قرائت موافق دی له دمخه آیتو سره چي ټوله په یا د غیبت وه، او کسائي یې په تا د خطاب وایي چي خطاب هم هغو کسانو ته دی، نو په دې آیت کي علی قرائت الکسائي التفات دی له غیبت څخه و خطاب ته او استفهام لپاره د انکار دی. او نفي د نفي اثبات دی یعني قدروا ذالک.

إِلَىٰ مَا خَلَقَ اللَّهُ مِن شَيْءٍ

و هغه ته چي خدای (ﷻ) پیدا کړي یو شی د اشیا کـه څه هم حقیر صغیر وي، نو مراد دادی چي ولي دوی وکمال قدرت ته د خدای نه ګوري چي ایمان راوړي، او له عذابه د خدای نه ببر ېږي چي هنوز پر شرک ډاډه دي.. سعدي رح:

برګ درختان در نظر هوشیار ..... هر ورقی دفتریست معرفت کردگار

يَتَفَيَّؤُا ظِلَالُهُ عَنِ الْيَمِينِ وَالشَّمَائِلِ

چي میل کوي په ارتفاع د شمس او په انحدار د شمس، سایې د دغو کسانو و راسته او چپه خواته ددوی.

پوه سه: چي مراد له دغو شیانو څخه هغه اجسام مراد دي چي سایې لري.

فائده: مراد خو جانبین د هغه ذي الظل دي لکن اطلاق د یمین او شمال پر کول استعاره ده له یمین او له شمال څخه د انسان.

فائده: یمین یې مفرد راوړی او شمال یې جمع کړی، الاول نظراً الی لفظ ما، والثاني نظر الی معناه لکه مفرد راوړل د ضمیر د ظلاله او جمع کول ددې لفظ یعني شمائل.

سُجَّدًا لِّلَّهِ وَهُمْ دَاخِرُونَ ﴿٤٨﴾

خضوع کونکي و خدای ﷻ ته. مظهري رح وایي چي مراد له سجود څخه انقیاد دی د امر د خدای ﷻ یا طبعاً کما یقال سجدت النخلة یعني مالت بسبب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

كثرة الحمل يعني ميوه او اختياراً كما يقال سجد البعير چي دی به چوک سوپه اختيار سره لپاره د سپرتيا.

پوه سه: چي "سجداً لله" او "وهم داخرون" دواړه حال دي له ضمير څخه د "ظلاله" والمعنى او دوی يعني اصحاب الظلال داخرون او مذلل دي د امر د خدای ﷻ.

سوال: ضمير د "ظلاله" خو مضاف اليه دی او حال علی ماتقرر في النحو مابين هيئة الفاعل، او المفعول به؟

ځواب: روح المعاني وايي لان المضاف اليه كالجزء من المضاف او مضاف چي "ظلال" دی فاعل دی د "يتفيؤا".

پوښتنه: ضمير د هم او صيغه د داخرون خو په ذوی العقول پوري خاصه وه، نو د اصحاب الظلال چي درختي او ډبري او غرونه دي څرنګه اطلاق پر صحيح دی؟

ځواب: روح المعاني وايي يا دا اطلاق استعارةً دی او يا له دې سببه چي په اصحاب الظلال کي خو ذوی العقول يعني انسانان هم داخل دي، نو په ضمير او صيغه کي يې تغليب ذوی العقول ته ورکړی، او روح البيان هم ورته ځواب ذکر کړی دی، او مظهري رحمه الله هم اجمالي اشاره ودغه ځواب ته کړې ده.

دروښ وايي: چي دا تحقيق ما خاص د طالبانو او د بعضو ملايانو لپاره وکړی، عوامو لره په دې تحقيق کي هيڅ فائده نسته لکن چونکه د فقير تفسير يوازي د عوامو لپاره نه دی بلکې د عوامو او خواصو لپاره دی، نو له دې سببه بعضي مطالب په خواصو پورې مربوط دي ماپکښې راوړي دي، البته د تفسير ژبه پښتو ده، نو هيڅ څوک دي ګله نه کوي.

وَلِلّٰهِ يَسْجُدُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ مِنْ دَآبَّةٍ

او خدای ﷻ لره خاص دي منقاد او مذلل نه د غير د خدای ﷻ لا انفراداً ولا اشتراكاً، ويدل على الحصر والخصوص تقديم الجار والمجرور على عامله.

فائده: كلمه د "ما" عامه ده ذوی العقول او غير ذوی العقول لره كما حققه الجامي رحمه الله في شرح الكافيه، او پر تقدير ددې چي كلمه د ما خاص په غير ذوی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

العقول پورې سې کما هو المشهور، نو بيا يې تغليب غير ذوی العقول ته په اعتبار د کثرت د افرادو پر ذوی العقول ورکړی دی، يعنې هغه شيان چې په اسمانو کې دي او هغه چې په مځکه کې دي.

فائده: مراد له مافي السموات څخه ټوله علويات دي چې لمر، سپوږمۍ، ستوري او ملکو ته شامل دي، او له مافي الارض څخه ټوله سفليات نه دي مراد بلکې من دابة بيان د مافي الارض والدبيب الحرکة علی الارض، ويدل عليه قوله تعالی "والله خلق کل دابة من ماء" لان ما في السماء کالملائکة لايکون خلقهم بالتولد وليس لهم دبيب بل لهم اجنحة يطيرون فيها.

وَالْمَلٰٓئِكَةُ وَهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ ﴿۴۹﴾

او ملائکه کبر له عبادت او له انقياد څخه د خدای نه کوي، "والملائکة" عطف دی پر ما في السموات، او تخصيص بعد التعميم دی لان ما في السموات شامل للملائکة کمامر، وجه د تخصيص يې شرف د ملکو دی لکه عطف د جبرئيل پر ملکو په بل آيت کې.

يَخَافُوْنَ رَبَّهُمْ مِّنْ فَوْقِهِمْ وَيَفْعَلُوْنَ مَا يُؤْمَرُوْنَ ﴿۵۰﴾

پوه سه: چې دا جمله حال دی له ضمير مستکن څخه د "لا يستکبرون" او دوی ټپرپږي له خدای ﷻ څخه د لوړې خوا يعنې چې پر موږ عذاب نازل نه کړي د لوړې خوا، او يا معنی داده چې دوی ټپرپږي له خدای ﷻ څخه په داسې حال کې چې خدای ﷻ فوق دی يعنې په قهر او غلبه سره پر دوی، کريمه "وهو القاهر فوق عباده"، او دوی هغه کار کوي چې د خدای ﷻ له خوا څخه په امر کړل کېږي.

پوه سه: چې کلمه د ما موصوله ده او عائد يې محذوف دی ای ما يؤمرون به.

فائده: مراد د ما يؤمرون طاعت د خدای ﷻ دی، او هغه کار چې د حال سره ددوی لائق وي.

دروښ وايي: چې په مناسبت ددې مقام دا بيتونه لپاره د پخښنې د ګټهو او بلکې د هر حاجت لپاره من حاجات الدنيا والآخرة او لپاره د اظهار د عجز او د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نفي الكبر والاستكبار ډېر مجرب دی په شپه کي سره له طهارته دري واره وايي تر هغو چي مطلب يې حاصلېږي. او که يې هره شپه يو يو وار وايي ډېر به ښه وي. ابيات دادي:

يا من يرى مافي الضمير ويسمع ..... انت المعد لكل ما يتوقع
يا من يرجى للشدائد كلها ..... يا من اليه المشتكى والمفزع
يامن خزائن رزقه في قول كن ..... امنن فان الخير عندك اجمع
مالى سوى قرعى لبابك حيلة ..... فلين رددت فاى باب اقرع
مالى سوى فقرى اليك وسيلة ..... فبالافتقار اليك فقرى ادفع
ومن ذا الذي ادعوا واهتف باسمه ..... ان كان فضلك عن فقيرك يمنع
حاشا لجودك ان تقنط عاصيًا ..... الفضل اجزل والمواهب اوسع
ثم الصلوة على النبي وآله ..... خير الانام ومن به يتشفع
لبست ثوب الرجاء والناس قدر قدوا ..... وبت اشكو الى مولاى ما اجد
وقلت يا املى في كل نائبة ..... ويا من عليه لكشف الضر اعتمد
وقد مددت يدى مفتقرًا ..... اليك يا خير من مدت اليه يد
اشكوا اليك امورًا انت تعلمها ..... مالي على حملها صبر ولا جلد

پای ته ورسېدل ابيات د شيخ المشائخ حضرت ميان فقير الله قدس سره.

دروښ وايي: چي هر مطلب چي د سړي وي هغه دي په زړه کي تر تمامه وينا دا ابيات وايي يعني غوښتنه دي کوي.

وَقَالَ اللّٰهُ لَا تَتَّخِذُوْٓا اِلٰهَيْنِ اثْنَيْنِ

او ويلي دي خدای ﷻ چي تاسي مه اخلئ يعني عقيده او عبادت مه کوئ د خدايانو دوو.

پوښتنه: "الهين" خو تثنيه ده پر دوه واري دلالت کوي نو په ذکر کي اثنين څه فائده دده؟

ځواب: لپاره د دلالت پر دې چي مقصود په نهي سره د "اثنين" دی نه نفس معبوديت. ولي چي معبوديت د خدای ﷻ پر ځای دی او لازم دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: که څه هم کفارو د مکې دري سوه شپېته (۳۶۰) خدایان درلودل، نو اقل د مراتبو د عدد چې دوه دي منهي عنه دی نو بالا تر هغه په طریق اولی ممنوع دی کما لا یخفی.

إِنَّمَا هُوَ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ

معبود بالحق یو دی.

پوه سه: چې په دې آیت کې که څه هم "اله" پر وحدت دلالت کاوه لکن د وحدت قید یې ددې لپاره ذکر کړی چې مقصود بالاثبات وحدت دی دون الالوهیة لان المشرکین لا ینکرون الوهیة تعالی بل یشرکون في معبودیته الاصنام.

فَإِيَّايَ فَارْهَبُونِ ﴿٥١﴾

نو خاص له ما څخه وېرېږئ په دې آیت التفات دی له غیبت څخه و خطاب ته.

پوه سه: چې ایراد د فا لپاره د جزا ده یعني ان ترهبون شیئاً فارهبوني وتقدیم المفعول علی شریطة التفسیر للمبالغة او کسره د نون لپاره د دلالت پر ما محذوفه دی لکه یعقوب ؒ په اثبات د یا وایي فارهبوني ففي الآیة مبالغة في الدعوة الی التوحید کما لا یخفی فافهم.

وَلَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ

او خدای ﷻ لره دي خاص هغه شیان چې په اسمانو کې دي من الملائکة والشمس والقمر والنجوم وغیرها مما لا یعلمه الا الله تعالی او هغه شیان چې په مځکه کې دي من الحیوانات والنباتات والمعدنیات وغیرها از روی خلق فلا یمکن خلق شیئ من غیره تعالی خلافاً للمعتزلة، دوی وایي چې خالق د افعالو د بندګانو بندګان دي، اهل سنت وایي چې خالق د افعالو د بندګانو خدای ﷻ دی بنده صرف کاسب دی والفرق بین الخلق والکسب دقیق مذکور في کتب علم العقائد والکلام وملکاً فلا یتصور الظلم في حقه تعالی لان الظلم هو التصرف في ملک غیره بغیر اذنه او مخلوق نه دی دا تصرف په شي د اشیاؤ پرله اجازې د خدای ﷻ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَهُ الدِّيْنُ وَاصِبًا

او خدای ﷻ لره دی دین او اخلاص دائمًا ثابتًا او دا طاعت له بنده څخه نه ساقطېږي په هیڅ حال کي لانه هو الله وحده، نو بنده لره په کار ده چي له خدای ﷻ څخه دي ببر ېږي او عبادت دي د خدای ﷻ کوي په ټولو احوالو کي که غني وي که فقیر او اقتداً په ملائکه پسي کوي چي خدای پاک ددوی په شان کي وایي "لا یعصون الله ما أمرهم ویفعلون ما یؤمرون" او په مقابل کي د طاعت د خدای دي د بل چا طاعت ته دي سر نه کښته کوي، قال رسول الله ﷺ لا طاعة لمخلوق في معصية الخالق، او دا صحیح حدیث دی چي په مختلفو روایاتو او متقاربو الفاظو د علیه الصلوة والسلام څخه مروي دی.

پوه سه: چي بعض مفسرین ددې آیت وله الدین واصبًا تفسیر داسي کړی دی چي دین په معنی د جزا دی پر اعمال د بندګانو دائمًا لا ینقطع ثواب له لمن آمن ولا ینقطع عذابه لمن کفر وقیل غیر ذالک والله اعلم بمراده في کتابه.

أَفَغَيْرَ اللَّهِ تَتَّقُونَ ﴿٥٢﴾

آیا له غیر څخه د خدای ﷻ تاسي ببر ېږئ والاستفهام للانکار یعني له ماسوی څخه د خدای ﷻ تاسي خوف مه کوئ اذ لا ضار سواه کما لا نافع غیره تعالی.

وَمَا بِكُم مِّن نِّعْمَةٍ فَمِنَ اللَّهِ

کلمه د ما شرطیه ده یا موصوله د متضمن معنی لره د شرط ده او فمن الله جزا ده، والمعنی هر نعمت چي په تاسي پوري ملحق او متصل وي هغه له جانب څخه د خدای ﷻ دی فیجب علیکم شکره تعالی "کریمه "لئن شکرتم لازیدنکم او مراد په نعمت سره عام دی من الصحة والعافیة في اعضاء البدن والرزق والغنی والاولاد والمتاع، کریمه "وان تعدوا نعمة الله لا تحصوها.

پوښتنه: په قاعده د نحاتو خو جزا تر شرط وروسته وي نحو ان جائک زید فاکرمه یعني امر بالاکرام خو تر مجیئ د زید وروسته دی وههنا لیس کذلک، ولي چي استقرار د نعمت خو تر من الله وروسته دی، واجاب عنه الآلوسي في روح المعاني

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والبروسوي في روح البيان والمظهري في تفسيره بان معنى الشرط والجزا باعتبار الاخبار دون الحصول فان استقرار النعمة بهم يكون سببًا للاخبار بانه من الله لاغيره لاحصولها منه تعالى فانه مقدم على الاستقرار فتدبر غاية التدبر فانه دقيق.

ثُمَّ إِذَا مَسَّكُمُ الضُّرُّ فَإِلَيْهِ تَجْأَرُونَ ﴿٥٣﴾

وروسته چي تاسي ته ورسېږي يو ضرر في المال من فقر او يا په بدن کي لکه ناجوړي او يا جدب او قحط دربانديراسي نو خاص الخاص و خداى ﷻ ته تاسي تضرع او زارى کوئ لا الى غيره لکه ستاسي بتان.

پوه سه: چي جوار پورته کول د اواز دى او استغاثه په دفعه کي د ضرر واقع بکم.

ثُمَّ إِذَا كَشَفَ الضُّرَّ عَنكُمْ إِذَا فَرِيقٌ مِّنكُم بِرَبِّهِمْ يُشْرِكُونَ ﴿٥٤﴾

بيا چي خداى ﷻ ستاسي د عجز او زاريو په سبب ضرر واقع پورته کړي له تاسي څخه، نو ناڅاپه يوه ډله له تاسي څخه په رب کي ددوى شريک بولي د خداى سره يعني خپل بتان په عبادت کي.

پوه سه: که خطاب عام وي نو کلمه د من تبعيضي ده، ولي مؤمنانو خو داغسي نه وي، او که خطاب خاص په کافرانو پوري سي کما هو الظاهر من السياق، نو کلمه لپاره د بيان ده، والمعنى ففريق وهم انتم ايها الكفار.

لِيَكْفُرُوا بِمَا آتَيْنَاهُمْ ۚ فَتَمَتَّعُوا ۖ فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴿٥٥﴾

تاچي دوى کفر وکړي په هغو نعمتو چي مونږ دوى ته ورکړي خصوصًا نعمت د کشف الضر عنهم بتضرعهم، نو لام لپاره د عاقبت دى او امر د "تمتعوا" لپاره د تهديد دى، ژر دى چي تاسي به پوه سئ په اغلظ عذاب اليم د خداى ﷻ ولي تاسي نعمتونه زما وغير ته چي ستاسي اصنام دي منسوب کړه او عبادت د غير الله ته مو دوام ورکړى.

تنبيه: پوه سه! چي په حديث صحيح کي راغلي دي قال عليه الصلوة والسلام ما عبد اله ابغض على الله من الهوى ثم قال عليه السلام انما هو اله واحد، وهذا الحديث كانه تفسير لقوله تعالى "افرئيت من اتخذ الهه هواه" د هوى تفسير ما

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بميل اليه الطبع وتهواه النفس للاشتها من غير دليل شرعي من الاية والحديث واجتهاد مجتهد كشرب الخمر والزنى وغير ذالک من المنهيات.

وَيَجْعَلُونَ لِمَا لَا يَعْلَمُونَ

او گرځوي مشرکين د هغه شي لپاره چې هغه هيڅ علم نه لري بلکې جمادات دي چې مراد ځني بتان دي، نو ضمير د جمع په "لا يعلمون" کې راجع دی و "ما" کلمه ته که څه هم مفرد دی لفظًا لکن جمع ده معنًی، ولي چې بتان خو ډير دي، او بعض مفسرين وايي چې د "يجعلون" او د "يعلمون" ضمير دواړه راجع دی و مشرکينو ته او له "ما" څخه مراد بتان دي، او کلمه د "ما" موصوله ده عائد يې محذوف دی، والتقدير لما لا يعلمونها، يعني مشرکان پر دې علم نه لري چې دغه بتان الهه دي او مستحق د عبادت دي او ضار او نافع دي بلکې جهلاً وتقليداً لآبائهم وايي چې دغه اصنام الهه دي تضر وتنفع وتشفع.

نَصِيبًا مِّمَّا رَزَقْنَاهُمْ

يوه برخه له هغه مال څخه چې موږ په رزق ورکړي دي.

پوه سه: چې "نصيبًا" مفعول به د "يجعلون" دی، دوی په حرث او انعام کې داسې ويله، کريمه "فقالوا هذا لله بزعمهم وهذا لشركائنا".

تَاللَّهِ لَتُسْأَلُنَّ عَمَّا كُنْتُمْ تَفْتَرُونَ

قسم په خدای دی چې هر آئينه به ستاسي څخه سوال کيږي يعني په ورځ د قيامت د هغه شي چې تاسي پر خدای ﷻ درواغ ويله يعني ان الاصنام شركائه تعالى هذا وعيد شديد لهم، وفي الآية التفات من الغيبة الى الخطاب وهو من محسنات العربية كما في كتب المعاني والبيان والبديع.

وَيَجْعَلُونَ لِلَّهِ الْبَنَاتِ سُبْحَانَهُ

او دوی گرځوي يعني حکم کوي په ثبوت د لونو خدای ﷻ لره چې خزاعة او کنانه دوه قوه وه چې دوی په ويل چې ملائکه بنات الله دي او امهاتهم بنات سروات الجن "سبحانه" خدای ﷻ پاک دی له نفس ولد څخه که زوی وي او که لور،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې کېدای سي چې "سبحنه" دي لپاره د تعجب وي لقولهم هذا لان العرب يستعملون هذا اللفظ للتعجب ايضاً.

وَلَهُمْ مَّا يَشْتَهُوْنَ ﴿۵۷﴾

او دوی لره هغه اولاد دي چې ددوی خوښه وي يعني البنين. زامن.

پوه سه: چې کلمه د "ما" مرفوع محلاً ده او لهم يې خبر مقدم دی.

وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُمْ بِالْأُنْثٰى ظَلَّ وَجْهُهُ مُسْوَدًّا وَّهُوَ كَظِيْمٌ ﴿۵۸﴾

او چې زېرى وکړل سي و يوه ته ددوی په ولادت د لور، وګرځي مخ دده تولـه ورځ. ولي په ورځ کي خلګ پېغور ورکوي چې فلانيـه لور دي زوکړې ده، او بل دا چې ورځ د غم او خوشالي وخت دی په سبب د اختلاط د خلګو سره او شپه زمانه د خوب او غفلت ده "مسوداً" تور له حيا څخه د خلګو.

پوه سه: چې اسواد الوجه کنايه ده له ډېره غمه څخه که څه هم ظاهراً تور نه وي "وهو كظيم" او دی د غم او غصې ډک وي کـه يې څه هم اظهار نـه کوي، په شرعه کي چې د فقهي يو کتاب دی وايي چې مؤمن لره په کار ده چې پـه لـور دي ډېره خوشالي ښکاره کوي مخالفةً لاهل الجاهلية.

دروښ وايي: چې په اوسنۍ زمانه کي دا مشکله ده الا لخواص اهل الله.

حکايت: خليفة المسلمين هارون الرشيد يوه شپه خوب ليدلی وُچې مخ يې تک تور وي، سهار چې راويښ سو له ډېره غمه مغموم او فکرجن وُ، نـو ملايان يې راوغوښتل چې ددې خوب څه تعبير دی ملايان هم فکرجن سوه لکن د خليفـه د زړه دارام لپاره بعضو ورته وويل چې دا خوب يو ګډوډ خوب دی بعضو ورته وويل چې دا خوب د شيطان له خوا څخه دی چې صرف مطلب يې دادی چې تا پـه غم کي واچوي. بعضو ورته وويل چې ښه خلګ چې داسي خوب ووينې ترجمه يې بالعکس ده. لکن د هارون الرشيد زړه اطمنان نـه کـاوه، ولـي چـې پـه دې پـوه سـو چـې دا مراعاتي تعبيرونه دي، او رئيس المفسرين و المعبرين في عصره يعني علامـه ابن سرين ؒ يې طلب کړی علماً دلتـه ناسـتوه. ابن سيرين ؒ تـه يې خوب ووايـه، نـو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هغه ورته وويل چې دا هيڅ مشکل خوب نه دی، تاته به خدای ﷻ لور درکړي، د مجلس علماؤ ورته وويل چې دا تعبير تا له څه درکه وکړی؟ ابن سيرين ؒ ورته وويل چې د هغه آيت له درکه "واذا بشر احدهم بالانثى ظل وجهه سوداً وهو كظيم" دی په داغه بحث کې اخته ؤ چې له حرم سرايه د هارون الرشيد قاصد راغلی چې زهری مې دربانديې لور دي پيدا سوه، د هارون الرشيد تولې غم او غصه دفعه سوه، او حاضرين علماً د ابن سيرين ؒ پر تعبير احسنت باران وکړی، او هارون شل زره طلاوي ابن سيرين ؒ ته په طور د انعام ورکړې انتهى.

يَتَوَارٰى مِنَ الْقَوْمِ مِنْ سُوْٓءِ مَا بُشِّرَ بِهٖ ؕ اَيُمْسِكُهٗ عَلٰى هُوْنٍ

داد لور خاوند ځان پټ ساتي له خپل قوم څخه د حيا او د پېغور له کبله، له سببه د بدوالي د هغه شي چې ده ته زهری په وکړل سو يعنې لور، په دې کې متردد وي چې ژوندی يې پرېږدم د اهانت او سپکاوي پر حال.

پوه سه: چې ضمير د "يمسكه" راجع دی و "ما" ته باعتبار اللفظ لانه مذكر دون المعنى لانه انثى، بغوي ؒ وايي چې قوم د مضر، كنانه او خزاعه دا عادت درلودی چې لونې به يې ژوندی په خاورو کې ښخولې چې دې ته په عربي واد البنات وايي، يعني زنده درگور كردن "خوفًا من الفقر عليهن"، او له جهت څخه د غير كفو په دوی کې او که سړی د دغو عربو چې لور به يې وزېږېدل او ده به اراده وکړه چې ژوندی به يې پرېږدم، نو يو قميص د وړيو يا د وجغونو چې لږ به لو سوه نو به يې پسونه په څړول په صحرا کې، وذالك معنى قوله تعالى "ايمسكه عن هون" اى حالت الزلة.

اَمْ يَدُسُّهٗ فِى التُّرَابِ ؕ

كه يې پټه کړي ژوندی په خاورو کې، نو اراده د قتل به يې وه، نو چې لور به يې د شپږو کالو سوه، نو مور ته به يې وويل چې په لور دې ښه کالي واغوندې او ستر گې يې ورتوري کړه چې د عزيزانو کور ته يې بيايم، او پلار به دمخه لا د څاه غوندې ځای جوړ کړی ؤ په صحرا کې، لور چې به يې هغه څاه ته ورورسول پلار به يې ورته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وویل چي ته په دې څاه کي وګوره، هغې چي به ورته وکتل ده به په پسې ورپورې وهل. څاه ته چي به ور ولو ېدل خاوري به يې پسې ورواچولې پته به يې کړل.

دروېش وايي: چي عجيب زړونه وه د دغو جاهليت والاوو چي تر زړو د حيوانانو بد تره وه، هيڅ حيوان د خپل اولاد سره ورته کار نه کوي.

فائده: دا د عليه الصلوة والسلام معجزه ده او د قرآن عزيز برکت دی چي داسي جاهل قوم يې مهذب کړی دی چي په نړۍ کي د عربو مثل اوس نه ليدل کېږي.

اَلَا سَآءَ مَا يَحْكُمُوْنَ ﴿۵۹﴾

آګاه اوسه چي بد دی هغه شی چي کفار د جاهليت په ښه سره حکم ګاوه، يعني چي خدای ﷻ چي متعال دی د نفس ولد څخه يعني که نر وي او که ښځه دوی و هغه خدای ﷻ ته د اسوء الفريقين يعني نران او ښځي دي. او هغه خوار شی چي لونږ ده ته يې نسبت کاوه او د خپل ځانو لپاره يې هغه اسوء الفريقين نه ؤ خوښ کما قال الله تعالى في موضع من القرآن الكريم "الكم الذكر وله الانثى تلك اذا قسمة ضيزى"

لِلَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ مَثَلُ السَّوْءِ ۚ وَلِلّٰهِ الْمَثَلُ الْاَعْلٰى ۭ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿۶۰﴾

لپاره د هغو کسانو چي ايمان پر اخرت نه لري چي هغه کسان دي چي خدای ته بنات منسوبوي، صفت دی بد چي حاجت و ولد ته دی خصوصًا الذکور لبقاء النسل بعد موته وکراهية الاناث و وأد البنات خشية الفقر. او خدای ﷻ لره دی صفت اعلى چي وجوب الوجود دی او غني مطلق دی وانه لا اله الا هو. او خدای موصوف دی په صفاتو د جمال او کمال او په صفاتو د جلال کالعلم الشامل والقدرة الكاملة وغيرهما، او منزه دی د صفاتو د مخلوق والحدوث والاحتياج والفناء والعجز وغير ذالک، او خدای ﷻ په کمال غلبه سره موصوف دی او کمال حکمت دده ويار دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَوْ يُؤَاخِذُ اللّٰهُ النَّاسَ بِظُلْمِهِمْ مَّا تَرَكَ عَلَيْهَا مِنْ دَآبَّةٍ

او خدای (ﷻ) ونسي خلګ په ظلم سره ددوی يعني عاجل عقوبت او عذاب پر نازل کړي.

پوه سه: چي الف ولام په الناس کي لپاره د عهد دی بقرينة المواخذة واضافة الظلم چي معنی دلته کفر دی او عصيان "ماترک عليها آه" دا آيت جزأ د "لو" ده يعني نه به وای پرې اينبی خدای ﷻ پر مځکه باندي يو دابة. والدابة مايدب على الارض ای يتحرک فيها.

سوال: لفظ د ارض څو دمخه نه دی ذکر سوی. نو ارجاع وضمير و ارض ته به اضمار قبل نه وي؟

ځواب: لا ولي چي ذکر د مرجع عام دی که لفظًا او که دلالةً وي، دلته لفظ الناس پر مځکه دلالت کوي لانهم من سکان الارض.

پوه سه: چي مراد د "دابة" ظالمه ده يعني الكفار رواه صاحب تفسير المدارک عن ابن عباس رضي الله عنهما او يا مراد له دابة څخه من دواب الارض يعني غير المؤمنين الصالحين، ولي مسئله داده چي نه ده روا چي خدای ﷻ دي هلاک کړي مؤمنان په ظلم او کفر د ظالمانو، البته که مؤمنانو امربالمعروف او نهي عن المنكر نه کاوه او عذاب د خدای ﷻ لکه قحط او وبا نازل سو، بيا مؤمنانو او ظالمانو دواړو ته رسيږي لرضا المؤمنين بذنوب الظالمين وتركهم ماوجب عليهم من الامر بالمعروف والنهي عن المنكر كما قال رسول الله ﷺ ان الناس (ای المؤمنون) اذا رؤا منكرًا فلم يغيره اوشک (قريب ده) ان يعمهم الله وبعقابه، رواه ابن ماجه والترمذي، او بعض مفسرين وايي چي مراد په آيت توله دواب د مځکي دي سوی المؤمنين الصالحين څخه، ولي وجود د نورو دوابو تبع دی د انساتانو ولي چي نفع ودوی ته راجع ده، کريمه "خلق لكم مافي الارض جميعًا" قتاده وايي قد فعل الله ذالک في زمن نوح عليه السلام فهلک من على الارض الا من كان في سفينة نوح عليه السلام.

پوه سه: چي بيهقي رح له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت کړی دی چي يو سړي د ابو هريره رضي الله عنه په مخ کي وويل چي ظالم ضرر نه رسوي مګر خپل ځان ته، ابو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هریره ﷺ ورته وویل "بلی والله" یعني ضرر یې بل چاته هم رسېږي "حتی الحباری لتموت في وکرها هزلاً بظلم الظالم یعني بقحوط المطر فلا ینبت نبات.

وَلَٰكِن يُؤَخِّرُهُمْ إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى

لکن مهلت ورکوي خدای ﷻ په خپل علم سره. تر هغه اجل پورې چې معین دی په علم کې د خدای ﷻ.

فَإِذَا جَاءَ أَجَلُهُمْ لَا يَسْتَأْخِرُونَ سَاعَةً وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ ﴿٦١﴾

نو چې راسي اجل موعود او مسمی ددوی نه ځنډول کېږي دوی تر اجل وروسته یو ګړی، او نه دمخه کېږي تر اجل.

دروښ وایي: چې په دې آیت کې یو سوال مشهور ستە، هغه دا چې "ولا یستقدمون" خو عطف دی پر "لایستأخرون" باندې، نو تقدیر د آیت داسي کېږي "اذا جاأ اجلهم لا یستقدمون" وهذا ممتنع یعني د اجل تر راتلو وروسته دوی دمخه سي مثلاً د یو سړي د اجل ورځ د جمعې ورځ وي، نو چې جمعې ته راورسېږي، نو څرنګه به دی د پنجشنبې په ورځ مړ سي، ولي تر پنجشنبې خو دی ژوندی راتېر سوی دی، ددې سوال په ځواب کې بعض مفسران وایي چې "لایستقدمون" پر "لایستأخرون" عطف نه دی حتی یلزم المحال المذکور بلکې پر مجموع شرطیه، فتقدیر الآیة ولکن یؤخرهم الی اجل مسمی لا یستقدمون، فلا محذور فافهم، والی هذا الجواب ذهب جمهور المفسرین، او روح البیان په دغه عبارت ځواب ورکړی دی وانما تعرض لذکره یعني "لایستقدمون" مع اله لایتصور الاستقدام عند مجئ الاجل (کما ذکرت في المثال المذکور آنفًا) مبالغةٌ في عدم الاستیخار بنظمه في سلک ما یمتنع فتدبر غایة التدبر هداک الله الی فهم الدقائق والله المستعان.

وَيَجْعَلُونَ لِلَّهِ مَا يَكْرَهُونَ

او دوی ګرځوي خدای ﷻ لره هغه شی چې دوی یې بد ببولي د خپل ځان لپاره، یعني البنات والشرکاأ في الریاسة والاستخفاف برسلهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې مراد له جعل څخه جعل په معنی معروفه سره نه دی، بلکې جعل په معنی د حکم او عقیدې دی.

وَتَصِفُ أَلْسِنَتُهُمُ الْكَذِبَ أَنَّ لَهُمُ الْحُسْنَىٰ ۖ

او وایي ژبې ددوی درواغ سره د ماقبل "ان لهم الحسنی" دا بدل ده له کذب څخه چې دوی لره خصلت حسنی ستە، یمان رح وایي چې مراد ددې جنت دی په قیامت کې.

پوښتنه: دوی یعنې مشرکان خو له بعث بعد الموت او له جنت او دوزخ څخه منکر وه، نو دوی څرنګه وایي چې موږ لره جنت ستە؟

ځواب: دوی دا خبره علی الفرض والتقدیر کوله حیث کانوا یقولون نحن في الجنة ان کان محمد صادقًا في البعث بعد الموت.

لَا جَرَمَ

ای لامحالة، نو پر دې تقدیر "لاجرم" مجموع یوه کلمه ده په معنی د حقًا ده، بغوي رح وایي چې د "لاجرم" معنی د ابن عباس رضی الله عنه په نېز "بلی" ده چې مخصوص په ځواب پورې د نفي دی.

دروښ وایي: چې پر دې تقدیر "لاجرم" دوې کلمې دی، نو لا نفي دی د کلام سابق "ان لهم الحسنی" ولي د هغه معنی خو داوه چې موږ اور ته نه داخلیږو، نو خدای پاک پر دوی رد وکړی په لا سره او جرم په معنی د "حقًا" ده نو حاصل یې "بلی" حقًا" سوه، او زجاج وایي چې لا رد د کلام سابق دی کمامر عنقریب وجرم بمعنی کسب دی وان لهم آه، او قطرب وایي چې لا ردې د کلام سابق ددوی یعني ان لهم الحسنی او جرم په معنی د ثبت و وجب دی وان لهم آه محلاً مرفوع دی فاعل د جرم دی.

أَنَّ لَهُمُ النَّارَ وَأَنَّهُمْ مُفْرَطُونَ ﴿٦٢﴾

په تحقیق دوی لره اور دی په عوض کې د ماقالوا ان لهم الحسنی آه او په تحقیق دوی، په قاموس کې وایي د "مفرطون" په معنی کې ای منسیون متروکون في النار

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او مقدمون معلجون اليها. قال البغوي ؒ قال ابن عباس ؓ منسيون في النار. وقال مقاتل ؒ متروكون في النار، وقال قتاده ؒ معجلون في النار.

دروبش وايي: چي دا ټولې معاني يو له بل سره نژدې دي، وكلها صحيحة.

تَاللّٰهِ لَقَدْ اَرْسَلْنَآ اِلٰٓى اُمَمٍ مِّنْ قَبْلِكَ

قسم په خداى ﷻ دى چې په تحقيق ما استولى دى خلګو ته (يعني رسلاً فالمفعول محذوف) و جماعاتو ته د خلګو يعني لكه ته چې استولى يې ودې امت ته يعني رسالت د بشر و انسانانو ته كوم نوى شى نه دى حتى يقولون ابعث بشراً رسولاً بلكې رسالت يو قديم عادت او نعمت د خداى ﷻ و انسانانو ليخرجونهم من الظلمات الى النور ومن الاشراك الى التوحيد.

فَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطٰنُ اَعْمَالَهُمْ

نو ښائسته كړه دوى ته يعني الامم شيطان عملونه ددوى چې عبادة د غير الله دى. يعني شيطان ددوى په زړو كي دا وروا چول چې عبادت د بتانو كوئ.

دروبش وايي: چې مراد اكثر الامم دي ولې په هر امت كې مؤمنان هم پيدا سوي وه وان كانوا قليلون.

فَهُوَ وَلِيُّهُمُ الْيَوْمَ

نو شيطان ولي د دوى دى يعني قرين، والمعنى شيطان ددوى ملګرى دى يعني ودوى ته اعمال خبيثه ددوى چې اعلى يې شرك دى ودوى ته ښائسته كوي. مظهري ؒ وايي چې ضمير د "هم" راجع دى و كفارو ته د قريشو، ولې چې سوق د كلام په دوى كې دى، له "اليوم" څخه مراد موجوده زمانه ده يعني لماكان مزيناً لمن كان قبلكم من الامم يعني شيطان د هغو له اضلال څخه و اضلال د كفار قريش فارغ سو، او دا هم روا ده چې ضمير د "لهم" و امم سابقه وو ته راجع دى، نو دا حكايت د حال ماضيه دى، يعني كان الشيطان ولي الامم السابقة في الدنيا فزين لهم الكفر والمعاصي، او دا هم روا ده چې مراد له يوم څخه دي ورځ د قيامت وي، نو پر دې تقدير آيت حكايت دى د حال آتيه. فالمعنى ان الشيطان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قرين يوم القيامة مع التابعين له په وسپنو کي سره ترڼ، او يا معنی داده چي شيطان ناصر ددوی دی په ورځ د قيامت يعني لاناصر لهم غير الشيطان وهو عاجز عن نصر نفسه فکيف ينصرهم.

وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٦٣﴾

يعني في يوم القيامة دوی لره عذاب درد ورکونکی، نو "اليم" چي وزن يې د فعيل دی په معنی د مولم دی چي اسم فاعل له بابه د افعال دی. او بيضاوي رح هغه شعر ددې شاهد گرځولی دی.

امن ريحانة الداعي السميع (ای مسمع) .... يورقني واصحابي هجوع

وَمَا أَنزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ إِلَّا لِتُبَيِّنَ لَهُمُ الَّذِي اخْتَلَفُوا فِيهِ ۙ وَهُدًى وَرَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٦٤﴾

او ما نه دی نازل کړی پر تا يا محمد (ﷺ) کتاب يعني القرآن العزيز مگر نه ددې لپاره چي ته بيان کړې خلگو ته (يعني خصوصًا و عمومًا) هغه مسئله چي خلگو اختلاف درلودی په هغه مسئله کي من التوحيد والبعث بعد الموت والجنة للابرار والنار للاشرار وغير ذالک من العقائد والاحکام الاشرعية. او دا کتاب هدايت او رحمت دی د مؤمنانو لپاره.

پوه سه: چي هدی او رحمت دواړه مصدرونه دي او حمل يې پر کتاب مبالغةً دی نحو زيد عدل او تخصيص د مؤمنين چي يې وکړی، ولي چي مؤمنانو پر قرآن نفع واخستل چي ايمان يې پر راوړی او مستحق د رحمت الهي وگرځېدل وان کان هدايت القرآن بمعنی ارائة الطريق عامة لجميع الناس ولذا ورد في وصف القرآن هدًی للناس.

فائده: هدًی ورحمةً دواړه مفعول له دي او عطف دي پر محل د "لتبين" کما في قولهم مررت بزيد وعمرًا، او دغه دواړه فعل دي د فاعل د انزلنا لکه دا هم شرط نحوي د مفعول له چي فاعل د مفعول له دی او د فعل معلل به به سره يو وي چي په دې ځای کي فاعل خدای ﷻ دی بخلاف لتبين لانه فعل المخاطب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وهو رسو الله ﷺ كذا في روح البيان وتفسير المظهري وروح المعاني الا ان صاحب روح المعاني قد اطال الكلام بايراد السؤال والجواب وكذا قال الحلبي ج والخازن، فتأمل.

وَاللّٰهُ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَحْيَا بِهِ الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ؕ

بيان دی د نعمت اخری للناس او اظهار د قدرت عظمی خپل دی، خدای پاک اوروِلي د اسمان څخه یا له وریځي څخه (لان کل ما علاک سما) اوبه یعني باران (تنوین د ما لپاره د بعضیت دی، ولي چي تولي اوبه په یوه وار نه اوري) نو یې ژوندۍ کړې ده په هغو اوبو سره مځکه.

پوه سه: چي حیوٰة د مځکي دادی چي نباتات پر شنه سي او سر سبز و شاداب وګرځي وروسته تر مرګ د مځکي.

پوه سه: چي مرګ د مځکي کنایه ده له دې څخه چي روح نباتي څني سلب سي لکه په موسم کي د ژمي چي مځکه سپېره وي.

اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَاٰیَةً لِّقَوْمٍ یَّسْمَعُوْنَ ﴿۶۵﴾

په تحقیق په دې احیاُ کي د مځکي وروسته تر مرګ ددې دلیل واضح او حجة عظیم دی پر بعث بعد الموت باندي هغه کسانو لره چي په سماع د فکر عمیق قرآن مبارک اوري.

وَاِنَّ لَكُمْ فِی الْاَنْعَامِ لَعِبْرَةً ؕ نُسْقِیْكُمْ مِّمَّا فِیْ بُطُوْنِهٖ

او تاسي لره په انعامو کي یعني الابل والبقر والغنم هر آئینه عبرت سته (یعني دلالت سته چي تاسي له جهل څخه د شرک و علم ته د توحید راباسي) مونږ څیښنو په تاسي له هغو شیانو چي په نسو کي د دوی دي.

پوه سه: چي "نسقیکم" جمله مستأنفه ده لپاره د بیان د عبرت.

سوال: ضمیر د "بطونه" مذکر یې ولي مذکر او مفرد راوړی، او سره ددې چي راجع و انعام ته دی؟

ځواب: نظر ولفظ ته د والانعام ولي چي انعام اسم جمع دی لفظ یې مفرد دی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

معنی یې جمع ده، ځکه یې سورت المؤمنین په مونث راوړی دی نظر و معنی ته سیبویه ؒ د انعام لفظ په مفرداتو کې راوړی دی چې پر لفظ د افعال جوړ دی کاخلاق کذا قال الفراء، وقال ابو عبیدة والاخفش ؒ ان النعم والانعام واحد چې مذکر او مونث دواړه مستعملیږي، چې مونث مستعمل سي په لحاظ د معنی او څوک چې یې مذکر مستعمل کړي په اعتبار د لفظ دی، او کسائي ؒ ضمیر راجع بولي و ما ته یعني في بطون ماذکرناه. او بعض مفسرین وایي چې افراد په اعتبار د جنس دی.

پوه سه: چې کلمه د "من" په مما کې لپاره د تبعیض ده لان اللبن بعض مافي البطون دی ولي چې په بطن کې انعام خو نور شیان هم ستة. او ضمیر د بطونه راجع دی و بعض ته د انعامو وهو الاناث لان اللبن لایکون للذکور.

مِنۢ بَيۡنِ فَرۡثٖ

کلمه د "من" ابتدائیه ده متعلق په "نسقیکم" پورې ده.

پوه سه: چې فرث خوشیو ته وایي چې د حیوان په کرش کې چې لکه معده د انسان جمع وي، او چې تر دبره د حیون ووتل بیا یې فرث نه بولي.

وَدَمٖ لَّبَنًا خَالِصًا

یعني په منځ کې د فرث او وینو خدای ﷻ په خپل قدرت سره پیدا کوي شیدې خالصې چې نه د فرث بوی ورسره وي نه د وینو رنګ پکښې وي مع کون اللبن متولداً بینهما.

سَآئِغًا لِّلشَّٰرِبِينَ ﴿٦٦﴾

چې ښه په اسانی سره تر حلق تیریږي یعني څوک شیدې په ساه نه وهي لکه اوبه چې بعض وخت څوک په ساه ووهي.

فضیلت اللبن: علیه الصلوة والسلام ویلي دي چې دوډی یا غوښې وغیره خورې، نو داسې دعا دي کوي اللهم بارک لنا فیه واطعمنا خیراً منه، او که یې شیدې وڅیښلې، نو داسې دعا دي کوي "اللهم بارک لنا فیه وزدنا منه" علیه الصلوة والسلام فرمایي فاني لا اعلم شیئاً انفع منه ای اللبن.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې هم دا سبب دی چې طبيبان يا ډاکټران په هيڅ مرض کې له شيدو څخه پرهېز نه ورکوي، او ډاکټران وايي چې څورلس ويټامينه چې په غذائي موادو کې منقسم دي، ټوله دغه ويټامينونه په هيڅ غذا کې جمع نه دي پيله شيدو، او د شيدو دا فضيلت بس دی چې که چا په خوب وليدل چې ما شيدو وڅښلې ټوله معبران يې تعبير په علم سره کوي چې اشرف د صفاتو د بشر دی کريمه "وقل رب زدني علماً".

فائده: دروښ وايي: چې په اصطلاح کې د قرآن او احاديثو شريفه وو خو لبن شيدو ته وايي لکن عرب اوس اوس يو عرف حادث لري چې لبن شلومبو ته وايي او شيدو ته حليب وايي.

قصه: دروښ وايي: چې زه يو کال حج ته تللی وم ډېر پخوا چې په مينا کې د ټوکرانو خيمې وې، نو مونږ يو څو کسه حاجيان انډيوالان وو چې د شکريې د پسه له ذبح څخه تر انډيوالانو دمخه خيمې ته راغلم، يو عرب نارې وهي لبن لبن. نو زما خو د شيدو خيال سو، نو مې يو څو قرشه ورکړه هغه اعرابي ډېرې شيدې زما په گمان راکړې ما تعجب وکړی چې دا شيدې يې څرنگه ارزانه راکړې نو مې ستوپ ولگاوه لږ اوبه مې ورواچولې چې هغه وه ايشېدلې چای مې ورواچولې او بوره مې هم ورواچول پخې مې کړې د لبن په اچولو سره، زما دا خيال وو چې انډيوالان راسي دا شيرچای به وخورو خير انډيوالان راورسېدل ماته يې وويل چې مولوي صاحبه څه شي دي باندي کړي دي ما ورته وويل چې شير چای دي، خير دوی کوپونه راواخستل ما شير چای ورتوی کړې، دوی چې يو غرپ څښي وکړی، نو يې وويل چې مولوي صاحب دا خو دي شلومبو ته چای او بوره اچولي دي، ما چې يې خوند وکتی رشتيا هم شلومبې وې، دا ؤ تبديل د اصطلاحي غلطيا، اوس بيرته د آيت د تفسير پر خوا.

په تفسير کواشي کې وايي خلق الله اللبن في مكان وسط بين الفرث والدم، ولي چې حيوان چې په خپل کرش کې وابنه وغيره پاڅه کړي يعني هضم يې کړي، نو په کښته حصه کې د کرش فرث پيدا سي او په منځ کې يې لبن خالص

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پیدا سي چي بل شی په ګډ نه وي، او په لوړه حصه کي يې وينه پيدا سي او په منځ کي ددغو درو چي په لون، بوی او غوند سره مخالف دي قدرت د خدای ﷻ مانع وي چي يو له بله سره ګډ برې نه په خوند، نه په بوی او نه په رنګ کي مع شدة الاتصال بينهما، بيا هينه چي کښد يې بولي پر مسلط کړل سي پر دې دري وصفو باندې، نو هينه وينه و رګو ته د بدن واستوي او شيدې و غولانځي ته د حيوان ولهږي او فرث په کرش کي باقي وي څو کښته تر دبره د حيوان وځي.

سوال: مونږ ځيني وخت حيوان ذبح کړو، نو په کرش کي نه شيدې وي او نه وينه، نو دا خبره څرنګه صحيح ده چي په کرش کي د حيوان وينه، شيدې او فرث دري سره وي؟

ځواب: د کواشي ؒ مطلب دادی چي په کښته حصه کي د کرش ماده د فرث ده او په منځ کي د ماده د لبن ده، او په اعلا کي يې ماده د دم ده، فالمنحدر الى الضرع مادة اللبن فيصير هناک لبنًا، د علامه زمخشري ؒ له بلاغاتو څخه دا شعر دی:

كما يحدث بين الخبيثين ابن لا يؤبن ..... الفرث والدم يخرج بينهما لبن

لکه چي پيدا کېږي په منځ کي د پلار او مور چي دواړه خبيث يعني کافران وي، زوی چي نه وي دده سره ګډ نه خباثت د پلار اونه مور يعني مؤمن طاهر وي داغسي دي فرث او دم چي په منځ کي د لبن پيدا کېږي چي نه خباثت د وينو پکښي سته چي رنګ دی او نه خباثت د فرث چي بد بويي ده.

سوال: ځيني وختونه د حيوان له غولانځي څخه وينه راسي، نو څرنګه صحيح ده چي ضرع ته لبن ورځي؟

ځواب: په سبب د يو آفت په غولانځه کي هغه شيدې وينه وګرځي، له شقيق البلخي قدس سره څخه چا پوښتنه وکړه چي اخلاص په عبادت کي د خدای ﷻ څه شی دی؟ ده ورته وويل تمييز العمل من العيوب كتمييز اللبن من بين دم وفرث.

وَمِنْ ثَمَرٰتِ النَّخِيْلِ وَالْاَعْنَابِ تَتَّخِذُوْنَ مِنْهُ سَكَرًا وَّرِزْقًا حَسَنًا

كلمة من متعلقة بمحذوف اى ونسقيكم من آه، حسين كاشفي ؒ وايي: وى

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

انشا مانيم شمارا ارگونه ميوهاى درختان خرما ودرختان انگورها، نو مراد له نخيل څخه چي جمع د نخل ده د خورما درختي دي، او مراد له اعناب څخه چي جمع د عنب ده د انگور درختي دي.

پوه سه: چي ضمير د منه راجع دى و عصير محذوف ته، والمعنى تاسي جوړوئ له هغه عصير څخه او لفظ مصدر دى مراد څنې خمر دى او مراد له رزق حسن څخه خورما او دوښا او له انگورو څخه وڅكي او رب او سركه ده، نو پر دې تقدير دا آيت دمخه تر تحريم د خمر دى، او په دې آيت كي اشاره وكراهت ته د خمر قبل التحريم، ولي د سكر مقابل رزق حسن راوړى، او مقابل د حسن خو حسن نه وي نو ادنى مرتبه يې كراهت دى كذا في روح البيان.

فائده: تتخذون جمله مستانفه ده د بيان د كيفيت د استقا چي محذوف ؤ.

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ﴿٦٧﴾

په تحقيق په دغه مذكوره في الآية السابقة كي دليل د قدرت د خداى ﷻ دى هغه قوم لره چي دوى له عقل سليم څخه كار اخلي او د خداى ﷻ په منزله آياتو كي د قرآن عزيز فكر وهي.

وَأَوْحَىٰ رَبُّكَ إِلَى النَّحْلِ

او الهام كړى او په زړه كي ور اچولى رب ستا و مچمچى ته.

أَنِ اتَّخِذِي مِنَ الْجِبَالِ بُيُوتًا وَمِنَ الشَّجَرِ وَمِمَّا يَعْرِشُونَ ﴿٦٨﴾

چي ته جوړوه (ان مفسرة دى كه څه هم ان مفسره وروسته تر قول راځي لكن په "وحي" كي معنى د قول سته) له غرو څخه يعني په غرو كي خونې يعني چرگنى او په درختو كي او په بامو كي د خلگو.

پوه سه: چي كلمه د من درې سره څايه د تبعيض لپاره ده لان النحل لا يبنى في كل جبل وكل شجرة او ددې و چرگنې ته يې بيوت وويل تشبيهاً بينا الانسان البيت للسكونة.

دروښ وايي: چي "نحل" له عجائبو څخه د مخلوق د خداى ﷻ ده (١) له

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خولې څخه عسل راباسي او له نهښه څخه زهر (۲) وکفى للنحل شرفاً قوله تعالى و اوحى ربک (۳) وكل ذباب في النار الاذباب العسل (۴) په عجائب المخلوقات کې وايي چې د کوچني اختر ورځې ته يوم الرحمة وايي، او په دغه ورځ کې خداى ﷻ و نحل ته يعني مچمچې ته صنعة العسل الهام کړی دی (۵) په حيوة الحيوان کې وايي چې د نحل خوړل حرام دی که څه هم عسل يې حلال دي لکه د ښځې شيدې کوچني ته که خپل وي او که بېګانه وي حلالي دي او غوښې يې حرامې دي (۶) د نحل قتل ناروا دی لانه قطع مادة العسل الذي فيه شفاً كما سيئاتي (۷) د نحل خرڅول چې دوی ټولي په خپل شرګني کې وي او يا خلګو چې صندوقان ورته اينښي وي روا ده. او که دوی نه وي پکښې بلکې په اكل الثمرات پسې تللي وي نه ده روا لانه بيع الغائب كذا في التتمة، او امام اعظم رحمه الله وايي چې د نحل بيع لکه د نورو حشراتو داسي ده يعني نه ده روا (۷) نحل د خپل ځان لپاره بيوت مسدسه جوړوي يعني چې شپږ ضلع لري او دا شپږ ضلع داسي سره برابري وي بې پرکاره چې حاذقان د مهندسانو بېله الاتو نسي جوړولای.

ثُمَّ كُلِي مِنْ كُلِّ الثَّمَرَاتِ

بيا خورک کوي له ټولو مېوو څخه چې ستاسي اشتها ورته کېږي او که تاسي ته ميسر سي که خوږې وي او که ترخې وي.

پوه سه: چې لام په الثمرات کې لپاره د جنس دی د استغراق لپاره نه دی لان كل الثمرات على الاستغراق غير ممكن لهن كما لا يخفى.

فَاسْلُكِي سُبُلَ رَبِّكِ ذُلُلًا

دا ځواب د شرط محذوف دی ای اذا اكلت الثمار في مواضع بعيدة من بيوتكم يعني چې شاوخوا د بيوتو ستاسي په قحط کې مېوې او ګلان نه وه. نو تاسي داخلېږئ يعني ولاړ سئ په لارو کې د خداى ﷻ يعني خداى پاک تاسي د هغه لارو د مواضع بعيده وو الهام کړی دی. نو چې مېوې مو وخوړلې په مواضع بعيده وو کې بيرته خپلو کورونو ته که د غرو په چاکو کې وي او که په درختو کې وي او که په بامو کې وي او که چا صندقان ورته اينښي وي د عسلو جمع کولو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لپاره کما في الدور الحاضر او برابر په الهام د خدای ﷻ به خپلو کورو ته راستانه سئ او لار به هم نه درځخه ورکېږي وهذا من عجائب قدرته تعالی.

پوه سه: چي "ذللاً" جمع د ذلول ده حال دی له "سبل" څخه یعني دغه لاري په هوا کي خدای ﷻ و تاسي ته مذلل او اسانه کړي چي مانع نه درپېښېږي ذهاباً وایاباً.

يَخْرُجُ مِنْۢ بُطُوْنِهَا

راوځي له نسو څخه د نحل.

پوه سه: چي په دې آیت کي التفات دی له خطاب څخه د نحل. گویا خدای پاک خلګو ته وایي یخرج الخ. ولي چي عسل خو د خلګو لپاره نعمت دی نه د مچمچی لپاره، او حکمت د خدای پاک په خلق د نحل انتفاع د خلګو ده في العسل الخارج من بطونها.

شَرَابٌ مُّخْتَلِفٌ اَلْوَانُهٗ فِيْهِ شِفَآءٌ لِّلنَّاسِ ؕ

مشروب چي مختلف دي رنګونه د هغو چي سپین، سره، ژړ او شنه رنګونه یې دي. په عسلو کي شفا ده د خلګو د مرضو لپاره.

پوه سه: چي نحل دغه د قي په ذریعه په خپلو بیوتو کي تویوي یعني ددې لپاره چي که مي بیا هوا ورته وسوه بیرته به یې وخورم لکن هغه قی په قدرت د خدای ﷻ عسل ورګرځي.

فائده: د عسلو ډېر نومان دي، یو نوم یې حافظ امین دی، ولي هغه شی چي پکښي کښېښوه سي له فساد څخه بې عسل ساتي، حتی علماً وایي چي که سړی مړی سر تر نوکه مخ وشا او تولـه اندامونه په عسلو طلا کړي، نو دا مړی سړی مړی سر تر نوکه مخ وشا او تولـه اندامونه په عسلو طلا کړي، نو دا مړی ابدًا نه خرابېږي نه بد بویه کېږي او نه ورستېږي، او غوښي درې میاشتي له فساد څخه ساتي. او فواکه لکه مڼه (سېب) یا بهي یا نارنج یا مالټه یا کېله وغیره شپږ میاشتي ساتي. او هغه چي ژر ورستېږي او خرابېږي لکه غوښي چي په عسلو کي کښېږدي تر ډېره وخته باقي وي، وفي الحدیث اول نعمة ترفع من الارض العسل. وفي الحدیث الصحیح کان رسول الله ﷺ یحب الحلوا والعسل مراد له حلوا څخه مطلق خوږ شی دی، او عطف د عسل عطف دی د خاص پر عام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اظهاراً لشرف العسل لکه عطف د جبرئیل علیه السلام پر ملکو.

مسئله: خوراک د لذیذ الاطعمة والطیبات من الرزق منافي د زهد او صوفي گرت نه دی.

فائده: اختلاف د عسلو د رنگو: بعض وخت په سبب د اختلاف د رنگو د خوراکي موادو د نحل وي، مثلاً سپین کشمش انگور یې خوړلي وه یا سره انگور یا تور انگور یا ژړ انگور الی غیر ذالک من الماکولات، او بعض علما ویي چې په عمر پوري د نحل مربوط دی. نو سپین عسل د ځوان نحل دي. او ژر عسل د میانه عمر نحل دي او سره یا زرغونه یا تور د عمر رسیده نحل دي، والله اعلم. له ابن عمر رضی الله عنه څخه روایت دی چې مؤمن باید لکه نحل داسي وي چې طیب شی وخوري او طیب عمل وکړي لکه نحل.

پوه سه: چې په حیوة الحیوان کې وایي چې ددې "فیه شفاء للناس" معنا داده چې عسل له ادویة مشهوره وو څخه دي چې نافع د ډیرو امراضو دي لکه نورې مشهورې دواګانې دی علماً او حکماً وایي چې دا آیت لایقتضي العموم لکل علة ومرض في کل انسان لانه نکرة في سیاق الاثبات وهي لاتقتضی العموم کما تقرر في النحو. او ابن مسعود او ابن عمر رضی الله عنهما دا آیت پر عموم حمل کوي په اعتبار د عقیدې د مریض. او بیضاوي وایي چې فیه شفاء للناس" یا یوازې شرب العسل لکه په امراض بلغمي وکي او یا سره د نورې دوا لکه د نورو امراضو لپاره، بیضاوي رح وایي چې قلما معجون الاطباء الا والعسل جزء منه، په حدیث صحیح کې راغلي دي چې یو سړی و علیه الصلوة والسلام ته راغلی ورته وې ویل چې زما د ورور استطلاق البطن یعني اسهال ناجوړي ده. علیه الصلوة والسلام ورته وویل اسقه عسلاً. نو هغه سړي مریض ورور ته عسل ورکړه لکن استطلاق یې نور ډېر سو. هغه سړی بیا و علیه الصلوة والسلام ته راغلی فذکر له حال المریض علیه الصلوة والسلام ورته وویل اسقه عسلاً. هغه سړي چې دوهم وار عسل ورکړه استطلاق یې تر دمخه ډېر سو. درېیم وار بیا هغه سړی و علیه الصلوة والسلام ته راغلی او د مریض حال یې ورته بیان کړی، علیه الصلوة والسلام ورته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وويل اذهب فاسقه عسلاً فقد صدق الله (يعني في قوله فيه شفاً للناس) وكذب بطن اخيک. هغه سړي چې درېيم وار عسل ورکړه وروروي يې روغ رمټ سو. وفي الحديث الصحيح ان الله جعل الشفاً (اى الشفاً السريع او الكامل) في اربعة الحبة السوداً (دا يې عربي نوم دی او په عربي يې شونيز هم بولي او په فارسي يې سياه دانه بولي. او په اردو يې کلونجي بولي او په پښتو يې تورواڼجه بولي چې د هر يوناني طبيب په دکان کي خرڅېږي) والحجامة (وينه کښل په مختلفو ځايو کي د مختلفو مرضو لپاره) والعسل (چې بيان يې تېر سو) وماً السماً. کريمه "انا انزلناه من السماً ماً مبارکاً.

روايت دی چې يو سړی د حضرت علي رضي الله عنه ته راغلی او شکايت د سوء الحفظ يې ورته وکړی. علي رضي الله عنه ورته وويل چې ماينه لرې چې ولور دي ورکړی وي؟ هغه ورته وويل نعم، علي رضي الله عنه ورته وويل چې له ماينې څخه دي دوه درهمه وغواړه د ولور له روپو څخه لکن په طيب نفس نه په زور. او په هغه دوه درهمه عسل او شيدې رانسه. او هغه دواړه وخيښه سره د باران د اوبو په نهاره ترڅو حفظاً کاملاً. د حسن بن فضل رح څخه چا پوښتنه وکړه چې علي رضي الله عنه دا څور شيه له څه درکه ورونښوول؟ حسن رح ورته وويل من آيات القرآن (۱) وانزلنا من السماً ماً مبارکاً (۲) وفي اللبن خالصاً سائغاً للشاربين (۳) وفي العسل فيه شفاً للناس (۴) وفي المهر فکلوه هنيئاً مريئاً.

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٦٩﴾

يعنې په بيان کي د احوال عجيبه وو د نحل يعنې تولې مامر د نحل په قصه کي آيت عظيمه پر قدرت جليله د خداى جل جلاله چې دومره کوچنې حيوان ته يې دومره الهامات کړي دي چې عقل ورته حيران ګرځي. اما دا آيت او حجت د قدرت معبود بالحق لپاره د هغو کسانو دی چې په دقائقو کي د صنعت الهي په غور سره فکر وهي.

وَاللَّهُ خَلَقَكُمْ ثُمَّ يَتَوَفَّاكُمْ

او خداى (جل جلاله) تاسي پيدا کړي ياست له مور څخه، وروسته بيا تاسي وژنئ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يعني يا په کوچنو الي په سن کي او يا د ځوانۍ په عمر کي او يا چي ګرږوښتي سي يا د شيخوخت په عمر کي.

وَمِنكُمْ مَّن يُرَدُّ إِلَىٰ أَرْذَلِ الْعُمُرِ

او بعض ستاسي تر دا ځلور سنه چي د قوت في الجمله سنونه وه تېر سي او رد کړل سي او اخس او بېکاره ته د عمر چي دې ته په عربي کي هرم وايي چي تولې اعضا حتى العاقلة قوت يې صفر وګرځي. قتاده ؒ وايي چي ارزل العمر د نيوي (۹۰) کالو سن دی او. او علي ؓ وايي چي ارزل العمر سن پينځه اوويا دی او بعض وايي چي اتيا کاله دی.

پوه سه: چي عليه الصلوة والسلام به دا دعا کوله اللهم اني اعوذبک من ان ارد الى ارزل العمر كذا في البخاري ومسلم وغيرهما.

لِكَيْ لَا يَعْلَمَ بَعْدَ عِلْمٍ شَيْئًا

پوه سه: چي لام لپاره د عاقبت دی يعني عاقبة الامر داسي سړی په دغه سن کي جوړ سي چي معلومات يې تولې هېر سي. داسي دی چي په نورو استانو دی د علم خاوند ؤ. نو باره حال دده حال د اطفالو وګرځي في عدم وسوء الفهم قال عكرمه ؒ من قرء القرآن (يعني لفظًا و معنًا) لم يصير بهذه الحالة.

دروښ وايي: چي په روح البيان کي وايي چي ارزل العمر حد معين نه لري، ولي بعض کسان چي شپېته کاله ته ورسېږي د ارزل العمر دوره پر راسي. او بعض کسان سل کاله ته ورسېږي لکن د ارزل العمر په دام کي نه وي لوېدلی.

دروښ وايي: چي په اوسني حال کي فقير دا تفسير نوشته کوي عمر يې درې نيوي (۹۳) کاله دی وذالک فضل الله يؤتيه من يشا والله ذوالفضل العظيم اللهم ابقني على الحالة الموجودة الى اتمام هذه التفسير الى اخيره بالخير والصحة والعافية واجعله لي خيراً باقيًا الى يوم القيامة وهذا دعائي منذ شرعت في هذا التفسير مدى الليالي والايام وليس لي تمنى غير هذه النعمة العظمى والله اعلم.

فائده: محمد بن علي الواسطي ؒ د ځان لپاره دا دعا کوله:

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پارب لا تحيني الى زمن ..... اكون فيه كلاً على احد
وخذ بيدى قبل ان اقول لمن ..... القاه عند القيام خذ بيدى

دروبش وايي: چي بحمده تعالى زه هيڅكله پر زامنو نه يم گرځېدلى بلكې دوى ماته محتاج دي في خدمة البيت او چاته مي نه دي ويلي چي ما تر لاس ونسه ولو في ذمن الحج والعمرة.

حكايت: حجاج بن يوسف يو ډېر سپين ږري ته وويل كيف طعمك؟ خورک دي څرنگه دى؟ هغه ورته وويل چي خورک وكړم دروند سم د ولاړو نه يم او كه يې نه خورم ضعيف سم هم د ولاړو نه يم، حجاج ورته وويل كيف نومك؟ خوب دي څرنگه دى؟ هغه ورته وويل چي په مجلس كي د خلگو يم بيده يم او چي د خوب وخت راسي تر سهاره ويښ يم خوب نه راځي، حجاج ورته وويل كيف قيامك وقعودك؟ څرنگه ده ولاړه ستا وروسته تر ناسي، او څرنگه ده ناسته ستا چي ولاړ يې؟ هغه ورته وويل اذا قعدت تباعدت عني الارض، چي زه كښېنم يعني وروسته تر ولاړي مځكه ډېره راځخه لېرې سي، او چي ولاړ ېږم يعني وروسته تر ناستي مځكه مي تينگه ونسي، حجاج ورته وويل چي تگ دي څرنگه دى؟ هغه ورته وويل ما وېښته تينگوي او پر پچه نوک وهم.

إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ قَدِيرٌ ﴿٧٠﴾

په تحقيق خداى ﷻ بنه علم لري پر مقادير د عمرو د انسانانو او قادر دى چي شاب قوي مړ كړي يعني بالاجل المعلوم والمكتوب في اللوح المحفوظ او باقي پرېږدي هرم فاني لكه دروبش، وفيه تنبيه على ان تفاوت احوال والناس واعمارهم ليس الا بتقدير قادر حكيم حليم، او طبائع د انسانانو په دې كي باد د رمشت دى لكه حكماً چي وايي:

فَضَّلَ بَعْضَكُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ فِي الرِّزْقِ

او خداى بالا كړى بعض ستاسي پر بل بعض په رزق بعض اعلى مرتبه غنيان حتى كروړپتيان وي، بعض اوسط غنيان لكپتيان وي بعض ادنى درجه غنيان تجاران وي معمولي تجارت لري، بعض وزيران وي، بعض رئيس جمهوران

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وي. بعض عسکر وي. بعض فقیران وي چې پر هیڅ شي قدرت نه لري او مزدور کاران وي وهکذا نور خلګ هم سته.

فَمَا الَّذِينَ فُضِّلُوا بِرَآدِّي رِزْقِهِمْ

یعني نه دي هغه کسان چې تفضیل ورکړل سوی دی (یعني الاغنیا علی حسب درجاتهم) ور کونکی د هغه مال چې تر دوی بالا وي.

عَلَىٰ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ فَهُمْ فِيهِ سَوَآءٌ ۚ

پر هغو کسانو چې ددوی مزدوران او نوکران وي. یعني چې اغنیا او نوکران د هغه مال په تصرف کې او په صرفولو د مصارفو دي سره برابر وي. یعني مزدور او نوکر دي دومره اختیارات لکه اغنیا ولري.

دروبش وایي: چې په دې آیت سره رد دی پر مشرکانو چې د خدای ﷻ سره بعض مخلوق د خدای ﷻ برابروي په الوهیت سره. او سره ددې چې د بتان چې دوی یې د خدای ﷻ شریکان بولي د خدای ﷻ سره صلاحیت د شراکت نه لري په یو شي کې د اشیاؤ او په یوه د وجوه او مشرکان په دې نه دي راضي چې خپل نوکران له خانه سره برابر کړي په اموالو کې خپل ازروی تصرف مع ان مماليكهم من جنسهم في الانسانية وقادرون على التصرفات في الجملة. او ددوی غایت جهالت دی چې اصنام چې جمادات دي د خدای ﷻ سره یې برابروي په الوهیت او عبادت کې.

أَفَبِنِعْمَةِ اللَّهِ يَجْحَدُونَ ﴿٧١﴾

آیا له نعمت څخه د خدای ﷻ تاسي انکار کوئ، ولې چې خدای ﷻ لره شرکا وایاست، نو باید نعمتونه د خدای ﷻ و هغو شرکاؤ ته منسوب کړئ او له دې څخه منکر سئ چې دا نعمتونه له جانبه څخه د خدای ﷻ دي.

سوال: د "جحود" چې معنا یې انکار دی صله کلمه ده باً نه راځي؟

ځواب: جحود کفر لره مستلزم دی او د کفر صله باً راځي. مثلاً يقال فلان كفر بالله.

دروبش وایي: چې په راتلونکو آیتو کې خدای ﷻ نور نعمتونه و خلګو ته بیانوي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَاللّٰهُ جَعَلَ لَكُمْ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ

او خدای (ﷻ) پیدا کړي دي تاسي ته ستاسي له جنس څخه ماینې یعنې هغه هم انسان ده.

پوه سه: چې ازواج جمع د زوج ده او زوج نر او ښځې دواړو ته ویل کېږي، ولې چې زوج په معنی د جوت دی چې مقابل د فرد دی، نو هر یو له نر او ښځې څخه فرد وي چې نر ماینه پیدا کړه یا ښځې مېړه پیدا کړی جفت وګرځي، او بعض کسان ګمان کوي چې زوج نر ته وایي او ښځې ته زوجه وایي فقد غلط، ولې له دغه آیت څخه مخالف دی ولې چې ازواج جمع مذکر ده جمع مؤنث زوجات ده او سره ددې چې مراد له ازواج څخه په دې آیت کې ماینې دي بقرینة لکم چې مراد ځنې نر دي، او بل مخالف دی له هغه آیت قرآنې څخه چې خدای ﷻ آدم علیه السلام ته وویل "اسکن انت وزوجک الجنة آه".

فائده: د ازواج د نعمت حکمت دادی چې په ماینو سره وحشت د نر دفع کېږي او د ماینې سره یې الفت پیدا کېږي او اولاد ځنې پیدا کېږي الی غیر ذالک من فوائد الزوجات کخدمة البیت.

اَزْوَاجًا وَّجَعَلَ لَكُمْ مِّنْ اَزْوَاجِكُمْ بَنِيْنَ وَحَفَدَةً

او تاسي ته یې پیدا کړل له ماینو څخه ستاسي زامن او لمسیان.

پوه سه: چې "حفدة" جمع د حافد ده چې اولاد الاولاد ته وایي کذا في القاموس، او حافد مسرع في الخدمة ته هم وایي، نو له دې سببه بعض مفسرین وایي چې مراد له حفدة څخه هم بنیې دي والعطف لتغایر الوصفین البنوة والاسراع في الخدمة، والتغایر الوصفي قائم مقام التغایر الذاتي کما قال صاحب روح المعاني، او بعض مفسرین وایي چې مراد له حفدة څخه بنات دي، ولې چې لونې د کور خدمتونه ډېر په چټکۍ سره کوي، لکن دا تفسیر روح البیان رد کړی دی په دې سبب چې دا سورت مکي دی او خطاب د مشرکانو سره دی او خدای ﷻ دوی ته په دول د امتنان او احسان دا خبري کوي وهم کانوا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تسود وجوههم عند الاخبار بالبنات. کریمه "واذا بشر احدهم بالانثی ظل وجهه مسوداً وهو کظیم" ای مملو من الغم نو به خدای ﷻ په ځای کي د امتنان پر دوی بنات ذکر کوي.

دروېش وايي: چي روح المعاني ددې آیت نور تفسیرونه هم ذکر کړي دي و تبعه المظهري لکن په سبب د طول البیان هغه تفسرونه دروېش ملتوي کړه.

وَّ رَزَقْنٰكُمْ مِّنَ الطَّيِّبٰتِ ؕ

او تاسي ته يې په رزق درکړي ډېر لذيذ خوندور نعمتونه او يا حلالات او کلمه د "من" لپاره د تبعیض ده ولي ټوله طیبات خو په جنت کي دي او ما في الدنیا د هغو يو نمونه ده.

اَفَبِالْبَاطِلِ يُؤْمِنُوْنَ وَبِنِعْمَتِ اللّٰهِ هُمْ يَكْفُرُوْنَ ۝

آیا په باطل سره دوی يعني مشرېکنو ایمان دی، چي د بعضو طیباتو نسبت دوی و خپل اصنامو ته کوي؟ او په نعمت سره د خدای ﷻ دوی کفر کوي چي نسبت يې و بتانو ته کوي، په صحیح حدیث کي راغلي دي قال رسول الله ﷺ قال الله تعالی "اني والجن والانس في بناً عظیم اخلق ویعبد غیري وارزق ویشکر غیري" زه، جن او انس په لوی خبره کي سره مختلف یو، پیدا کوم يې زه او عبادت د غیر کړل کېږي يعني انس او جن عبادت د غیر کوي من الاصنام والشمس والقمر والملائکة، او رزق زه ورکوم او شکر د بل ویل کېږي يعني د اصنام وغیرها، او جار ومجرور چي "بنعمت الله" دی پر عامل چي "یکفرون" دی لپاره د تخصیص مبالغه او یا لپاره د محاظت د اواخرو د آیتو، او بعض مفسرین وایي چي له باطل څخه ما امرهم الشیطان مراد دی من تحریم البحیرة والسائبة والوصیلة یؤمنون به وبنعمة الله ای بالطیبات من التي احل الله لهم یکفرون ویجحدون تحلیله وقیل الباطل الشیطان دی او نعمت د خدای رسول الله ﷺ دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَيَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَمْلِكُ لَهُمْ رِزْقًا مِّنَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ شَيْـًٔا وَّلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ ﴿۷۳﴾

او دوی "يعني المشركين" عبادت بېله خدايه د هغه شي کوي چي هغه مالک نه دی دوی لره د رزق د اسمانو څخه يعني د باران په اورېدلو سره او نه د مځکي څخه د ارتذاقي موادو په شنه کېدلو سره د هيڅ شي. او نه طاقت ددوی سته لکونه جمادات.

پوه سه: چي اخفش ؒ وايي چي "شيئاً" بدل دی له "رزق" څخه په معنی د مرزوق دی. نو معنا داده چي دا ددوی معبودات چي بتان او جمادات دي مالک د مرزوقاتو نه دي قليلاً ولا كثيراً. او فرا ؒ وايي چي "رزقاً" مصدر دی او "شيئاً" منصوب دی مفعول به د "رزقاً" دی.

سوال: ضمير د "لايستطيعون" جمع دی راجع و "ما" ته دی او د "لايملک" ضمير چي مفرد دی هم راجع دی و "ما" ته فكيف يجوز ذالک؟

ځواب: جمعيت د ضمير نظر و معنی ته د "ما" دی ولي چي مراد له "ما" څخه بتان دي او هغه ډېر دي او افراد د ضمير يې نظر و لفظ ته د "ما" دی چي لفظ يې مفرد دی. او دوی لره په قرآن کريم کي او د عربو په محاوره ډېره مثالونه سته، او دا احتمال هم لري چي ضمير دي کفارو ته راجع وي. يعني طاقت نه لري کفار د رزق او سره ددې چي دوی احياً دي، فكيف بالجمادات.

فَلَا تَضْرِبُوْا لِلّٰهِ الْاَمْثَالَ ؕ

نو تاسي ايها الكفرة مه بيانوئ خدای ﷻ لره امثال، ولي ضرب المثل خو تشبيه د يوه حال په بل حال سره او تاسي خو خدای ﷻ نه پېژنئ او نه يې په صفاتو سره كما حقه خبر ياست او نه په هغو صفتو خبر ياست چي پر خدای ﷻ نه جاري کېږي بلکي اطلاق پر خدای ﷻ يې ممتنع وي فكيف يصح منكم ضرب المثل لكونه قياساً للغائب على الشاهد وذالک باطل.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ وَ اَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۷۴﴾

په تحقیق خدای ﷻ خبر دی په ضرب د امثالو لکه په قرآن عزیز کې یې ځای پر ځای ضرب المثل راوړي دي، او تاسي په ضرب المثل نه پوهیږئ او نه یې په شرائطو خبریاست، وفي المثنوي:

درتصور ذات او را گنج کو ..... تا درآید تصور مثل او

وفي الحدیث النبوي ﷺ ان الله احتجب عن البصائر کما احتجب عن الابصار (خدای ﷻ پټ دی له عقولو څخه د مخلوق لکه چې له سترګو څخه پټ دی) وان الملائکة الاعلی یطلبونه کما تطلبونه (او جماعت اعلی د ملکو طلب د خدای ﷻ کوي لکه تاسي چې طلب کوئ) ولهذا قال الحکماً تصوره تعالی بالکنه وبکنهه ممتنع، والتفصیل في شرح السلم للقاضي محمد مبارک ؒ.

دروېش وایي: چې دا مغلق خبره ما ددې لپاره وکړه چې اهل العقل د اهل النقل سره متفق دي په دې مسئله کې یعني فلا تضربوا لله الامثال الی اخیر الآیة.

ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا عَبْدًا مَّمْلُوْكًا

خدای ﷻ بیانوي یو مثال (یعني د خپل ځان لپاره او د هغه چا لپاره چې مشکان یې عبادت کوي د ماسوی د خدای ﷻ) د یو مریي چې مملوک د یو چا وي.

پوه سه: چې "عبداً" بدل دی د "مثلاً" او عبد چې په مملوک یې مقید کړی احتراز دی له حر څخه ولي چې هغه خو هم عبد الله دی لکن مملوک د چا نه دی.

لَّا يَقْدِرُ عَلٰى شَيْءٍ

چې قدرت نه لري پر هیڅ شي، دا قید احتراز له عبد ماذون څخه دی، ولي هغه ده ته باندار اجازه د کسب او تجارت ورکړی دی، نو هغه قادر دی په اذن د مولی، او داغه رنګه احتراز دی د مکاتب مریي څخه ولي هغه هم په خلاصولو د خپل ځان له مریي توب څخه کسب او مزدوري وغیره کولای سي کما في کتب الفقها ؒ

دروېش وایي: چې عبد مملوک لا یقدر علی شیئ د خدای ﷻ مثل ګرځولي دي د هغو بتانو چې مشرکان یې د خدای ﷻ سره په عبادت کې شریکان ګڼي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اوس مثال د خپل ځان وايي.

وَّمَنْ رَّزَقْنٰهُ مِنَّا رِزْقًا حَسَنًا

او هغه څوک چې رزق ورکړی وي، موږ رزق حسن يعني طيب حلال كثير.

پوه سه: چې من موصوله دی او عطف دی علی عبد د هغه مقابل دی فالمعنی وحراً غنیاً كثير المال.

فَهُوَ يُنْفِقُ مِنْهُ سِرًّا وَّجَهْرًا ؕ

نو دی اتفاق کوي له هغه مال څخه په پټه او ښکاره يعني ينفق كيف يشاء.

نو دا ضرب مثل خدای ﷻ دليل ددې وګرځاوه چې ممتنع دی اشراک او برابري په عبادت او الوهيت کې په منځ کې د بتانو چې هغه اعجز المخلوقات دی او په منځ کې د الله چې غني دی او قادر دی پر هر شي.

هَلْ يَسْتَوٗنَ ؕ

استفهام انکاري دی يعني هرګز نه سي سره برابرېدای.

سوال: په ضرب مثل کې خو دوه شيه ذکر سوي چې عبد مملوک او حر غني نو بايد بل يستويان ويل سوی وای، نو صيغه د جمع څه وجه لري؟

خواب: صيغه د جمع په اعتبار د جنسين رواړه فالمعنی هل يستوي الاحرار والعبيد.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ؕ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝

ثنا وصفت همه وهمه خدای ﷻ لره دی لانه معطی النعم كلها موصوف بصفات الجمال والجلال لا يستحق الحمد غيره تعالى فضلاً عن استحقاق العبادت والالوهية صدق الله العظيم، بلکې دېر د مشرکانو د مکې نه پوهېږي ځکه نسبت د نعمتو د خدای ﷻ وبتانو ته کوي بيا نو عبادت د هغو بتانو کوي له دې کبله چې دوی موږ ته دا نعمتونه راکړي دي.

دروښ وايي: چې ابن جريح رح له عطا رح څخه روايت کړی دی چې مراد د عبد مملوک څخه ابوجهل دی او مراد له "من رزقه رزقاً حسناً" څخه ابوبکر ﷺ دی لکن تخصيص من غير مخصص دی عموم د آيت اولی او مختاره د جمهور المفسرين

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دی. او بل دا چي په دې تفسیر کي د مجاز ته ضرورت سته ولي چي ابو جهل خو عبد مملوک لایقدر علی شیئ نه وُ کما لایخفی. والعجب من المظهري یذکر امثال هذه التفاسیر البعیدة. صاحب د کشف المحجوب راوړي دي چي یوه ورځ د خلوت د شیخ ابو العباس شیباني قدس سره د ورغلم: وی راته ویدم که این آیت "بل اکثرهم لایعلمون" میخواند ومیگریست ونعره پرسوز وگداز میزد پنداشتم که خواهد رفت (یعني ما گمان کاوه چي زکندن یې دی له دنیا څخه به ولاړ سي) گفتم ای شیخ این چه حالتست که ترا بگریه دلسوز اورده گفت که یازده سال میگزرد تا ورد ما تا اینجا رسیده است. واز اینجا نمیتوانم گذشت، آری حدوث درقدم نمیتواند رسید. وممکن از کنه واجب الوجود خبر نتواند داد این بیت بخواند:

نیست یا هست چون زند پهلو ..... قطره بابحر چون کند دعوی

فائده: لفظ د "اکثرهم" یې ووایه او سره ددې چي ضمیر خو راجع و مشرکانو ته دی تنبیهاً علی ان بعض المشرکین یعلمون ذالک لکن عمل په موجب د هغه نه کوي عناداً وتکبراً.

وَضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا رَّجُلَيْنِ اَحَدُهُمَآ اَبْكَمُ لَا يَقْدِرُ عَلٰى شَيْءٍ

خدای ﷻ مثال بیانوي د بتانو او د څپل ځان په دوو کسانو سره چي یو یې مور زاده کوږ او گنگی وي چي اخرس یې بولي چي نه خبره اوري او نه خبري کولای سي، چي قدرت نه لري پر یو شي د کسبو د دنیا لنقصان عقله.

وَّهُوَ كَلٌّ عَلٰى مَوْلٰىهُ اَيْنَمَا يُوَجِّهْهُ لَا يَاْتِ بِخَيْرٍ

او دوی دروند باروي پر قریب او متولي د کارو دده. هره خوا ته چي یې واستوي مولی دده یعني په اشارا تو سره راتگ په خیر سره نسي کولای یعني هغه متوجه الیه امر نسي اجرا کولای.

یوه سه: چي دا مثال دی د صنم چي نه خبري اوري او نه خبري کولای سي او نه عقل لري. او دا بت پر عابد دده دروند بار وي چي له یوه ځای څخه یې بل ځای ته وړي او د گرز له سببه هره ورځ صافه پوري موږي او دا عابد چي هر مراد او مطلب له

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ده څخه وغواړي صنم يې نسي اجراً کولای لکونه جماداً بلا علم ولاقدرة.

هَلْ يَسْتَوِيْ هُوَ ۙ وَمَنْ يَّاْمُرُ بِالْعَدْلِ ۙ وَهُوَ عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿٧٦﴾

يعني عقل يې سالم وي فهم او فکر لري او ژبیاړی وي او پر راه راست وي. او خلګو ته يې فائدې رسېږي او خلګ پر عدل باعثه کوي وهو التوسط بين الافراط والتفريط في القوة العقلية والقوة الشهوية والقوة الغضبية. او دی خپله پر سمه لارې هر مطلب ته چې متوجه سي په سهولت سره لاس ته راوستای سي.

دروښ وايي: چې دا مثل دی چې خدای پاک د خپل ځان لپاره ویلی دی. شیخ الاسلام علي البزدوي رح وايي چې غرض له دواړو مثالو څخه نفي د مساوات په منځ کي د خدای ﷻ او په منځ کي د مايعبده المشرکون.

دروښ وايي: چې وما اختاره شیخ الاسلام هو الظاهر من سياق الآيات. او مظهري او روح البيان په قيل سره نور احتمالات راوړي دي چې د بعضو نسبت يې و ابن عباس رضي الله عنهما ته کړی دی او د بعضو دا يې مقاتل رح ته کړی دی چې هغه توله احتمالات روح المعاني رد کړي دي په سبب د عدم صحت د اسنادو. وايضاً يأبى عن الاحتمالات المذكورة العقل السليم والفهم المستقيم فلذالک اعرضنا عن ايرادها وردها تفصيلاً. که څوک تفصيل ددې احتمالاتو غواړي نو دي تفسير روح البيان او تفسير مظهري مطالعه کړي او که يې تفصيل د رد غواړي نو دي روح المعاني په غور سره وګوري.

حاسده خوله پټه ونسه د عبيدالله تولې خبرې په حواله دي د تفاسير معتبره دوو والله اعلم بحقيقة الحال.

فائده: "ضرب الله مثلاً" په دواړو ځايو کي که څه هم صيغه د ماضي ده لکن مقصود ځني انشاء د ضرب المثل ده لاحكاية الضرب في الزمان الماضي فتأمل هداک الله لفهم دقائق كلام الله عزوجل.

وَلِلّٰهِ غَيْبُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ

يعني خاص خدای ﷻ لره دی علم د پټو شيانو (په حذف د مضاف يعني لفظ علم)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي له غیب څخه مراد ماغاب عن الخلق ولي د خدای ﷻ غیبت ممکن نه دی، او حصر د علم غیب په خدای ﷻ پوري له تقدیم څخه د خبر چي لله دی پر مبتدأ باندي چي غیب مضاف دی فهمېږي او کلمه د لام هم ممد ددې اختصاص ده.

وَمَآ أَمْرُ ٱلسَّاعَةِ إِلَّا كَلَمْحِ ٱلْبَصَرِ أَوْ هُوَ أَقْرَبُ ۚ

او نه دی حال د قیام د قیامت في سرعته وسهولته اذا اراد الله ذالک، په بیضاوي کي وایي چي "لمح رجع الطرف من اعلی الحدقة الی اسفلها" او دا هم خدای پاک د مثال په توګه وایي "اذ لا یعرف اقل منه في العرف" (او هو اقرب) ای بل هو اقرب من لمح البصر. ولي چي خدای ﷻ توله خلګ دفعةً ژوندي کوي اذا قال له کن فیکون او هر شی چي دفعةً پیدا سي کان في آن ولا امتداد للآن کما هو مثبت عند العقلاً.

إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٧٧﴾

په تحقیق خدای ﷻ پر هر شي قادر دی یعني اذا شائه، نو قادر دی پر احیاً د توله مخلوق دفعةً کما احیا هم في الدنیا تدریجاً. بغوي ؒ وایي نزلت یعني آیت فوق په کفارو کي دمکې چي دوی غوښتنه کوله د ژر راتلو د قیامت استهزاءً والا فهم منکرون عن القیامة.

وَٱللَّهُ أَخْرَجَكُم مِّنۢ بُطُونِ أُمَّهَٰتِكُمْ لَا تَعْلَمُونَ شَيْـًٔا ۙ

خدای ﷻ تاسي را ایستلي یاست له نسو څخه د میندو ستاسي په داسي حال کي چي نه پوهیدا ست تاسي په هیڅ شي، مظهري ؒ وایي مستصحبین جهل الجمادیة انتهی.

دروښ وایي: چي اولی دا وه چي ویلي یې وای متشابهین جهل الجمادیة لان العقلاً کلهم یقولون ان للطفل الخارج علم حضوري سته بنفسه والجماد لیس له علم حضوري ولا حصولي فافهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَّجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ وَالْاَفْـِٕدَةَ ۙ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۷۸﴾

او تاسي ته يې درکړي وه سمع (سمع په معنی د اسماع ده لکونه مصدراً لاحاجة الی جمعه او سترګې او زړونه جمع د فؤاد ده، نو په دغو حواسو تاسي بعض جزئيات د اشياؤ لکه مور او لور پېژندل او بيا په زړو سره شرکت د انسانانو او مباينه ددوی د سپو او پشانو سره په تکرار د احساس پوه سوا ست حتی چې تاسي بعض علوم بدهية هم وپېژند چې دې ته درجې حکماً عقل بالملکة وايي او اول درجې ته عقل هيولاني وايي.

پوه سه: چې "لعل" په معنی د لام کې دی يعنې ددې لپاره چې تاسي به شکر ووايا ست پر دغو نعمتو چې پر تاسي طوراً بعد طوراً غله او تاسي واورېدل من الله المتعال.

اَلَمْ يَرَوْا اِلَى الطَّيْرِ مُسَخَّرٰتٍ فِيْ جَوِّ السَّمَآءِ ؕ

دا بيان دی د بل حجت پر وجود د صانع و توحيده آيا دوی نه ګوري و مرغانو ته يعنې تر صغيره او کبيره پورې، چې دوی مسخر دی و الوتو ته په واسطه د وزرو په هوا کې په منځ کې د مځکې او اسمان، په قاموس کې وايي چې جو هو الهواً.

پوه سه: چې مرغان که څه هم و مځکه ته نژدې تر اسمان لکن جو السما چې ذکر سو ددې جهته طرف د اسمان دی.

تنبيه: په دې آيت کې اشاره و دې ته ده چې طيران د مرغانو په مقتضی د طبع ددوی نه دی بل بتسخير الله تعالی وان کان مقتضی طبع الطير من الثقل السقوط.

مَا يُمْسِكُهُنَّ اِلَّا اللّٰهُ ؕ

نه دې خوندي کړي دغه مرغان په هوا کې بېله تاثير د قدرت د خدای ﷻ علی خلاف طبعهن من الثقل في الغاية في بعض الطيور نه ده لوړې خواد خړېدلو شی سته او نه د کښتې خوا تنبه سته.

فائده: هغه داده چې هوا د مرغانو لپاره خدای ﷻ داسي مسخر کړې ده لکه دریاب د آب باز لپاره، يعنې آب باز په اوبو کې لاسونه ځان ته جوت وې بيا يې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

غورۍ نو په دې ذریعه یې اوبه نه غوټه کوي مع ثقله درغه رنګه مرغه وزرونه په هوا کې په ځان پورې جوتوي بیا یې له ځانه څخه لهرې کوي، نو په دې سبب دی کښته را ایله کېږي، او د قدرت له عجائبو څخه د قدرت داده چې بعض مرغان په هوا کې هګۍ واچوي او هغه هګۍ وروسته په هوا کې چیچی سي، وما ذالک الا بتسخیر الله ﷻ وعجائب قدرته تعالی طیر ابابیل التي رمت اصحاب الفیل بحجارة من سجیل کما نطق به القرآن الکریم، ومن عجائب الطیور ما یقال له "همای" فانه من سکان الهوا په هوا کې هګۍ اچوي او په هوا کې یې چیچی زېږي او پښې نه لري دومره بدن یې دی لکه د ګیږکي، چې مر سي په هوا لاښې یې په صحرا کې د هند لیدل کېږي.

دروښ وایي: چې فالحق ان نقول ولا یعلم جنود ربک الا هو. له ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چې هوا معمور ده په امم مختلفة الخلق سره.

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٧٩﴾

په تحقیق په دې احوالو کې د مرغانو د هر دلائل د قدرت دي هغه قوم لره چې ایمان پر قرآن لري تخصیص د مؤمنانو یې په دې سبب وکړی چې دوی په دقائقو کې د قدرت د خدای ﷻ فکر ووهي بخلاف الکفرة.

وَاللَّهُ جَعَلَ لَكُم مِّن بُيُوتِكُمْ سَكَنًا

بیان د نعمت اخری دی او خدای ﷻ ګرځولي دي ستاسي له خونو څخه یعني چې په خښتو یا پخې یا اومې یا په ډبرو کې جوړې کړه ځای د سکونت ستاسي؛ سکن مصدر په معنی د مفعول دی یعني المسکن.

وَجَعَلَ لَكُم مِّن جُلُودِ الْأَنْعَامِ بُيُوتًا تَسْتَخِفُّونَهَا يَوْمَ ظَعْنِكُمْ وَيَوْمَ إِقَامَتِكُمْ ۙ

او خدای ﷻ پیدا کړي دي تاسي لره له پوستو څخه د چارپایانو یعني اوښان، غوایي، میږي، پسونه او بزې، خوني چې خیمې یې بولي او اخبیته یې هم بولي چې له څرمنو څخه یې مالداران د صحرانشینو جوړوي، چې تاسي نه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سپکي وي په وخت کي د سفر او د اقامت، او دا هم احتمال سته چي له جلود څخه په عموم مجاز ما على جلود البعير من الوبر وصوف الغنم ومن شعر المعز ته هم شامل مراد وي چي له هغو څخه هم خپمې لوی او کوچنی جوړیږي.

وَمِنْ أَصْوَافِهَا وَأَوْبَارِهَا وَأَشْعَارِهَا أَثَاثًا وَمَتَاعًا إِلَىٰ حِينٍ ﴿٨٠﴾

یعني له وړیو څخه د پسو او د وړیو څخه د اوښانو چي وبر یې بولي، او د بزو وچغونې او د کور شیان لکه کمبلې، پرشونه، شړۍ او پشمي کالي، او اسباب د تجارت تر یو وخته پورې، په حدیث شریف کي راغلي دي چي رسول الله ﷺ وایي من بنى بنيانًا من غير ظلم ولا اعتدا او غرس غرسا في غير ظلم ولا اعتداً كان له اجر جاريًا ما انتفع به احد من خلق الرحمن.

پوه سه: چي "اثاث" جمع دی مفرد د لفظ نه لري.

وَاللَّهُ جَعَلَ لَكُمْ مِمَّا خَلَقَ ظِلَالًا

او خدای ﷻ پیدا کړي دي ستاسي لپاره له هغو شیانو څخه چي خدای پیدا کړي دي من الشجر والجبل والابنية ظلالاً، سایې چي تاسي ځانونه په وساتئ له ګرمي څخه د لمر مثلاً په دوبي کي او یا په دیار حاره وو کي مثلاً عربستان.

وَجَعَلَ لَكُمْ مِنَ الْجِبَالِ أَكْنَانًا

او ګرځولي دي خدای ﷻ ستاسي د نفع لپاره له غرو څخه (یعني له غارو څخه چي په غرو کي وي) داسي ځایونه چي تاسي ځانونه پکښي ساتئ، یا دا معنی چي له دښمنانانو څخه ځانونه پکښي محفوظ کړئ او یا په هغو غارو کي سکونت وکړئ یا هوړې په آلاتو سره خونې جوړې کړئ "اکنان" جمع د کن ده.

پوښتنه: خدای ﷻ نعمت د جبالو د اکنانو ذکر کړی او سره ددې چي د سهل مځکو اکنان تر اکنانو د جبل ډېر دي؟

ځواب: عطاء رح وایي چي نزل القرآن على قدر معرفتهم كما في هذه الآية، ولي چي عرب د هغې زمانې عموماً په غرو کي اوسېدل، د سهل مځکي د خونو اوسېدل پکښي کم وه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَجَعَلَ لَكُمُ سَرَابِيلَ تَقِيكُمُ الْحَرَّ

او خدای ﷻ تاسي ته درکړي دي قمیصان یعني د پنبه ؤ یا د وړیو یا د کتان یا د وریښمو چي تاسي وساتي له ګرمی څخه.

سوال: په قمیصانو خو سړی له یخه هم ساتل کیږي؟

ځواب: هو! لکن یو ضد یې ذکر کړی او مراد دواړه دي لدلالة المذکور علی المحذوف او بعض مفسران وایي چي چونکه ګرمي په دیارو کي د عربو ډیره وه او یخ یې ډیر کم ؤ نو ځکه یې حر ذکر کړی.

وَسَرَابِيلَ تَقِيكُمْ بَأْسَكُمْ ط

ای جعل لکم سرابیل یعني قمیصان د وسپني چي په عربي یې درع بولي او په پښتو یې زغره، چي دغه قمیصان تاسي ساتي له جنګ الم او جرح څخه که توري وي او که د نیزي په وخت کي د شدت د جنګ.

دروښ وایي: چي اول واضح د توري او زغرې داؤد علیه السلام دی کما نطق به القرآن "والنا له الحدید" الی اخیر الآیة، او لقمان حکیم د داؤد علیه السلام سره یو ځای ؤ چي داؤد علیه السلام دا زغرې جوړولې او ګړی، د وسپني او په منځ کي د ګړیو به یې نري نري مېخونه ورکول شپږ میاشتي دا سلسله جاري وه، لکن لقمان پوښتنه نه ځني کول چي ته دا څه شی جوړوې او د څه لپاره یې جوړوې، نو داؤد علیه السلام چي زغره پوره کړه، نو یې واغوستل او داسي یې وویل نعم لباس الحرب ... بیت:

چو لقمان دید کاندر دست داؤد ..... همی آهن بمعجز موم گردد
نه پرسیدش چه میسازی که دانست ..... که بی پرسید نش معلوم گردد

وکان کما زعم، یعني بې پوښتنې یې لقمان ته حکمت معلوم شو.

پوه شه: چي داؤد علیه السلام وروسته صفت د زغرې جوړېدلو په چټکی روان ؤ حتی تر زمانې د رسول الله ﷺ حتی چي علیه الصلوة والسلام مبارک په جنګو کي د کفارو سره زغره اغوستې وه، او په صحیح احادیثو کي راغلي دي چي علیه الصلوة والسلام دوې زغرې یوه پر بله سربېره اغوستي دي، رفته رفته چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نقشه د زغرې بدله سوه او په ځای کې د تورو او نېزوو او غشو کلاشنکوفونه او توفنچې او دستي او هوايي بومبان منځ ته راغله، نو صفت د زغرو پای ته ورسېدی الا ماشاء الله تعالی.

كَذَٰلِكَ يُتِمُّ نِعْمَتَهُۥ عَلَيْكُمْ لَعَلَّكُمْ تُسْلِمُونَ ﴿٨١﴾

"كذالك" يعني لكه چې اتمام د نعمتو مذكوره وو يې پر تاسي كړی و" خدای تام ګرځوي نعمت خپل پر تاسي يعني اې قريشو د مكې چې تاسي ته يې رسول راواستاوه او په معجزو يې دده رسالت ثابت كړی او ستاسي په عربي ژبه يې قرآن كريم نازل كړی واتم عليكم الحجة واعز الاسلام.

ددې لپاره چې اسلام به قبول كړي د هر خلګ د عربو و غيرهم ځخه او طاعت به خالصاً د خدای ﷻ كوي او بت فرستي به محو او نابوده وګرځي.

فَإِن تَوَلَّوْا۟ فَإِنَّمَا عَلَيْكَ ٱلْبَلَٰغُ ٱلْمُبِينُ ﴿٨٢﴾

كه اعراض وكړي يعني اهل مكه له قبول ځخه د اسلام او ستا خبره ونه مني.

پوه سه: چې اصل جزاً د "ان" محذوفه ده يعني فلا تهتم ته غم مه كوه يعني ژړه مه تنګوه و قوله فانما آه. دليل د جزاً دی په ځای كې د جزاً د ربدلی په دې معنی چې پر تا نه دۍ مګر بلاغ د امر الهي وقد اكملت البلاغ المبين يعني بې پردې او بېخوفه دي تبليغ د امر الهي ورته وكړی، نو په دې آيت كې سبب چې بلاغ مبين دی په ځای كې د مسبب چې فلا تهتم چې اصل جزاً وه راوړی يې دی فافهم.

يَعْرِفُونَ نِعْمَتَ ٱللَّهِ ثُمَّ يُنكِرُونَهَا

دوی پېژني نعمت د خدای ﷻ هغه نعمتونه چې په دمخه آيتو كې خدای ﷻ بيان كړه، ولې دوی په دې اقرار كاوه چې دا مذكوره نعمتونه دي، او هم يې په دې اقرار كاوه چې له جانبه ځخه د خدای دي، وروسته يې انكار كاوه له نعمت ځخه د خدای ﷻ چې عبادت د خدای ﷻ مخلصين له الدين يې نه كاوه بلكې بتان يې په عبادت كې ورسره شريكان بلل، سدي رح وايي چې مراد له نعمت ځخه ذات انور د عليه الصلوة والسلام دی. فالمعنى يعرفون كفار مكة بنبوة محمد ﷺ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بالمعجزات الواضحات لكن انكار دده له نبوت څخه يې عناداً او تكبراً كاوه.

پوه سه: چې كلمه د "ثم" لپاره د تراخي في الزمان نه ده كما هو اصل معناه بلكې لپاره د انكار او استبعاد وروسته تر معرفت.

وَأَكْثَرُهُمُ الْكَافِرُونَ ﴿٨٣﴾

او دېر ددوی كافران او منكر له نبوت څخه د عليه الصلوة والسلام دي پر تفسير د سدي رح، او يا اكثر ددوی چې نعمتونه د خدای ﷻ پېژني چې من الله دي وروسته دوی كافران دي په هغو نعمتو سره چې نسبت ددغو نعمتو يې و بتانو ته كاوه. په هر صورت دلته يو سوال پيدا كېږي چې په دمخه آيت كې خو ضمير د يعرفون او ينكرون خو تولو كافرانو مشركانو ته راجع وۀ او په دې آيت كې دا وويل سول واكثرهم الكافرون. ددې سوال دفع روح البيان په دې سره كړې ده "يعرفون" اى بعض المشركين ثم ينكرونها بافعالهم حيث يعبدون غير منعمها (چې خدای ﷻ دی) اى الاصنام، او بقولهم انها بشفاعة آلهتنا واكثرهم الكفافرون اى المنكرون بقلوبهم غير المعترفين بماذكر انتهى. او مظهري رح دفع په دې دول كړې ده وذكر الاكثر اما لان بعضهم لم يعرف الحق المذكور لنقصان العقل او التفريط في النظر او لانه لم يبلغ حد التكليف واما لانه قال الاكثر واراد به الكل انتهى. او صاحب د روح المعاني يې په دې سره دفع كړې ده چې اسناد د سابق يعني يعرفون وينكرون دي پر خپل ظاهر پاته وي، والمراد ان اكثرهم المقرون الثابتون پر كفر دي الى يوم يلقونه فالتعبير بالاكثر لعلمه تعالى بان منهم من يؤمن به. او نورې توجيهاتې يې هغه كړې دي چې مظهري يې نقل د روح المعاني څخه كړې دی وان لم ينسبه الى روح المعاني كما هو ديدنه.

وَيَوْمَ نَبْعَثُ مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ شَهِيدًا

او ذكر كړه يا محمد (ﷺ) هغه ورځ و كافرانو ته چې موږ وپاڅه وو له هر امت څخه شاهد يعني پر هغه امت چې رسول د هغه امت دی چې پر مؤمنانو د هغه امت به شاهدي په ايمان سره ادا كوي او پر كافرانو په كفر سره.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي "يوم" په مشهو رسره منصوب دی په اذکر مقدر سره او مظهري دا توجيه هم ذکر کړې ده خوفهم يوم آه.

ثُمَّ لَا يُؤْذَنُ لِلَّذِينَ كَفَرُوا

او وروسته تر شاهدی ډ رسول اجازه نه ورکول کېږي يعني له جانبه څخه د خدای وه هغو کسانو ته چي په دنيا کي يې کفر مختاره کړی ؤ يعني چي دوی دي عذر و خدای ﷻ ته ووايي، ولي عذر صحيح خو نه لري، ولي چي خدای ﷻ رسول سره ډ معجزاتو دوی ته ور استولی ؤ، او بعض مفسرين وايي چي دمطلق خبرو اجازه نه ورکول کېږي. وهذا بعيد لقوله تعالى في شانهم "ربنا قد غلبت علينا شقوتنا آه" ولقوله تعالى "ربنا فارجعنا نعمل صالحًا آه" ولقوله تعالى حكاية عن قولهم "والله ربنا ماكنا مشركين آه. الا ان يقال يوم القيامة ذو الوان ففي بعضها يؤذن لهم في مطلق الكلام وفي بعضها لا يؤذن لهم.

وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُونَ ﴿٨٤﴾

او نه له دوی څخه طلب د رضا د خدای ﷻ کول کېږي يعني چي اوس خدای راضي کړي، ولي په ورځ د قيامت د خدای ﷻ رضی ممکنه نه ده. ولي دار الآخرة خو دار التكليف نه دی. او نه دوی و دنيا ته ردېږي چي ايمان راوړي او اعمال صالحه وکړي او خدای ﷻ راضي کړي لانهم يطلبون ذالک ای الرد الى الدنيا لكن لا يقبل ذالک منهم.

وَإِذَا رَأَى الَّذِينَ ظَلَمُوا الْعَذَابَ فَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمْ وَلَا هُمْ يُنْظَرُونَ ﴿٨٥﴾

او هغه چي وويني هغه کسان چي ظالمان وي يعني کافران عذاب د جهنم او بيا نه سپکول کېږي عذاب يعني وروسته تر دخول د جهنم او دوی ته مهلت ورکول کېږي يعني قبل الدخول.

دروښ وايي: چي مظهري او صاحب د روح البيان په څواب کي د "اذا" هيڅ نه دي ويلي. او مشهوره توجيه د "اذا" په څواب کي د "اذا" في امثال هذا الروا امرًا قطيعًا. او روح المعاني وايي چي بعض مفسرين وايي چي فلا يخفف عنهم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د اذا دی لکن تقدیر د فهو لا یخفف اولی دی، تا چي جمله اسمیه سي، ولي چي نحات وایي چي مضارع که مثبت وي او که منفي چي په خواب کي د اذا واقع سي دخول د فا پر ناجائز دی، او ابو حیان ددې توجیه هر کلی کړی دی، او خفاجي ؒ په شرح کي د بیضاوي دا توجیه تر سخت تنقید لاندي نیولې ده، دی وایي چي تقدیر مذکور خلاف الاصل دی.

نتیجه: خواب مشهور د چون وچرا څخه خلاص دی والله اعلم بالصواب.

پوښتنه: خدای پاک لا یخفف عنهم جمله فعلیه مضارعه راوړه او "لاهم ینظرون" یې جمله اسمیه راوړه حکمت یې څه دی؟

خواب: نکته یې داده چي عدم تخفیف خو واقع دی وروسته تر رویت د عذاب، نو ځکه جمله فعلیه مضارعه راوړه چي دلالت پر ثبات کوي بخلاف عدم الامهال فانه ثابت لهم في تلک الحالة بل علی الدوام فلهذا اورد الجملة الاسمیة فتدبر کذا في الخفاجي، حافظ شیرازي ؒ:

کاری کنم ورنه خجالت بر آور ..... روزی که رخت جان بجهان دگر کشیم

وَإِذَا رَأَى الَّذِينَ أَشْرَكُوا شُرَكَاءَهُمْ

هغه وخت چي وویني هغه چي شرک مختار کړي شرکا خلګ ددوی یعني چي شریکان د خدای ﷻ ګرځولي وه په دنیا کي یعني خدای پاک به ددوی بتان په میدان د قیامت کي حاضر کړي.

قَالُوا رَبَّنَا هَؤُلَاءِ شُرَكَاؤُنَا الَّذِينَ كُنَّا نَدْعُو مِن دُونِكَ

دوي وایي چي دغه دي هغه بتان زمونږ یعني معبودان هغه معبودان چي مونږ په دنیا کي مو عبادت کاوه ددوی ماسوی له تا څخه، ددوی په دې خبره کي غرض دا وي چي مونږ په خپل کار یعني چي عبادت د دغو بتانو مو کاوه پر خطا وو، یا یې غرض دا وي چي مونږ دا بتانو غولولې وو، نو مونږ له عذاب څخه وساته او عذاب دوی ته ورکړه او یا عذاب پر مونږ او دوی نیمایي کړه کما في روح البیان والمظهري وروح المعاني مع قیل وقال.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَأَلْقَوْا إِلَيْهِمُ الْقَوْلَ إِنَّكُمْ لَكَاذِبُونَ ﴿٨٦﴾

نو خدای ﷻ پر خبرو راولي دغه جمادات بتان او مشرکانو ته ووایي یو قول چي هغه دادی چي په تحقیق تاسي درواغ وایاست. یا په دې کي چي دا شرکاء د خدای ﷻ دي یا په دې کي چي مورږ حقیقتًا او واقعًا بلکي دوی عبادت کاوه د شیطان یا د اهواؤ زائغه وو او د بتانو د قول غرض دادی چي مورږ دوی ته دعوت د خپل عبادت نه دی ورکړی او نه مورږ دوی مجبور کړي دي پر شرک.

وَأَلْقَوْا إِلَى اللَّهِ يَوْمَئِذِ السَّلَمَ وَضَلَّ عَنْهُمْ مَا كَانُوا يَفْتَرُونَ ﴿٨٧﴾

او واچوي و خدای ﷻ ته دغه "الذین ظلموا" په دغه ورځ کي انقیاد او تسلیم د حکم د خدای ﷻ بعد الاستکبار عن حکمه في الدنیا، یعني بیرغ د کبر د دنیا وغورځوي او بیرغ د تسلیم او انقیاد پورته کړي او ضائع او باطل وگرځي له دوی څخه هغه شی چي دوی په دنیا کي افتراء او درواغ ویله چي بتان به زمورږ شفاعت کوي.

الَّذِينَ كَفَرُوا وَصَدُّوا عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ زِدْنَاهُمْ عَذَابًا فَوْقَ الْعَذَابِ

هغه کسان چي کفر او شرک یې کاوه او خلگ یې منع کوله له لاري څخه د خدای ﷻ چي دین د اسلام دی او باعثه کول یې پر شرک چي دا رئیسان د مشرکینو وه مورږ دوی ته زیاته وو عذاب د صد عن سبیل الله بالا پر هغه عذاب چي دوی یې مستحق وه په سبب د خپل کفر، عبدالله بن مسعود وایي چي دا عذاب د صد لرمان به وي لکه جگه درخته د خورما. او براء بن عازب ﷺ له علیه الصلوة والسلام څخه روایت کړی دی په مثل د ماقبل حدیث د ابن مسعود ﷺ، او سعید بن جبیر ﷺ وایي چي دا ماران به وي لکه مایه اوښان او لرمان به وي په مثال د غاطرو چي یو د هغو به خپل صاحب دوزخي نهښي جگ کړي څلوېښت کاله به یې درد باقي وي.

بِمَا كَانُوا يُفْسِدُونَ ﴿٨٨﴾

په هغه سبب چي دوی په دنیا کي فساد کاوه بالکفر والمعاصي والصد عن سبیل الله تعالی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَيَوْمَ نَبْعَثُ فِيْ كُلِّ اُمَّةٍ شَهِيْدًا عَلَيْهِمْ مِّنْ اَنْفُسِهِمْ

او په یاد کړی خلګو ته هغه ورځ یعني یوم القیامة چې موږ د هر امت څخه شاهد پر دوی یعني بالایمان للمؤمنین وبالکفر علی الکافرین چې دا شاهد به وي ددوی له ځانو څخه یعني من اقوامهم ولي چې نبي د هر امت خدای پاک ددوی له قوم څخه ورته استوي.

وَجِئْنَا بِكَ شَهِيْدًا عَلٰى هٰٓؤُلَآءِ ؕ

او رابه ولو موږ تا یا محمد (ﷺ) شاهد پر دغو کسانو ای علی امتک.

دروبش وایي: چې دا ترجمه مظهري ؒ کړې ده، او روح البیان وایي چې ای الامم وشهدائهم کما في قوله تعالی فکیف اذا جئنا من کل امة بشهید وجئنابک علی هؤلاء شهیداً، ولي مراد په دغه آیت کې خو شهداً د امم دي چې انبیا علیهم السلام د دغو اممو دي والقرآن یفسر بعضه بعضاً.

سوال: لوط علیه السلام خو د خپل امت له قوم څخه نه وٌ فکیف یستقیم الایجاب الکلي في قوله تعالی من کل امة الآیة؟

ځواب: چونکه لوط علیه السلام د خپل امت ښځه په نکاح کړې وه او په دوی کې یې استوګنه درلودل کان کانه منهم.

وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتٰبَ تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ وَّهُدًى وَّرَحْمَةً وَّبُشْرٰى لِلْمُسْلِمِيْنَ ﴿۸۹﴾

"الواو للاستیناف وهو کثیر في الهدایة" او څوک چې یې حال ښولي په تقدیر د قد کما هو القانون النحوي عند کون الماضي حالاً هغه ښې ضرورته تکلف دی، والترجمة الآیة: او نازل کړی ؤ موږ پر تا کتاب یعني القرآن چې بیان واضح پکښې دی د هر شي یعني من امور الدین خواه مفصل وي او که مجمل وي لکه "اتموا الصلوة واتوا الزکوة" چې قول او فعل د علیه الصلوة والسلام بیان مفصل دی، او سنن نبویه هم راجع و کتاب ته دي لقوله تعالی "ما اتکم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الرسول فخذاوه وما نهاکم فانتهوا" او اجماع د مجتهدینو د امت مرحومه هم راجع و قرآن ته ده لقوله تعالی "ومن یتبع غیر سبیل المؤمنین نوله ماتولی" او قیاسات د مجتهدینو هم راجع و قرآن ته دي لقوله تعالی "فاعتبروا یا اولی الابصار"

دروښ وایي: چې تفصیل د رجوع د مذکوره شیانو و قرآن ته په کتابو کې د اصول الفقه صراحةً بیان سوي دي او دا کتاب هدایت دی له ضلال څخه او رحمت دی د ټولو خلګو لپاره او زېرى دی د مسلمانانو لپاره بالخصوص.

پوه سه: چې حمل ددې درو مصدرو مبالغةً دی کزید عدل.

پوښتنه: تا په ترجمه کې وویل "او رحمت دی د خلګو لپاره" نو قرآن د کافرانو لپاره څرنګه رحمت دی؟

ځواب: هغو ته چې رحمت نه دی تقصیر ددوی دی .. بیت

نقصان ز قابل است و گرنه علی الدوام
فیض سعادتش بهمه کس برابر است
الشمس شمس و ان لم یرها الضریر
والعسل عسل وان یجد طعمه فاه المریر

إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ

په تحقیق خدای ﷻ امر کوي یعني خلګ فالمفعول محذوف، په عدل سره او په احسان سره.

پوه سه: چې عدل په لغت کې برابرى، ته وایي ځکه فدیه او جزا ته عدل وایي باعتبار معنی المساوات، کریمه "او عدل ذالک صیاما" کریمه "وان تعدلوا بین النسا" یعني د متعددو ماینو په باره کې مساوات کوئ په هر شي کې چې ستاسي په اختیار کې وي، نو ددې آیت معنی داده چې خدای ﷻ تاسي امر کوي په مساوات سره په مکافات کې ان کان خیرا فخیرا وان کان شرا فشرا، هذا ما قاله المظهري. او روح المعاني او روح البیان وایي چې عدل توسط بین الافراط والتفریط وهو رأس الفضائل کلها، او دېره فراخه لمن لري یعني ظلم مه کوه مه پرځان او مه پر بل چا، بلکې مستحق ته خپل حق ورکوه او جور مه کوه، او عدل شامل دی وتوسط ته په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

امورو اعتقادیه وو کي کالتوحید چي متوسط درجه ده بین التعطیل (کما یقوله الحکما چي خدای ﷻ یوازي اول یو عقل پیدا کړی دی، نو خدای ﷻ له ایجاد څخه معطل دی) وبین التشریک چي یا دوه واجب الوجود وایي یو خالق د نافع شیانو دی چي هغه یزدان بولي، او یو د ضرر مندو شیانو دی چي هغه ته اهرمن وایي لکه ثنویه چي وایي. وبین التشریک في العبادة لکه مشرکین چي وایي. او داغه رنګه مذهب د اهل سنتو عدل دی او متوسط دی په منځ کي د قول د هغه ډلي چي مرجیه یې بولي چي خدای ﷻ عبد مؤمن په هیڅ ګناه نه نسي او نه عذاب ورکوي، او د قول د هغه چا چي معتزله دي دوی وایي چي مرتکب د ګناهو چي بې توبې مړ سي ځای یې ابدي دوزخ دی. او اهل سنت وایي چي خدای ﷻ مرتکب د ګناهو چي بې توبې مړ سي نسي یې ان شاء او مؤمن که څه هم مرتکب د کبائرو ګنهو وي او بې توبې هم مړ سي ځای یې ابدي دوزخ نه دی، او داغه رنګه دا قول د اهل سنتو چي بنده کاسب دی د خپلو اعمالو او خالق یې خدای ﷻ عدل او متوسط دی په منځ کي د جبر یعني چي بنده مجبور محض دی کما یقوله الجبریة او په منځ کي د قول د قدریه وو چي خالق د اعمالو د بندګانو بنده دی، او داغه رنګه عدل شامل دی توسط په اعمالو کما هو مذهب اهل السنة والجماعة یعني فرائض او واجبات او سنن به پر ځای کوي، دا متوسط دی په منځ کي د بطالة چي بعض جاهلان وایي چي عمل هیڅ په درد نه خوري نه عبادت او نه عصیان، ولي چي خدای پاک په ازل کي د هر چا لپاره ځای یا جنت یا دوزخ تاکلی دی فما الفائدة في العمل وما الضرر فیه، او په منځ کي د ترهب چي لذائذ حلالات شیان پر ځان حرام بولي، او داغه رنګه عدل شامل دی توسط بین البخل (چي فرضي زکوة هم نه ورکوي او نه فرضي حج کوي وغیر ذالک من النفقات الواجبة في زمته کنفقة الابوین الفقیرین) وبین التبذیر چي توله مال خیرات کړي او عیال وړی پریږدي، او داغه رنګه عدل شامل دی شجاعت لره چي متوسط دی په منځ کي د تهور (یعني بې جوازه دلاوري لکه پای لوچان چي یې کوي) او د جبن چي د له غزا څخه في سبیل الله د سپیتانې په سبب ځان کاږي.

والحاصل: دروښ وایي: چي واجب معرفت د وسط په هر شي کي او عمل او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عقيده پر وسط شي کول. ولي چي توسط ممدوح دی او افراط او تفريط دواړه مذموم دي، په حديث صحيح کي راغلي دي چي يو سړی راغلی د عليه الصلوة والسلام سره يې مشوره کول په ترهب کي او د ګرده عمر روژې نيولو کي او قيام الليل کله. نو عليه الصلوة والسلام پسله زجره او منع ورته وويل "ان لنفسک عليک حقًا ولزوجک عليک حقًا ولزورک عليک حقًا فصم وافطر ونم وقم" دا ولږ تفصيل د عدل، او احسان دادی چي ټوله اعمال ښه او بد د خدای ﷻ د رضا لپاره وي، وفي الحديث ان الله کتب الاحسان في کل شئ وجائني الحديث الطويل الذي رواه البخاري ومسلم الاحسان ان تعبد الله کان تراه فانک بان لم تکن تراه فانه يراک، له فضيل بن عياض ؒ څخه روايت دی که يو سړی ټوله مواضع د احسان مراعات کړي او عمل په وکړي لکن يوه چرګه لري د هغه سره بد کوي لم يکن من المحسنين. او هم له دې سببه په حديث نبوي صحيح کي راغلي ان امرة عذبت في هرة (يوه ښځه په عذاب سوه په سبب د پشي) حبستها ولم تطعمها الى ان ماتت (دې پشي بنده کړې وه او خوراک يې هم نه ورکاوه تردې چي پيشي مړه سوه يعني له لوږې.

دروښ وايي: چي دا حديث ورد دی په قدر د حاجت مور مختصر کړی.

دروښ وايي: چي لوی جزء د احسان عفوه له جرائمو څخه د بل والاحسان الى من اساً. مقوله :..... هرکه سنګت دهد تمر بخشش.

والصبر على الفرائض والواجبات وجميع الامر الالهية، والصبر عن المنهيات کلها والصبر في المصائب جهاد. ولهذا قال الله تعالى في کتابه الکريم "ان الله مع الصابرين"

وَإِيتَآئِ ذِي الْقُرْبَىٰ وَيَنْهَىٰ عَنِ الْفَحْشَآءِ وَالْمُنكَرِ وَالْبَغْيِ

او په ورکړه د خاوند د قرابت هغه څه چي دی ورته محتاجه وي من الطعام واللباس وغير ذالک چي تعبير په صلة الرحم ځني کېږي.

پوه سه: چي فحشاً هغه خصلت دی چي سخت وي از روی قبح که فعل وي لکه زنی، لواطت وغيرهما او که قول وي لکه کلمه د شرک او رياً وغير ذالک او منکر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هغه کار دی چې شرع شریف او عقل سلیم انکار ځنې کوي، او بغي، کبر او ظلم ته وایي، او له ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چې فحشی زنی ده، قاضي بیضاوي وایي چې فحشاً افراط دی په متابعت کې د قوت شهویة کالزنی، ولي چې زنا بد ترین د احوالو د انسان دی اشنعها، والمنکر ماینکر عن تعاطیه في اثارة القوة الغضبیة کالقتل والجرح والشتم وغیرها. والبغي هو الاستیلاً (ای الغلبة) والاستعلاً علی الناس والتجبر علیهم، چې دا مقتضی د قوت وهمیه ده، قال ولا یوجد في الانسان شر الا وهو مندرج في هذه الثلاثة ولهذا قال ابن مسعود ﷺ اجمع آیة في القرآن هذه الآیة، او بغوي ؒ وایي چې سفیان بن عیینة ؒ وایي چې عدل استواً د سر او علانیه ده یعني ریا کاري نه وي پکښې، او احسان دادی چې د سړي سر تر علانیه بهتر وي، او فحشاً او منکر دادی چې علانیه د سړي افضل وي تر سر یعني ریا کار وي، او بیضاوي وایي که په قرآن نه وای غیر ددې آیت لصدق علی القرآن انه تبیان لکل شیئ وهدی ورحمة وبشری للمسلمین.

یَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ ﴿۹۰﴾

خدای ﷻ تاسي ته وعظ کوي یعني په امر او نهي سره، ددې لپاره چې تاسي به پند واخلئ له موا عظو څخه د قرآن.

پوه سه: چې امیرانو د مروانیانو د قوم په خپلو خطبو د جمعې لعنت پر امیر المؤمنین علي ﷺ وایه، امام سیوطي ؒ اول سړی ؤ چې لعنت د علي ﷺ يې له خطبو څخه ساقط کړی عمر بن عبدالعزیز ؒ ؤ په ځای کې د هغه دغه آیت وایه په خطبو کې ان الله یأمرکم بالعدل والاحسان الآیة. او خطیبانو تر ننې ورځې یورې په ده پسې اقتدا کړې ده شرقاً وغرباً جنوباً وشمالاً.

فائده: عمر بن عبدالعزیز ؒ په سنه نهه نیوي (۹۹) کې خلافت د اهل او عقد یې په اجماع سره تر لاسه کړی او دوه کاله پینځه میاشتې خلافت وکړی او بیا وفات سو. لکن په دغه لږ مده کې د خلافت په میدان کې د عدالت دومره عظیم مقبولیت وګټی حتی چې بعض اهل المذاهب وایي چې خلفا راشدین پینځه دي عمر بن عبدالعزیز ؒ هم پکښې حساب دی او دده خلافت په مائة الاولی کې د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هجرت ؤ بالاجماع، او عرب مبالغةً وايي چي که د دنيا د ظالمانو ظلم په يوه پله کي د ترازو واچول سي، او د حجاج بن يوسف ظلم په بله پله کي د ترازو کښېښول سي ظلم د حجاج به پر بالا وي، او دا هم عرب وايي که د نړۍ د ټولو عادلانو عدالت په يوه پله کي د ترازو کښېښول سي او د عمر بن العزيز ؒ عدل په بله پله کي د عمر بن عبدالعزيز ؒ عدل به پر راجح وي، وهذه غاية المنقبة له في العدالت.

دروښ وايي: چي تاريخ اسلامي په بلند اواز وايي چي څه وخت چي عمر بن عبدالعزيز ؒ له دار فاني څخه رحلت وکړی د بغداد په زرونو بلکي په لکونو خلګ دده جنازې ته حاضر سوي وه چي قبر تيار سو او دی هنوز پر جنازه پروت ؤ يو تند خوشبويه باد پيدا سو. دې باد يوه ورقه پر جنازه دده واچول چي په هغه کي په واضح الفاظو دا عبارت نوشته ؤ، هذا برائة من الله العزيز الجبار الى عمر بن عبد العزيز من النار. خلګو چي ورقه راپورته کړه له هر طرف څخه يې توري يعني الفاظ رسته معلو مېدله، نو د خلګو دا يقين سو چي دا ورقه پېغام الهي دی اظهاراً لعلو رتبته عندالله بسبب المعدلة، نو خلګو چي عمر بن العزيز رحمه الله عليه په قبر کي کښېښو هغه ورقه فوق الكفن پر ځيګر دده کښېښول انتهى قول اهل التاريخ، تاريخ اسلامي دا خبره هم په ثبوت رسولې ده اول سړی چي په خطبه ثاني کي دا آيت ورضم کړی "ان الله وملائكته يصلون على النبي الى اخير الآية" خليفة المهدي العباسي ؒ ؤ وعليه العمل في هذا الزمان في الخطب المطولة.

وَاَوْفُوْا بِعَهْدِ اللّٰهِ اِذَا عٰهَدْتُّمْ وَلَا تَنْقُضُوا الْاَيْمَانَ بَعْدَ تَوْكِيْدِهَا

او تاسي وفا کوئ په وعده په ميثاق د خداى ﷻ.

(**پوه سه:** چي بغوي ؒ وايي چي مراد له عهد الله څخه دلته قسم بالله دی کما يدل عليه مابعده. او شعبي ؒ وايي چي عهد يمين دی کفاره يې کفاره د يمين ده) او تاسي مه ماتوئ قسمونه چي تاسي يې واخلئ وروسته تر ټينګولو د هغو قسمو په نامه د خداى ﷻ چي والله او يا الله دی مثلاً.

وَقَدْ جَعَلْتُمُ اللّٰهَ عَلَيْكُمْ كَفِيْلًا ۭ اِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا تَفْعَلُوْنَ ۝۹۱

او حال دادی چي تاسي ګرځولی دی خداى ﷻ پر ځانو باندې چي قسم مو په نامه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د هغه واخستی "کفیل" دلته مراد له کفیل څخه شاهدی دی) په تحقیق خدای ﷻ خبر دی په هغو کارو چې تاسي یې کوئ یعني چې یا وفاً بالله ده او یا نقض العهد دی، په راتلونکي آیت کې د نقض العهد یو مثال عجیب او غریب وایي.

دروښ وایي: چې د "اوفوا بعهد الله الآیة" تفسیر چې ما وکړی پر رایه د بعضې مفسرینو ؒ، او حسین کاشفي ؒ مصنف د تفسیر حسیني چې یو قدیم تفسیر دی تر روح البیان او روح المعاني او مظهري دمخه تصنیف سوی دی داسي وایي، نزول آیت درشان جمعیت است که باحضرت رسالت مآب ﷺ در مکه عهد بستند بر ایمان وغلبه قریش وضعف مسلمانان مشاهده کرده جزع و اضطراب درایشان پدید آمد، شیطان خواست که ایشان را بفریبد تا نقض عهد پیغمبر کنند حق سبحانه وتعالی بدین آیت ایشان راثابت قدم گردانید وفرمود "واوفوا" یعني محکم وثابت قدم باشید "بعهدالله" یعني بر بیعت رسول خدا ﷺ کرده بودند اینجا عهدالله چرا گفته شد؟ جواب داده میشود که مبایعت رسول خدا مبایعت همراه خدا ﷻ است زیرا که درآیت دیگر خدا ﷻ فرموده "ان الذین یبایعونک انما یبایعون الله الآیة" علماً گفته اند ان الرسول فان في الله باق بالله الی اخیر الآیات.

فائده: وفاً ادا کول دي د هغه شي چې سړی پر ځان واجب کړی وي یا په قول د والله یا په نذر سره، پوهان د دین وایي چې که تاسي په یو سړي کې دومره کرامات ولیدل چې پر اوبو د دریاب روان ؤ او یا په هوا الوتی تاسي مه په خطاوزئ چې دا نو حتمًا ولي الله دی تر هغو چې تاسي ونه ګورئ حال دده في حفظ الحدود والوفاً بالعهود ومتابعة الشریعة الغراً، ولي چې تګ پر اوبو چونګوښنه هم کوي او په هواً الوتل ټوله مرغان کوي.

دروښ وایي: چې مظهري ؒ و تفسیر د کاشفي ؒ ته صرف یوه اجمالي غایة الاجمال اشاره کړې ده نزلت الآیة في بیعة النبي ﷺ انتهی قوله، اوس نوبت دی د مثال غریب د نقض العهد.

وَلَا تَكُونُوا كَالَّتِي نَقَضَتْ غَزْلَهَا مِنْ بَعْدِ قُوَّةٍ أَنْكَاثًا

او تاسي مګرځئ په قسم ماتولو کې یا په بیعت ماتولو کې لکه هغه ښځه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي دې به بيرته خپل ورته خلاصول وروسته تر قوت.

پوه سه: چي "من بعد قوة" متعلق دی په "نقفت" پوري "انكاثًا" اللغات النقض في البنا والحبل والعهد ضد الابرام كما في القاموس، وبالفارسية شكستن پيمان وپشم باز كردن ياريسمان، په پښتو خونه نړول يا رسی خلاصول يا وعده ماتول "غزل" مصدر دی په معنی د مغزول بعد قوة، يعني وروسته تر احكام د ماغزلته. "انكاثًا" حال دی له "غزل" څخه جمع د "نكث" په معنی د منكوث ده چي تارونه د رسی يا د ورتو چي بيرته يې وغورزي، بغوي رح وايي چي يوه بېعقله او باوله بڼځه وه د قريشو چي ريطه يې نوم وو، او دا موسوسه وه چي دې به ورته وورښل يو گز قدر د وړيو د پسو يا د اوښانو د وړيو يا له وجغونو څخه د بزو، او دې مينځياني درلودې. دا كار به چاري ژ تر نصف النهار پوري چي نصف النهار پوره سوه. تولـه مغزولات به يې بيرته خلاصول په مينځيانو دا ددې كار ژهره ورځ. يعني تاسي مه گرځئ ريطه چي كار يعني قسم وكړي يا بيعت وكړي يا عهد وكړي څه مده وروسته تولـه ماتوي يعني يا دغه كارونه مه كوئ او يا وفا په كوئ.

تَتَّخِذُونَ أَيْمَانَكُمْ دَخَلًا بَيْنَكُمْ

پوه سه: چي دا جمله حال ده له ضمير څخه په "لاتكونوا" كي چي تاسي گرځوئ قسمونه ستاسي دغل يعني فريب او خيانت او فساد، اصل معنی د دخل په عربي هغه شي ته وايي چي هغه شی په خلاف الجنس گډ كړه د خيانت په توگه لكه چي په غنمو لږ وربشي گډ وي يو سړی وامثاله، او بعض مفسرين وايي چي دخل او دغل ان يظهر الوفا ويبطن النقض.

أَنْ تَكُونَ أُمَّةٌ هِيَ أَرْبَىٰ مِنْ أُمَّةٍ

پوه سه: چي تر "ان" دمخه لام محذوف دی اى لان يعني ددې لپاره تاسي نقض العهد كوئ چي جماعت هسي جماعت وي چي هغه ډېر وي په شمير كي د نفوسو او اغنيا وي په اموالو كي تر هغه جماعته چي تاسي دمخه عهد ورسره كړی ؤ، مجاهد رح وايي چي عادت د مشركينو دا ؤ چي د بعض اقوامو سره به يې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

معاهده او ترون او حلف وکړی، نو بیا چې په دوی ولیدی یو بل قوم چې هغه به اکثر وه عدداً ومالاً، نو ددمخه حلفاؤ سره به یې حلف مات کړی او د هغو د دښمنانو سره به یې حلف او معاهده وکړه، نو معنا د آیت داده چې تاسي طلب د عزت کوئ په نقض د عهد د ضعفاؤ والعهد مع الاقویا ولا ینبغي ذالک بل ینبغي الاستقامة علی العهد الاول لان مراعات العهد علامة قوة القلوب وخلافه علامة الجبن" لکه قریشو د مکې چې په کال د حدیبیه (چې د یو ځای نوم دی نژدې و حدودو ته د حرم) قصه یې ډېره وږده ده چې په دې تفسیر کې به په مفصله توګه ذکر سي، لکن مجمل حال یې دادی چې علیه الصلوة والسلام سره د څورلس سوه صحابه کرامو ﷺ یا پینځلس یا شپاړس سوه علی اختلاف الروایات د ذو القعدې په میاشت کې په نیت د عمرې راهي سوه، لکن قریشو ته د مکې چې راتګ دده او اصحابو معلوم سو نو په خپلو کې یې سوګند سره وکړی چې دوی ته اجازه د عمرې نه ورکوو چې زموږ رنګ بدبوي خلګ به وایي چې محمد (ﷺ) سره د اصحابو په زوره سره مکې ته ورغلی دا احوال د قریشو په ذریعه د یو جاسوس چې علیه الصلوة والسلام مکې ته د کشف الحال لپاره استولی ؤ معلوم سو، نو د حدیبیې په مقام کې یې خېمې ودرولې او ټولو احرام بنده هم وه او هدایا د مکې یعني اوښان هم ورسره وه، خیر د قریشو د مشرانو آمد ورفت وحدیبیې ته جاري سو خو قریشو په هیڅ توګه اجازت د عمرې او دخول د مکې نه ورکوی، البته دا یې ورته ومنل چې سږ کال بیرته ستانه سي پر نوي کال د ذوالقعدې په میاشت کې به موږ درې ورځې تاسي ته حرم مکې درخالي کړو او تاسي به عمره وکړئ، او پر دې هم ترون او عهد سره وسو چې لس کاله به زموږ او ستاسي تر منځ به جنګ نه وي او آمد ورفت د مکې او مدینې تر منځ به جاري وي، خیر عهد نامه لاس لیک سوه او دوه طرفه امضاوي پر وسوې.

دروښ وایي: چې که څه هم قریشو په راتلونکي کال کې د عمرې په وعده وفا وکړه لکن عهد د توقف د حرب لس کاله وروسته تر دوه کاله یې مات کړی ولې چې دوی ولیدی جماعت د قریشو اکثر عدداً او مالاً تر جماعت د مسلمانانو خیر په هغه اول کال کې خو علیه الصلوة والسلام او اصحابو کرامو ﷺ با دل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شکسته احرامونه خلاص کړل او ځانونه يې حلال کړل او د مدينې و خواته روان سوه، دا وه مجمله قصه په نهايت اجمال قصه د حديبيې د صلح او د نقض.

فائده: په مدارک کې وايي چې "هي اربى" مبتدأ او خبر دی، او مرفوع محلاً صفت د "امة" ده او "امة" فاعل د تكون دی او تكون تامه دی انتهى.

إِنَّمَا يَبْلُوكُمُ اللَّهُ بِهِ

پوه سه: چې ضمير د "به" راجع دی و "ان تكون امة آه" ته يعنې خداى ﷻ په دغه سره چې يو امت "اربى" تر بل وي ستاسي امتحان کوي، چې تاسي په رسى پورې د فا لاسونه ټينګوئ، يعنې بعهد الله وعهد رسوله او که يې عهد مذكور په زاويه کې د التوا غورځوي په سبب د كثرت د قريشو او د شوكت ددوى او د قلت د مسلمانانو او د ضعف ددوى.

وَلَيُبَيِّنَنَّ لَكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَا كُنْتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ ﴿٩٢﴾

او هر آئينه بنكاره به سي تاسي ته په ورځ د قيامت هغه چې ستاسي پكښې اختلاف وو من الوفا بالعهد چې هغو ته يې خداى ﷻ ثوابونه ورکړي او چې عهد مات کړى وي هغو ته به عذابونه ورکړي.

فائده: په كثرت د عدد دي سړى نه غولېږي، ولې چې يوه هوسى بې ده تر يو لک سرکوزانو، او يو سړى چې پر حق وي لكه مؤمن تر لښكر د كافرانو افضل دى.

وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ لَجَعَلَكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً

كه د خداى ﷻ اراده واى تاسي ټوله به يې يو امت ګرځولي واى يعنې متفق على الاسلام وفا كونكي په عهود سره او اختلاف به مو تر منځ نه واى.

وَلَٰكِنْ يُضِلُّ مَنْ يَشَاءُ وَيَهْدِي مَنْ يَشَاءُ

لكن خداى ﷻ ګمراه كوي هغه څوک چې اراده د ضلال يې ورته وسي بسوء اختياره الكفر او خداى ﷻ خپل امداه څنې قطع کړي چې خذلان يې بولي او يهدي هدايت ورکوي هغه چا ته چې اراده د هدايت يې ورته وسي بالتوفيق.

دروښ وايي: چې ما چې ترجمه دده آيت وكړه، نو استدلال د فرقه ضاله د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جبریه وو دفع سو چي بندګان مسلوب الاختیار دی، نو نه ثواب سته نه عقاب فافهم فان مذهبهم کفر بواح کما لا یخفی.

وَلَتُسْـَٔلُنَّ عَمَّا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٩٣﴾

حتماً به پوښتنه وکړل سي د هغو کارو چي تاسي په دنیا کي کوله من الکفر والمعاصي ونقض العهود. دا پوښتنه پهش خپمه د مجازات ده په ورځ د قیامت.

وَلَا تَتَّخِذُوٓا۟ أَيْمَـٰنَكُمْ دَخَلًۢا بَيْنَكُمْ

او تاسي مه ګرځوئ قسمونه ستاسي فریب او فساد په منځ کي ستاسي یعني خلګ په قسمو خطاباسي چي هغوی ستاسي پر قسمو اعتماد وکړي او تاسي امین وګڼي او تاسي په عین حال کي خیانت ورسره وکړی.

دروښ وایي: چي دا معامله د قسمو او د خیانتو په اکثرو تاجرانو او دوکان دارانو کي جاري ده في الزمان الحاضر.

فَتَزِلَّ قَدَمٌۢ بَعْدَ ثُبُوتِهَا

نو به وښویږي پښه وروسته تر ټینګ والي. دا لغوي معنی د عبارت د آیت ترجمه وه. او معنایي مراد یې داده چي تاسي به هلاک سئ وروسته تر دې چي په امن کي واست. قدم مؤنث سماعي دی.

نکته: عرب هر هغه څوک چي په یو آفت مبتلی سي وروسته تر عافیت. او یا په یو مهلکه کي اخته سي وروسته تر سلامتیا وایي فلان زلت قدمه.

سوال: په "لا تتخذوا الخ" ضمائر جمع وه، نو قدم یې مفرد څرنګه راوړی، د دېرو خلګو خو دېر اقدام وي؟

خواب: مبالغةً یې مفرد راوړی یعني چي د قدم بنویدل آفت عظیمه دی چي له حق لاري څخه راوړي بعد الثبوت علی الحق فکیف زلة الاقدام الکثیرة عن الصراط المستقیم، او یا معنی داده چي هغه د رسول کریم ﷺ محجة الاسلام ده یعني طریقة الاسلام او وفا په هغه بیعت سره ثبوت د قدم دی پر لار او نقض په مزلة القدم دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَتَذُوقُوا السُّوٓءَ بِمَا صَدَدتُّمْ عَن سَبِيلِ اللَّهِ ۖ وَلَكُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿٩٤﴾

او تاسي به وڅکئ يعني تاسي ته به ورسېږي عذاب په دنيا کي په سبب د منع ستاسي نورو خلګو لره د وفا بالعهد څخه چي لاړ د خدای ﷻ ده نو کلمه د با سببيه ده او کلمه د ما مصدريه ده او د "صد" معنی په خروج سره هم کړل سوې ده ای بخرجوکم عن سبيل الله وهي الوفاء بالعهود وبيعة النبي ﷺ. او تاسي لره عذاب لوی دی يعني په اخرت کي.

دروښ وايي: چي په صحيح حديث کي راغلي دي چي که چا ښه طريقه کښېښول په اسلام کي نو ده لره ثواب د هغې ښې طريقې سته او ثواب د هغه چا چي دده په ښه طريقه عمل وکړي بېله دې چي د هغو عاملينو د ثواب دي شی ورکم کړي، او که چا بده لار په اسلام کي وضع کړه او نورو خلګو په هغه پسې اقتداء وکړه په هغه لار کي د وضع کړي، نو واضع د بدي لاري ته به خدای ﷻ عذاب ورکړي ده بېله دې چي د هغو له ګنهو څخه دي يو شی کم سي واضع د بدي لاري ورسره شريک دی آه، حتی علماء وايي چي قابيل د آدم عليه السلام زوی چي خپل ورور هابيل يې ناحقه مړ کړی، نو تر ورځي د قيامته چي هر څو مړي ناحقه کېږي قابيل يې په ګناه ورسره شريک دی، نو داغه رنګه ده چي نقض العهد او يا د بيعت د نبي عليه السلام د ماتولو لار هر چا چي غوره کړه وروسته تر ده هر څوک چي ورته کار وکړي هغه اول کار کونکی ورسره شريک دی په عذاب کي د دنيا او اخرت.

دروښ وايي: چي د ښې لاري د واضع او د بدي لاري د واضع مثالونه بېخي ډېر دي په اوسنی زمانه کي فتأمل فيها.

وَلَا تَشْتَرُوا بِعَهْدِ اللَّهِ ثَمَنًا قَلِيلًا ۚ

او تاسي مه رانسئ يعني مه بدلوئ (نو شراء مجازاً په معنی د استبدال ده) په وعده سره د خدای ﷻ لکه ايمان او په بيعت سره د رسول الله ﷺ لږ ثمن چي منافع د دنيا وي، نو اشتراء په مناسبت يې عوض دنياوي ته ثمن ووايه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّمَا عِندَ اللَّهِ هُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٩٥﴾

هغه شی چي په نېږد د خدای ﷻ دی په عوض د وفاً بالعهود او د بیعت د رسول الله ﷺ من النصر علی الاعداً او نور نعمتونه چي پر وفاً مرتب کېږي په دنیا کي، او ثواب په اخرت کي هغه خیر دی ستاسي لپاره تر عوض دنیاوي کد چېرې تاسي په خیر او شر پوهېږئ او یا په فرق په منځ کي د عوضینو پوهېږئ او یا "تعملون" نازل منزلة اللازم دی ای کنتم من اهل العلم والتمییز، او جزاً د شرط محذوفه ده یعني ما اخترتم الادنی علی الاعلی.

مَا عِندَكُمْ يَنفَدُ ۖ وَمَا عِندَ اللَّهِ بَاقٍ ۗ

هغه شی چي ستاسي سره دی من الامور الدنیاویة هغه نیستي کېږي او فاني کېږي، او هغه شی چي په نېږد د خدای ﷻ دی من خزائن الرحمة والجنة هغه باقي دی ابداً، دا جمله علت دی د ماقبل جملې یعني انما عندالله آه.

پوه سه: چي احمد او حاکم رح له ابو موسی اشعري رضی الله عنه څخه روایت کړی دی چي رسول الله ﷺ وویل من احب دنیاه اضر بآخرته ومن احب آخرته اضر بدنیاه فاٰثروا ما یبقی علی مایفنی.

وَلَنَجْزِيَنَّ الَّذِينَ صَبَرُوا أَجْرَهُم بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿٩٦﴾

هر آئینه موږ به جزاً او ثواب ورکوو هغه کسانو ته چي صبر یې کړی وي پر مصائبو د دنیا من المرض والفقر واذی الکفار ومشاق التکالیف والاستقامة في الجهاد "اجرهم" ای ثواب صبرهم "باحسن ماکانوا یعملون" ای باحسن اجور اعمالهم الحسنة بعشر امثالها.

دروښ وایي: چي دا لس خو متعین دی وهر صاحب الحسنة ته ثم یکثر التضاعف باعتبار اخلاص عامل الحسنة تراوه سوه مثل یوری الی ماشاً الله.

مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤْمِنٌ

څوک چي عمل صالحاً د فرائضو او واجباتو او سننو او مستحباتو کې نر وي او که ښځي،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې ذکر او انثی چې يې ذکر کړل لپاره د دفع د توهم د تخصیص په نرو پورې. او حال دادی چې دی یعنې عامل مؤمن وي قید بالمؤمن ولې چې اعتبار نسته اعمالو لره د کافرانو په استحقاق کې د ثواب في الآخرة ولې چې بنآ د ثواب في الآخرة په نېز د خدای ﷻ اخلاص او حسن نیت دی وهو مفقود في الکفرة من ای نوع کانوا، البته د تخفیف د عذاب امید سته، مثلاً مؤسسات خیریه د کافرانو د مسلمانانو د کونډې او یتیمانو سره مرسته کوي او د وطن په آبادۍ کې دپر نقود ورکوي.

پوښتنه: امریکایان وایي چې موږ په افغانستان کې داخل سوي یو د کومک او آبادۍ د مسلمانانو لپاره. د افغانستان رئیس جمهور د افغانستان د مسلمانانو څخه دی، دا خبره ددوی صحیح ده؟

ځواب: درواغ وایي دوی پر افغانستان تېری (تجاوز) کړی دی او خپل حکومت پر کوي او رئیس جمهور يې صرف برای نام دی هیڅ قدرت نه لري. امریکایان د افغانستان پر کلو او باندو باندې شپه او ورځ بمباری کوي قتل عام يې عمل دی. او رئیس جمهور هیڅ اختیار نه لري چې دا بمباری دې متوقف کړي فتفکر.

فَلَنُحْيِيَنَّهُۥ حَيَوٰةً طَيِّبَةً ۖ

هر آئینه موږ به هغه ته ژوند ورکوو یعني في الدنیا داسي ژوند چې دپر ښه ژوند وي.

پوه سه: چې سعید بن جبیر او عطاؒ وایي چې رزق حلال به ورکوو، او حسن وایي قناعت به ورکوو، او مقاتلؒ وایي خوشالي به د خدای ﷻ په طاعت کې ورکوو، او قاضي بیضاويؒ دپر ښه جامع بیان کړی دی هغه وایي چې عیش به يې طیب وي، ولې که غني وي فظاهر ان عشیه طیب او معسر یعني که مسکین وي یطیب عیشه بالقناعة والرضاً بالقسمة، او امید د اجر عظیم په اخرت کې بخلاف الکافر، ولې چې که معسر وي خو ظاهره ده چې عیش يې د درد او غم سره ملګری وي، او که غني وي خدای ﷻ به يې په زهه کې حرص د دنیا او سرګردانئ په طلب کې د دنیا او بېره ددې چې ته به ژوندی يې دنیا به نه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وي. وامثال ذالک. کریمه "ان له معیشة ضنکًا" او بعض مفسرین وایي چي بنده چي د خدای ﷻ سره محبت لري هر څه چي د محبوب له خوا ده ته ورسېږي که ترخه وي او که خواږه دی به په ده دواړو خوند مومي. قال الرومي قدس سره:

عاشقم بر لطف و بر قهرت بجد..... ای عجب من عاشقم بر هردو ضد
ناخوش ازوی خوش بود درجان من ..... جان فدای یار دل رنجان من

بعض محبان حقیقي د خدای ﷻ وایي:

امروز چون جمال تو بي پرده ظاهر است
د ر حیرتم که وعده فردا برای چیست

یعني روز قیامت چه خواهد بود. او مجاهد او قتاده ؒ وایي چي مراد له طیبه څخه ژوند د جنت دی، وقال الحسن لا یطیب الحیوة لاحد الا في الجنة.

وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُم بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿٩٧﴾

او موږ به ثواب ورکوو یعني في الآخرة.

دروښ وایي: چي د احسن ماکانوا یعملون عنقریب تېر سو فلا نعیده.

فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ فَاسْتَعِذْ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ ﴿٩٨﴾

چي اراده وکړي له قرائت د قرآن (چونکه اراده سبب دی د قرائت، نو ذکر یې مسبب کړی مراد څنې سبب دی لپاره د اختصار في عبارة القرآن، او بل لپاره د تنبیه پر دې چي څوک چي اراده د عبادت وکړي نو تلوار دي کوي چي اراده او فعل دي سره یو ځای کوي) ومثل هذا الایجاز والمجاز واقع في قوله تعالی "اذا قمتم الی الصلوة الآیة" ای اذا اردتم الی الصلوة) نو پناه وغواړه له خدای ﷻ څخه له وسوسې څخه د شیطان چی دی مرجوم او مطعون او ملعون او ترتلی دی له درباره د خدای ﷻ (تاچي دی په دوران کي د قرائت تاته وسوسه وانه چوي، دا وسوسې دده په وخت کي د قرائت د قرآن مجید په تجربه ثابتي دي خصوصًا و هغه چا ته چي په معنا د قرآن پوهېږي.

مسئله: بعض علما وایي چي استعیذ بالله دي وایي نظرًا الی ظاهر لفظ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

القرآن. لکن مختاره اعوذ بالله من الشیطان الرجیم دی کما هو الثابت في الروایات الاربع عشرة الواردة في الفاظ الاستعاذة وهو المنقول عن النبي ﷺ.

مسئله: نخعي او ابن سیرین رح وایي چي اعوذ بالله دي وروسته تر قرائت وایي نظراً الی ظاهر لفظ الفاً، او بل دا چي دعاً وروسته تر عبادت اقرب ده و اجابت ته، والجواب انه قد صح عن النبي ﷺ چي تعوذ قبل القرائة ویله، وعلیه انعقد الاجماع من السلف والخلف رحمهم الله تعالی.

مسئله: اعوذ بالله ویل سنت ده عند جمهور العلماً، او عطا رح وایي چي واجب ده نظراً الی ظاهر لفظ الامر، والجواب عنه چي صحابه کرامو رض رسول الله ﷺ لیدلی دی چي په بعضو اوقاتو کي تعوذ قبل القرائت نه ده ویلې، او په بخاري او مسلم کي په صحیح ثبوت ته رسېدلې ده چي علیه الصلوة والسلام قرائت د قرآن کړی دی بېله تعوذ.

إِنَّهُۥ لَيْسَ لَهُۥ سُلْطَٰنٌ عَلَى ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ﴿٩٩﴾

په تحقیق نسته شیطان لره تسلط او غلبه پر هغو کسانو چي ایمان یې راوړی وي او خاص پر رب ددوی توکل وي نسته، ولي چي مذکوره کسان د اوامرو د شیطان متابعت نه کوي په حفاظت د خدای ﷻ او نه هم وسوسې د شیطان پر دوی تاثیر کوي البته په صغیره ګناهو کي په غفلت نادراً پر دوی تاثیر وکړي، نو له هم دې سببه دوی په استعاذه سره مأمور سوه.

تنبیه: وروسته تر امر بالاستعاذة نفي د سلطنت د شیطان یې وکړه تاچي څوک له امر څخه د استعاذه من الشیطان دا توهم ونه کړي چي شیطان لره لکه چي سلطنت سته پر مسلمانانو کذا قال البیضاوي رح، او روح البیان وایي چي انه په ځای کي د علت دی للامر بالاستعاذة او په دې تعلیل کي اشاره ودې ته هم ده چي مجرد قول د اعوذ بالله آه فائده نه کوي په دفع کي د وسوسو د شیطان بلکې هغه چا لره چي دا غواړي چي پر ما دي د شیطان تسلط نه وي چاره نسته له دې څخه چي ایمان او توکل علی الله به دواړه سره جمع کوي اذ لا حول ولا قوة الا بالله. او مظهري رح هو توجیه د تعلیل ذکر کړې ده او نسبت یې و ځان ته کړی دی حیث قال قلت وجاز انیکون هذه الآیة في مقام التعلیل للامر بالاستعاذة الخ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّمَا سُلْطَٰنُهُۥ عَلَى ٱلَّذِينَ يَتَوَلَّوْنَهُۥ وَٱلَّذِينَ هُم بِهِۦ مُشْرِكُونَ ﴿١٠٠﴾

بلکې غلبه د شیطان پر هغو کسانو ده چې دوی محبت لري د شیطان سره، نو دوی په خپل اختیار شیطان پر ځانو مسلط کړی دی من غیر انیکون له سلطان علیه چې دوی دي مجبوره کړي وخپل اطاعت ته، نو هغه سوال دفع سو چې په دمخه آیت کې نفي د تسلط د شیطان وکړه او په دې آیت کې اثبات د تسلط وکړی، وحاصل الدفع ان النفي للتسلط راجع الى التسلط الاضطراري والاثبات راجع الى التسلط الاختياري. او پر هغه چا يې تسلط سته چې دوی په خدای ﷻ سره مشرکین وي یعني خدای پاک لره شریک وایي، او او ضمیر د "به" راجع و شیطان ته دی یعني په سبب د شیطان دوی و خدای پاک ته شریک وایي.

وَإِذَا بَدَّلْنَآ ءَايَةً مَّكَانَ ءَايَةٍ

یعني چې بدل کړو یعني چې نسخ کړو تلاوت د یو آیت او نازل کړو په عضو کې د هغه آیت بل آیت او یا حکم د یو آیت په حکم سره بل آیت.

دروښ وایي: چې مفسرین او فقهاً علیهم السلام وایي چې نسخ درې قسمه دی (۱) اول چې تلاوت یې په قرآن کې منسوخ سي او حکم یې پاته وي کقوله تعالى "الشيخ والشيخة (يعني المحصن والمحصنة) اذا زنيا فارجموهما نكالاً من الله، فان حكم الرجم باق كما في الآحاديث الصحيحة للبخاري ومسلم وتلاوتها منسوخة (۲) حکم یې نسخ سي تلاوت یې باقي وي كايات الصفح وعدم التعرض للكافرين بالقتال فانها آيات متعددة في القرآن الكريم، لكن حكم د هغو منسوخ دی په آیت القتال سره (۳) تلاوت او حکم دواړه منسوخ وي كما روى ان بعض الصحابة كانوا يقرؤن في صلوة التهجد سورة مثل سورة الانعام، ثم آتى وقت كانوا يصلون التهجد ونسوا تلك السورة بالمرة فشكوا ذالك الى رسول الله ﷺ فقال رسول الله ﷺ ان تلك السورة رفعها الله تعالى مع الاحكام عن صدور الرجال كذا في نور الانوار وغيره من كتب الفقه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا يُنَزِّلُ

او خدای ﷻ خبر دی په هغه شي چي نازلوي يي، مظهري ؒ وايي انه كان مصلحة في وقت ثم صار مفسدة في وقت آخر (كعدم التعرض للكفرة والعفو والصفح في وقت ضعف الاسلام فانه كان مصلحة في ذالک الوقت وروسته چي اسلام قوي سو هغه عفو او صفح مفسده وگرځېدل، ولي چي كافران كه مشركان وه او كه يهود او كه نصارى وه د خبرو له لاري او د عفو او صفح د لاري پر اسلام تعرضات كول او پر عليه الصلوة والسلام يي ډبر جرئت كاوه او د اسلامي دين په نړۍ كي اشاعت يې نسواى كېدای، او فتح د شام او خيبر وسائر قرى اليهود امكان پذير نسواى كېدای، او د خدای ﷻ وعده د نصرت په جنگ كي د كافرانو چي د عليه الصلوة والسلام سره يي كړې وه عملي جامه يې نسواى اغوستلاى الى غير ذالک من الفوائد على الجهاد في سبيل الله.

دروېش وايي: وعلى هذا فقس قول المظهري ؒ او كان مفسدة ثم صار مصلحة.

اعراب: پوه سه! چي جمله د "والله اعلم آه" حال ده له فاعل څخه د "بدلنا" والاسم الجليل من قبيل وضع الاسم الظاهر موضع المضمر كما لايخفى، او يا دا جمله مستانفه ده لفظًا والواو الاستيناف وامثاله كثيرة في الهداية لكنها في مقام التعليل وبيان سبب التبديل والنسخ، يعني موږ چي دا تبديل كوو لاني اعلم بما هو اصلح للخلق في وقت دون وقت.

قَالُوْٓا اِنَّمَآ اَنْتَ مُفْتَرٍ ۭ

وايي كافران تاته يا محمد (ﷺ) مفتر يعني دا خبري د ځان له خوا كوئ او په خداى ﷻ پوري يې تړي، بغوي ؒ وايي چي مشركينو به ويل چي محمد ﷺ په خپلو اصحابو پسخند وهي يوه ورځ يې په يو كار امر كوي او بله ورځ يې له كاره څخه نهي كوي.

پوه سه: چي جمله د "قالوا" ځواب د "اذ بدلنا" الآية ده.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿١٠١﴾

بلکې ډېر د کافرانو په حکمت د احکامو د خدای ﷻ نه پوهېږي او تمیز د صواب او خطا نسي کولای (نو مفعول د لایعلمون محذوف دی او یا یعلمون نازل منزله اللازم دی یعني اکثرهم لیسوا من اهل العلم والتمیز، ولي که دوی اهل تمیز وای نو دا خبره به ورته معلومه سوې وای چې قرآن کریم چې بلغاء د ټولو عربو له اتیان څخه د یوه سورت عاجزه پاته سوه، نو دا محال ده چې جنس بشر دي ووایي خصوصاً النبي الامي الامین في اهل مکة قبل دعوی النبوة فلا یصلح هو ان یتهم بالافتراء علی الله ﷻ ..... شعر:

تبارک الله ماوحي بمکتسب ..... ولا نبي علی غیب بمتهم

قُلْ نَزَّلَهُ رُوحُ الْقُدُسِ

ووایه یا محمد (ﷺ) په رد کې د قول ددوی نازل کړی دی قرآن پاک روح یعني جبرئیل علیه السلام.

پوه سه: چې د قدس معنی طهر دی یعني مصدر دی په معنی د طاهر دی، نو اضافت د روح وقدس ته داسي ده لکه حاتم الجود یعني اضافت د موصوف صفت ته دی.

فائده: خدای ﷻ عبارت د نزله ووایه چې ماضي له بابه د تفعیل ده تنبیه پر دې ده چې نزول د قرآن پر سبیل د تدریج ده کما هو معنی التفعیل په مراعات د مصالح د عبادو، نو به حتماً تبدیل آیة مکان آیة پکښې موجود وي لان المصالح تتغیر وتتبدل فافهم هداک الله تعالی.

مِنْ رَبِّكَ بِالْحَقِّ لِيُثَبِّتَ الَّذِينَ آمَنُوا

له جانبه څخه د خدای ﷻ چې متلبس دی په حق سره چې توحید دی او اعتقاد د بعث بعد الموت دی او نور احکام حقه مطابق للواقع، تاچې ثابت او محکم وگرځوي هغه کسان چې ایمان یې راوړی وي پر ایمان په دې سره چې دا کلام الله وان وقع فیه النسخ والتبدیل، ولي دوی چې ناسخ واوري او فکر په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حکمت او صلاح کي وکړي، نو راسخ عقائد ددوی باندې من جانب الحکیم الخبیر او د زړو اطمنان ورته حاصل سي او پر دې یې هم یقین سي چې نسخ د ابتلاء لپاره ده لان الحکیم لایفعل الا مافیه الحکمة المبالغة والمصلحة العامة.

وَهُدًى وَّبُشْرٰى لِلْمُسْلِمِيْنَ ﴿۲﴾

او هدایت او زېرې دی د مسلمانانو لپاره چې منقادین د حکمه الله وي.

پوه سه: چې هدًی وبشری پر محل د لیثبت یعني دا هم مفعول له دی وفیه تعریض لحصول اضداد ماذکر لمن عداهم من الکفار، نجم الدین الکبري ؒ وایي چې خدای ﷻ لکه طبیب د امراض قلبیه ؤ او قرآن لکه دوا دی لپاره د امراض القلوب، لقوله تعالی شفاء لما في الصدور، نو لکه طبیب چې د مریض دوا وقتًا فوقتًا وربدلوي بنوع من الدواء مطابقًا لمزاج المریض والعلة لپاره د ازاله د مرض ګاهي معجونات ور مقرر کړي او ګاهي مشروبات او ګاهي پېچکارۍ، والطبیب اعلم بعلاج المرض من غیره کذالک الله ﷻ یعالج قلوب العباد بتبدیل آیة وانزال آیة مکانها والله اعلم بما ینزل ویعالج به العبد انتهی، په حدیث شریف کي راغلي دي چې یو سړی د علیه الصلوة والسلام ته راغلی او ورته وه یې ویل علمني مما علمک الله، علیه الصلوة والسلام و یو صحابي ته دی وسپاری چې تعلیم ورته وکړه، نو هغه صحابي د اذا زلزلت الارض تعلیم ورته شروع کړی حتی چې دی ځای ته ورسېدی "فمن یعمل مثقال ذرة خیرًا یره ومن یعمل مثقال ذرة شرًا یره" نو هغه سړي ورته وویل چې بسته زما تعلیم پوره سو، هغه صحابي د هغه طالب العلم خبره و علیه الصلوة والسلام ته ورسول، ده مبارک ورته وویل دعوه فقد فقها لرجل پرېږدئ سړی فقیه سو، یعني د سړي سر خلاص سو چې د خیر او شر حساب په زره زره سره کېږي نو عملونه یې هم پر قپاس کړه چې تر زره لوي وي خیرًا او شرًا، شیخ سعدي وایي:

علم چند انکه بیشتر خوانی ..... چون عمل درتو نیست نادانی
نه محقق بود نه دانشمند ..... چار پای بر و کتابی چند
آن نهی مغز را چی علم وخبر ..... که برو هیزم است و یا دفتر

قال الله تعالی في مثل هؤلاء مثلهم کمثل الحمار یحمل اسفارًا.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَقَدْ نَعْلَمُ أَنَّهُمْ يَقُولُونَ إِنَّمَا يُعَلِّمُهُ بَشَرٌ ؕ

او موږ خبر یو چې کفار مکه وایي چې دا قرآن و محمد (ﷺ) ته یو بشر ورښیي او دی یې خدای ته منسوبوي، بغوي ؒ وایي چې دا بشر دوی څوک یاداوه په دې کې اختلاف دی، ابن عباس ؓ وایي چې علیه الصلوة والسلام و یو آهنګر ته په مکه کې چې نوم یې بلعام ؤ او نصراني ؤ او اصل ژبه یې عجمي وه تعلیم یې کاوه د دین اسلام، او مشرکانو به علیه الصلوة والسلام لیدی چې دغه دکان ته ځي او راځي، نو دوی به ویل چې دا قرآن محمد ته بلعام ورښیي، او عکرمه ؓ وایي چې کان النبي ﷺ یقرء غلاماً لبني المغیرة چې یعیش یې نوم ؤ او هغه ډېر کتابونه ویلي وه، نو مشرکینو به ویل چې دا قرآن وده ته یعیش ورښیي او هغه هم عجمي ؤ.

دروښ وایي: چې نور قولونه هم مظهري ؒ د دغه سړي په باره کې رانقل کړي دي لکن توله دغه مسمی اشخاص عجمیان وه بالاجماع.

دروښ وایي: چې امام واحدي ؒ په اسباب النزول کې له عبید بن سلمه څخه نقل کړی دی کان في مکة غلامان نصرانیان من اهل عین التمر اسم احدهما یسار واسم الآخر جبر، ددوی صنعت او کسب دا ؤ چې توري یې پالشولې او زنګ یې ځني لېرې کاوه، نو دو به یو کتاب وایه په خپله ژبه سره نو علیه الصلوة والسلام چې به تېرېدی ورته وبه درېدی ددوی و قرائت ته به یې غوږ ونیوی، نو مشرکینو به ویل چې محمد زدکړه کوي له یسار او جبر څخه، نو خدای پاک په دې آیت کې رد پر دوی وکړی، نو مراد له بشر څخه په آیت کې دغه دوه مریان دي.

لِسَانُ الَّذِي يُلْحِدُونَ إِلَيْهِ أَعْجَمِيٌّ

ژبه یعني لغت د هغه سړي چې دوی میل و هغه ته کوي او اشاره ورته کوي چې دا معلم القرآن دي و علیه الصلوة والسلام ته.

پوه شه: چې همزه او کسائي "یلحدون" په زور د یا او حا وایي یعني د مجرد له باب څخه او نور قاریان یې په ضمه د یا او کسره د خا وایي یعني له بابه څخه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د افعال "اعجمي" يعني كه څه هم عربي يې څه زده ده خو فصيح في العربية نه دی. او عجمي هغه څوک دی چې په قوم عجم وي كه څه هم عربي يې زده وي، والعجم خلاف العرب من كان كه خبري په عبراني وي او كه سرياني او كه فارسي وي او كه پښتو الى غير ذالک من اللغات.

وَّهٰذَا لِسَانٌ عَرَبِيٌّ مُّبِيْنٌ ﴿۱۰۳﴾

او دا قرآن لغت دی په عربي ژبه چې فصيح او بليغ دی او بيان واضح دی چې دغه قول د قرآن "وان كنتم في ريب مما نزلنا على عبدنا فأتوا بسورة من مثله الى اخير الآية" نه چا په عربو كي د هغه وخت ورکړی دی او نه به يې الى يوم القيامة ورکړي ولو كان بعضهم لبعض ظهيراً.

پوه سه: چې دا دواړې جملې مستأنفې دي لپاره د ابطال د قول د مشرکينو چې عليه الصلوة والسلام دا قرآن له ځانه جوړوي او وايي چې كلام الله دی، حاصل ابطال قولهم چې عليه الصلوة والسلام چې اوري د عجمي كسانو خبرې هر څوک چې وه على اختلاف الروايات كمامر هغه خو عجمي ژبه وه، او عليه الصلوة والسلام خو په هيڅ عجمي ژبه نه پوهيدی او نه تاسي عرب د مكې پرته له عربي پوهيدلاست، والقرآن عربي يفهمونه فكيف يكون هذا اى القرآن ذالک اى الكلام من العجمي كما يقول المشركون، وايضاً د قرآن مبارک معنى لكه چې معجزه د لفظ يې هم معجز دی د طوق د بشر خارج دی بخلاف الكتب السماوية الاخر فان معناها وان كان معجزاً لكن لفظه غير معجز، نو قرآن كه څه هم د تورات او انجيل سره په معنى كي د توحيد وغيره من العقائد الحقة يو شی دی لكن تعبير د معانيو في الكتب السابقة بمثل عبارة القرآن ليس في وسع البشر، نو چې قريشو ته خپل عجز معلوم سو له اتيان څخه د مثل د يوه سورت كمامر عنقريب، نو څرنګه دوی ممكن بولي چې عليه الصلوة والسلام دي د تعلم د تولـه قرآن د يوه وخت وبل وخت په سمع سره په بعض اوقاتو كي د تبرېدلو پر عجمو چې په ژبه يې هم نه پوهيدی جمع كړي وي لكن ... بيت:

چشم بد انديش كه برکنده باد ..... عيب نمايد هنرش درنظر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِآيَاتِ اللَّهِ لَا يَهْدِيهِمُ اللَّهُ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١٠٤﴾

په تحقیق هغه کسان چې ایمان نه لري پر آیاتو د خدای ﷻ یعنې چې دا آیات قرآنیه من عند الله دي، نه کوي هدایت خدای پاک ددوی و حق لاري ته، یا الی الجنة یا الی سبیل النجاة او دوی لره عذاب درد ور کونکی یعنې په آخرت کې.

إِنَّمَا يَفْتَرِي الْكَذِبَ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِآيَاتِ اللَّهِ ۚ

درواغ چې تړي پر خدای ﷻ، هغه څوک یې تړي چې ایمان نه لري پر آیات د خدای ﷻ ولې هغه کسان خو بعث بعد الموت نه منې چې د عقابد خدای ﷻ دي بېرېږي او افتراً پر خدای ﷻ دي نه کوي بخلاف مطلق المؤمنین بالله فضلاً عن النبي ﷺ.

وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْكَاذِبُونَ ﴿١٠٥﴾

اشارة الی کفار قریش او الی مطلق الکفار هم دوی درواغ ویونکي دي، یعنې د رشتیاګو کاذبین هم دغه کسان دي. ولې چې مؤمنان د هغه عصر صادقان وه عادلان وه عمل کونکي وه او د خیر القرون وګړي وه. او یا د آیت معنی داده چې دغه کسان کامل کاذبان دي، نو حصر د جنس الکذب په دوی کې کما یفیده ضمیر الفصل وهو هم په اعتبار د کمال ددوی دی په کذب کې کما یقال زید هو الشجاع مثلاً. ولې چې دوی تکذیب د آیاتو د خدای ﷻ وکړی او رسول معصوم ﷺ ته یې لفظ قبیح د مفتر ووایه او طعن او عیب یې پر قرآن کریم او پر رسول جلیل ﷺ ووایه په دغو خرافات یعنې انما یعلمه البشر وروسته تر دې چې صدق د قرآن او د رسول ودوی ته په معجزاتو باهراتو بنکاره سوی وٴ اعظم انواع الکذب.

فائده: جمله فعلیه یعنې انما یفتری الکذب آه تدل علی انحصار صدور الافتراً علیهم والجملة الاسمیة یعنې اولئک هم الکاذبون تدل علی کون الافتراً وصف لازم لهم، بغوي رح په خپل سند د عبد الله بن جراد رضي الله عنه څخه روایت کړی دی قلت یا رسول الله المؤمن یزنی قال قد یکون ذالک قلت المؤمن یسرق قال قد یکون ذالک، قلت المؤمن یکذب قال لا، قال الله تعالی انما یفتری الکذب الی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اخیر الآیة، وروی احمد عن ابی امامة ﷺ قال قال رسول الله ﷺ یطبع المؤمن علی الخصال کلها الا الخیانة والکذب.

تبصرة: الله اعلم المراد بالمؤمنین في الاحادیث المذکورة المؤمنون الموجودون في زمن النبي ﷺ لامطلق المؤمن ودلیل ذالک انه قد انعقد الاجماع علی کون الصحابة ﷺ صدوقًا عدولاً لایجوز الطعن علی احد منهم.

دروښ وایي: چې کذب او خیانت بعد خیر القرون فقد شاع کل واحد منهما في المؤمنین وتجاوزا من العوام الی الخواص الا ماشذ وندر ثم یزداد شیوعهما یومًا فیومًا.

مَنْ كَفَرَ بِاللَّهِ مِنْ بَعْدِ إِيمَانِهِ إِلَّا مَنْ أُكْرِهَ

که څوک کافر سي (یعني په خوله کلمه د کفر ووایي) وروسته تر ایمان یعني قولاً وقلبًا مگر نه هغه څوک چې مجبور سي پر کفر لسانًا، بغوي ؒ په خپل سند سره له ابن عباس ﷺ څخه روایت کړی دی چې دا آیت نازل سوی دی په عمار بن یاسر ﷺ کې، قصه یې دا وه چې مشرکانو د مکې دی او ددې پلار یاسر او ددې مور سمیه او صهیب او بلال او خبیب او سالم ﷺ ونیول او بې زړه سوي عذابونه یې پر شروع کړه، په سمیه ﷺ خو یې داسي وکړل چې یوه پښه یې په یوه اوښ پورې او بل یې په بل اوښ پورې وروتړل او په فرج کې یې نیزه ووهله شهیده یې کړه، او ددې مېړه یاسر ﷺ چې د عمار ﷺ پلار ؤ هغه یې هم قتل کړی، دا دوه اول مقتولان وه په اسلام کې، او عمار ﷺ ددوی سره ومنل هغه څه چې دوی ورته وایه یعني کلمه د کفر او شرک بالله صرف په ژبه سره وقلبه مطمئن بالایمان، او قتاده ؒ وایي چې بنوا المغیرة عمار ﷺ ونیوی او په ځاه کې د میمون یې په اوبو کې ډوب کړی او ورته وه یې ویل کفر بمحمد، نو عمار ددوی په خوله متابعت وکړی وقلبه کاره لذالک، نو علیه الصلوة والسلام ته چا خبر ورکړی چې عمار خو کافر سو، علیه الصلوة والسلام ورته کلا نه دی کافر سوی یعني په کفر معتبر في الشرع وهو الکفر القلبي أن عمارًا ملئ ایمانًا من قرنه الی قدمه (ډک دی له ایمان څخه تر سره بیا تر پښو پورې) واختلط

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الایمان بلحمه ودمه، خیر خو عمار ﷺ مدیني ته وتښتېدی، نو عمار چا ور وستی و علیه الصلوة والسلام ته، نو ده مبارک ورته وویل چي څه قصه ده؟ عمار ﷺ وژړل او داسي یې ووېل چي حال زما ډېر بد دی یا رسول الله "تلت منک" تاته مي ښکنځل وکړه وذکرت او ته مي په بدو الفاظو یادکړې، علیه الصلوة والسلام ورته ووېل کیف وجدت قلبک" زړه دي څرنګه ؤ عمار ﷺ ورته ووېل مطمئنًا بالایمان، نو علیه الصلوة والسلام یې د ستر گو وښکې ور پاکولې او داسي یې ورته ووېل ان عادوا لک فعد لهم، که یې ته بیا ونیولې ته د کفر خبره بیا ورته وکړه فنزلت هذه الآیة.

دروښ وایي: چي له دې بیان څخه دا معلومه سوه چي بعد الهجرة دا موضوع پېښه سوې ده.

دروښ وایي: چي صحیح هغه روایت دی چي ثعلبي او حدادي او ابن ابی حاتم ؒ له ابن عباس ﷺ څخه کړی دی چي دا ټوله قصه یعني قتل د سمیه ﷺ او ددې د مېړه یاسر ﷺ او کلمه د کفر د عمار ﷺ هغه وخت پېښه سوه چي علیه الصلوة والسلام اراده د هجرت کړې وه او مهاجر سوی نه ؤ الی اخیر القصة المذکورة، نو له دې څخه دا معلومه سوه چي دا آیت په مکه کي نازل سوی دی. بلکې مفسرین ټوله وایي چي سورت النحل ټوله په مکه کي نازل سوی دی مګر نه درې آیته د اخیر چي په مدینه کي نازل سوي دي.

دروښ وایي: چي بغوي او ابن ابی حاتم وایي چي مجاهد ؒ وایي چي دا آیتونه نازل سوي دي په هغه خلګو کي د مکې چي ایمان یې راوړی ؤ، نو دوی ته نوشته کړه بعض اصحابو د علیه الصلوة والسلام چي تاسي ضرور هجرت راوکړي، ولي چي موږ تاسي خپل له جملې څخه نه بولو تر څو چي تاسي هجرت موږ ته ونه کړئ، ولي وروسته تر هجرت د علیه الصلوة والسلام پر مکې والو مسلمانانو هجرت فرض ؤ، نو هغه کسان د هجرت په قصد له مکې څخه ووتل نو قریش چي خبر سوه ورپسي ووتل او دوی یې ونیول په لار کي نو وروسته تر دې ټول عذاب ورکولو دوی کفر مختاره کړی کارهین.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې له دې شان نزول څخه دا معلومېږي چې دا آيت مدني دی وقدمر آنفًا ان سورة النحل تولہ مکي دی الا ثلث آيات في اخيرها والله اعلم بالصواب.

وَقَلْبُهُۥ مُطْمَئِنٌۢ بِٱلْإِيمَٰنِ

اوزړه يې مطمئن او آرام په ايمان سره وي يعني عقيدې يې تغيير نه وي کړی.

مسئله: په نېز د محققينو رکن لازم د ايمان تصديق قلبي دی او اقرار باللسان شرط دی د اجرآ د احکامو د ايمان کالنکاح وعدم وضع الجزية الی غير ذالک.

دروښ وايي: چې له دې آيت څخه ددې مسئلې توضيح وسوه.

وَلَٰكِن مَّن شَرَحَ بِٱلْكُفْرِ صَدْرًا فَعَلَيْهِمْ غَضَبٌ مِّنَ ٱللَّهِ ۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١٠٦﴾

ای لکن هغه کسان چې خلاصه کړي وکفر ته سينه يعني زړه او کفر قبول کړي او مختار يې کړي او زړه په خوشاله وي چې دې ته مرتد حقيقي وايي. نو پر هغو باندې غضب د خدای ﷻ او دوی لره دی عذاب لوی وهو عذاب النار.

فائده: "من کفر" مبتدأ ده متضمن معنی لره د شرط او خبريه چې متضمن معنی لره د جواب د شرط محذوف دی وهو فعليهم غضب ولهم عذاب عظيم. دل عليه جواب من شرح.

پوه سه: چې اکراه باعثه کول دي دبل چا پر داسي فعل چې دی يې بد بولي دا اکراه پر دوه قسمه ده، يو داده چې رضا يې نه وي لکن اختيار يې پاته وي لکه اکراه په ضرب او حبس سره، او دوهم دادی چې رضا او اختيار يې دواړه له منځه ولاړ سي لکه اکراه په قتل سره او يا په قطع د يوه اندام د مکره، او په دواړو قسمو کې دا شرط دی چې قدرت به لري مجبور کونکی. چې مکره "په صيغه د اسم فاعل" يې بولي پر هغه کار چې د مکره "پر صيغه د اسم مفعول" ذکر کړي، او غالب ظن د مکره داوی چې مکره داغسي راسره کوي که دده د غوښتنې مثبت خواب ورنه کړم يعني ارتداد باللسان مع اطمنان القلب کما ههنا. نو اول قسم د اکراه څو په آيت کې مراد نه دی او نه روا کونکی د ارتداد دی لبقآ اختياره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وعدم الاضطرار، بل المراد ههنا هو القسم الثاني. علماؤ اجماع کړې ده چې يو مسلمان چې مجبور سي پر کفر يعني يا په قتل يا په قطع د عضو هغه ته روا ده چې تلفظ په کلمه د کفر يا سجده و بت ته يا سب و نبي عليه السلام، يا نور داسې وړته اقوال يا افعال وکړي مطمئنًا قلبه بالايمان. نو په تلفظ د کفر يا په فعل د کفر نه کافر کېږي او نه يې مينه پر طلاقېږي "کما هو حکم المرتد الواقعي" په دليل ددې آيت "فمن کفر بعد ايمانه الى اخير الآية" او په دليل د قصه د عمار رضي الله عنه کمامرت عنقريب لکن هذه رخصة، والعزيمة عدم قبول الاکراه والتسليم للقتل لمرضات الله لقصة والدي عمار رضي الله عنه کمامرت يعني سمية و يسار وغيرهما رضي الله عنهم.

ذٰلِكَ بِاَنَّهُمُ اسْتَحَبُّوا الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا عَلَى الْاٰخِرَةِ ۙ وَاَنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكٰفِرِيْنَ ۝

ای الکفر بعد الايمان چې عبارت د ارتداد حقيقي څخه دی په سبب ددې چې دوی خوښ کړی او مختاره کړی دی ژوند ناقص فاني. پر ژوند د اخيرت يعني ژوند د جنت چې باقي لايفنى ابدًا دی او په تحقيق خدای جل جلاله هدايت په معنی د دلالت موصوله نه کوي و کافرانو ته، ما هدايت موصله ووايه، ولي که هدايت په معنی د ارائة الطريق دی چې هدايت على مايوصل الى المطلوب هغه خو خدای جل جلاله کړی دی په را استولو د رسولانو عليهم السلام او په نازلولو د يو سل اوځلور (۱۰۴) کتابونو او صحيفو.

پوه سه: چې مراد هغه کافران دي چې په علم قديم کې د خدای جل جلاله دوی په خپل اختيار کفر غوره کوي او ثبات او دوام پر هغه کفر کوي الى الموت او دوی نه ساتي خلاف الاختيار د دوی له زيغ او کفر څخه "يعني قسر والجا" وهذا سبب لعدم هدايتهم يعني اختيارهم الکفر وعدم التدبر في آيات الانبيا عليهم السلام ای بمعجزاتهم والسبب الحقيقي هو عدم ارادة الله فيهم الهداية ففي هذه الآيات دليل على ان افعال العباد من الکفر والايمان والعبادة والعصيان مخلوقة له تعالى وهذا هو المذهب الاعذب لاهل السنة والجماعة بان الخالق لافعال العباد هو الله تعالى او د بنده برخه صرف کسب دی او صرف الارادة ده. والفرق بين الخلق والکسب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مذکور في کتب علم الکلام کشرح العقائد وشرح المقاصد للعلامة التفتازاني ؒ والمواقف للقاضي عضد الدین ؒ وشرحه للعلامة السید الجرجاني ؒ وقد ذکر محب الله البهاري ؒ الفرق بینهما في مسلم الثبوت باحسن الوجه وهذا المذهب هو المتوسط بین الجبر کما هو مذهب الجبریة من ان العبد مجبو محض في افعاله لانه علی هذا یکون ارسال الرسل وانزال الکتب عبثًا کما لا یخفی وبین القدر یعني ان الخالق لافعال العباد هو العباد کما هو المذهب للقدریة اعنی المعتزلة.

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ طَبَعَ اللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ

دوی هغه کسان دي چې خدای ﷻ مهر د غفلت لګولی دی ددوی پر زړو بسبب سوء اختیارهم، نو په حق دین کې فکر نه وهي او په علاماتو کې د قدرت د خدای ﷻ في الانفس والآفاق هم غور نه کوي.

وَسَمْعِهِمْ وَأَبْصَارِهِمْ ۖ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْغَافِلُونَ ﴿١٠٨﴾

او پر غوږو ددوی (چې حق په سماع قبول سره نه اوري) او پر سترګو ددوی (چې دوی په کتلو د اعتبار و معجزاتو ته د انبیا علیهم السلام نه ګوري) او دوی دي کامل په غفلت کې، ولې چې دوی د صانع ﷻ او د هغه د توحید څخه غافله دي وضمیر الفصل دال علی ان الغفلة محصور فیهم.

لَا جَرَمَ أَنَّهُمْ فِي الْآخِرَةِ هُمُ الْخَاسِرُونَ ﴿١٠٩﴾

پوه سه: چې "لاجرم" مجموع یوه کلمه ده په معنی د حقًا که درآن هیڅ شک نیست، چې دوی په اخرت کې یعني یوم القیامة کې لوی تاوانیان دي، ولې عمرونه یې په داسي شي کې صرف کړل چې سبب د عذاب ابدي وګرځیدل یعني الکفر والشرک او داسي شی یې حاصل نه کړی چې دوی دي له عذاب مخلد څخه خلاص کړي او خسران عظیم په دوی کې حصر دی کما هو معنی ضمیر الفصل، او عصات المؤمنین که څه هم اکثره عمرونه یې په شهواتو او معاصیو کې صرف کړي هم دي لکن د ایمان او توحید لمن یې تینګه نیولې ده چې د عذاب مخلد في النار یې څانونه خلاص کړي دي، شیخ سعدي ؒ وایي:

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قیامت که بازار مینو نهند ..... منازل باعمال نیکو دهند
بضاعت بچند انکه آری بری ..... اگر مفلسی شرمساری بری
کسی راکه حسن عمل بیشتر ..... بدرگاه حق منزلت بیشتر

دروښ وایي: چې

بضاعت نیاوردم الا امید ..... خدایا زعفوم مکن نا امید
چار چیز اورده ام شاها که درگنج تو نیست
عاجزی و مسکینی فقر و گناه اوردم
الهی یا الهي یا الهی ..... ندارم جز امیدت تکیه گاهی
ندارم توشه راه قیامت ..... بجز شرمندگی و رو سیاهی
ندارم طاعت مقبول درگاه ..... بجز اشک ندامت آه آهی
زکن موجود کردی هر دو عالم ..... مرا از ذنب خود کن عذر خواهی
عبید را خاتمه بالخیر گردان ..... بحق مصطفی و چهار یاران

ثُمَّ إِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِينَ هَاجَرُوا مِنْ بَعْدِ مَا فُتِنُوا

پوه سه: چې لفظ د "ثم" لپاره د تباعد د حال ددې کسانو دی د حال د مخني ذکر سوو کسانو څخه یعني د تراخي في الزمان لپاره نه دی بلکې د تراخي في المرتبة لپاره دی، وروسته ستا خدای یا محمد (ﷺ) د هغو کسانو لپاره چې هجرت یې مدینې منورې ته کړی وي وروسته تر دې چې دوی له اسلام څخه منع کړه سوي او معذب کړل سوي وي.

پوه سه: چې ابن سعد رح په خپل کتاب طبقات د عمر بن الحاکم څخه داسې روایت کړی دی چې عمار بن یاسر رضي الله عنه ته مشرکانو عذاب ورکاوه حتی چې دی پوهېدی چې زه څه وایم، او صهیب رضي الله عنه ته عذاب ورکول کېدی حتی لایدري مایقول، او ابو فکیهة رضي الله عنه ته عذاب ورکول کېدی حتی لایدري مایقول او بلال او عمار بن فهیرة وقوم آخر من المسلمین رضي الله عنهم حتی لایدرون مایقولون، نو په دغو کسانو کې دا آیت نازل سوی دی، او بغوي رح وایي چې دا آیت په شان کې د عیاش بن ابی ربیعه رضي الله عنه چې د ابو جهل رضعي ورور وو او په شان کې د ابو جندل بن سهل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او ولید بن ولید او سلمه بن هشام او عبید الله بن اسید ﷺ کي نازل سوی دی چي دا توله په فتنه کي د مشرکانو مبتلاوه او دوی بعض مطالبات د مشرکانو ورسره ومنل په ژبه. وقلوبهم مطمئنة بالایمان حتی چي خانونه یې ددوی له شره خلاص کړل او هدینې منورې ته یې هجرت وکړی والله اعلم بالصواب.

ثُمَّ جَاهَدُوا وَصَبَرُوا

بیا یې جهاد کړی وي په معیت د رسول الله ﷺ او یا بېله معیته دده کما في السرایا د کفارو سره "وصبروا" او صبر یې کړی وي پر ایمان او طاعاتو او پر جهاد في سبیل الله او پر سختیو د هجرت او ترک الوطن باندې، او صبر یې کړی وي له ګنهو څخه. او حسن او عکرمه رح وایي چي دا آیت په شان کي د عبد الله بن سعد نازل سوی دی چي دی کاتب د وحي د رسول الله ﷺ و. نو شیطان یې پښه وښویول او مرتدد سو ولاړی مکې ته د کفارو ملګری سو. نو آنحضرت ﷺ چي مکه فتح کړه امر یې وکړی په قتل د عبد الله المرتد. نو عثمان ﷺ د عبد الله لپاره د پناه غوښتونکی سو چي عبد الله د عثمان ﷺ د مور د خوا ورور و، نو علیه الصلوة والسلام د عثمان ﷺ خبره ومنله او امر د قتل یې بیرته واخستی وروسته عبد الله مسلمان سو او اسلام یې د زړه له کومي او اخلاص څخه و فانزل الله تعالی هذه الآیة.

دروبش وایي: چي دا شان نزول چي مظهري رح راوړی دی له سیاق څخه د هغه آیت ثم ان ربک للذین الآیة ډېر لیري دی کمالا یخفی.

إِنَّ رَبَّكَ مِنْ بَعْدِهَا لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١١٠﴾

په تحقیق ستا خدای یا محمد (ﷺ) وروسته تر هجرت او جهاد او صبر تاکید آ پخښونکی دی دده مخني اقوال او افعال ددوی او مهربان دی چي دوی ته په نعمتونه د دنیا او آخرت ورکړي په سبب د افعالو ورستنیو ددوی.

فائده: خبر د "ان" اول یعني ثم ان ربک آه محذوف دی چي خبر د "ان" ثاني دلالت پر کوي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يَوْمَ تَأْتِي كُلُّ نَفْسٍ تُجَادِلُ عَنْ نَّفْسِهَا

یوه سه: چي "یوم" منصوب دی په "اذکر" مقدر سره یعني ته ورپیاد کړه، یعني بیان کړه هغه ورځ چي مراد ځني یوم القیامة ده چي کوشش کوي هر سړی په خلاص والي د خپل ځان وبل ته یې فکر نه وي لغایة الدهشة ولکون العزیز الجبار في لباس صفات الجلال، فالکافر یقول ربنا هؤلاء اضلنا" امید یې دا وي چي په عذر به ږه له عذاب څخه خلاص سم "واللہ ربنا ما کنا مشرکین" امید یې دا وي چي په دې انکار سره د شرک به ږه خلاصون ومومم د خدای ﷻ له عذاب څخه لکه په دنیا کي چي به بعض وخت په انکار دیون وغیرها به سړی خلاصیدی وامثال من الاعذار، والمؤمن یقول رب اسئلک نفسي لاتجعلني مع القوم الظالمین، ابن جریر ؒ په خپل تفسیر کي راوړي دي چي یو سړي پوښتنه وکړه له علیه الصلوة والسلام "من این یجاً بجهنم؟ له کومه ځایه راوړل کیږي جنهم؟ علیه الصلوة والسلام ورته وویل "یجاً بها من الارض السابعة، لها الف زمام" دوزخ لره زر مهاره وي پر هر زمام یې اوویا زره ملکې وي چي تسبیح د خدای ﷻ وایي چي دوزخ له اهل محشر څخه په مسافت کي د زرو کلو وي دوزخ یوه ساه وکاږي، نو په دغه وخت کي لایبقی ملک مقرب ولا نبي مرسل الا جثی علی رکبتیه مګر کښېني پر زنګنو یعني پر هیئت د تشهد د لمانځه یقول رب نفسي نفسي زه خلاصون غواړم فقط د خپل ځان یعني په هیڅ چا کار نه لرم.

بجائی که دهشت خورند انبیاً ..... تو عذر گناه را چي داری بیا

وَتُوَفّٰى كُلُّ نَفْسٍ مَّا عَمِلَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿١١١﴾

او پوره به ورکړل سي و هر سړي ته جزاً د هغه شي چي ده یې عمل کړی وي یعني من خیر وشر او پر دوی ظلم نه کړل کیږي چي یا دي عمل د خیر دده ځني پټ سي یا یې په عمل کي د شر زیاتوب راوستل سي.

وَضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا قَرْيَةً

او بیانوي خدای ﷻ یوه قریه "چي صفت به یې راسي" مثال د هر قوم لپاره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي خداى ﷻ دوى ته نعمتونه او امن وامان ورکړى ؤ او دوى نعمتو غافله کړه له شکر څخه د خداى ﷻ بلکې په عوض کې د شکر يې کفر مختاره کړى، نو خداى ﷻ عذاب پر نازل کړى وهذا حاصل المثل المذکورة، بغوي ؒ وايي چي مراد له دې قريه څخه مکه ده، نو معنى ددې آيت داده چي خداى ﷻ ګرځولې مکه په داسي حال سره چي داضرب مثل دده د نورو قريو لپاره. او روح البيان وايي اى قصة اهل قرية كانت من قرى الاولين وهي ايلة كما في تفسير الكواشي وهي قرية وبلد بين ينبع و مصر.

دروښ وايي: چي مظهري ؒ چي وايي چي داضرب مثل يوه فرضي قريه دي وي بې ځايه احتمال دى كما لا يخفى لان ضرب المثل في جميع القرآن لايكون بالمفروض المحض.

كَانَتْ اٰمِنَةً مُّطْمَئِنَّةً يَّاْتِيْهَا رِزْقُهَا رَغَدًا مِّنْ كُلِّ مَكَانٍ

چي وه دا قريه په امن کې (يعني اهل د هغې قريې چي نه چا غارت پر کاوه او نه له حملې څخه د کسرى فارس او نه له حملې څخه د قيصر روم بېرېدل) چي اهل ددې قريې په ارامه سره ژوند کاوه چي له خوفه د دښمن ترک الوطن ته مجبوره نه وه، او داغه رنګه له تنګۍ څخه د رزق لکه نور عرب چي به دې ته مجبوره وه.

چي ورته راتلى رزق ددې قريې يعني اهل ته يې (په اندازه د قوت ددوى) فراخه په قدر د کفايت ددوى د اطرافو د بري او بحري لارو څخه که څه هم په مکه کې د کرهنې مخکه نه وه كما هو المعلوم الى الآن.

فَكَفَرَتْ بِاَنْعُمِ اللّٰهِ

نو دې قريې يعني ناشکري ددې نعمتو وکړه او په ځاى کې د شکر يې کفر مختاره کړى "انعم" جمع د نعمت ده لکه ادرع چي جمع د درع ده.

سوال: په مفرد کې "انعم" چي نعمت دى تا موجوده ده او په مفرد کې ادرع چي درع تا نسته فالقياس مع الفارق؟

خواب: تا ته يې اعتبار نه ورکړى.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَأَذَاقَهَا اللّٰهُ لِبَاسَ الْجُوْعِ وَالْخَوْفِ

نو په دې قریه (یعنې په اهل ددې قریې یې په سبب د ناشکرۍ ددوی کمایدل علیه الفا) وځکی یعنې ورساوه دوی ته خدای ﷻ عذاب.

پوه سه: چې ذوق ځکلو ته د مطعوم وایي. دلته استعاره ده ورسېدلو ته د اثر د ضرر. او لباس کالو ته وایي چې سړي اغوستي وي دلته استعاره ده و اثر ته د خوف او جوع چې تغیر د رنګو دی وفي هذه الاستعارة نکتة بدیعة یعنې لباس چې پر لابس محیط وي داغه رنګه اثر د خوف او جوع پر دوی احاطه وکړه.

بِمَا كَانُوا يَصْنَعُوْنَ ﴿۱۱۲﴾

په سبب د هغه چې دوی وه صنع یې کوله من الکفر وکفران النعمة. بغوي رح وایي چې وروسته تر هجرت علیه الصلوة والسلام امر وکړی چې هغه تجار چې مکې ته یې خوراکي مواد راوړه نه دې راوړي او خپل سرایا یې پرې دې وګمارل. نو آفاقي عربو خپل خوراکي مواد په امر د رسول الله ﷺ اووه کاله پرې بند کړه حتی چې اهل مکه ودې اندازې ته ورسېدل چې مرداري غوښې او د سپو غوښې حتی العلهز، چې د اوښ وړۍ په وینو ولړي او بیا یې ویشولې او څیښلې به یې حتی چې اسمان ته به یې وکتل دوی به ویل چې لوږې زمونږ سترګې هم را تاریکې کړي دي حتی چې رئیسانو د قریشو علیه الصلوة والسلام ته استاذي ور واستول چې دا خو ستا عداوت دی د رجالو سره فمابال النسآ والصبیان یعنې دې قحط خو ښځې او کوچنیان هم په تر اغیزې لاندې راوستل. نو علیه الصلوة والسلام امر وکړی چې تجار دې خپل خوراکي مواد مکې ته نقل کوي وهم بعد ذالک المشرکون کما کانوا قبل ذالک.

دروښ وایي: چې پر دې شان نزول د بغوي رح یو دقیق سوال وارد ږي چې دا سورت خو مکي دی کمامر. او علیه الصلوة والسلام چې بندیز د حمل ونقل د خوارکي موادو ولګاوه هغه خو بعد الهجرة وو. نو د ځواب یې دوه ارڅه دي، یا به سړی وایي چې سورت که څه هم مکي دی لکن دغه آیتونه یې مدني دي بعد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الهجرة. او یا به شان نزول د روح البیان تائید وي چي دا قریه مکه نه ده بلکې قریه د ایله ده کمامر عنقریب فافهم. نو دا مثل چي خدای ﷻ ذکر کړی په قرآن کریم کي لپاره د انذار د اهل مکه اما اهل مکه په دې انذار عمل ونه کړی.

وَلَقَدْ جَآءَهُمْ رَسُوْلٌ مِّنْهُمْ فَكَذَّبُوْهُ

لام موطئه د قسم محذوف دی. او لفظ قد لپاره د تحقیق دی والمعنی. والله په تحقیق راغلی و دوی ته یعني اهل مکې ته رسول چي محمد علیه السلام دی ددوی له قوم څخه یعنې عرب او په عربو کي قریش.

پوه سه: چي بیر ته حال د اهل مکه بیانېږي وروسته تر ضرب مثل "فکذبوه" دوی یعني اهل مکه تکذیب وکړی د رسول مذکور ﷺ.

فَاَخَذَهُمُ الْعَذَابُ وَهُمْ ظٰلِمُوْنَ ﴿۱۱۳﴾

نو دوی ونیول عذاب او حال دا چي دوی ظالمان دي بالکفر والاستهزا بالرسول وانکار القرآن المنزل.

فائده: مراد له عذاب څخه جدب او وچ کالي ده او واقعه د بدر ده مظهري وایي چي دا آیت هم پر دې دلالت کوي چي نزول یې بعد الهجرة دی.

فَكُلُوْا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللّٰهُ حَلٰلًا طَيِّبًا ۖ وَّاشْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ اِيَّاهُ تَعْبُدُوْنَ ﴿۱۱۴﴾

نو خوراک کوئ اې مؤمنانو چي تاسي ایمان راوړی دی پر محمد ﷺ او د کفره خدای ﷻ نجات درپه برخه کړی. له هغه شیانو څخه چي په رزق درکړي دي خدای ﷻ حال کون ذالک الرزق چي حلال وي او خوند هم درکوي.

دروښ وایي: چي د "طیب" قید یې ددې لپاره ووایه چي ګاهي کېدای سي چي یو مطعوم خو حلال به وي لکن طبعاً سړي ته خوند نه ورکوي. نو هغه سړی مجبور نه دی چي خامخاه به یې خوري. او تاسي شکر وایاست ددې لوی نعمت د خدای ﷻ چي نبوت د محمد ﷺ دی او د نورو نعمتو د خدای ﷻ چي په دنیا کي یې تاسي ته درکړي دي که تاسي یاست چي خاص د خدای ﷻ عبادت کوئ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دون غيره تعالى، والتخصيص مستفاد من تقديم اياه كمامر في تفسير سورة الفاتحة من قوله تعالى اياک نعبد آه.

فائده: حلالاً حال دی له "ما رزقكم الله" څخه او د حلال لفظ احتراز دی له هغه شيانو څخه چې په وروسته آيت کې به راسي.

إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ الْخِنْزِيرِ وَمَا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللَّهِ بِهِ

او حرام کړي ده خدای پر تاسي "الميتة" يعني مرداره چې شرعي ذبح يې نه وي کړل سوې.

پوه سه: چې په ټوله مذکوره شيانو کې مراد حرمت د خورک دی لان الاحكام الشرعية من الحل والحرمة وغيرهما صفت دی د فعل د مكلف لا لذوات هذه الاشياء كما تقرر في كتب الفقة. او مراد له "دم" څخه دم مسفوح دی يعني چې له ښارګو څخه د حيوان راوځي په وخت کې د ذبح. نو هغه وينه چې په غوښو ګډوي هغه نه ده حرامه. لكن اولى داده چې پرې يې مينځي او دغه دم جامد لکه کبد او طحال نه ده حرام يعني هينه او سږی. او غوښې د سرکوزې چې نجس العين دی. او انګريزان او امريکايان يې خوري. او هغه حيوان چې په وخت کې د ذبح د غير الله اواز پر پورته سوی وي. لكن اهل جاهليت به په وخت کې د ذبح د حيوان د لات او عزی وغيرهما نوم پر وايه.

پوه سه: چې اهل جاهليت د ذبح سوي حيوان تر غوښو د مردار سوي حيوان غوښې خوښولې. دوی به ويل چې مذبوح خو د انسان له خوا وژل سوی دی او ميتة د خدای له خوا وژل سوې ده.

دروښ وايي: چې د "ماهل لغير الله" په باره کې لامذهبه خلګ چې په مختلفو ټولنو کې ژوند کوي. وايي چې که چا د ثواب رسېدلو و روح ته د يو ولي الله يو حيوان ذبح کړی هغه مردار دی حتى چې د عليه الصلوة والسلام لپاره يې ذبح کړي هغه مردار بولي. او که چا په دوولسمه د ربيع الاول چې د عليه الصلوة والسلام د وفات ورځ ده يو حيوان ذبح کړی هغه هم مردار بولي وهكذا انوري ذبح. او دوی نه پوهېږي چې د اهلال په لغت عربي کې معنا رفع الصوت عند

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

رؤية الهلال او رفع صوت عند الذبح ده، نو دغه کسان چې دا مذکوره جرائتونه کوي په وخت کې د ذبح خو فقط بسم الله الله اکبر وايي، نه د نبي نه د ولي او نه د والدينو نوم اخلي، عجيبه خو داده چې دا لامذهبه ملايان سره د غنىٰ د خلګو زکوتونه اخلي هغه مردار نه دي چې په اجماع د فقهاؤ حرام دی او که يو مسلمان د جمعې په شپه غړی وکړي يا حلوا پخه کړي مسجد ته يې ورووړي دوی وايي چې دا مردار دي الى غير ذالک من خرافاتهم، ما لهم لا يطالعون كتب الفقها لكن دوی د هغو کتابو څخه منکر دي.

فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَّلَا عَادٍ فَإِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۱۵﴾

او که څوک مجبور سي وه خورک ته ددغو محرماتو مذکوره وو يعني په حال کې د غايت لوږې چې خپل پر مرګ وبېرېږي په داسې حال کې دی ظالم پر بل مضطر نه دی چې هغه هم په حال کې د مخمصې وي او يو څه غوښې وغيره د دغو محرماتو يې پيدا کړي وي چې د دواړو نه وي کافي، نو دا بل مجبور هغه مردار شی له هغه څخه اخلي په خپله يې خوري او هغه ومرګ ته وسپاري، ولي چې د ظالم حيوة خو د واجد تر حيوة افضل نه دی او نه عاد يعني تجاوز کونکی تر سد رمق خپل نه وي چې په ډک نس يې وخوري، نو په داسې حال کې خدای پاک غفور او رحيم دی.

پوه سه: چې په دې عبارت خبر د "فمن اضطر" محذوف دی او سبب د هغه يې په ځای کې د هغه راوړی دی، والتقدير فمن اضطر آه، يجوز له اكله (وهذا هو الخبر المحذوف) ولي خدای ﷻ غفور رحيم دی (دا سبب او علت د خبر محذوف دی)

وَلَا تَقُوْلُوْا لِمَا تَصِفُ أَلْسِنَتُكُمُ الْكَذِبَ هٰذَا حَلٰلٌ وَّهٰذَا حَرَامٌ

پوه سه: چې مخاطب په دې آيت کې مسلمانان دي والمعنى تاسي مه واياست و هغه شي ته چې بيان يې کوي ستاسي ژبې (يعني ژبې د قوم ستاسي چې مشرکان دي، فلا بد من المضاف المحذوف الى ضمير كم وهو لفظ القوم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې د هغو د خولې بيان دادی چې فلانی شی حلال دی او دا فلانی حرام دی. لکه د مشرکانو د قول نقل د قرآن کريم په ځای کې داسې راغلی دی "مافي بطون هذه الانعام خالصة لذكورنا الآية" او يا تحريم د بحائر او سوائب ونحوها وايه كمامر ذالک في سورة المائدة.

فائده: دا حصر د محرماتو په ماذكر في هذه الآية کې چې له سياقه د کلام دا حصر فهميږي او د انما راوړلو څخه د انما په صدر کې د کلام حصر اضافي دی بالنسبة الى ماحرم الكفار، نو داسوال نه واردېږي چې محرمات خو نور هم دېر دي كاكل لحوم السباع وغير ذالک الثابتة بالاحاديث الصحيحة فارجع الى كتب الفقها رحمهم الله.

اعراب الآية: كلمه د "ما" موصوله ده او عائد يې محذوف دی. والمضاف ايضًا محذوف. والتقدير ولاتقولوا في شان الذي تصفه السنتكم آه روح المعاني. "اوالكذب" منصوب دی په "لاتقولوا" چې د هغه مفعول به دی، وهذا حلال وحرام بدل دی له كذب څخه. روح البيان" اى لاتقولوا الكذب لما تصفه السنتكم من البهائم بالحل والحرمة من غي استناد ذالک الوصف الى علة موجبة للحل والحرمة من الله تعالى. مظهري.

لِّتَفْتَرُوا عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ ۗ

چې تاسې وترئ په قصد پر خدای ﷻ درواغ، ولې چې دوی به ويل ان الله حرم هذا اى السوائب والبحائر. كلمه د لام لپاره د تعليل ده لا للغرض.

إِنَّ الَّذِينَ يَفْتَرُونَ عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ لَا يُفْلِحُونَ ﴿١١٦﴾

په تحقيق هغه كسان يعني كه د هغه مشركين دي او كه نور چې وايي پر خدای ﷻ درواغ خلاصون له عذاب څخه د خدای ﷻ نسې پيدا كولای په ورځ د آخرت.

مَتَاعٌ قَلِيلٌ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١١٧﴾

"متاع قليل" خبر د مبتدا محذوف دی اى ماهم فيه متاع اى منفعة قليلة تنقطع عنقريب. نو دد غه متاع قليل لپاره درواغ پر خدای ﷻ ويل د عاقل كار نه دی. او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دوی لره درد ورکونکی عذاب سته په اخرت کي پر دغو درواغو پر خدای ﷻ. قال علیه الصلوة والسلام "من کذب علي متعمداً فلیتبوء مقعده من النار" فکیف یکون حال الکاذب علی الله ﷻ.

وَعَلَى الَّذِينَ هَادُوا حَرَّمْنَا مَا قَصَصْنَا عَلَيْكَ مِنْ قَبْلُ

او پر هغو کسانو چي د یهودیت دین پر مخ وړي حرام کړي وه هغه شیان مونږ چي قصه یې مونږ وتاته تر دې دمخه وکړه، کلمه د "ما" موصوله ده او عائد یې محذوف دی ای الذي قصصنا.

پوه سه: چي مراد له "قبل" څخه سورة الانعام دی یعني قوله تعالی وعلی الذین هادوا حرمنا کل ذي ظفر الی اخیر الآیة.

وَمَا ظَلَمْنٰهُمْ وَلٰكِنْ كَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿۱۱۸﴾

او مونږ نه دی کړی ظلم پر دوی په تحریم د بعضي طیباتو د رزق لکن دوه وه چي پر خپلو ځانو یې ظلم کاوه په سبب د بغاوت ددوی له امر الهي څخه چي په تورات کي دوی ته بیان سوي وه. یعني دا تحریم لپاره د عقوبت او د عذاب د دوی وکړل سو.

ثُمَّ اِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِيْنَ عَمِلُوا السُّوْٓءَ بِجَهَالَةٍ ثُمَّ تَابُوْا مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ وَاَصْلَحُوْٓا اِنَّ رَبَّكَ مِنْۢ بَعْدِهَا لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۱۹﴾

وروسته (پوه سه! چي د "ثم" لفظ لپاره د تراخي في الزمان نه دی کما هو معناه الحقیقي بلکې لپاره د تراخي في الذکر دی) په تحقیق ستا رب یا محمد (ﷺ) و هغو کسانو ته چي عمل وکړي د بدو.

دروېش وایي: چي علامه بغدادي ؒ په روح المعاني کي وایي "السوء" مایسئ صاحبه من کفر او معصیة ویدخل فیه الافتراء علی الله، دی وایي چي ابن عباس ؓ تفسیر په شرک سره کړی دی، دی وایي التعمیم اولی آه. وتبع المظهري للآلوسي ؒ في التفسیر العام بجهالة ای بسبب الجهالة معنی دا چي جهالت باعث ورګرځیدی پر عمل سوء بالمعنی الاعم لکه غیرت د جاهلیت چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

باعث وگرځېدی د مشرکینو پر قتل او غارت خصوصًا قتل البنات بالدفن في القبر وغیر ذالک من افعال الجاهلیة، وروسته توبه وکاږي له کفر یا معاصیو څخه وروسته تر عمل سوء.

سوال: من بعد ذالک ته څه ضرورت وُولي چي "ثم" یعني په ثم تابوا کي دلالت کوي پر بعدیت د توبې تر عمل سوء؟

ځواب: علامه برسوي ؒ وایي چي په دې کي تاکید او مبالغه في البعدیة مطلوب ده، او په عمل صالح کي داخل سئ په تحقیق ستا خدای ﷻ وروسته تر توبې او د اصلاح العمل بخښونکی دی د عمل سوء بالمعنی المذکور "صیغه د مبالغې ده" او مهربان دی چي ثواب ورکوي پر طاعت که فعل وي کالصلوة والصوم وغیرهما او که ترک وي لکه ترک د زنی وغیره بعد القدرة لمخافة عذابه تعالی.

پوښتنه: دا قول "ان ربک آه" د څه حکمت لپاره مکرر راوړل سو؟

ځواب: ددې ځواب روح البیان داسي ورکړی دی چي دا تکریر لپاره د تاکید د وعد بالثواب دی او لپاره د مبالغې في ایجاز الوعد المذکور في معنی الرحیم کمامر آنفًا.

اِنَّ اِبْرٰهِیْمَ کَانَ اُمَّةً

په تحقیق ابراهیم (علیه السلام) وُ امت، په قاموس کي وایي چي امت الرجل الجامع للخیر، او امام یعني مقتدي ته هم وایي او من کان علی الحق مخالف لسائر الادیان الباطلة ته هم وایي، او خوشاله سړي ته هم وایي، او عالم ته هم وایي الی غیر ذالک من المعاني التي ذکرها صاحب القاموس، مورِ هغه معاني ذکر کړې چي مناسب ددې مقام سره وې، او په ابراهیم علیه السلام کي دومره فضائل وه چي قریب نه وه چي دا فضائل دي انفراداً په ډېرو اشخاصو کي پیدا سي، او دا اول معنی د امت چي قاموس ذکر کړې وه او خدای ﷻ دی امام او مقتدی د خلګو ګرځولی وُ، دا دوهمه معنی د امت ده، او ابرهیم علیه السلام پر حق دین وُ مخالف له ټولو ادیانو باطله وو څخه، دا دریمه معنی د امت ده او ډېر خوش طبعیته سړی وُ، دا څلورمه معنا د امت ده، او ابراهیم علیه السلام عالم وُ په خدای ﷻ او په احکامو د خدای ﷻ چي دا پینځمه معنی د امت ده، او ابن مسعود ؓ وایي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي ابراهيم عليه السلام معلم د خير ؤ چي په ده پسي اقتداً تولو اهل الدنيا کړي وه يعني شخصيت مقبول ؤ د تولو وگړو د دنيا حتى چي مشرکانو د مکې به ويل او يهودو او نصارى وو به هم ويل چي موږ پر ملت ابراهيم يو ولو کانوا کاذبين في هذه الدعوى، کريمه "ماکان ابراهيم يهوديا ولا نصرانيا الخ، نو د امة وزن فعلة دى په معنى د مفعول من امه اذا قصده. او مجاهد رح وايي چي ابراهيم عليه السلام يوازي مؤمن بالله ؤ او نور خلگ تولـه کفار وه.

قَانِتًا لِّلّٰهِ حَنِيْفًا ؕ وَلَمْ يَكُ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿۱۲۰﴾

فرمانبردار د خداى ﷻ ؤ او قائم په اوامرو سره د خداى ﷻ ؤ. مائل له باطل څخه ؤ حق ته، وقيل مخلصًا وقيل مستقيمًا الى دين الاسلام "ولم يک من المشرکين" او نه ؤ له مشرکانو څخه. لکه قريشو د مکې چي به ويل چي موږ پر ملت د ابراهيم يو.

دروښ وايي: چي دا تولې معنانې سره متلازمې دي.

دروښ وايي: چي دا قبول عام د ابراهيم عليه السلام اثر دهغه دعا ده دى "واجعل لي لسان صدق في الآخرين" ماته راکړه ذکر حسن په اخيرنو خلگو کي آخرين که څه هم عام دى لکن لويه حصه د ذکر حسن د ابراهيم عليه السلام په امت کي د اسلام ده. کريمه "قل بل نتبع ملة ابراهيم حنيفًا"

شَاكِرًا لِّاَنْعُمِهٖ ؕ

دى شکر وينونکى ؤ د نعمتو د خداى ﷻ.

نکته: انعم چي يې جمع قلت راوړه ددې لپاره چي ابراهيم عليه السلام د لږو نعمتو شکر د خداى ﷻ وايه، نو د ډېرو خو يې په طريق اولى شکر وايه. کريمه "لئن شکرتم (اى على القليل من نعمه تعالى) لازيدنکم.

اِجْتَبٰىهُ وَهَدٰىهُ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۱۲۱﴾

خداى ﷻ دى برگزيده کړى يعنې په رسالت او په خلت سره او ده ته يې لارښوونه کړې ولاړي سمې ته چي دين د اسلام دى او دعوت د خلگو د خداى

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لاري او عبادت ته، په یو روایت کي راغلي دي چي د ابراهیم علیه السلام عادت دا وو چي ډوډۍ یې بېله مېلمه نه خوړله. یوه ورځ مېلمه نه سو پیدا. نو ابراهیم ډوډۍ وځنډوله. نو یوه ډله د ملکو راغله د انسان په صورت کي. او ابراهیم علیه السلام ته یې وویل چي په موږ پوري د جذام مرض دی (یعني اتشک چي خلګ ډېر بد ځني وړي او د آتشک سړی یو ځای ډوډۍ نه خوري) نو ابراهیم علیه السلام ورته وویل چي اوس واجب ده چي زه به ستاسي سره پر یوه کاسه ډوډۍ خورم لپاره د تشکر د خدای عزوجل چي زه یې د داسي بدنامه مرض څخه ساتلی یم.

وَاٰتَيْنٰهُ فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً ۚ

او موږ ورکړی وو ابراهیم علیه السلام ته په دنیا کي ښه حالت من الذکر الجمیل والثنا في الناس کمامر والاولاد الابرار من اسماعیل واسحٰق علیهما السلام او دراز عمر چي تر سل کاله ډېر متجاوز وو او فراخي په رزق او مال کي او ژوند په ښه طاعت کي د خدای عزوجل وان سید المرسلین صلی الله علیه وآله وسلم من نسله علی نسل اسماعیل علیه السلام وان الصلوة علیه مقرونة بالصلوة علی محمد صلی الله علیه وآله وسلم في اشرف العبادات چي لمونځ دی. چناچه امتیان د علیه الصلوة والسلام په اخیره ناسته کي وایي اللهم صل علی محمد وعلی آل محمد کما صلیت علی ابراهیم وعلی آل ابراهیم آه.

وَاِنَّهٗ فِي الْاٰخِرَةِ لَمِنَ الصّٰلِحِيْنَ ۝۱۲۲

او ابراهیم (علیه السلام) په اخرت کي د صالحو بندګانو په ډله کي دی یعني الانبیا المعصومین. ولي کمال د صلاح په عصمت سره دی او مقتضی د عصمت ثواب بلا نهایت دی په اخیر کي.

دروښ وایي: چي که پوره او مفصل تحقیق د عصمت د انبیا علیهم السلام څوک یې شوق لري، نو د دروښ هغه رساله چي نوم یې "کشف الغطا عن عصمت الانبیا" دی په غور دې مطالعه کړي چي پر هغه رساله د تولو علماؤ د قندهار د دست خط نشانه سته علاوه د حضراتو د هرات یې هم تصدیق کړی دی چي ډېره پخوا طبع او چهاپ سوې ده غالباً اوس به هم په بعضو کتب فروشیو کي د کومې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دستیاب سي. او که شائقان ددې رسالې په ډلیزه توګه کتب فروشانو ته ورسي ان شاء الله بعض کتاب فروشان به یې از سر نو طبع ته وسپاري.

ثُمَّ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ أَنِ ٱتَّبِعْ مِلَّةَ إِبْرَٰهِيمَ حَنِيفًا ۖ

بیا موږ وحي وکړې ټاته یا محمد چې ته متابعت کوه د ملت د ابراهیم چې مائل له باطل څخه و حق لیاري ته متابعت یې کوه (۱) في التوحید (۲) دعوة د خدای ﷻ د خلګو په رفق او نرمي سره (۳) د کافرانو سره دلائل وایه مرة بعد اخری (۴) او بحث کوه د هر چا پر اندازه د فهم د هغه (۵) توجه و قبله ته د ابراهیم علیه السلام کوه په لمانځه کي (ای بعد الصلوة الی بیت المقدس شپاړس میاشتي ترغیباً للیهود) (٦) والتشریع بشرائع دینه (ای في الاکثر لان بعض الشرائع تتبدل)

پوه سه: چي دا آیت تتمه ده د ما انعم الله علی ابراهیم علیه السلام.

فائده: په کلمه کي د "ثم" تعظیم او اجلال دی ومنزلة د نبینا ﷺ د ملة د ابراهیم علیه السلام ..... بیت:

آفاقها گردیده ام مهرتبان ورزیده ام
بسیار خوبان دیده ام تو چیزی دیگری

بغوي رح وایي چې آنحضرت ﷺ مامور په عمل د شریعت د ابراهیم علیه السلام مګر نه هغه شیان چې د علیه الصلوة والسلام په دین کې منسوخ سوي وي او چې نه وي نسخ سوي هغه اوس شرع د نبینا ﷺ ګڼل کیږي.

وَمَا كَانَ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿١٢٣﴾

او نه وو ابراهیم (علیه السلام) له مشرکانو څخه. کرر هذه الآیة مبالغةً في الرد علی المشرکین والیهود والنصاری چې دوی ته وله دا دعوه کوي چې موږ تابع د ملت د ابراهیم علیه السلام یو.

پوښته: پر مشرکانو خو رد صحیح دی لکن یهود او نصاری خو اهل کتاب دي مشرکان نه دي؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: دا رد پر هغو یهودو دی چې عزیر علیه السلام ابن الله بولي او پر هغو نصاری وو چې عیسی علیه السلام ابن الله بولي.

اِنَّمَا جُعِلَ السَّبْتُ عَلَى الَّذِيْنَ اخْتَلَفُوْا فِيْهِ ؕ

یعنې تعظیم د ورځې د سبت وتحرمه ددې ورځې او عبادت د خدای ﷻ ځانونه فارغ کول د دنیا له کارو ځخه د "مفروضه" علی الذین اختلفلوا فیه" یعنې چې دوی مخالفت وکړې له نبي ځخه ددوی، کلبي رحمه الله وایي چې موسی علیه السلام بني اسرائیل امر کړل چې په هر اووه ورځو کې تاسي فارغه کړئ یوه ورځ د عبادت لپاره د الله تعالی "فاعبدوه یوم الجمعة" او تاسي په دغه ورځ دنیاوي کارونه مه کوئ او شپږ ورځې دنیاوي کارونه کوي، یهودانو موسی علیه السلام ته وویل چې موږ نه مختاره کوو د عبادت لپاره مګر هغه ورځ چې خدای پاک په هغه ورځ فارغه سوی دی د خلق السموات والارض ځخه چې یوم السبت ده، یعنې د شنبې یا خالي ورځ، نو خدای ﷻ د سبت ورځ دوی ته منظوره کړه مګر سره د تشدید پر دوی، بیا چې عیسی علیه السلام نبي سو هغه هم قوم ته د جمعې ورځ وتاکل قوم وویل چې زموږ هغه ورځ د عبادت لپاره خوښه ده چې خدای ﷻ شروع په خلق سره په هغه ورځ کړې ده چې په عربي یې یوم الاحد بولي، او په پښتو یې یک شنبه بولي، او په اردو یې اتوار بولي او په انګریزي یې (سنډې) بولي چې ننی ورځ د اتوار ورځ ددوی د رخصتی ورځ ده، پاکستان که څه هم اسلامي مملکت دی لکن د اتوار ورځ په جمعه نسي بدلولای. ولي چې پاکستان او هند د هر کلونه مستعمره د انګریزانو د لندن وه.

دروبش وایي: چې د جمعې ورځ څه کوې! تولـه عدالتي قوانین د پاکستان هغه قوانین د انګریزانو دي، د عدالتي محکمې قاضي ته پاکستانیان د انګریزانو په متابعت جج وایي و هغه جج ته هم د انګریزي قوانینو کتاب پروت دی او پر هغه کتاب موافق حل و فصل د دعوې د خلګو کوي او د اسلامي کتاب د حل وفصل لپاره جج صاحب توری هم نه سي ویلای.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وروستہ خدای ﷻ و امت محمدیه (ﷺ) تہ ورځ د جمعې وتاکل، دوی یې چون و چرا هغه ورځ ومنل.

دروښ وایي: چې بخاري او مسلم په خپلو صحیح کتابو کې له ابو هریره ﷺ څخه روایت کړی دی قال رسول الله ﷺ "نحن الآخرون (یعني في الدنیا) السابقون یوم القیامة (یعني في دخول الجنة) بید انهم (غیر له دې څخه چې وی ته یعني یهود او نصاری وو ته) اوتوا الکتاب من قبلنا واوتینا من بعدهم (دوی ته ورکړل سوی دی کتاب یعني تورات او انجیل تر موږ دمخه او موږ ته راکړل سوی یعني قرآن کریم تر دوی وروسته) ثم هذا یومهم الذي فرض علیهم یعني الجمعة فاختلفوا فیه (یعني یهود او نصاری په دغه ورځ کې چې جمعه وه اختلاف وکړی کمامر عنقریب) فهدانا الله له (یعني وورځې ته) فالناس لنا فیه تبع یعني وروسته دي یهود غداً چې د شنبې ورځ ده او نصاری بعد غد چې د یکشنبې ورځ ده ثم تلی رسول الله ﷺ هذه الآیة بروایة البغوي رح "انما جعل السبت الآیة"

وَإِنَّ رَبَّكَ لَيَحْكُمُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِيمَا كَانُوا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿١٢٤﴾

او ستا خدای یا محمد (ﷺ) هر آئینه حکم به وکړي په منځ کې ددوی په ورځ د قیامت په هغه شي سره چې دوی په هغه کې وکړی اختلاف یعني یوم الجمعة. فالمجازات علی الاختلاف فیجازي کل فریق (ای بالنار) بما یستحقه من العذاب

ادْعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ

ته دعوت ورکړه خلګو ته (ئو مفعول محذوف دی والمخاطب هو رسول الله ﷺ) و لاري ته د خدای ﷻ چې توحید او اسلام دی.

پوه سه: چې د "حکمة" تفسیر روح البیان داسې کړی دی ای بالحجة القطعیة المفیدة للعقائد الحقة المزیحة شبهة من دعی الیها، وروسته یې داسې ویلي دي چې دعوة بالحکمة لپاره د خواصو د امت دی چې طالبانو د حقائقو وي او د موعظة حسنة تفسیر یې په دلائلو چې قناعت بخښونکي وي او په حکایات نافعه وو سره کړی دی، او وروسته یې ویلي دي چې دا موعظت حسنه لپاره د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عوام الناس دی، او مظهري ؒ د حکمت او د موعظة حسنة دواړو تفسیرونه په قرآن سره کړي دي، او وجه د تسمیه د قرآن یې په حمکت دا ویلي دي لانه محکم المقالات لایتطرق الیه الطعن والمعارضة وهو الدلیل الموضح للحق المزیل للشبهات وهو الموعظة الحسنة بالترغیب والترهیب آه.

دروښ وایي: چې د دواړو تفسیرو ماخذ یو دی، او بعض مفسرین وایي چې موعظة الحسنة قول لین دی من غیر غلظة ولا تسف آه، دا هم د هر بنائسته تفسیر دی.

وَجَادِلْهُمْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ

او ته بحث او مناظره ورسره کوه په هغه خصومت سره (نو موصوف د التي محذوف دی ای الخصومة لکن اولی داده چې په مجادلة محذوف سي چې د جادلهم مصدر دی.

پوه سه: چې احسن وجه د مناظرة داده چې غضب او طغیان د نفس نه وي پکښې بلکې خالصاً لوجه الله او د اعلاً د کلمة الله لپاره وي.

مسئله: له دې آیت څخه دا معلومه سوه چې مجادله او مناظره په علمي مسئلو کې روا ده بالشروط المذکورة ولاظهار الحق لا لاظهار العلمیة والتفوق والتکبر کما في مناظرة اکثر العلماً في زماننا.

إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِمَن ضَلَّ عَن سَبِيلِهِ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ ﴿١٢٥﴾

په تحقیق ستا رب یا محمد (ﷺ) دی ښه خبر دی په احوالو د ظاهر او د باطن په هغه چا چې ګمراه وي له لاري څخه د خدای بالشرک والمعاصي. او خدای ﷻ ښه خبر دی په هغو کسانو چې پر هدایت ظاهراً و باطناً وي.

تنبیه: په دې آیت سره اشاره ودې ته ده چې علیه الصلوة والسلام ته خدای پاک وایي چې ستا وظیفه بلاغ مبین دی او دعوة الی الحق والتوحید دی او هر چه هدایت موصله الی الحق دی او مجازات او ثواب و عقاب پر هدایت او ضلالت، هغه مفوض و خدای ﷻ ته دی هغه په تا پوري یامحمد ﷺ اړه نه لري

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بلکې خدای ﷻ اعلم بالضالین والمهتدین دی وهو المجازي لهم .. سعدي رح

توان پاک کردن زززنگ آئینه ..... ولیکن نیاید زسنگ آئینه

فائده: پوه سه! چې انسانان درې قسمه دي (۱) صنف مقطوع (چې یقین دی) پر حسن خاتمه دده مطلقًا کالانبیاء علیهم السلام والعشرة المبشرة بالجنة کما جاء في الاحادیث المشهورة (۲) صنف مقطوع بسوء خاتمتهم کابی جهل وقارون وفرعون ونمرود وغیرهم من الکفرة الفجرة (۳) وصنف مشکوک في حسن خاتمتهم سوء خاتمتهم مطلقًا کعامة المؤمنین الابرار وکافة الکافرین الفجار فان الابرار وان کانوا ممدوحین في ظاهر الشریعة من جهة العقائد والاعمال في الحال، والفجار وان کانوا مذمومین في ظاهر الشریعة من تلک الجهة ای العقائد و الاعمال لکن امر الفریقین في المآل مفوض الی الله تعالی والله یعلم المفسد من المصلح ویمیز بینهما في الآخرة، ولي چې سړی ولي وي في الظاهر یعود عدو الله، وولي الشیطان نعوذ بالله الرحمن من هذا الامتحان، او عین ممکنه ده چې یو سړی به عدو الله وي في الظاهر یصیروا ولیًا لله وعدوًا للشیطان کذا في روح البیان.

وَإِنْ عَاقَبْتُمْ فَعَاقِبُوا بِمِثْلِ مَا عُوقِبْتُم بِهِ ۖ وَلَئِن صَبَرْتُمْ لَهُوَ خَيْرٌ لِّلصَّابِرِينَ ﴿١٢٦﴾

که چېرې تاسي عقاب او عذاب ورکوئ یو چاته نو تاسي عقاب او عذاب ورکوئ په مثل د هغه چې تاسي ته عقاب درکړه سوی دی یعني د جنایت کارئ (یعني زائد تر هغه د جنیات کار حق نه لرې)

سوال: فعل اول یعني "عاقبتم" خو جزاء د عقاب د جاني ده، نو دې ته یې ولي عقاب وویل سو، فعل د جاني چې په "عوقبتم" سره ذکر سو هغه رشتیا عقاب او عذاب وو چې تاسي ته یې درکړی؟

ځواب: دا عبارت قرآني په مثل سره د هغه عبارت قرآني ده "وجزاء سیئة سیئة مثلها" او سره ددې چې ثاني فعل خو ګناه نه بلکې مکافات دی، نو دلته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په دې آیت کې چې فعل اول ته عقاب ویلی دی په سبب د جوار د "عوقبتم" لکه جزا د سیئة ته چې سیئه ویلې په مذکور آیت په سبب د ازدواج د اول فعل سره.

دروښ وایي: چې ددې آیت په شان نزول کې امام قرطبي ؒ په خپل تفسیر کې داسې وایي چې جمهور د مفسرینو وایي چې دا آیت مدني دی که څه هم سورة نحل مکي دی او دا آیت په شان کې د سید الشهدا حمزة بن عبد المطلب عم النبي ﷺ کې نازل سوی دی چې په غزا کې د احد په مشرۍ د ابو سفیان چې په هغه غزا کې له دی کافرو بیا یې وروسته ایمان راوړی دی، مشرکانو د مکې د مسلمانانو د شهدا وو سره له انسانیت څخه ډېر لیرې کارونه او بدنامي کړې وې، نسونه یې ورځیرلي وه پزې یې څنې پرې کړې وې او غوږونه یې هم څنې پرې کړي وه حتی چې په لنګ کې دننه اعضا چې مذاکیر یې بولي هم څنې پرې کړي وه، صرف یو حنظله ؓ چې په شهدا وؤ کې وؤ بدنامي او مثلت یې نه ؤور رسولی په دې سبب چې ددې پلار عامر الراهب د ابو سفیان سره په جنګ کې ملګرۍ ؤ، وروسته چې ابو سفیان امر د کوچ الی مکه ورکړی او د مشرکانو فوج ستون سو، نو علیه الصلوة والسلام چې راغلی او د شهدا ؓ حالات یې ولیدل ډېر غمجن سو او حمزة سید الشهدا چې یې ولیدی نس یې څیرې سوی ؤ او پزه او غوږونه یې هم څنې پرې کړي وه، آنحضرت ﷺ ډېر دلګیر سو او داسې یې وویل رحمة الله علیک کنت وصولاً للرحم فعالاً للخیر، رحمت د خدای ﷻ دې وي پر تا ته خو پالونکی د صله رحمی، وې او ډېر د خیر کارونه دې کول که دا بېره نه وای چې بښځې به ډېرې غمجنې سې خصوصاً صفیه ؓ او یا دا بېره نه وای چې وروسته تر ما دا سنت طریقه د شهدا وؤ په باره په آئنده نسلو کې د مسلمانانو به پاته سې، ما به ته داغسې پرې ایښې وای یعنې په قبر کې به مې نه بښخولای تاچې درندګانو او مرغانو خوړلې وای چې په ورځ د قیامت ته د هغو د نسو څخه خدای ﷻ ته ژوندی کړی وای، وروسته علیه الصلوة والسلام وویل والله لئن اظفرني الله بهم لامثلن بسبعین مکانک، که چېرې خدای ﷻ ماته بری راکړی پر دوی یعنې پر مشرکانو زه به مثلت وکړم ددوی په اوویا کسانو ستا په عوض کې، او نورو مسلمانانو هم قسم واخستی چې که موږ پر مشرکانو د مکې قدرت او بری پیدا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کړی مورِ به دومره مثلت او بدنامي دوی ته واړوو چي هیڅ چا د عربو به د هیڅ چا سره نه وي کړي، څه وخت چي علیه الصلوة والسلام د شهدا د جنازې د لمانځه څخه فارغ سو دستي دا آیت نازل سو چي دا خبره ؤ علیه الصلوة والسلام ته "والله لئن اظفرني الله آه" نازیبا یې وښوول. نو علیه الصلوة والسلام کفارة الیمین ورکړه او نورو مسلمانانو چي ورته قسمونه اخستي وه هم کفارة د ایمان خپل ورکړه انتهی قول الامام القرطبي رح مع زیادة یسیرة. په انوار المشارق کي وایي چي حمزة رضی الله عنه د وحشي په نامه چي د حبش له قبیلې څخه ؤ شهید کړی او وحشي د جبیر بن مطعم بن عدي بن نوفل مریی ؤ، او د جبیر اکا طعیمه بن عدي د بدر په غزا کي حمزه رضی الله عنه په قتل رسولی ؤ. نو څه وخت چي لښکر د قریشو د احد جنګ ته روانیدل جبیر وه وحشي ته وویل که تا چي حمزه عم محمد په عوض کي زما د اکا طعیمه قتل کړی ته پر ما ازاد یې. نو وحشي چي په حربه (لکه نیزه غون دی کوچنی آله د جنګ وه) په ویشتلو کي ډېر ماهر ؤ خپل حربه یې راواخستل: نو چونکه د حمزه رضی الله عنه سره یې د مخامخ جنګ توان نه درلودی. نو د یوې لوی ډبري شاته پټ سو څه وخت چي حمزه رضی الله عنه د جنګ په دوران کي د ډبري و څنګ ته تېر په دی وحشي په حربه په ځیګر کي وویشتی حربه د حمزه رضی الله عنه د وږو تر منځ ووتل او حمزه رضی الله عنه غوڅ ار سو وحشي یې سر ځني پرې کړی. تاریخ اسلامي وایي چي په فتح کي د مکې وحشي په مکه کي ؤ طائف ته وتښتېدی او وروسته مکې ته راغلی او اسلام یې راوړی. علیه الصلوة والسلام پوهاند داسي یې ورته وویل "انت وحشي؟" ته وحشي یې. هغه ورته وویل هو! علیه الصلوة والسلام ورته وویل "انت قاتل حمزه رضی الله عنه؟ وحشي ورته وویل قد کان ماقد بلغک" نو علیه الصلوة والسلام ورته وویل "هل تستطیع ان تغیب عنا وجهک" ته کولای سې چي زما څخه ځان لېرې وساتې، دا یې ددې لپاره ورته وویل چي که وحشي هر وخت د علیه الصلوة والسلام سره ملاقات کولای د اکا حمزه رضی الله عنه قتل به په یاد ورتلای. نو علیه الصلوة والسلام چي وفات سو او د مسلمانانو فوج په خلافت کي د ابوبکر صدیق رضی الله عنه د مسیلمه کذاب چي د علیه الصلوة والسلام په ژوند کي یې د نبوت دعوه کړې وه غزا ته روانېدل وحشي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هم د مسلمانانو په فوج کي داخل سو، او داسي يې ويله چې زه د مسيلمه کذاب جنګ ته ور وځم شايد چې زه به دی قتل کړم او دا به مي فديه وګرځي په ورځ د قيامت د قتل د حمزه رضي الله عنه.

دروښ وايي: چې د مسيلمه کذاب سره د غزا قصه وړده ده لکن دومره قدر وايم چې وحشي په خپل اميد کي کامياب سو يعني مسيلمه کذاب وحشي قتل کړی او د مسيلمه کذاب په قتل سره تابعان ددې سره تيت وپرک سوه. دا آيت د پاتې حصې يعني "لئن صبرتم آه" ترجمه. که تاسي صبر وکړئ پر ظلم او عقاب د جاني يعني عقاب بالمثل هم ورنه کړئ حتمًا صبر خير دی تر مماثلت بالعقاب لپاره د صابرانو. کريمه "ان الله مع الصابرين".

دروښ وايي: چې ددې اخيري برخي د آيت د عليه الصلوة والسلام داسي وويل "بل نصبروا يارب"

مسئله: په خلاصة الفتاوی کي وايي که يو سړي و بل ته وويل يا خبيث ومثل ذالک که دی ځواب ورکړی بل انت خبيث خو روا ده، لکن اولی داده چې پټه خوله دې سي ځواب دي نه ورکوي يعني صبر دي وکړي کما قال الله تعالى في هذه الآية. او په مجمع الفتاوی کي وايي چې لو قال لغيره يا خبيث مثلاً فجزاه بمثله جاز لانه انتصار (کسات اخيستل دي) بعد الظلم وذالک ماذون فيه کما قال الله تعالى "ولمن انتصر بعد ظلمه فاؤلئک ماعليهم من سبيل" والفعو افضل قال الله تعالى فمن عفى واصلح فاجره على الله.

مسئله: که يو سړي و بل ته وويل چې د زنا کاري زويه. چې دا کلمه موجب د حد ده يعني که زنی ثابته سي خو د هغه و مور ته حد زنی ورکول کېږي دی دې په ځواب کي و هغه ته ورته ښکنځل نه کوي، ولي که دی د زنی له اثبات څخه عاجزه سي ده ته حد قذف ورکول کېږي مجمع الفتاوی.

تفسير ايوبي حنفي د نصيراحمد احمدي لخوا سکين او pdf سو. د دعا محتاج احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَاصْبِرْ وَمَا صَبْرُكَ إِلَّا بِاللَّهِ وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَلَا تَكُ فِي ضَيْقٍ مِمَّا يَمْكُرُونَ ﴿١٢٧﴾

او صبر وکړه ته یامحمد ﷺ پر ازار د کفارو. او نه دی صبر ستا مګر په توفیق او کومک د خدای ﷻ دی. او ته مه ګرځه په سینه تنګولو ګي له هغه کار څخه چي کافران تا او اهل اسلام ته مکر کوي چي تاسي او دین ستاسي له دنیا څخه نابود کړي یعني ته غم مه کوه په مکر سره ددوی ولي چي زه ستا ناصر یم پر دوی او پر موږ ددوی جزا ده في الدنیا والآخرة.

فائده: خدای ﷻ وویل "وما صبرک الا بالله جعفر صادق ﷺ وایي چي انبیا تولو خدای پاک په صبر سره امر کړي دي. او لویه برخه یې د رسول الله ﷺ ته ورکړې ده، ولي چي خدای پاک داسي وویل وماصبرک الا بالله یعني لابنفسک.

فائده: اصل د "لاتک" لاتکن دۀ نون یې حذف کړی تخفیفًا لکثرة الاستعمال.

سوال: په "لم یخن" او "لم یصن" وامثالها کي ولي حذف د نون نه دی روا؟

ځواب: نور الفاظ خو دومره کثیر الاستعمال نه دي لکه باب د کان کما لایخفی علی المتفحص.

إِنَّ اللَّهَ مَعَ الَّذِينَ اتَّقَوْا وَّالَّذِينَ هُمْ مُّحْسِنُونَ ﴿١٢٨﴾

په تحقیق خدای ﷻ ملګری یعني معاون دی د هغو کسانو چي دوی ځانونه وساتي د کفر او له معاصیو څخه او د هغو کسانو چي دوی په اعمالو د خیر مخلصان وي، په حدیث شریف کي راغلي دي چي د محسن درې علامې دي (۱) مبادرة دی و طاعت ته د خدای ﷻ (۲) پرهیز له محرماتو څخه د دین الاسلام (۳) احسان کوي د هغه چا سره چي دده سره بد وکړي ..... ابیات

به احسان خاطر مردم شود شاد ..... بتقوی خانه دین گردد آباد

بسوی این صفتها گرشتابی ..... رضای خلق وخالق هر دو یابی

حکایت: د هرم بن حبان ؒ چي د زکندن وخت ورسېدی یو چا ورته وویل چي وصیت وکړه! ده ورته وویل چي وصیت خو له مال څخه خلګ کوي ولا مالي لي،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لکن اوصیکم یخواتیم سورة النحل یعني من قرأ "ادع الی سبیل ربک الی اخیر السورة" ..... خواجه حافظ:

پاک وصافی شو و ازچاه طبیعت بدر آی .. که صفایی نه دهد آب تراب آلوده

معنی آنست که چاه طبیعت یعني شهوات نفسیه را بگذار تاکه طاعت شما باحسان واخلاص گردد. زیرا که آب خاک آلوده صفایی نمیدهد آن چنان طاعیتکه ریا درو باشد بدرگاه خدا مقبول نیست.

نصیحت: مسلمان لره په کار دی چي علم دین زده کړي، ولي چي خدای ﷻ آنحضرت ﷺ د هیڅ شي په طلب د زیادت نه دی امر کړی بپله علمه قال عز من قائل وقل رب زدني علماً، یو محقق شاعر وایي:

علمها ی انبیأ و اولیأ ..... دردلش رخشنده بود چون شمس الضحی

عالم که آموز گارش حق بود ..... علم اوبس کامل مطلق بود

ومع هذا امر بطلب الزیادة في العلم، ابوبکر الکنائي ؒ وایي چي ماته خضر علیه السلام وویل چي زه په مسجد کي د صنعا وم او محدث عبدالرزاق ؒ و خلګو ته احادیث د رسول کریم ﷺ بیانول او حاضرینو په دهر شوق او ذوق احادیث د عبدالرزاق ؒ اورېدل، د جامع مسجد په کنج کي یو ځوان ناست وُسر یې پټ کړی وُ په مراقبه کي وُ، ما ورته وویل لم لاتسمع کلام عبدالرزاق، ده مخ لګ کړی او وه یې ویل "انا اسمع کلام الرزاق وانت دعوني الی عبدالرزاق، خضر علیه السلام وایي چي ما ورته وویل نو ماته ووایه چي زه څوک یم؟ ده راته ووېل انت الخضر.

دروېش وایي

صرفت العمر في لهو ولعب ..... فآها ثم آها ثم آها

نوه سال عمری عزیزت گذشت ..... مزاج تو از حال طفلی نه گشت

الهي یا الهي یا الهی ..... ندارم جز امیدت تکیه گاهی

شفیع اورده ام روی محمد ﷺ ..... کرم کن برمن گم کرده راهی

ندارم طاعت مقبول درگاه ..... بجز اشک ندامت آه آهی

ندارم توشه راه قیامت ..... بجز شرمندگی و روه سیاهی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مناجات

الهی عبدک العاصي اتاکا ..... مقراً بالذنوب و قد دعاکا
فان ترحم فانت لذالک اهل ..... وان تطرد فمن یرحم سواکا

دروښ وايي: چې په توفيق د رب العزت ﷻ له تفسير څخه د څورلسم جزء په ورځ د جمعې مبارکې وروسته تر صلوة الجمعة فارغ سوم ولله الحمد والمنة والصلوة والسلام علی خير البرية وعلی آله وصحبه الکملة رضی الله تعالی عنهم اوس نوبت د پينځلسم جزء ورسېدی د خدای ﷻ ولوی جناب ته دا اميد دی چې پينځلسم او شپاړسم جزء له تفسير څخه مې په عافيت او صحت تامه فارغ کړی بلکې تر اخيره پورې د امل د عاصي تناؤ ډېر ورډ دی ولله الامر.

ددولسم تاريخ د ذوالقعدة الحرام د مياشتې سنه (۱۴۲۹) هـ ق.

حکايت: د تفسير ددې جزء په اخيره نېټه کې پر کوټې او اطرافو مسلسل د زلزلې جټکې راتلې چې په بعضې قرى وو کې يې لوى لوى جاني او مالي تاوانونه و خلګو ته اړولي دي.

اللهم احفظ اهل الاسلام من الفتن والزلزال برحمتک يا ارحم الراحمين
آمين آمين آمين.





Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د تفسیر ایوبي حنفي د مضامینو فهرست

شمېر	سرلیک	مخ
۱	سریزه	۳
۲	وما ابرئ نفسي	۵
۳	دروېش وایي	۷
۴	حکایت	۱۰
۵	دروېش وایي	۱۳
۶	ولاجر الآخرة خیر	۱۴
۷	وجآء اخوة یوسف	۱۷
۸	وهم له منکرون	۱۸
۹	پوه شه	۲۳
۱۰	فائده مهمه	۲۴
۱۱	حکایت	۲۵
۱۲	سوال وځواب	۳۱
۱۳	پوښتنه او ځواب	۳۶
۱۴	قال انتم شر مکانًا	۳۷
۱۵	فائده	۴۲
۱۶	مسئله	۴۳
۱۷	فلما دخلوا علیه قالوا یایها العزیز	۴۸
۱۸	دروېش وایي	۵۱
۱۹	سوال ځواب	۵۸
۲۰	دروېش وایي	۶۳
۲۱	تنبیه	۷۹
۲۲	فائده	۷۳
۲۳	د سورت رعد پیل	۷۸

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

شمیر	سرلیک	مخ
۲۴	وهو الذي مد الارض وجعل فيها	۸۰
۲۵	فوائد شتی	۸۲
۲۶	ونفضل بعضها على بعض	۸۳
۲۷	دروښ وايي	۸۶
۲۸	الله يعلم ماتحمل كل انثى	۸۸
۲۹	سوا او ځواب	۹۰
۳۰	من بين يديه ومن خلفه	۹۳
۳۱	پوه سه	۹۹
۳۲	الا بذكر الله تطمئن القلوب	۱۲۳
۳۳	بل لله الامر جميعًا	۱۳۰
۳۴	لكل اجل كتاب	۱۴۴
۳۵	وعنده ام الكتاب	۱۴۶
۳۶	د سورة ابراهيم پيل	۱۵۲
۳۷	دروښ وايي	۱۵۷
۳۸	وعلى الله فليتوكل المؤمنين	۱۶۹
۳۹	حكايت	۱۷۲
۴۰	دروښ وايي	۱۷۵
۴۱	حكايت	۱۷۶
۴۲	وبرزوا لله جميعًا	۱۷۹
۴۳	تؤتي أكلها كل حين باذن ربها	۱۸۶
۴۴	ليثبت الله الذين آمنوا بالقول الثابت	۱۹۰
۴۵	جهنم يصلونها وبئس القرار	۱۹۴
۴۶	فوائد شتی	۲۰۰
۴۷	پوښتنه او ځواب	۲۰۸

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

شمېر	سرلیک	مخ
۴۸	ربنا انک تعلم مانخفي وما نعلن	۲۱۲
۴۹	وقد مکروا مکرهم	۲۲۰
۵۰	د سورت الحجر پیل	۲۲۸
۱۵	د څورلسمي سپاري پیل	۲۳۰
۵۲	ولقد جعلنا في السماٗ بروجًا وزینها للنٰظرین	۲۳۸
۵۳	والجان خلقنه من قبل من نار السموم	۲۴۸
۵۴	فاذا سویته ونفخت فیه	۲۴۹
۵۵	لکل باب منهم جزء مقسوم	۲۵۹
۵۶	فائده	۲۸۲
۵۷	فوربک لنسئلنهم اجمعین	۲۸۷
۵۸	انا کفیناک المستهزئین	۲۹۱
۵۹	د سورت نحل پیل	۲۹۷
۶۰	فوائد شتی	۳۰۵
۶۱	وسخرلکم الیل والنهار	۳۱۳
۶۲	انما قولنا لشئ اذا اردنٰه	۳۳۹
۶۳	فضل بعضکم علی بعض في الرزق	۳۷۳
۶۴	فلا تضربوا لله الامثال	۳۷۷
۶۵	ولاتشتروا بعهد الله ثمنًا قلیلاً	۴۰۳
۶۶	من کفر بالله من بعد ایمانه الا من اکره	۴۱۵
۶۷	دروېش وایي	۴۳۸
۶۸	مسائل متفرقه	۴۴۰
۶۹		

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

تفسير ايوبي حنفي۱۰ ټوک

د نصيراحمد احمدي لخوا

سکين او pdf سو.

تاريخ. ۳-۱۱-۱۳۹۸

واتساپ، ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

د دعا محتاج احمدي!

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

MAKTABATUL QIRAIATI WALTAJWEED
QUITTA

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner